د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت

د ستراتیژیکو څیړنو مرکز

افغانستان او نړۍ

(اروپا ، امریکا او استرالیایي هیوادونه)

د عزیز آریانفر تر نظر لاندې

ژباړونکی: نصرالله ناصر

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت
د ستراتیژیکو څېړنو مرکز

افغانستان او نړۍ

(اروپا، امریکا، او استرالیایي هېوادونه)

مرکز تحقیقات علمی افغانستان در پوهنتون کابل
ACKU
KABUL
Afghanistan Centre at Kabul University
PROPERTY OF ACKU
13358

د عزیز آریانفر تر نظر لاندې
ژباړونکې: نصرالله ناصر

د لوي ښښتن په نامه

د کتاب پیژندنه:

د کتاب نوم: افغانستان او نړۍ (اروپا، امریکا، استرالیا)
ژباړونکی: نصرالله ناصر
د عزیز آریانفر تر نظر لاندې
خپروونکی: د بهرنیو چارو وزارت د ستراتیژیکو څیړنو مرکز
د خپریدو نیټه: ۲۰۰٤
شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه
د چاپ ځای: کابل
چاپځی: د میوند خپرندویه ټولنه او مطبعه کابل افغانستان ۲۱۰۳۵٦۹

په دي کتاب کې راغلي توکي او مطالب اطلاعاتي او څاري جنبه لري او د افغانستان اسلامي انتقالي دولت د بهرنیو چارو وزارت رسمي لید توگه نه منعکسوي.

فهرست

عنوان	مخ
پيل خبره	١
د روسيې فدراسيون	٣
مولداويا	٣٩
پولينډ (لهستان)	٧٢
ليتوانيا	٨٥
استونيا	٨٩
لاتويا	٩٤
مقدونيا	٩٧
بوسنيا	١٠٢
كوروشيا	١٠٥
اكراين	١٠٨
بلاروس (سپينه روسيه)	١١٣
آلبانيا	١١٦
يوګسلاويا	١٢١
هنګري	١٢٩
رومانيا	١٣٤
بلغاريا	١٣٨
قبرس	١٤٨
آستراليا	١٥٥
چلي	١٦٢
امريكا	١٧١

کانادا ۱۸۵
نیکاراگوا ۱۹۳
ونزویلا ۱۹۸
یوروگوای ۲۰۱
کولمبیا ۲۰٤
مکسیکو ۲۰۸
ارجنتاین ۲۱۳
اتریش ۲۲۰
آلمان ۲۲۳
انگلستان ۲۵۰
اسپانیا ۲٦۱
ایرلیند ۲٦۷
آیسلیند ۲۷۱
ناروي ۲۷۵
فنلیند ۲۸۲
هالیند ۲۷۸
بلجیم ۲۹۲
سویس ۳۰۰
فرانسه ۳۲۰
ایتالیا ۳۳٤
کیوبا ۳٤۱
برازیل ۳٤۳

د پیل خبرې

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتیژیکو څېړنو مرکز، چې په دې وروستیو وختونو کې تاسیس شوی، د خپلو علمي څېړنیزو چارو په ترڅ کې یې د «افغانستان او نړۍ» د کتاب تدوین او چاپ لومړنی ګام دی.

په دغه نیک او پرځای اقدام کې چې د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د رئیس ښاغلي حامد کرزي په لارښوونه، د بهرنیو چارو د وزیر محترم ډاکتر عبدالله په پاملرنه او په فرهنګي چارو کې د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د سلاکار وزیر جناب سرڅېړونکي زلمی هیواد مل د عالمانه او نه ستړې کېدونکو هلو ځلو په پایله کې ترسره شو، د بهرنیو چارو وزارت ځینو کارکوونکو په ځانګړې توګه د دغه وزارت د ستراتیژیکو څېړنو د مرکز سرپرست او سیاسي سلاکار ښاغلي عزیزآریانفر کارنده ونډه د ستاینې وړ ده.

باید ووېل شي چې دغه کتاب د هغو رسمي پلاوېو د استفادې او عاجلې اړتیا لپاره چې بهرني هیوادونه ګوري، په ډېره بېړه تدوین شوی دی نو ځکه کېدای شي چې نیمګړتیاوې به ولري. همدې اصل ته په پاملرنه به په نږدې راتلونکي کې له نوو او تازه معلوماتو څخه په استفادې له بیا کتنې او غور ورسته دوهم ځل چاپ او خپورشي.

د بهرنیو چارو وزارت د ستراتیژیکو څېړنو مرکز له ټولو پوهانو، څېړونکو او د پوهې او علم له مینه والو څخه هیله لري چې د دې کتاب د دوهم چاپ پرمهال به زمونږ مرسته او لارښووې وکړي.

د روسیې فدراسیون

مرکز : مسکو
نفوس: (د ۱۹۹۹م کال د شمیر نو پربنسټ) ۱۴۶۳۹۳۵۶۹ تنه
جمهورئیس: ولادیمیرپوتین
صدراعظم : میخاییل فرادکف
د بهرنیو چارو وزیر: سرګي لاورف
پولي واحد: روبل .
دولتی نظام : فدراتیف جمهوریت.

جغرافیایي موقعیت :

د روسیې فدارسیون یو له هغو لو یو هیوادونو څخه دی چې ستره برخه یې په آسیا او یوه برخه یې په ختیځه اروپا کې پرته ده. ختیځ ته یې آرام سمندر، شمال ته یې شمالي منجمندبحر او ویدیځ ته یې د بالتیک بحیره واقع ده چې په پای کې په آرام سمندر پورې نښتی دی. روسیه زیاتره له اوارو دښتو. جهیلونو او

ولاړو اوبو څخه متشکله ده چې اروپا يي برخه يې په ځنګلونو پوښل شوې ده. د اورال سيند او داورال غرونه آسيايي برخه له اروپايي برخې څخه بيلوي. دروسيې فدراسيون ختيځ او سهيل ختيځ پلوته له چين قزاقستان او شمالي كوريا سره ګاونډيتوب لري. لويديځ او شمالي لويديځ لورته له استونيا، لتوانيا او فنلنډسره ګډې پولې لري، ددغه هيواد د جنوب لويديځ لورته سپينه روسيه، اوكراين او سهيل ته يې د قفقاز جمهوريتونه (ګرجستان، ارمنستان او آذربايجان) او د خزر(كسپين) بحيره موقعيت لري، روسيه له لويديځ لوري د فنلنډ له لارې د بالتيك د بحيرې اوبو ته لار مومي.

ملي جوړښت:

په سلو كې ۱۸،۵ روسان، په سلوكې ۳ او كراينيان، په سلوكې ۳،۸تاتار، په سلوكې ۹، ۰باشقير، په سلوكې ۸،۰ بيلاروس او ځينې نور لږه كي (اقليتونه)، چې شميريې له سلو مليتونو څخه اوړي.

مذهب:

مسيحي ارتودوكس او له ديرش ميليونو څخه زيات مسلمانان

مهم ښارونه: د روسيې مهم ښارونه دادي:مسكو، سان پتر بورګ، كرسنادار، ګوركي، ولادي وستوك او نور....

روسيه (۲۱) خپلواك جمهوريتونه، (۶) ناحيې او په فدرالي سطحه دوه ښارونه (مسكو اوسان پتربورګ) لري. خپلواك جمهوريتونه د جمهوررئيس اوصدراعظم له خوا اداره كيږي. نو

رسیمه ایز فدرال واحدونه د سیمه ایزو اداري واحدونو لرونکي دي، چې شورا ګڼل کیږي.

هیوادني نظام :

د روسیې فدراسیون په نوي اساسي قانون کې- چې مسوده یې د(۱۹۹۳م) کال په پسرلي کې خپره او د همدغه کال په نوامبرکې تصویب شو- جمهور رئیس ته ډیر لوړ واك او اقتدار ورکړل شوی، چې د کورني اوبهرني سیاست اصلي کرښې ټاکي. جمهور رئیس د څلورو کلونو لپاره انتخابیږي او له دوه ځلو څخه زیات په دې څوکۍ نشي ټاکل کیدای، عمریې باید لږتر لږه (۳۵) کاله وي، د روسیې اوسیدونکی وي او لږتر لږه یې لس کاله د روسیې په فدراسیون کې ژوند کړی وي خو د هغه د سن د لوړې اندازې په اړه څه نه دي ویل شوي. هغه صدراعظم د روسیې د مجلس د تایید پربنسټ ټاکي اوداړتیا پروخت کولی شی صدراعظم یاټول دولتي پلاوی ګوښه کړي.

دروسیې تاریخ ته یوه کتنه :

دروسیې تاریخ له میلادنه دمخه پیړیو څخه تر(۱۵) میلادي پیړۍ پورې له بهرنیو یرغلونو او تیریو څخه مالا مال و. داسلاو کروند ګر قبایل چې دروسیې په جنوبي سټېپونو(دښتو) کی یې ژوند کاوه ، په همیشنۍ توګه د اروپایي او آسیایي قومونو له تیریو او یرغلونو سره مخامخ وو د پیړیو په اوږدوکی د بیلابیلو قومونو تیري او یر غلونه د اسلاویانو د پراخو او هر اړخیزو لیږدیدنو او مهاجرت سبب شول او هغوي یې په دریوو اصلي ډلو وویشل: لویدیځ اسلاویان لهستانیان ، چکان، سلوا کان؛ جنوبي

اسلاویان: صربان، کرواتان مقدونیان ، سلوانیان، مونتینګرویان ، بلغاریائیان ؛ ختیځ اسلاویان: روسان، اوکراینیا او سپین روسان. ختېځواسلاویانود اتمې میلادي پېړۍ په دوهمه نیمایی کې د خپلواکو او مستقلو ښارونو دولت رامنځ ته کړ چې دوایکینګانو او آسیایي قومونو لپاره په مناسبو اهدافو بدل شو.

د کییف دولت:

د(۸۶۲م) کال په شاوخوا کې د رویك په نامه یوه روسي واکمن ، په نووګرود کې دیو متحدروسي دولت لاربنوونه په غاړه واخیسته. نووګرود دننني مسکو په شمال ختیځ کې پروت و.

د هغه ځای ناستی او لګ دواکمنۍ دغه مرکز کییف (د اوسني او کراین مرکز) ته ولیږداوه. اولګ هڅه وکړه چې د ختیځ اسلاوقبایل تر خپل واك لاندې راولي. د کیف روسي دولت خپلې پولې د بالتیك له څنډوڅخه تر تورې بحیري پورې وغځولې.

د مغولو یرغل:

د کییف روسي دولت تر(۱۲۳۶م) کاله دوام وکړ. کورنیو سیالیو او رقابتونو او بهرنیو تیریو د کییف دولت د مغولو د حملو په وړاندې له هر ډول جدي دفاع څخه بې ځواکه کړ مغول روسانو د تاتار په نامه یادول ، په ټوله روسیه یې د خپل لوی خان ګوډاګي شهزاده ګان واکمن کړل. د مغولو واکمنۍ د پنځلسمې میلادي پیړۍ تر وروستیو پورې د روسیې پرټولنیز- سیاسی جوړښت باندې ژورې اغیزې وکړې. په دې وخت کې مسکو دروسیې د یوه پاشل شوي دولت د مرکز په توګه خپل ځای (مقام)

تر لاسه کړ او کییف د مغولو دیرغلونو په بهیر کې په بشپړه توګه وران شو.

د څوارلسمې میلادي پیړۍ له نیمایي څخه وروسته د مغولو له سلطې څخه د روسیې د خپلواکۍ په منظور د روسي شهزاده ګانو تدریجي هڅې پیل شوې چې بالاخره په(۱۴۸۰م) کال کې دریېم ایوان(ستر ایوان) د مغولو دحاکمیت له منلو څخه غاړه وغړوله او په دې توګه یې وکولی شول چې د روسیې یوه لویه برخه د هغوي له تسلط څخه آزاده کړي.

مسکوي روسیه:

دریېم ایوان د بیزانس د امپراتور له وروستۍ(کشرې) لور سوفیا سره واده وکړ. دا کار ددې سبب شو چې روسیې ته د مسیحي امپراتوری (دوم روم) د فکر د انتقال او روزنې زمینه برابره شي.

دریېم ایوان ځان د تزار په نامه ونوماوه، چې دروم د سزا(قیصر) له نامه څخه اخیستل شوی دی. د مسکوي دولت ربنتیني اقتدار د څلورم ایوان(ایوان مخوف) له مهاله سمبال شو، (۱۵۴۷) (۱۵۸۴م) . هغه په روسیه کې د مطلقې واکمنۍ بنسټ کیښود. دایوان ځایناستو د اشرافو او تزار ترمنځ دواك د ویشلو او بهرنیو فشارونو په ترڅ کې د کلیسا په ملاتړ وکولی شول چې د روسیې سیاسي نظام ته پاینبت ورپه برخه کړي.

د سویډن د پوځي ځواکونو له خوا د روسیې نیول او له سویډن سره جګړه په سویډن باندې د حاکمې کاتولیك کلیسا په وړاندې دارتودوکس کلیسا په پراخه نفوذ او د روسیې له یوه پراخه ملیپال

غوړ ځنګ او د رومانوف د سلسلې د رامنځ ته کېدو سره ملګرې او یو ځای شو.

د رومانوف کورنۍ :

د رومانوف د کورنۍ مشر میخاییل رومانوف (۱۶۱۳-۱۶۴۵م) له (۱۶۱۷م) څخه وروسته د سویډنې پوځي ځواکونو له په شاتګ سره سم له هغوي سره په یو لړ سازشونو بریالی شو. خود روسانو او سویډنیانو تر منځ جګړې پای ته ونه رسېدې او په (۱۶۳۴م) کال کې دیوه تړون په ترڅ کې روسیه ناچاره شوه چې دخپل هیواد لوید یځه برخه سویډن ته پرېږدي. د میخاییل رومانوف ځای نا ستو په مسکوکې د روسي دولت د وحدت د ټینګښت لپاره خپلو هڅوته ادامه ورکړه.

په (۱۶۷۲م) کال کې لومړي پتر په یوه لاسبري اروپایی ځواک باندې د روسیې د بدلولو لپاره پرله پسې هلې ځلې پیل کړې. لومړی پتر چې وروسته په پترکبیر او ځار (مشهور) شو. د (۱۶۷۲-۱۷۲۵م) کلونو په ترڅ کې یې هڅه وکړه چې د روسیې دولت له انزوا او بیرته پاتې والي څخه وژغوري. د اروپایی هیوادونو په تقلید او پیروۍ یې په یود اروپایي ځواک باندې د روسیې د بدلولو په خاطر هر اړخیزې هلې ځلې وکړې. هغه د روسیې د نجات او خلاصون لار د هغې په لوید یځواله (غربیت) کې پلټله.

د پتر په وخت (۱۷۱۲م کال) کې د روسیې پایتخت له مسکو څخه پتروګراد (سان پتربورګ) ته ولیږدید. هغه د روسیې د قلمرو د پراختیا لپاره له ګاونډیانو سره پرله پسې جنګونه وکړل. پتر د کلیسا د نفوذ د کمولو په خاطر ځینې پروګرامونه طرحه او عملي کړل. د روسیې ډیرو خلکو د پترلویدیځ پال (غرب ګرایانه)

اصلاحات د روسیې په دودونو او رسومو یرغل گڼله او له هغه سره یې مخالفت کاوه.

لومړی الکساندر (۱۸۰۱ - ۱۸۲۵م) چې آزادي غوښتونکي تمایلات یې درلودل، په (۱۸۱۲) کال کې له ناپلیون بنا پارت سره د هغه جګړه، د فرانسوي ځواکونو له خوا دروسیې دنیولو سبب شوه. د ناپلیون د قواوو له خوا د مسکو له لاندې کولو سره سم، روسانو دې ښارته اورورته کړ.

د تزار لومړی نیکولای (۱۸۲۵ - ۱۸۵۵م) هیڅ ډول بدلون له منلو پرته دروسیې د کورني او بهرني سیاست بنسټ کیښود. هغه په روسیه کې دوهلو ټکولو او ترټلو کورنی فشار زیات کړ. چې په دې ترڅ کې دروسیې زیات خلك د هغه د سیاسي پولیسو له خوا مړه او یا تبعید شول، په بهرني سیاست کې د لومړی نیکولای محافظه کاری د کریما په جګړو (۱۸۵۳-۱۸۵۴م) کې دروسیې د ماتې لامل شو. روسیه په دې وخت کې د بالکان پرسیمه د خپل نفوذ د پراخولو په منظور له ناکامو هڅوسره مله شوه. د لومړي نیکو لای د ناکامو هڅو پرخلاف، (۱۸۲۰ - ۱۸۶۰) کلونه په روسیه کې دادبیاتو زرین کلونه ګڼل کیدای شي. هغه کلونه چې په هغوکې دروسیې سترلیکوالان د خپلو سترو ادبی آثارو په ایجاد لاسبري شول. دالکساندر پوشکین، نیکولای ګوګول، ایوان تور ګینیف او فیوډر داستایو فسکي لیکې په دې دورې پورې اړه لري.

د لومړی نیکولای زوی، دوهم الکساندر (۱۸۱۸ - ۱۸۵۵-م) زیاتره له کورنیو مسایلو څخه ویره او تشویش درلود، خوویې کولی شوای چې په بهرني سیاست کې غوره بریالیتوبونه ترلاسه کړي.

پر عثماني دولت له بري وروسته په ختيځه اروپاکې د روسيې د تسلط ټينګښت، پر منځنۍ آسيا او قفقاز لاسبرى، په بهرني سياستکې د هغه له برياوو څخه شميرل کيږي.

دريم الکساندر (۱۸۸۱-۱۸۹۴م) په روسيه کې د پراخيدونکي انقلابي غورځنګ د څارنې او کنټرول لپاره زياتې هڅې وکړې. د انقلابيونو نيول، تبعيداوله منځه وړل د هغه د چارو د لارښود حيثيت درلود. هغه يو روس ملي پال و او هڅه يې کوله چې په امپراتورۍ کې د شاملو بيلابيلو مليتونو د روسي کولو سياستونو ته پراختيا ورکړي، دريم الکساندر هڅه کوله چې د روسيې په بهرني سياست کې له اتريش، هنګري او المان سره په جدي ائتلافونو کې خپل د لوړتيا غوښتنې سياست تعقيب او پسې وپالي، د غه ائتلاف وروسته د فرانسې پرلور وغځيد او بنه يې بدله شوه. د دريم الکساندر له مړينې وروسته د روسيې وروستي تزار دوهم نيکولاى

(۱۸۹۴-۱۹۱۷م) د هغه پرځاى کيناست، هغه هم د خپل پلار محافظ کارانه سياستونه تعقيب کړل. په (۱۹۰۵م) کال کې يې د روسيې د انقلابي غورځنګ د فشارونو په وړاندې د جاپان له خوا ترماتې وروسته د دوما د مشورتي مجلس فرمان صادرکړ. د (۱۹۱۱م) کال په دسامبر کې انقلابي ځواکونو، صدر اعظم پتر استولي پين ترور کړ، ځکه چې هغه د انقلابي ځواکونو د ځپلو لپاره پرله پسې هلې ځلې کولې.

په (۱۹۱۴م) کال کې لومړۍ نړيوالې جګړې ته د روسيې له وردانګلو وروسته پرتزاري رژيم باندې د انقلابي ځواکونو فشار زيات شو. بلشو يکانو چې په (۱۹۰۳) کال کې د روسيې د کارګرانو په سوسيال د موکرات ګوند کې له انشعاب وروسته يې د

تزاري رژيم په وړاندې خپلې مبارزې چټکې او پياوړې کړې وې، په لومړۍ نړيواله جګړه کې يې د روسيې له ګډون سره مخالفت کاوه.

منشويکان د نوموړي ګوند بله منشعبه ډله وه چې د مارکس د نظر يو پربنسټ د روسيې په ټولنيزه ـ اقتصادي وضعه کې بدلون ته سترګې په لاروه، تر څو په دې توګه د کمونيستي انقلاب د رامنځ ته کيدو او بري لار اواره شي.

لينين چې د دوهم نړيوال جنګ په درشل کې يې په سويس کې د تبعيد ژوند تيراوه. بيرته روسيې ته راغی او د بلشويکانو په واسطه يې د سياسي قدرت د ترلاسه کولو غوښتنه وکړه . هغوی د خلکو مظاهرې او اعتصابونه د خپلو موخو د پلي کولو لپاره مناسبه زمينه وبلله.

د خلکو او انقلابي ډلو، له دې جملې څخه د بلشويکانو او منشويکانو د فشار دزياتيدوله امله د تزار دوهم نيکولای د(۱۹۱۷م) کال د مارچ په مياشت کې د خپل ورور ميخاييل په ګټه ځان ګوښه کړ. په روسيه کې د پرنس ګورکي لوف په مشرۍ لنډمهالی(موقت) حکومت تشکيل شو خو د کارګرانو د فشار له امله يې چې په ټوله روسيه کې د خپريدو او تيتيدو په حال کې و، د او ضاع د کنټرول اوڅارنې توان نه درلود.

کمونيستي نظام :

نه لنين روسيې ته له بيرته را ستنيدو وروسته د(۱۹۱۷م) کال په اپريل کې((د اپريل تزونه)) نومې رساله کې خپلو انډيوالانو او پلويانو ته توصيه وکړه چې د سياسي قدرت د ترلاسه کولو لپاره خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړي. هغه له تزارڅخه شورا ګانو ته د واك

ليرديدل مطرح کړل او په ټوله روسيه کې د سرتيرو او کارګرانو شوراګانې جوړې شوې.

جنګي کمونيزم:

د بلشويکانو برى ډير ژر د کورنيو او بهرنيو انقلاب ضد فشارونو سره مخامخ شو. د(۱۹۱۸م) کال په جنوري کې لينين او د هغه انډيوالانو تزاري نظام ړنګ اورلئون تروفسکى په نوبت د سره پوځ ايجاد او را منځ ته کيدل د پام وړ وګرځيدل. د لنين د فرمان پر اساس په ټول هيواد کې د جنګي جبهو د اړتيا وو تامين او پوره کولو ته لومړيتوب ورکړل شو او کرنيز محصولات د هغوى په ګټه مصادره شول.

لنين وروسته د برست ليتو فسک د سولې د تړون په لاسليک کولو سره روسيه له نړيوالې جګړې څخه وايستله. په همدې وخت کې د "چکا" سياسي پوليس تشکيل او را منځ ته شول. د پرديو په وړاندې د جګړې د جبهود اړتيا وو د اغيزو او عواملو له امله په (۱۹۱۸-۱۹۲۱م) کلونو کې د دروسيې خلك د کورنيو جګړو په ترخ کې تر سخت فشار لاندې راغلل.

په(۱۹۲۰-۱۹۲۱م) کلونو کې د مسکو حکومت چې په هغه وخت کې روسيه هم په کې شامل وه، د فدراتيف روسيې د جمهوريت په نامه يې په تدريجي توګه له ګاونډيو جمهوريتونو سره دوه اړخيز تړونونه لاسليک کړل، له حقوقي پلوه دواړه خواوې په دې تړونونو کې متساوى الحقوق ګڼل کيدې. د پوځي مرستو په برخه کې چې د سره پوځ له جوړيدوسره سم تعقيب شوې- روسيې بشپړه لوړتيا اولاسبرى تر لاسه کړ.

شوروي روسيې ورو ورو خپل شاوخوا جمهوريتونه د اتحاد د غړو جمهوريتونو په نوم په ځان کې مدغم کړل. په (۱۹۲۲م) کال شوروی اتحاد پرېښو ودريداو دروسيې د څلورو جمهوريتونو روسيې ، سپينې روسيې، اوکراين او قفقاز جمهوريتونو له يووالي او اتحاد څخه شوروی اتحاد منځ ته راغی.

د (۱۹۲۲م) کال په دسامبر کې بلشويکي رژيم د شورا يي سوسياليستی جمهوريتونو د اتحاد ايجاد- چې له روسيې ، سپينې روسيې، اوکراين او دقفقاز له جمهوريتونو څخه تشکيل شوی و- اعلام کړ. په (۱۹۲۹م) کال کې د ترکمنستان ، ازبکستان ، او تاجکستان جمهوريتونه هم ورسره يوځای شول. د قفقاز جمهوريتونه هم پر دريوو جمهوريتونو: آذربايجان، ارمنسان او ګرجستان وويشل شول.

د کمونيستی نظام د راټوکيدلو په لومړيو کلونو کې د نړيوال انقلاب پراختيا د خبرو او بحث اصلی موضوع وه. په اروپا کې د کمونيستی غورځنګ له ناکامۍ سره سم بلشويکانو له(۱۹۱۹م) کاله راپه ديخوا ختيځ لورته دا انقلاب د غځولو موضوع ته پام واړاوه.

لنين د کورنيو جګړو له ختميدو وروسته د نوی اقتصادي سياست ترڅنګ له لويديځ سره د سوله ايز ژوند اړيکې ټينګې کړې او له المان او انګليس سره اقتصادي همکاريو پراختيا ومونده.

د لنين له مړيني سره سم په (۱۹۲۴م) کال کې د سوسياليزم د جوړولو دنده د ستالين پرغاړه شوه.

ددوهمې نړيوالې جګړې په پای کې چې شوروي د خپلو اروپايی او امريکايی متحدينو په مرسته بری تر لاسه کړ. د نړۍ د

سوسیالیستی هیوادونو مشرتوب وریه غاړه شوه، ستالین چې په المان کې د فاشیزم د خطرد توسعې له امله له امریکا، انګلستان او فرانسې سره یوځای شوی و، د جګړې په پای کې یې دنړیوال حاکمیت د زیاتوالي په خاطر له دې هیوادونو سره خپل ایډیالوژیك تضاد مطرح کړ.

ددوهمې نړیوالې جګړې په پای کې د شوروی پراختیا غوښتنه د امریکاله اقداماتو سره د هغه د تابع کولو لپاره مله شوه. په دې وخت کې د شوروی د نفوذ له پراختیا سره د مخامخ کیدو لپاره سیمه ایزو و اتحادیو تشکل ومومند. له امریکا سره دستالین مخامخ نښتو د (۱۹۵۰مې) لیسزې په پیل او د کور یا په جنګ کې شدت ومومند.

په(۱۹۵۳م) کال کې د ستالین له مړینې څه موده وروسته نیکیتا خروشچف واك ترلاسه کړ. هغه په پانګوالۍ باندې د کمونیزم دوروستي بري په خاطر په بشپړې خوشبینۍ هڅه وکړه چې په شوروی کې د ستالین د ټکوونکو او ځپونکو سیاستونو اغیزې کمې کړي.

خروشچف په (۱۹۵۶م) کال کې د شوروي د کمونیست ګوند په شلمه کنګره کې د ستالین ځپونکي سیاستونه په شدت سره محکوم کړل. هغه په خپل دغه اقدام سره دسیاسی بندیانو او د اجباري کارونو د پنډ غالو د محکومانو د پراخو پرګنو دآزادۍ سبب شو.

د خروشچف له خوا د ستالین د لارې نه تعقیبول ددې سبب شو، چې په ختیځه اروپا کې په شوروي پو رې د تړلو واکمنانو په وړاندې اغتشاشونه پیل شي. په دې بهیر کې د شوروی پوځ پراوضاع باندې د څارنې او کنټرول په منظور د چکوسلواکیا مرکز

د پراګ ښار لاندې کړ. د هیواد د اقتصادي ستونزو د لرې کولو لپاره، خروشچف هڅه وکړه، یوڅه اصلاحات تر لاسه لاندې ونیسي د غه کار له واقعي او رښتیني ارزیابۍ پرته په ډېر شدت او وارخطايي عملي شو چې په پایله کې یې وضعه لابتره او دخروشچف د غه اقدامات دده دله منځه تللو سره مله شول.

هغه د امریکا او شوروي په اړیکو کې د ګډوډۍ دله منځه وړلو بهیر پیل کړ او هڅه یې وکړه چې د دریمې نړۍ د هیوادونو د انقلابي غورځنګونو په ملا تړ په نړیواله کچه د ځواکونو انډول د شوروي په ګټه وڅرخوي.

د خروشچف په وخت کې د شوروی او کمونیست چین ترمنځ ایډیو لوژیک اختلافات اوج ته ورسیدل، د چین مشرتابه خروشچف په رویزیونیزم(تجدیدنظر طلبی) او له مارکسیزم څخه په انحراف تورن کړمائو له امریکې سره د خروشچف سازش سخت محکوم کړ او د سوله ایزژوند سیاست یې د مارکسیزم اولنینیزم له اصولو څخه بې لاریتوب او انحراف وګاڼه.

په (۱۹۶۴م) کال کې د خروشچف له ګوښه کیدو وروسته، لیونید برژنف ډیر ژر دشوروي په سیاسی نظام کې خپله لوړتیا ثابته کړه. تر(۱۹۸۲م) کاله پورې د برژنف په اتلس کلنې واکمنۍ کې شوروي وکولی شول چې له امریکا سره په ستراتیژیکه انډولتیا لاسبری ومومي.په دې وخت کې د شوروي اقتصادی ستونزې لاپسې زیاتې شوې او له (۱۹۷۰ یمې) لسیزې څخه دشوروي د اقتصادي ودې بهیر مخ پر ټیټیدوشو ز له امریکا سره وسله واله سیالي او د نړیوال کمونیستی غورځنګ مشر توب یې د اقتصادي شرایطو د لازیاتې خرابۍ او بر بادی سبب شو.

سیاسی مخالفین یې په نړیواله ځیره کې په یوه مهم عنصر بدل شول.

د(۱۹۷۰) لیسیزې په پای کې، شوروی پر افغانستان باندې دیر غل په ترځ کې له امریکا سره د ساړه جنګ یو بل پړاوته ورننوت د امریکا د جمهور رئیس ریګن د ستورو د جنګ پروژې یو ځل بیا د شوروی دوسله والې سیالۍ لګښت اوج ته ورساوه.

په(۱۹۸۲)م کال کې د برژنف له مړینې وروسته یوري اندر وپوف واک تر لاسه کړ او هڅه یې کوله چې د ګډوډۍ د پای ته رسولو نوی بهیر پیل کړي، هغه دشوروي ټولنیزو- اقتصادی ستونزوته په پاملرنه د وسله والې سیالۍ د لګښت کمول یو ضرورت وګاڼه ، خودا امریکا مشرتابه دې سیاست ته مثبت ځواب ورنکړ.

اندرو پوف په شوروی کې اقتصادي اصلاحات تعقیب کړل. له فساد سره هر اړخیزې مبارزې د اندرو پوف د کورني سیاست په لومړۍ لیکه کې ځای درلود. هغه په اروپا کې د وسله والو سیالیو د کمیدو لپاره ډیر وړاندیزونه وکړل خو ریګن هغه ته هیڅ ځواب ورنکړ.، په (۱۹۸۳م) کال کې د اندروپوف مړینه او د کستانتین چرنینکو منځ ته را تګ ددې سبب شو چې په شوروي کې د لنډې مودې لپاره برژنفی سیاستونوته موقع په لاس ورشي.

چرنینکو د اندروپوف دځایناستي په حیث، په کمونیست ګوند کې د بدلون بهر او له فساد سره مبارزه پرځای و درول. هغه دکورني سیاست پرخلاف د شوروی په بهیرنی سیاست کې هڅه وکړه چې له لویدیځ سره د ګډوډیو د کمولو لاره تعقیب کړي، خو دهغه ناروغی او زړښت، د نوی مشرتابه لپاره زیات فرصت په لاس ورنکړ.

د چرنینکو له مړینې وروسته په(۱۹۸۵م) کال کې میخاییل ګورباچف د اندروپوف اندیوال او د کمونیست ګوند د سیاسي د فتر غړي د شوروی مشرتوب ومانه. ګورباچف د شوروی د ټوټې کیدلو د مخنیوی لپاره هڅې پیل کړې.

له فساد سره مبارزې او د شوروي د اقتصاد بیا رغاونې ته: هغه په پروګرامونو کې لومړی ځای ورکړل شو. هغه په هیواد کې دننه د اقتصادی لارښوونې او په بهرني سیاست کې اصلاحاتو ته سخته توجه وکړه.

په دې توګه پروسترویکا(بدلون یا بدلول) او نوی فکر ددوواړینو سیاستونو په توګه یو دبل د موقعیت په منظور دده کاري پروګرام کې شامل وو، د برژنف په دوره کې د کاسګین داقتصادی اصلاحاتو له په پام کې نیولو سره ګورباچف له سیاسي اصلاحاتو او له خلاصې سیاسی فضا(ګلاس نوست یا ښکاره خبري) پرته د اقتصادي اصلاحاتو پلی کول غیر ممکن ګڼل.

ګورباچف امریکا ته د خپل نیت د څرګندولو په خاطر، د ګډوډیو دله منځه وړلو د بهیر د ټینګښت لپاره شوروي ځواکونه له افغانستان څخه وایستل او په دې توګه یي د پوځي ځواکونو د کمښت او دشوروی د هسته یی وسلو د ځینو مهمو برخو له منځه وړل په خپل پروګرام کې شامل کړل.

ګورباچف تر(۱۹۹۰م) کاله پورې د ګوند په غوره نقش او اغیزې تاکید کاوه، خو د همدغه کال په فبروري کې یې وړاندیز وکړ څو داساسی قانون هغه ماده چې دغه کړنه یې تثبیت کړې وه، بدلون ومومي. هغه له خپلو ګوندې مخالفینوسره د مخامخ کیدو او مقابلې په خاطر، د جمهوري ریاست څوکۍ لاپسې ځواکمنه کړه او په دې توګه یې داسې تګلوری خپل کړ، چې د ګوند او دولت د

ځواك د بيلتون شاهدو. ګورباچف دشوروي د جمهوري رياست انتخابات هم د ټولټاكنو له لارې تعقيب كړل.

دروسيې، په ټولنيزو اقتصادي شرايطو كې د اصلاحاتو او سمون د راوستلو په لاره كې د ګورباچف ناكامي د(۱۹۹۰م) كال له پيله د خلكو پام د روسيې د كمونيست ګوند د سياسي د فتر د پخواني غړي بوريس يلتسين خواته واړاوه.

د همدغه كال په جون كې دشوروي د كمونيست ګوند په وروستۍ كنګره كې په ډاګه شوه چې د ګوند ځينې غړي لكه بوريس يلتسين كمونيست ګوند اصلاح نه منونكى بولي، هغه وروسته دروسيې د جمهوررئيس په توګه وټاكل شو. د بالتيك او نورو اروپايي جمهوريتونو لكه اوكراين او دروسيې فدراسيون د بيلتانه او آزادۍ غوښتنې بهيرتر(۱۹۹۰-۱۹۹۱م) كلونو پورې دوام وموند. ګورباچف هم د اقتصادي اصلاحاتو په لاره كې خپلو هلو ځلوته ادامه وركړه خود بازار اقتصادي نظام ته د ليږداو انتقال په منظور د بيلابيلو پروګرامونو پرخلاف اقتصادي ستونزې لاپسې زياتې شوې.

د اتحاد د ټوټې دكيدو او تجزيې د مخنيوى لپاره يې د جمهوريتونو د اتحاد لپاره د يوه نوى تړون د لاسليك كولو لار تعقيبوله.

د ګورباچف د تند لارو مخالفينو له خوا د(۱۹۹۱م) كال كودتا په داسې وخت كې وشوه چې(۹) جمهوريتونو داتحاد دنوي تړون لاسليك كولو لپاره ځانونه چمتوكړي وو.

هغه بيړنۍ كميټه چې دګورباچف په غياب كې يې واك تر لاسه كړى و، له پراخوكورنيو او بهرنيو مخالفتونو سره مخامخ شوه، هغوى درې ورځې وروسته، له تسليمدو پرته بله لارنه درلوده،

شوروي د ټوټې کیدو په لور روان و چې دا کتوبر کودتا دغه بهیر لا پسې ګړندی کړ. یلتسین د کودتاکوونکو په وړاندې په مسکوکې په مقاومت لاس پورې کړ. هر څومره چې ګورباچف کودتا کوونکي محکوم کړل خو له دې سره سره یې د ګوند په وړاندې خپله وفاداري ساتلې وه ، دې کار د هغه دمحبوبیت په کمولو کې مرسته وکړه، څلورمیاشتې وروسته شوروی اتحاد په تدریج سره ټوټې ټوټې شو.

د همګټوخپلواکو(مشترك المنافع هیوادونو د ټولنې له جوړیدوسره سم په(۱۹۹۱م) کال کې د دسامبر په اتمه د روسیې سپینې روسیې او اوکرایین د مشرانو له خوا د شوروی اتحاد رسمي تجزیه او ټوټې کیدل اعلام شول. د(۱۹۹۱م) کال د دسامبر په(۲۵مه) ګورباچف د نوې ټولنې له جوړیدو سره سم خپل ګوښه کیدل اعلام کړل او د روسیې د فدراسیون درې رنګه سپین ، آبی او سور بیرغ د شوروی د سره بیرغ پرځای د کرملین لپاسه ورپول شو.

د همګټو(مشترك المنافع)خپلواکو هیوادونو د ټولنې جوړیدل:

د همګټو مستقلو هیوادونو ټولنه ، د (۱۹۹۱) کال په د سامبر کې د روسیې فدراسیون ، او کراین او سپینې روسیې دمشرانو د توافق په پایله کې منځ ته را غله ،د الماتې له اعلامیې وروسته نور اته جمهوریتونه هم له نوموړې ټولنې سره یو ځای شول.

ددغې ټولنې اعلام د شوروي د دړې وړې کیدو معنی درلوده، په دې ترتیب د شوروی له (۱۵) جمهوریتونو څخه(۱۱) جمهوریتونو دغه ټولنه بنسټیزه کړه. آذربایجان په پیل کې له دې ټولنې سره له یوځای کیدو ډډه کوله خو د (۱۹۹۳م) کال په سپتامبر کې د هغې غړی شو. د بالتیك جمهوریتونه د شوروی د دړې وړې کیدو په وخت کې چمتونه وو چې له دغې نوې ټولنې سره چې جمهوریتونه یې سره نږدې او را ټولول- یوځای شي، ددې

جمهوریتونو مشرانو د (۱۹۹۲م) کال په نیمایی کې په تا شکند کې د همګټو خپلواکو هیوادونو د ټولنې په سیمه کې د یوه سرتوسري امنیت په را وستلو توافق وکړ.

په(۱۹۹۳م) کال کې د همګټو خپلواکو هیوادونو د ټولنې مشترکه قومانده له منځه لاړه خو د یوې واحدې اقتصادي پراختیا لپاره هڅو دوام وموند. د خپلواکو همګټو هیوادونو د مرکزیت لپاره د مینسك ښار(د سپینې روسیې مرکز) وټاکل شو او په هغه کې یوه خپلواکه اجرائیه کمیټه جوړه شوه. خود راتلونکو توافقونو تر سره کول د روسیې د فدراسیون مرکزیت ته ولیږدیدل.

دآلماتا اعلامیه:

د(۱۹۹۱م) کال په دسامبر کې دیو ولسو هیوادونو له خوا په قزاقستان کې د آلماتا اعلامیه تصویب شوه. په دې اعلامیه کې د آذربایجان، سپیني روسیې، قزاقستان، قرغزستان. مولداوي، روسیې ، تاجکستان ، ترکمنستان، او کراینن او ازبکستان جمهوریتونو موخه (هدف) د داسې حکومتونو اعلام وچې پرقانون ولاړوی. د حاکمیت حق او د هر یوه غړي حقوقو ته درناوی، یو دبل په چارو کې مداخله نه کول، یو له بل سره په اړیکو کې له زور نه استفادې ردول، د سیاسی لارو پر بنسټ په سوله ایزه توګه داختلافاتو حل و فصل او د لږه کیو د حقونو ساتل د اعلامیې دلاسلیك کوونکو له پام وړتکو څخه وو.

په دې سند کې د غړوتر منځ د ښه ګاونډیتوب ، دوسانه اړیکې او د نړیوالو حقوقو پر بنسټ یو د بل د حقوقو د پیژندلو پرموضو عګانو ټینګار وشو. د اوسیدونکو قومونود ګډژوند او سولې

دسیاتنې لپاره ، له دې هیوادونو څخه هر یوه خپل مسوولیت ته په پاملرنه ځان ژمن او متعهدوګانه.

د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې د غړو په دې وینا کې د اتحادیې د غړو د اندولتیا پرېنسټ د نړیوال ستراتیژیك امنیت تامین، د ګډې قوماندې ایجاد او د متحدو پوځي ځواکو نو موضوعګانې ومنل شوې. همدارنګه په دې وینا کې له خپلواکو همګټو هیوادونو سره د نورو غړو پیوستون او یوځای کیدل په پام کې ونیول شول. ددغې ټولنې د غړو تر منځ د یوې ګډې اقتصادي حوزې ایجادیې د خپلو اهدافو په توګه اعلام کړ. د خپلواکو همګټو هیوادونود ټولنې غړو د شوروي دړې وړې کیدوته په پاملرنه خپلې نړیوالې ژمنې د خپلو اساسي قوانینو په اډانه کې د تعقیب او پاللو وړو ګڼلې.

د ملګرتیا څلور اړخیزتړون:

د(۱۹۹۴) کال په مارچ کې څلورو جمهوریتونو: سپینې روسیې قزاقستان، قرغیزستان او دروسیې فدراسیون د غه تړون لاسلیك کړ، د غو هیوادونو د خپلو تاریخي اړیکو پر بنسټ د خلکو د استعدادونو د غوړیدو، د خپلې خاورې دا بادیدو، د حاکمیت د حق پیژندلو ته په درناوي، د یوبل په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې او د خپلواکو همګټو هیوادونو په اډانه کې د مرستو دپراختیا د اړتیا او په خپلو منځو کې د ملګرتیا رامنځ ته کولو په منظور د سیاسي او اقتصادي مرستو په خاطر خپل هدفونه اعلام کړل.

د خپلواکو هیوادونو د ټولنې درامنځ ته کیدو تړون:

د(۱۹۹۶) کال په اپریل کې دروسیې اوسپینې روسیې تر منځ د لاریات یووالي د پلي کیدو او تحقق لپاره یو تړون لاسلیك شو، چې ددې تړون په سریزه کې یې خپلي تاریخي اړیکې مطرح کړې او په سپینه روسیه کې یې د(۱۹۹۰) کال د مۍ د میاشتې د ټولپوښتنو د پایلو د خپلمنځي نږدې اړیکودله سره پیل کیدو د(۱۹۹۱م) کال د فبروري د ښه ګاونډیتوب د تړون پر اساس د روسیې په فدراسیون کې د فدرال ټولنې د(۱۹۹۵م) کال د اکتوبر پریکړه او د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې د څلور اړخیز منشور د تایید پرینسټ یې د سپینی روسې، روسیې، قزاقستان او قرغیزستان تر منځ د ملګرتیا د ټینګښت په اړه خپل تصمیم اعلام کړ.

روسیه او د خپلواکو همګټوهیوادونو ټولنه:

لکه څنګه چې د مخه اشاره وشوه، په (۱۹۹۱م) کال کې یوولسو هیوادونو د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې غړیتوب تر لاسه کړ. ددې ټولنې دوولسم غړی ګرجستان وچی د (۱۹۹۳م) کال په پای کې له دې ټولنې سره یوځای شو، دې هیوادونو د خپلې سیاسي خپلواکۍ ساتنه د خپل کورني او بهرني سیاست بنسټ وګرځاوه. خو کورنیو توکمیزو نښتو دغه بهیر اغیزمن کړ. دا څرګنده وه چې ددې جمهوریتونو په بهرني سیاست کې د روسیې فدراسیون د اقتصادي او پوځي ځواك په لرلو سره تر ټوله ستر نقش لوباوه،نو ځکه ډیر ژر له بهرنۍ نړۍ سره د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې د جمهوریتونو اړیکې د روسیې د اړیکوتر اغیزې لاندې راغلي. ددغې مسالې شدت او ضعف په بیلا بیلو جمهوریتونو کې تو پیر درلود.

د بالتيك جمهوريتونه(لاتوانيا ، ليتوانيا او استونيا) بايد له دې ټولنې څخه بېل کړو ځکه چې هغوی د خپلواکو همګټو هيوادونو د ټولنې د غړيتوب منلوته غاړه کيښودله.

د روسيې تاريخي هويت د هغې د امپراتورۍ له ځانګړتياوو څخه بېل نه دی، ځکه چې د شوروی د ړنګېدو وروسته کيدل د روسيې ډيرو سياستوالو ته د منلو وړ نه و. " نږدې بهر" او" لرې بهر" ددوو کلمو منل د شوروي پخوانيو جمهوريتونو او نورو هيوادونو ته په اشاره له هغه ځانګړي امنيتي برداشت څخه نشات کوی چې د شوروي د فدراسيون پخوانيو غړوته يې نسبت کيږي.

له بلې خوا د شوروي له ړنګېدو وروسته په دې جمهوريتونو کې تعرضونه او سيمه ايزې جګړې سختې شوې، همدارنګه د روسيې له ټوټې کيدو څخه څرګاله وروسته، د روسيې ، امريکا او اروپا تر منځ د نظرونو اختلاف هم شدت و موند ، د ختيځ پلو ته د ناتو د پروګرامونو د پراختيا په وړاندې روسيې د خپل چار چاپير په اړه غوځ دريځ غوره کړه.

په هرحال له شوروی اتحاد څخه پاتې شوو جمهوريتونو له خپلواکۍ وروسته د خپل بهرني سياست ځانګړې او خاصه دستګاه رامنځ ته کړه، خو په دوی کې يوازې او کراين او سپينې رو سيې دبهرنی سياست په ډګرکې عملی تجربې درلودې، څرنګه چې دوی د لوړو زده کړو والاکسان ډير درلودل نو ځکه په خپل بهرني سياست کې د غوره شرايطو لرونکي وو، په هر حال محدودې تجربې يا د تجربو نه لرل ددې سبب شول چې له روسيې پرته نور خپلواك همګټي هيوادونه له يو لړستونزو سره مخامخ شي. له دوی څخه ډيرو خپلې بهرنۍ اړيکې دمسکو له لارې پيل کولې.

په نړیوال ډګر کې روسیه نسبت نورو جمهوریتونو ته له غوره دریځ څخه برخمنه وه. په مسکو کې د بهرنیو نماینده ګیو، نړیوالو سازمانونو، غیر دولتي تشکیلاتو او خبري نماینده ګیو دې لوړتیاته د عمل جامه واغوستله، د روسیې فدراسیون د بهرنیو چارو وزارت د شوروی د بهرنیو چارو وزارت په هماغې پخوانۍ ودانۍ کې اړولی دي.

په بهرکې د شوروی نماینده ګۍ او اقتصادي پلاوی ډېر ژر دروسیې فدراسیون چوپړ ته حاضر شول. د شوروی نړیوالې اړیکې په بشپړه توګه د روسیې فدراسیون ته ولېږدول شوې. د ملګروملتو په سازمان او امنیت شوراکې یې د شوروی دریځ ترلاسه کړ. د شوروی له دړی وړی کیدو وروسته په نړیوال نظام کې روسیې د هغه ځای ونیوخو د غه بهیر د روسیې د بهرني سیاست د ګواښونو رفع کول نه وو. روسیه هیڅکله هم یو ملي هیواد نه و. که څه هم ځینې روسان د شوروی په دړې وړې کیدو خوښ شول خو د یو زیات شمېر لپاره د روسیې له امپراتوری څخه د ځینو برخو بیلیدل د منلو وړنه و. د روسیې چارچاپیر د ډیرو روسانو شتون ددغه کار د حساسیت د زیاتوالې سبب کیده. په دې وخت کې دروسیې د نوي هویت ټاکل له ستونزو سره مخامخ شول. په خپله په روسیه کې هم د هغې د هویت په باب اساسی بحثونه روان و. د هغې د سیمه ایز او نړیوال دریځ په اړه هم د نظرونو زیات اختلاف مطرح و. په هر حال روسیې هڅه کوله چې د شاوخوا جمهوریتونو سره خپلې اړیکې ټینګې کړي.

د خپلواکو همګټو هیوادونو په ټولنه کې دوه اړخیزې او څواړخیزې اړیکې:

د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې د مشرانو شورا چې په(۱۹۹۶م) کال کې یلتسین ددریم ځل لپاره د هغې درئیس په توګه وټاکل شو، ددولتونو د مشرانو شورا، د بهرنیو چارو او ددفاع وزیرانو ددې هیوادونو د سیاسي او اقتصادي وضعې د ښه کیدو په منظور د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې د غړو داړیکو د تنظیمولو هڅه کوله.

د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې د هدفونو د نه عملي کیدو یو عامل ددې سازمان له اهدافو او راتلونکې نه د هغه د غړو د برداشت تفاوت دی، ځینې غړي لکه اوکراین چې د خپلواکو همګټو هیوادونو له بنسټ ایښودونکو څخه دی، هغه د شوروی د پخوانیو جمهوریتونو د بیا تنظیم او خپلواکۍ د ترلاسه کولو د لارې ابزارګڼي.

ځینی بیا لکه قزاقستان په دې هیله دې چې د غه سازمان به د غړو ترمنځ د اقتصادی نږدیوالي او سیاسی- اقتصادی ملګرتیا په لاره کې دیوې کاری اډانې حیثیت ولري. حتی د غه جمهوریتونه هم ددې سازمان په بیا رغاونه کې دروسیې له لاسبري څخه ویره لري. د روسیې ظرفیتونه او ځواکمنۍ له خپلو نږدې جمهوریتونو سره اټکل نه منونکی دی. دروسیې په شاوخوا جمهوریتونو کې د(۲۵) میلیونو روسانو شتون په خپل وار د هغوی لپاره د تشویش وړدی.

دروسیې په چارچاپیر کې داوسیدونکو روسانو ملاتړ، په پرله پسې توګه د مسکو د پام وړدي، که څه هم دې ملا تړ نسبت عملی جنبې ته منطقی جنبه لرله خودا څرګنده ده چې روسیه د هغوی د حقوقو د ساتنې په خاطر د نورو جمهوریتونو په کورنیو چارو کې ځان ته د مداخلی اولا سوهنې حق ورکو.

روسيې په خپل هماغه حال کې هم د خپلواکو همګټو هيوادونو د ټولنې د ټينګښت، پياوړتيا او تقويې په نسبت زيات پام اړولی دی، په وارو وارو د روسيې دولت ديوې واحدې اقتصادي او اغيزمنې پوځي همکارۍ د فضا په رامنځ ته کيدو ټينګار کړی دی. د روسيې فدراسيون په هماغه حال کې د مالي سرچينو په تامينولو کې د ټولو جمهوريتونو د ګډنقش غوښتونکی و.

روسيه له خپلو شاوخوا جمهوريتونو سره نوره په تجارتې راکړه ورکړه کې د شوروي ددوران د سوداګرۍ د لويو سبسايډيو منلوته مايله او چمتونه ده.

د خپلواکو همګټو هيوادونو د ټولنې تر منځ ددې متفاوت برداشت نتيجه داوه چې د هغې د تاسيس له لومړی کال څخه د مرکزي هيوادونو دوه ډلې: ارمنستان، سپينه روسيه، قزاقستانو، قزغيزستان، روسيه او تاجکستان، چې د ملګرتيا د پياوړي کيدو پلويان وو، او د څنډو هيوادونه: (ترکمنستان او اوکراين)چې د ملګرتيا په وړاندې يې مقاومت کاوه_ منځ ته راغلې.

د ځينو نورو هيوادونو:(آذربايجان ګرجستان ، مولداوي او ازبکستان) يوه ډله په داسې حال کې چې د خپلواکو همګټو هيوادونو ټولنه د پام وړګني، هغه دروسيې د سلطې اولا سبرۍ ابزار هم ګڼي د پولو او سرحدونو د غوټاکنوددې ټولنې په دا خلي ترونونو کې هم انعکاس موندلی دی،يواځې اوو هيوادونو په(۱۹۹۲م) کال کې د تاشکند امنيتی تړون لاسليك کړ. په(۱۹۹۵م) کال کې او کراين ،آذربايجان ، ترکمنستان او ملداوي د خپلواکو همګټو هيوادونو د ټولنې د بهرنيو پولو

ددفاعي سیستم رامنځ ته کیدل ومنل. همدارنګه آذربایجان او ملداوي د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې د هوایي د فاع د مشترك سیستم د تړون لاسلیك کولو ته هم غاړه کینبوده. که څه هم د تاشکند په تړون کې د سوله ساتو ځواکونو ایجاد ته اشاره وشوه خودهغه ټول غړي په دې برخه کې فعالیت ته حاضرند شول. په دې توګه روسیه د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې په سوله ساتوځواکونو کې د اصلي عنصر په توګه و پیژندل شوه، چې دا کارد خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې په دننه او بهرکې د بدبینۍ د رامنځ ته کیدواو سختوالي سبب شو.

په همدې توګه د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې ځینو غړو دداسې دوه اړخیزو تړونونو په لاسلیك کولو هم لاس پورې کړې دی، چې د خپلواکو همګټو هیوادونو له ټولنې سره اړیکه نه لري. د(۱۹۹۵م) کال په فبروری کې د قزاقستان، قرغیزستان او ازبکستان دجمهوریتونو مشرانو داسې یوه ټولنه (اتحادیه) را منځ ته کړه چې د اقتصادي ټولنې د ایجاد په لاره کې د هغوی مرستندویه شوه. د(۱۹۹۶م) کال په جنوري کې قزاقستان له روسیې او سپینې روسیې سره دیوې ګمرکي اتحادیې د جوړیدو په خاطر یو تړون لاسلیك کړ چې په دې تړون کې قرغیزستان هم ورسره یوځای شو.

د(۱۹۹۶م) کال د مارچ په پای کې د سپینې روسیې، قزاقستان، قرغیزستان او د روسیې مشرانو د انرژي او اطلاعاتو د سیستم د بیودتنظیم سیستم او د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو واحدو سیاستونو د طرجی په ترځ کې په ګډ بازار سره دحمل ونقل د یوې واحدې اقتصادي فضاد ایجاد. د اقتصادي ملګرتیا دټینګښت په منظور یوتړون لاسلیك کړ. روسیې او سپینې روسیې

له دې وروسته هم له پورتنیو بنسټونو او خپلواکو دولتونو سره د یوه اتحاد درامنځ ته کیدو په منظور یو بل تړون اعلام کړ. له پورتنیو بنسټونو څخه یو چې وکولی شي د وحدت په سطحه په جمهوریت کې د پریکړو بهیر ته تحقق ورکړي، هم ددواړو هیوادونو د پاملرنې وړ وو. هغوي د دوه اړخیزو تړونونو پربنسټ په خپله خوښه د ټولنیزو او اقتصادی مقرراتو تنظیم هم ومانه. د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې په غړو جمهوریتونو کې ډیر مهم تړون دروسیې او او کرایین په اړیکو پورې ـ چې د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې د غړو ترمنځ دوهم اقتصادی او سیاسی قدرت دی- لاسلیك کړی دی.

د اوکرایین له حضوره پرته د سیاسی او اقتصادی ملګرتیا تړونو نه زیات د اعتبار وړنه دی ځکه چې له اروپایی هیوادونو سره په هر اړخیزه توګه اوکرایین د خپلواړیکو پراختیاته پاملرنه کړې ده. د او کرایین له نظره په خپلواکو همګټوهیوادونو کې د روسیې د نفوذ د هیځ پر زیاتیدونکي بهیر تهدیدوونکی دی. د ناتود پراختیا په شرایطوکې او کرایین کولی شي، د روسیې او ناتو د هیوادونو ترمنځ په یوه حایل بدل شي. کله چې په(۱۹۹۴م) کال کې لیونید کوچما د اوکرایین د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو، دروسیې پر لور د هغه مثبت تمایل ته په پاملرنه ددواړو هیوادونو د اړیکو د ښه کیدو تمه کیده.

ددواړو هیوادونو په اړیکو کې ډیره مهمه موضوع د کریما پر ټاپووزمه او د تورې بحیرې د بیړیو د تملك او ترلاسه کولو مساله وه. د سواستوپل په بندرکې ددې بحیرې د بیړیو استقرار هم ددې بندر د ترلاسه کولو په اړه له اختلاف سره مل وو. که څه هم ددواړو هیوادونو ترمنځ تړونونه لاسلیك شول خود خپلواکو همګټو

هیوادونو په ټولنه کې دروسیې د نفوذ د پراختیا په اړه د اوکرایین تشویش کمه نشو. ددې دواړو هیوادونو اړیکې، د خپلواکو همګټو هیوادونو د ټولنې د انسجام پربهیر ټاکونکې اغیزه لري.

د خپلواکو همګټوهیوادونو د ټولنې کورنۍ نښتې او اختلافات:

د روسیې له دړې وړې کیدو سره سم، د ځینو هغو اختلافاتو د سختوالي او تشدید زمینه- چې پخوا د جمهوریتونو ترمنځ موجود وو- برابره شوه، ګرجستان او آذربایجان تر منځ جګړې او همدارنګه د ګرجستان کورنۍ نښتې په دې برخه کې دیادونې وړدي. آذربایجان او ارمنستان دخپلواك غرني قره باغ په سیمه کې چې زیاتره اوسیدونکي یې ارمنیان دي، او په ګرجستان کې د ننه مخالف ځواکونه، په داسې حال کې چې د آبخاري بیلتون غوښتونکو پراخې هڅې پیل کړې وې، د جمهوریتونو تر منځ ډیرو حادو مسایلو څخه دي.

په دې ترځ کې د مولداوي دولت هم ډیر سخت شرایط وازمایل. د چیچن له خپلواك جمهوریت څخه پرته چې روسیې په مستقیمه توګه په پوځي نښتوکې حضور درلود په ګرجستان کې د روسیې سوله ساتې ځواکونه فعال شول او هڅه یې وکړه خوسیاسي بې ثباتي له منځه یوسی او نورو سیموته یې د لیږداوسرایت مخه ونیسي.

د(۱۹۹۴م) کال له دسامبر څخه دروسیې فدراسیون خپل پوځي ځواکونه د چیچنیانو د مقاومت دماتولو په منظور د غه جمهوریت ته واستول. د غې جګړې دواړولوروته سخت زیانونه واړول. حتی د(۱۹۹۶م) کال په اپریل کې د دودایف مړینې هم ونه شوکولی چې د چیچنیانو تسلمیدلو ته زمینه برابره کړي. د

غه جګړه د روسیې فدراسیون له کورنیو جګړو څخه شمیرل کیږي.

د چیچین جګړې د روسیې او لویدیځ په اړیکو کې ژوره اغیز درلوده. د کورنیو مسایلو له مخې دخپلو اکو همګټو هیوادونو ټولنه د روسیې دې جګړې د بیلتون غوښتونکو غوره ځنګونو له پراختیا څخه ویرولی وو او په همدې حال کې یې د نورو هیوادونو تشویش هم را پارلی و، چې کیدای شي روسیه د شوروی اتحاد د احیا لپاره بنایي له زورنه کاروا خلي. د چیچن ستونزې په قفقاز کې د روسیې په ټولو مناسباتو وزرونه غوړولی دی.

ګرجستان سره در سیې ماسبات ان دو سله والې نښتې تر پولې پورې رسیدو دي اوس د روسیې د رسمي دریځ په څو ټکو کې را لنډوو:

له مسخدوف او ملګرو سره یې ـ چې د مسکو په پیښه کې یې د ترور یستانو ملاتړوکړ باید خبرې ونه شي.

د چیچن مساله، د روسیې کورنۍ مساله ده، باید د چیچن له خلکو سره د تفاهم له لارې حل شي.

تروریستي او بیلتون غوښتونکې ډلې چې هر چیرې پټې شوې وي، باید وټکول شي.

په مسکوکې دیرغمل نیولو له پیښې وروسته ، په چیچن کې د روسیې پوځي فعالیت زیات شوی دی.

دسیمې د امنیت د تامینولو په منظور، د چیچن د کورنیو چارو وزارت جوړیږي.

روسیه د اروپایي ټولنې ، د جګړې له بندیدو او په چیچن کې د سولې د تامین سره دنورو مینه والو هیوادونو نظرونه اوري او د هغوی درناوی کوي.

- د چیچن د برخلیك د ټاکلو په منظور باید ټولپوښتنې(ریفرونډم) وشی، څه موده د مخه چې ټولپوښتنې شوي وې، په سلو کې(۸۰) چیچنیانو په کې ګډون کړی و.
- دچیچن له اساسی قانون نه د هغه هیواد د خلکو ملاتړ، په سلو کې ۹۶.
- د جمهوري ریاست د انتخاباتوله قانون څخه د چیچن د خلکو ملاتړ، په سلوکی ۹۵.
- د چیچن د خلکو له خوا د پارلمانی انتخاباتو د قانون ملاتړ ، په سلو کې ۹۶.

د چیچن د خپلواک جمهوریت تاریخچه:

د چیچن جمهوریت د قفقاز په شمال کې پروت دی، د روسیې فدراسیون په دې برخه کې له ګرجستان سره ګاونډیتوب لری، د داغستان خپلواك جمهوریت یې په ختیځ او د شمالي اوستي خپلواك جمهوریت او اینګوش د هغه په لویدیځ کې پراته دي.

مرکزیې د ګروزني ښار- غرنۍ سیمه ده، د هغه شمال پلوته ښکلې غونډۍ اود ښئتې پرتې دی د غه جمهوریت(۱۹۳۰۰) مربع کیلو متره پراختیا د ګروزني ښار د(۴۰۰) زروپه شاوخوا کې اوسیدونکې لري چې زیاتره یې سنیان دي، ددې جمهوریت اقتصاد دقفقاز د شمالی برخی په اقتصادي سیمه کې موقعیت لرې. په (۱۸) پیړۍ کې روسیې ، عثماني امپراتورۍ او ایران ددې سیمې د ترلاسه کولو په منظور په اوږدو جګړو لاس پورې کړی و. په (۱۹۲۲م) کال کې د چیچن خپلواك ولایت تاسیس شو، وروسته په(۱۹۳۴م) کال کې د چیچن خپلواك جمهوریت- انګوش منځ ته

راغی، په دوهمه نړیواله جګړه کې له المانیانو سره د چیچن دیاغیانو مرسته ددې سبب شوه چې ستالین هغوی قزاقستان ته تبعید کړل. د هغه له مړینې وروسته یې وکولی شول چې خپل خپلواک جمهوریت بیرته ترلاسه کړي.

په(۱۹۹۱م) کال کې دچیچن- انګوش د خلکو سراسری کنګرې پردوو برخو ددې جمهوریت ویشل اعلام کړل او چیچنیان له انګوشیانو څخه بیل شول، ددې جمهوریت رئیس جو هردودایف په(۱۹۹۱م) کال کې د شوروې له دړې وړې کیدو څخه مخکې، د هغه خپلواکي اعلان کړه.

بالاخره په(۱۹۹۴م) کال کې د جوهر دودایف د بیلتون غوښتني د پای ته رسولو په منظور د روسیې د فدراسیون پوځ د غه جمهوریت ته ورننوت. د روسیې د فشارپه وړاندي چیچنیانو په نورد جمهوریتونو کې ، لکه:داغستان او داستاوروپول په سیمه کي یرغمل نیول پیل کړل ، چې ددې خونړیو نښتو په پایله کې له(۵۰) زرو زیات مړه او(۵۰۰) زره نور بي کوره شول.

په هر حال د یلتسین په وخت کې د جمهوري ریاست له بیا ځلی(مجددو) ټاکنو څخه د مخه اوربندوشو، چې جنرال الکساندر لیبد په دې ترڅ کې مهم رول ولوباوه. د روسیې د فدراسیون د اساسي قانو ن پربنسټ هر خپلواک جمهوریت په کورنیو چارو کې آزاد دی، چې خپل اساسی قانون . پارلمان ځانګړی بیرغ او نښان لری خو په دې شرط چې کورنی آزادی یې د فدرال اساسی قانون سره مغا یرت ونه لري.

د چیچن خپلواک جمهوریت د روسیې له (۲۱) خپلواکو جمهوریتونو څخه ګڼل کیږی. چیچن یوه کرنیزه سیمه ده چې صنعتي تولیدات یې په نفتي موادو پورې اړوند دې، د غه

جمهوریت له قفقاز څخه د نفتو د لیږدولو د اصلي نل لیکو په تګلورۍ کې پروت دی.

د روسیې دفدراسیون بله لویه ستونزه د چیچن جګړه ده، چې په تدریج سره دوه نښتې په ګوته کیدای شي. د(۲۰۰۲م) کال د اکتوبر د(۲۳) له پېښې وروسته چې په هغې کې د چیچن د جنګیالیو له خوا د تیاتر په تالار کې د ښځو او ماشومانو په شمول نږدې (۸۰۰) تنه یرغمل ونیولو شول. دادوه نښتې لاپسې څرګندوې شوې لومړۍ نښته دولتې دریځ په تیره بیا ناسیونالیزم ته متمایل پوځیان، سیاستوال او د مرکز ځواکونه دې چې د ترهګرو په نامه د بیلتون غوښتونکو په تکولو زور اچوي. د اوسیدونکو عامه روحیه هم د غه ډول برخو رد ته هرکلي وایي که چیرې له دې پیښې د مخه د چیچن جمهور رئیس اصلان مسخدوف او د هغه ځانګړې استازی احمد زکایف په بهر کې د باسایف ،خطاب وباریف چې پیژندل شوي تر هګر دي او له القاعدې اوطالبانو سره اړیکې لري. په وړاندې د معتدل سیاستوال په توګه منل شوي وو. دادی ولادیمیر پوتین او د هغه رسمي ډله ایزې رسنۍ هم هغه د تروریزم پلوی معرفي کوي او احمد زکایف چې په ډنمارک کې و، دروسیې په غوښتنه بندي شوی دی.

دوهمه ډله د چیچن جنګیالی په دووډلو ویشي: تر هګر او بیلتون غوښتونکي. تر هګر باید له منځه یوړل شي خو له بیلتون غوښتونکو سره ښایي خبرې وشي. اروپا یې ټولنه زیاتره د چیچن دقضیې په سیاسي جوړ جاړي ټینګار کوی او د روسیې له خوا د بشر پر حقوقو تیري ته ګوته نیسي.

له افغانستان سره د روسيې اړيکې:

مونږ له روسيې سره ډېرې ځنډنۍ اړيکې لرو، د روسيې لومړنی پلاوی د تيموري شاهرخ په زمانه کې هرات ته راغلی و. په وروستيو وختونو کې، د بيلګې په توګه د دراني احمد شاه په وخت کې هم د روسيې رسمي پلاوی هرات ته راغلی و.

هغه وخت چې دوست محمد خان د کابل حاکم و، کپتان ويتکويچ د خبرو اترو لپاره کابل ته راغلی و.

همدارنګه د امير شير علي خان په وخت کې د استوليتف پلاوی زمونږ هيوادو وکوت. د اميرامان الله خان په وخت کې د لومړي ځل لپاره ددواړو هيوادونو مناسبات په بله بڼه له سره پيل شول.

روسيه لومړی هيوادو چې د هيواد خپلواکي يې په رسميت وپيژندله. د غې موضوع ته له حقوقي پلوه د ليتوفسك برست په تړون کې ځای ورکړ شو، ددې تړون اوومه ماده حکم کوي چې د افغانستان او فارس هيوادونه خپلواك دي.

امير امان الله خان په خپل د(۱۹۱۹م) کال د اپريل د(۲۱) په پيغام کې روسيې ته ليکي: ددواړو سترو هيوادونو تر منځ د صميمانه اړيکو د ټينګولو او له روسيې سره د متقابلو ارتباطاتو د تامين په منظور، جنرال محمد ولي خان د افغانستان د فوق العاده استازی او سفير په توګه وګومارل شو.

په همدې توګه د غه ډول اړيکې بايد لومړی ددووګاونډيو ملتونو او وروسته له نورو ملتونو سره ټينګې شي.

د(۱۹۱۹م) کال د اپريل د مياشتې په پای کې د فدراتيف روسيې د خلکو د جمهوريت د کميسارانو(وزيرانو) د شورا رئيس ولاديميرلنين او د روسيې د سراسري کميتې رئيس ميخائيل کالينن د امان الله خان په نامه ځوابيه پيغام را وليږه، چې په هغه

کې له روسي ملت سره د افغانستان ددولت ددوستانه اړیکو د تمایل د هرکلی په ترڅ کې د سیاسي نماینده ګیو د مبادلې وړاندیز هم وشو.

د(۱۹۱۹م) کال جون دروسیې او افغانستان ترمنځ د سیاسي اړیکو د ټینګښت نیته ګڼل کیږي. یو نیم کال وروسته د(۱۹۲۱م) کال د فبروري په (۲۸مه) نیټه ددوستۍ تړون -چې ددواړو هیوادونو تر منځ یې د ښه ګاونډیتوب بنسټ کیښود- د کابل په ښار کې لاسلیك شو. پنځه کاله وروسته یعنی په (۱۹۲۶م) کال کې د ناپلوی او یو پربل د نه تیري تړون(د پغمان تړون) لاسلیك شو. د غه تړون ددوه اړخیزو اړیکو په پراختیا او د افغانستان د نا پلوي(بیطرفی) په سیاست کې، د دودیز او عنعنوي سیاست یو مهم پړاو ګڼل کیږي.

د(۱۹۲۹م) کال د...... په میاشت کې امیرامان الله خان مسکووکوت ، چې په دې لیدنه کې د شوروی مقاماتو له تاوده هرکلی سره مخامخ شو. د امیر امان الله خان ددوه اوونیز سفر په موده کې ددواړو هیوادونو ترمنځ د سیاسي او فرهنګی اړیکو د پراختیا په اړه ډیر سندونه او مدارك لاسلیك شول.

له(۱۹۵۴م) نه تر(۱۹۹۰م) کلونو پورې په افغانستان کې دشوروی اتحاد په مرسته په مهمو اقتصادي ډګرونو کې(۱۵۴) مؤسسې ودانې شوي دي، خو په عین حال کې، د افغانستان د لس کلنې کورنۍ جګړې په وخت کې، د شوروی د یرغلګرو وسله والو پوځونو ونډه د افغانستان لپاره د غم لړلو پایلو سبب شوه چې په دې لړکې یی پر افغانستان باندې ستر بشری او اقتصادی زیانونه تحمیل کړل.

د(۲۰۰۱ م) کال په وروستیو کې د طالبانو درژیم نسکوریدل دروسیې او افغانستان په دوه اړخیزواړیکو کې د مناسباتو دیوه نوې پړاو د پیل په توګه وځلیدل، روسیې دبن د پروسی او په افغانستان کی د حامد کرزي په مشری، د انتقالی دولت دجوړیدو بشپړملاتړ وکړ. د روسیې فدراسیون ددولت د پریکړې پر اساس د طالبانو د رژیم د نسکوریدوله پیله د بشري مرستو لومړني کاروانونه هیواد ته را واستول شول. دلومړیو درې میاشتو په بهیر کې د(۲۰۰۱م) کال له نوامبره د(۲۰۰۲م) کال ترفبروری پورې په(۹۰۰۰) ټنو بشري مرستو بار(۵۴) کتاره بار وړونکي موټرونه افغانستان ته را ورسیدل او د جون له میاشتې تر اپریله(۵/۷) زره ټنه نور غذایي مواد د افغانستان بیلا بیلو ولایتونو ته ورسول شول. دروسیې د بشري مرستو مرکز ، په کابل کې خپل کار پیل کړ، چې یو شمېرافغانان یې تر معالجې او درملنې لاندې ونیول.

د روسیې کار پوهانو دسالنګ د تونل په بیا رغاونه کې ګډون وکړ. د افغانستان د لنډ مهالې اداري له جوړیدو راهیسې د روسیې دبشری مرستو اندازه له(۳۰) ملیونو امریکایی ډالرو څخه اوړي.

د ۲۰۰۰م) کال د دسامبر په(۲۸مه) په کابل کې د روسیې فدراسیون سفارت او د(۲۰۰۲م) کال د اکتوبر په(۱۴مه) په مزار شریف کې د روسیې جنرال قونسلګرې خپل فعالیت له سره پیل کړ او د (۲۰۰۲م) کال په نوامبرکې په تجارتې او اقتصادي چارو کې د روسیې فدراسیون نماینده ګي، په افغانستان کې خپل کار پیل کړ.

روسیې او افغانستان په لوړ کچ سیاسي خبرې اترې له سره پیل کړې. د(۲۰۰۱م) کاله له نوامبره را په دیخوا د افغانستان او روسیې د رئیسانو دوه ځله کتنه یعنې د(۲۰۰۲م) کال په مارچ کې په مسکو او د(۲۰۰۳م) کال په اکتوبر کې د مالیزیا په بوتراجای

ښار کې د اسلامي کنفرانس د سازمان په سامیت کې وشوه او ددواړو هیوادونو ددفاع او بهرنیو چارو دوزارتونو د مقاماتو ترمنځ مناسباتو پراختیا وموندله. دروسیې دولتي او نا دولتي موسسې ددوه اړخیزو اړیکو د پراختیا لیوالې دي، د(۲۰۰۲م) کال د مارچ په میاشت کې د یادوشوومؤسسو استازو او د افغانستان د اقتصادي برخو وزیرانو د طبیعي گاز او نفتو د را ایستلو، ترانسپورت ، صنایعو، ساختماني چارو، کرنې او تیلي کمونیکیشن په برخو کې (۲۰) تړونونه او د همکارۍ یادداشتونه لاسلیك کړل په دې برخه کې د روسیې د مرستو ټوله اندازه(۷۹) میلیونو ډالروته رسیدلې ده.د هغو پروژو فهرست چې مخکې د پخواني شوروی اتحاد له خوا په هیواد کې جوړې شوي دي:

۱-دمزارشریف د کودو برق فابریکې.
۲- د جنگلك د فابریکې تاسیسات.
۳- د کابل دډوډې پخولو سیلو او ژرنده .
۴- د پلخمري - شیرخان بندر لویه لار.
۵- د کابل پلخمري لویه لار.
۶ د پلخمري مزارشریف لویه لار
۷ -د قندهار ، هرات ، تورغونډۍ لویه لار.
۸ - دسالنگ گالرۍ.
۹ - د میخانیکې ریاست تاسیسات .
۱۰ - د مزارشریف هوایي ډگر.
۱۱ - د کندز- کشم د لارې یوه برخه.
۱۲ د غزنی د سردې د بند د خړوبولو پروژه.
۱۳ د ننگرهار وادي پروژه .

۱۴. د کابل او مزار شریف د نفتو او ګازاو میخانیکي تخنیکمونه.
۱۵. په مزار شریف ، سرپل او شبرغان کې د نفتو او ګازو را ایستلو او تفحصاتو پروژې.
۱۶. ـ د کابل پولی تخنیك د انستیتوت دودانولو پروژه.
۱۷. د بګرام او شینډنډ پوځي هوايي ډګرونه.
۱۸ـ د پلخمري سیلو
۱۹ـ دکابل دکور جوړولو فابریکه(مکرریانو نه).
۲۰ـ د اردو څلور سوه بستره ایزروغتون.
۲۱- د ټولنیزو علومو انستیتوت.
۲۲- د پیداګوژي انستیتوت.
۲۳- د کورنیو چارو وزارت روغتون .
۲۴- ددفاع وزارت ودانۍ .
۲۵ـ حربی پوهنتون.
۲۶-د لوګرد عینك د مسوسروې.
۲۷-د حیرتانو پول(پل).
۲۸ـد هرات قندهار لویه لار.
۲۹ـد کابل هوايي ډګر.
۳۰ـ د کابل ښار دماستړپلان برابرول،
۳۱ـ د نغلو د بریښنا بند جوړول.

مولد او یا (ملدوا)

مرکز : کشینیوف

نفوس: ۴.۵ میلیونه .

جمهورئیس Vladimir voronin

صدراعظم :VasileTralev

د بهرنیو چارو وزیر:Micolae Dudau

دولتی نظام : جمهوري.

ژبه : رومانیایی او روسي.

پولي واحد :لئو.

جغرافیایی موقعیت:

مولد او یا د آسیا په جنوب ختیځ کې پرته ده، چې د مولد او یا د تاریخي خاورې یوه وړه برخه په برکې نیسي، د مولد او یا دتاریخي خاورې زیاته برخه په رومانیا او نورې برخې یې د جنوبي بسارا بیا او شمالی بوکوینا په نامه په او کراین کې شامل دي.مولد او یا په وچې پورې محصوره سیمه ده چې د شمال،

جنوب او ختیځ له لوري له او کرایین او په لویدیځ کې له رومانیې سره ګاونډی ده.

ددې هیواد مساحت(۳۳،۷۰۰) مربع کیلو متره ده چې له همدې امله د پخواني شوروي دوهم کوچنی جمهوریت ګڼل کیږي.

د مولداویا سیمه اوارې او حاصلخیزه ځمکې لري، خو ددې هیواد په مرکز او شمال کې غونډۍ ډوله سیمې هم لیدل کیږي او جنوب پلوته د تورې بحیرې پرخوا د یو تدریجي ځوړي لرونکې ده. د مولډ او یا هوا په زړه پورې او ښکلې ده، اوړی یې تود او اوږد او ژمی یې لږ ودېر معتدله دی.

په دې هیواد کې دوه لوی رودونه بهیږي:

۱ د نیستر روده ،چې د مولداویا په ختیځو سیمو کې بهیږي او په توره بحیره کې تو ییږي.

۲--د پروت رود د غه رود د رومانیا لویدیځې پولې تاکي او د مولد او یا د جنوب په وروستۍ برخه کې دډانیوب له رود سره یو ځای کیږي.

مولد او یا له اداري پلوه په(۱۰) ښارونو، څلورو برخو یا نا حیو ویشل شوې ده چې له کیشینوف څخه وروسته د تیراسپول ښار د اهمیت پراساس دوهم ښار دی مولداویا دوه بیلتون غوښتونکې سیمې هم لري.

له د نیسترنه پورې غاړه جمهوریت ددنیستر درود ختیځ پلوته پروت دی او مرکزیې د تیراسپول ښاردی چې زیاتره او سیدونکي یې اسلاودي. د ګاګایوز جمهوریت دمولداو یا جنوبي لوري ته پروت دی او مرکزیې د کمرات ښار دی، ددې جمهوریت ا وسیدونکي ترکي ژبي دی.

بندرونه :

لکه څنګه چې وویل شول، مولداویا په وچې پورې محصورهیواد دی او د هغه د اوبو یواځنۍ بین المللی ارتباطي لاره نږدې د(۲۰۰۰) متروا وږدوالی د ډانیوب رود ته نږدې پرده . دا سیمه له خپلواکۍ وروسته، د مولداویا د دولت د پرله پسې هڅوپه ترڅ کې د بندري کیدو په لور وړاندې روانه ده،د هغې د تجهیز، تاسیس اوله کیشینوف سره یې د واټیز(جاده یی) ارتباط په منظور بهرنیو هیوادونو هر ډول مرسته او پانګه اچونه، د مولداویا لپاره یوحیاتی اقدام دی، چې دې جمهوریت ته به د آزادې سوداګرۍ لاره پرانیزي او په نږدې راتلونکې کې به د مولد او با اقتصادی ځواکمني زیاته کړي. به همدې اساس په د حمل و نقل او د اروپا په ډیرې مهمې سمندري لاره باندې د لاسبری همیشنۍ ستونزې کمې کړي.

تاریخي پسمنظر:

دمولد اویا خاوره له میلادنه د مخه د استوګنې وړوه. دغه خاوره په(۱۰۶م) کال کې د روم له خوا ونیول شوه او رومیانو د خپلې وا کمنۍ په کلونو کې خپله ژبه او فرهنګ دلته خپاره کړل، په دریيمه میلادې پیړۍ کې د رومیانو له وتلو وروسته د غه خاوره د بیلابیلو قومونو(اسلاویانو، بلغاریانو، مجاریانو، تاتاریانواو..) تر بریدونو لاندې راغله چې له هغو څخه ځینې په مولد او یا کې استوګن شول.

په وروستیو پیړیو کې هم د مولد اویا خاوره وارپه وار د عثماني امپراتورۍ، روسیې او شوروي تر ولکې لاندې راغلې ده، چې د غه کار ددې خاورې پرتهولنیز جوړښت زیاته اغیزه ښندلې ده.

قومونه او د هغواړیکې:

د مولد اویا ټولنه له زیاتې رنګارنګۍ څخه برخمنه ده. د غه ټولنه په پنځوقومونو ویشل کیږي. چې عبارت دي له:

الف: مولد او یایان یا روماني ژبي: مولد او یایان ددې خاورې اصلي اوسیدونکی دي او د هیواد د اوسیدونکو اکثریت جوړوي. مولد اویا یان په روماني ژبه خبرې کوی، دې ژبې په(۱۹۸۹م) کال کې دروسي ژبې ځای ونیو خود خلکو یواځې په سلو کې(۱۲) په دې ژبه تسلط لري، زیاتره یې اوس هم په روسي ژبه خبرې کوی.

ب_ او کراینیان: داد مولداویالویه قومي لړه کی ده، چې زیاتره له لومړۍ نړیو الي جګړې او هغه وخت چې دا خاوره لـه روسیې سره یوځای شوې. په مولداویاکې استوګن شوي دي،زیاتره او کراینیان د دنیستر درود په ختیځه برخه کې استوګن دي، لـه یوې ډلې پرته چې د د نیسترله بیلتون غوښتونکو سره ولاړدي، زیاتره د بیلتون غوښتونکـو د ملاترپلویـان نـه دي، خـو ددولـت پـه وړانـدې د یـوه مخالف ځواك پـه توګـه عمـل کـوي او پـه قوانینـو کـې د بـدلون پـه منظور په دولت باندې زور اچول غوره ګڼي.

ج_ روسـان: د(۱۸۱۲م) کـال د بوخارسـت د تـړون پربنسـټ بـا لاخره د تـزار پـوځي ځواکونـه د پـروت اودنیسـتر د رودونـو تـرمنځ سیمې په نیولو بر یالي شول ښایي چې داوخت په دې سیمه کې د روسانو د استوګن کیدو پیل وګڼل شي.

له شوروی سره دمولداویا له یوځای کیدو وروسته، روسان لـه زیاتو امتیازونو څخه برخمن شول خو د مولداویا لـه خپلواکۍ او ددې امتیازاتو د لـه منځـه تللو څخـه وروسـته یې د مولـد او یـا پـه خـاوره کـې یـو خپلـواك جمهوریت جوړکړ. لـه روسیې سره یـې د

بیرته یوځای کیدو غوښتنه وکړه او له مرکزي دولت سره په جګړه کې ښکیل شول.

د- ګاګایوزیان: د ګاګایو زیانو د تو کمیزې ریښې(مسیحي ترکانو یا ترکي ژبو مسیحیانو) په اړه دوه نظریې موجودې دي:

لومړۍ دا چې په ترکي قبایلو پورې اړوند دی، چې د تورې بحیرې لـه سیمو څخه را خوځیدلي او د بلغارستان په "دوبروجای)) نومې سیمه کې یې مسیحي دین منلی دی.

دوهم دا چې، د بلغاریایانو له توکم څخه دي، چې ناچاره یې له ثوارلسمې پیړۍ څخه را په دیخوا ترکی کلتور منلی دی،خو بیا هم د خپلو دودونو په ساتلو بریالي شوي دی،سره له دې هم ګاګایو زیان په دودودستورکې له بلغاریایانو سره ډیر ورته دي.

په نونسمه پیړۍ کې د روسیې او عثماني جګړو په ترځ کې ډیروګاګایو زیانو د روسیې امپراتورۍ ته لیږداو مهاجرت وکړ او زیاتره یې په بسارا بیاکې چې په(۱۸۱۲م) کال له روسیې سره یوځای شوې وه_ پاتې شول بسارا بیاپه (۱۹۱۸-۱۹۴۰م) کلونو کې د روماني حکومت تروا کمنۍ لاندې وه، همدا دلیل و چې د شوروي د(۱۹۲۶م) کال په سر شمیرنه کې ګاګایو زیان ډیرلږښودل شوی دی. د مولداویا د جمهوریت په جوړیدو او له شوروي سره د بسارا بیا په یوځاي کیدو، ګاګایوزیان په دې جمهوریت کې یولوی اقلیت ګڼل کیده اوس د ګاګایو زیانوپه سلوکې د(۱۷) تنو دوهمه ژبه روسي ده او یواځې(۴۴) په سلو کې له رومانیایي ژبې سره بلددي، له دې څخه دا په ډاګه کیږی چې ولی ګاګایو زیان دډیرو روسانو تر څنګ د(۱۹۹۱م) کال کې د مولداویا د خپلواکۍ په اعلامولو، ګاګا یو هم د (۱۹۸۹م) کال د تصویب شوي ژبني قانون مخالف دي. په مولداویا د جنو ب په

پنځوبرخو کې یو جمهوریت جوړکړ او د(١٩٩٢م) کال په کورنیو جګړو کې د مرکزي دولت په وړاندې دروسانو ترڅنګ و درېدل.

بلغاریایان:

ډېر مهم پرغلګر قوم چې له درېیمې میلادي پیړۍ څخه د مولداویا په خاوره کې استوګن شوی بلغاریایان دي، چې له (٢٠٠) کالو څخه زیاته موده یې په دې سیمه واکمني کړې ده او په اتمه میلادي پیړۍ کې یې مسیحیت هم هلته دود کړی دی. دا قوم اوس په مولد اویا کې یووړوکی اقلیت ګڼل کیږي.

ژبه او لیک:

تر(١٩٨٩م) کال پورې ددې هیواد رسمې ژبه روسي وه، چې په همدې کال کې رومانیایی ژبه ، ددې هیواد د رسمي ژبې په توګه اعلام شوه.

له ١٩٤١م) کال څخه را په دیخوا په دې هیواد کې سیرلیك، لیك دود و. چې د ١٩٨٩م) کال له بدلونو نو سره سم لاتیني الفبې د هغه ځای ونیو خو ددې جمهوریت لړه کیو له خپلې ژبې او لیك څخه کار اخیسته. اوس د هغوی څخه ځینې په روماني ژبه رواني خبرې کوي او زیات یې په روسي ژبه غږیږي. ګاګایوزیان په ترکي خبرې کوی او هم په سیرلیك ، لیك لیکنې کوي.

ادیان اومذهبونه:

د مولداویا ډېر اوسیدونکیِ د مسیحي دین پیروان دي. مسیحی ختیځ ارتدکس د هیواد ډېر لوی مذهب دی حتی ترکي

توکمه ګاګایوزیان هم مسیحي ارتدکس دي، چې په دې توګه په سلو کې(۹۸/۵) اوسیدونکي د ختیځ ارتدکس پیروان دی.

د(۱۹۹۲م) کال په دسامبر کې د مسکو ستراسقف، په یوه اسقفی حوزه باندې د مولداویا د کیشینوف دولایت دوضعیت د بدلولو لاربنوونه وکړه او حکومت هم دا لار ښوونه ومنله. په اوسني وخت کې مولداویا د روسي ارتودوکس کلیسا دقلمروجزده خو د ترکانو او رومانیایانو د لمانځه اداب هم پرځای کیږي.

په ټوله مولداویا کې(۸۵۰) کلیسا ګانې موجودې دي او په وروستیو کلونو کې هم د کلیسا ګانو جوړول زیات شوي دي.

په دې هیواد کې دوهم لوی دین یهودیت دی چې د مولداویا په سلو کې (۱،۵) او سیدونکي پرې معتقددی. دمولداویا یهودان دخزرانو د امپراتورۍ پاتې شوني دی. خزران چې ترکي توکمه وو، په(۷۴م) کال کې یې یهودیت ومانه، وروسته له هغې چې په نهمه میلادي پیړۍ کې یې په امپراتورۍ د بیلا بیلو قبیلو له خوا یرغل وشو ـ نورو سیمو ته ولیږدیدل، په ټوله اروپا او په ځانګړې توګه په ختیځې اروپا کې خواره شول. پرلهستان (پولنډ) او د ختیځې اروپا پر نورو هیوادونو باندې د المان له یرغل سره سم، د غه یهودان رو مانیې، بسارا بیا او شمالي بوکوینا ته مهاجر شول او په دې سیمه باندې د شوروي له یرغل سره سم ددې سیمې یهودیانو بیا لیږدیدنې پیل کړې. په(۱۹۸۹م) کال کې د ناسیو نالیزم په اوج ته رسیدو، ځینی د هغو له مولداویا څخه ولیږدیدل سره له دی چې د بهرنیو مرستو په ترلاسه کولو کې تریوې اندازې د مولداویا ددولت پاملرنې وړدی

لنډ تاریخ :

د مولداویا شهزاده مېشتي سیمې:

(شهزاده نشین مولداویا).

د مولداو یا خاوره د داچا په نامه د لویې او پراخې سیمې یوه برخه ده، چې له میلادنه په لسګونو کاله وړاندې د استوګنې وړ او دیوه سیاسي سازمان لرونکې ده. داچا په (۱۰۶م) کال کې د روم د امپراتورۍ له خوا ونیول شوه، په دریمه میلادي پېړۍ کې د رومیانو له وتلو وروسته ، پردې خاوره باندې بیلا بیلو قومونو(اسلاویانو. مجازیانو بلغاریایانو ، تاتا ریانو او مغولو....) حملې او یرغلونه کړي دي، له دې ډلې څخه ډیرمهم او ستریر غلګر بلغاریایان وو، چې له (۲۰۰)کالو څخه زیاته موده یې پردې خاوره واکمني چلولې او په اتمه میلادي پېړۍ کې یې په رومانیا کې مسیحیت دود کړی دی.

ددې سیمې په اړه تر دوولسمې میلادي پېړۍ پورې باوري او دقیق معلومات په لاسه کې نشته او مدون تاریخ یې په مولداویا او والاهیا کې له دیارلسمې پېړۍ څخه د خپلواکو شهزاده میشتو سیمو له ایجاد سره سم پیل کیږي. د غود ووشهزاده میشتو دډانیو ب د سیند د ختیځ په محدوده کې حکومت کاوه، په (۱۳۹۴م) کال کې والاهیا د عثماني امپراتورۍ تر واکمنۍ لاندې راغله خو مولداویا په خپلواکه توګه اداره کیدله او د (۱۴۵۷-۱۵۰۴) کلونو په ترڅ کې دریم اشتفان (سر اشتفان) وکولی شول، د مولداویا قلمرو د کارپات له غرونو څخه ددنیستر ترسیند او تورې بحیرې پورې ورسوي چې د هغه دواکمنۍ په وخت کې د مولداویا د شهزاده میشتو سیمو سیاسي او پوځي څواك اوج ته ورسید.

پرمولد اویاباندې دروسیې اوعثماني امپراتورۍ دواکمنۍ زمانه:

په(۱۵۱۲م) کال کې د مولداو یا سیمه ایز حکومت د عثماني امپراتورۍ تړواك لاندې راغی. عثمانیانو د غه سیمه له پوځی ځواك څخه پرته تر خپلې ولکې لاندی راوستله او باج وخراج یې پرې جاري کړ.

په(۱۷۱۱م) کال کې د پترکبیراو د مولداویا دواکمن شهزاده " دیمتری کانتمیر" ترمنځ یوتړون لاسلیك شو، چې دهغه پرېښت دروسیې دریځ د مسلمانو ترکانو په وړاندې دارتودوکس مولداویایانو د ملاتړ په توګه رسمي بڼه غوره کړه. یوه پېړۍ وروسته کله چې تزارد تورې بحیرې په سیمه کې د ترکانو د برې په پلمه د جنوب خواته وخوځید، له دې تړون څخه یې په استفاده د" پروت " او د نیستر"رودونو ترمنځ ځمکې د نیولو د مشروع بڼودلو لپاره ګټه واخیستله، له دې امله اشتفان د مولداویا او رومانیا د ملي اتلانو په سرکې ځای لری او ددواړو هیوادونو ملي شخصیت ګڼل کیږي.

په(۱۸۱۲م) کال کې(د کریما په جنګ کې) د روسیې له خوا د عثمانیانو ترماتې وروسته او د بوخارست د تړون پرېښت د غه هیواد ختیځه مولداویایا بسارابیا(د پروت د رود ختیځه برخه) روسیې ته پرېښوده، خو مولداو یا تش په نامه دعثماني قلمروجز وه اوعملاً تر عثماني واکمنۍ لاندې نه وه، په همدې د لیل کارلمارکس ددې پرېښودلو یا تیریدنې قانونیوالی رد کړ او ویې لیکل:" عثماني امپراتورۍ بسارا بیا روسیې ته پرېښوده، په داسې حال کې چې هیڅ شی یې نشو بخښلی. په راتلونکی کې دغې لیدتوګې له کرملین سره د رومانیایانو په نښتوکې د یوه سندبڼه غوره کړه.

د مولداو یا او والاهیاد شهزاده میشتو سیمو یووالی او دروماني دولت جوړیدل:

د (۱۸۵۶م) کال په اپریل کې د کریما د جګړو له پای ته رسیدو وروسته، لویو قدرتونو د پاریس د تړون پربنسټ ددې سیمو ځمکنی تمامیت تضمین کړ او روسیه دې ته اړکړای شوه چې بسارابیا مولداویا ته پریږدي. د غه کار د تورې بحیرې په څنډوکې د روسیې د مانور د قدرت د تحدید سبب شو.

په (۱۸۶۲م) کال کې د مولداویا او والاهیا دوه شهزاده میشتې سیمې سره متحدې شوې او په ځان یې درومانیا نوم کیښود او الکساندر یوان کوزا درومانیا د هیواد رئیس شو. خو په (۱۸۶۶م) کال هغه له حکومت څخه ګوښه شو او د هغه مرستیال شهزاده کارول هرمن زولون(د پروس له سلطنتی کورنۍ څخه) د هغه ځای ونیو. له هغو ټولو مرستو سره سره چې رومانیې له عثمانی امپراتورۍ سره د جګړو په وخت کې له تزاری روسیې سره کړې وې، روسان د رومانیاد خپلواک دولت پیژندلوته چمتونشول.

دروسیې دوهم ځل لاسبری:

په (۱۸۷۸م) کال کې د برلین د کنګرې پایلو د رومانیاد یوه متحد دولت د جوړیدو هیلې په ناهیلۍ بدلې کړې، سره له دې چې په دې کنګره کې رومانیا د یوه خپلواک دولت په توګه وپیژندل شوه. د کنګرې د پریکړې پربنسټ جنوبی بسارابیا د روسیې په واکمنۍ کې شامل شوه.

د۱۹۱۷م) کال داکتوبر له انقلاب څخه وروسته دمولداویا وضعیت:

(۱۹۱۸م) کال ددې هیواد په سیاسي تاریخ کې یو بل د پام وړتکی دی. په حقیقت کې د لومړۍ نړیوالې جګړې پایلو د رومانیا ماهیت بدل کړ او دی هیواد ته یې نوي فرصتونه په لاس ورکړل خو له بلې خوا یې زیاتې ستونزې هم رامنځ ته کړې، په دې جګړه کې درومانیا په منظردومره د پام وړنه و.

رومانیا په دوهمه نړیواله جګړه کې له دوه کاله نا پلوی(بی طرفی) وروسته په(۱۹۱۶م) کال کې له متحدینو سره یوځای شوه او په(۱۹۱۷م) کال کې له جنګ څخه د روسیې د وتلو په ترخ کې د خلکو د ناخوښۍ په سبب او هم د بهرنیو ستونزوله امله ددښمنۍ پرېښودوته اړه شوه او په(۱۹۱۸م) کال کې یې له شاوخوا دولتونو سره د بوخارست تړون ته غاړه کېښوده خو د همدغه کال په نوامبر کې یې د غه تړون تر پښو لاندې کړ او یو ځل بیا له شاوخوا دولتونو سره په جګړه اخته شوه خو سره له دې هم رومانیې سترې ګټې تر لاسه کړې. دا وخت چې روسیه په کورنۍ جګړو او انقلاب سره لاسه و ګریوان وه، په بیړه د بسا را بیا د اوسیدونکو یوه ټولنه جوړه شوه، چې په پیل کې یې د جمهوریت خپلواکي اعلام کړه وروسته یې درومانیا له پاچا هۍ سره د یووالي او اتحاد په پلوۍ رایه ورکړه او ورپسې یې ترانسیلوانیا او شمالي بوکو ینا (چې داتریش- هنګري د امپراتورۍ یوه برخه وه) هم ورته(مشابه) رایې ورکړې، په دې توګه درومانیا یې خاورې یوستریوون(اتحاد) اعلام شو.

په نتیجه کې د هیواد د وګړو شمیر له(۷،۳) میلیونو څخه(۱۶) میلیونوته لوړشو او مساحت یې له دوه برابرو څخه

واوښت. د غونوو سیمو د هیواد ثروت او احتمالي قدرت په چټکۍ سره زيات کړ، رومانيا له دې د مخه هم نړدې همدو مره وګړي درلودل، په داسې حال کې چې په اوسنيو شرايطو کې، بيلا بيل اقليتونه هم را چاپيروي.

درومانيا اساسي قانون د فرضوپه کچه منل شوی و، په ختيځه اروپا کې د مرکزيت نشتوالي، د هيواد د ټوټې کيدو او تجزيې لپاره لاره هواروله، په بشپړشدت متمرکزو او دسترې رومانيا حکومتی نظام، په هيواد کې د ژوند لپاره ستونزې په تيره بيا په دووايالتونو ـ ترانسيلوانيا او بسارابيا کې اماده کولې او ددې دووايالتونو رومانيايي اوسيدونکي، چې د چارو داداري د حالت له څرنګوالی څخه سخت خفه و ـ منزوی اوګوښه کول.

په بهرنۍ سياست کې د لويې رومانيې موضع ټينګښت او استحکام نه درلود. په يوه وخت کې د روسيې او مرکزی قدرتونو ړنګيدل او سقوط ددې هيواد جوړيدل شوني او ممکن کړل شوروي اتحاد، مجارستان او بلغارستان ټول د هغه له پاشل کيدو ا وتجزيې څخه ناراضی وو.

په دې برسيره د بسارابيا په بيرته تر لاسه کولو کې د روسيې له اقدام نه ويره ښايي په رومانيا کې د بلشويزم دويرې پياوړي کول و چې دې ويرې دسياسي ځواکونو په تصنيف اوډلبندي کې سترنقش درلود. په هرحال، ددووجګړو په واټن کی"بسارا بيا" د مسکو او بخارست ترمنځ د ګډوډۍ سرچينه وه او دبسارا بيا په مساله کې په ۱۹۳۴م) کې دوه عامله د شوروی او رومانيا تر منځ د اړيکو د عادي کيدو مانع شول. دا دوه عامله عبارت وله:

شورويانو له لويې رومانيا سره د بسارا بيا ديوځای کيدو له پيژندلو څخه ډډه کوله او د شوروي لوري مذاکره کوونکو استدلال

کاوه، په(۱۹۱۸م) کال کې چې د بسارا بیا ملی شورا له رومانیا سره د یوځای کیدو په پلوی رایه ورکړه، دا د بخارست د اوسیدونکو فیوډالانو لپاره له یوه تشکل نه لړو.

ددې په څنګ کې د پاریس تړون چې درومانیا او بسارا بیا د اتحاد د پیژندلو لپاره برابرشوی و، ټولو هیوادونو لاسلیك نه کړ، دا چې شوروی اتحاد په پاریس کې حضورنه درلود، نوځکه نتیجه داشوه چې پربسارا بیا باندې یې د رومانیا ارضی مالکیت هیڅکله تصدیق نه کړاو درومانیا د بهرنیو چارو د وزیر(نیکولای تیتولسکو) له هڅوسره سره ددواړو رودونو ترمنځ سیمه باندې دې هیواد قانونی کنټرول تر لاسه نشو.

دوهمه خړپړتیا او کړ کیچ ددواړو رودونو ترمنځ سیمه کې د بسارابیا پر سر دشوروی په تندو تبلیغاتی هلو ځلو پورې اړه لری. د شوروی له خوا دترهګرو او کمونیستی جاسوسانو ملاتړ په بسارابیا کې دښو او دوستانه اړیکو د را منځ کیدو په خاطر د خبرو کوونکو هڅې کمزورې کړې.

د شوروي مولداویا د خپلواک جمهوریت جوړیدل:

(۱۹۲۴م) له دې ملاتړخخه ډیر مهم په ۱۹۲۴م) کال کې د شوروي د مولداویا د خپلوا ك جمهوریت جوړیدل و، چې د غه جمهوریت د اوکراینن له جمهوریته بیل او دد نیستر درود په ختیځ کې تشکیل شو. دا جمهوریت د شورویانو د نفوذ دیوې اډې په توګه ددواړو رودونو ترمنځ سیمه کې بالاخره د رومانیا د پاچاهۍ د بشپړله منځه وړلو لپاره د لارې پرانیستل و. په دې برخه کې مطبوعاتو او اکاډمیکو محافلو هم دا استدلال کاوه چې مولداویا یان له نژادي پلوه له رومانیایانو سره تو پیر لري او د

مولداویا د خپلواك جمهوریت جوړیدل یې د مولداویا د ملت د خپلواك کولو په لار کې لومړی ګام ګڼل. باید وویل شي چې که څه هم یو زیات شمیر روماني ژبو په مولداویا کې ژوند کاوه خو ددې ټولني اکثریت اسلاویان(اوکرایني او روسي) وو.

دلته باید یوه مهم ټکی ته نغوته وشی، هغه دا چې له دنیستر نه پورې غاړه سیمې(د مولداویا په ختیځه برخه کې او ددنیستردرود ختیځ) تاریخ له بسارابیا اوبو کولینا سره بشپړ تو پیرلری، دغی برخې اساساً له تاریخی پلوه په رومانیا پورې اړه نه ده درلودلې او په(۱۹۱۷م) کې د اوکرایین جمهوریت له خاورې سره مله شوې ده او لکه چې د مخه وویل شول، په(۱۹۲۴م) کال کې د اوکرایین له خاورې څخه بیله او د مولداویا په نامه یوځانته جمهوریت شو.

دربیین تروپ_ مولوتوف تړون او له شوروي سره د مولد اویا یوځای کیدل:

په(۱۹۳۹م) کال کې د بسارا بیا لپاره یو بل برخلیك وټاکل شو. په همدې نیته دآلمان د بهرنیو چارو دوزیر ریبین تروپ او د شوروي د بهرنیو چارو وزیر مولوتوف ترمنځ د یرغل د نه کولو تړون لاسلیك شو. ددې تړون له پټوضمایمو څخه یوه هم په ختیځه اروپا کې د شوروي او آلمان د منافعو تحدیدو چې د هغه پربنسټ باید فنلینډ، استوانیااو لتوانیا د شوروي د منافعو په محدوده او لتوانیا د آلمان د منافعو په محدوده کې پاتې شوي وای. په دې تړون کې درومانیا او د هغې د ګاونډیانو لپاره یوه ماده ډیره اهمه وه، د شوروي اړخ په بسارا بیا کې د مقابل لوري پام خپلو ګټوته را اړاوه او د آلمان اړخ هم په دې سیمه کې خپله بې علاقه ګي

اعلام کړه.له هماغه پیله زیاتره ددې تړون په پټو ګټو پوه شوي وو او رومانیا هم د شوروي له خوا د بسارابیا د بیا ترلاسه کولو پرتصمیم په بشپړه توګه پوه شوې وه.

دې تړون که له یوې خوا پر لهستان باندې د آلمان یرغل ته لاره اواره کړه اوله بلې خوا ددې عامل هم شو چې رومانیا په لویدیځه اروپا کې په متحدنیو پسې وګرځي خو د لهستان له ماتې سره سم رومانیا خپل هغه کمزوری باور چې په لویدیځه اروپا کې یې په خپلو دوستانو درلود، له لاسه ورکړ او د(۱۹۴۰م) کال د جون په(۲۶مه) د لهستان له ماتې یوازې(۹) میاشتې وروسته شوروي رومانیاته یوالتیماتوم ورکړ او په (۲۴) ساعتونوکې یې د هغه په عملي کیدو ټینګاروکړ، خو له دې پرته چې ځواب ته انتظار وباسي،په بسارا بیا اوشمالی بوکونیا یې یرغل وکړ، چې په پایله کې رومانیا شوروي ته د بسارا بیا او همدارنګه بوکولینا دولایت(چې هیڅکله هم دروسیې تر کنټرول او څارنې لاندې نه و) په پریښودو موافقه وکړه.

د(۱۹۴۰م) کال د نوامبر په دوهمه نیټه د شوروي عالي شورا د بسارابیا او شمالی بوکوینا د ویشلو فرمان صادرکړ چې د هغه پربنسټ شمالي بوکوینا د جنوبی او شمالی بسارا بیا په ګډون داوکرایین له جمهوریت سره یوځای شول.

دلته باید د مولداویا د حالاتو درڼولو په منظور د رومانیا کورني وضعیت ته هم اشاره وشي

د (۱۹۳۰- ۱۹۴۱م) کلونو ترمنځ ددواړو هیوادونو توند لاري سیاسي غورځنګونه ورو ورو دزیات اهمیت وړو ګرځیدل. د غو غورځنګونو په نورو سیمو کې د ښي لاسو افراطي خوځښتونو له

ودې الهام اخیست خو په کراتو له هغو ځخه زیات د رومانیا له وضعې ځخه چې د مخه ورته اشاره وشوه- اغیز من شوي وو.

په (۱۹۴۰م) کال کې دوهم کارول د فاشیستي ډلو او د آلمان د پلویانو د فشار پراساس د خپل زوی لومړي میهایی په ګټه له پاچاهۍ ځخه ګوښه شو. همدارنګه د غه ډله په دې هم بریالۍ شوه چې جنرال انتو نسلوواك ته ورسوي او په هیواد کې پوځې د کتاتورۍ واکمنه کړی، په دې پسې د(۱۹۴۱م) کال په د سمبر کې رومانیا د خپلو له لاسه وتلو سیمو د بیا تر لاسه کولو په هیله له خپلو شاوخوا دولتونو سره لاس یوکړ او د شوروي په وړاندې یې د آلمان په جګړه کې ګډون وکړ چې په نتیجه کې یې د خپلو له لاسه تللو سیمو د بیرته ترلاسه کولو په ترځ کې د شوروی د خاورې یوه برخه هم ونیوله.د (۱۹۴۱م)کال له جنوري ځخه د(۱۹۴۴م) کال تر نوامبره دشوروي دمولداویا جمهوریت یوځل بیا له رومانیا سره یوځای شو او په رومانیا کې د فاشیستي ضدملی غورځنګونو لاربنوونه خپل لوړ پوړ(اوج) ته ورسیده، چې بالاخره د انتونسکواو ددولت د غړو په توقیف او نیولو د شوروي په وړاندې جګړه پای ته ورسیده او نوي دولت له آلمان او جاپان سره د جنګ اعلام وکړ.

د(۱۹۴۴م) کال د نوامبر په(۳۱مه) نیټه شوروی ځواکونه بخارست ته ورننوتل، په هغه پسې له شوروي سره له د ښمنۍ ځخه د لاس اخیستلو تړون لاسلیك شو، برسیره پردې دوهم میهایی د شورویانو ترفشار لاندې د کمونیستانو په رسیاست یو دولت جوړکړ، بیرته نیول شوې سیمې یو ځل بیا د شوروي له خاورې سره ملې شوې او یوځل بیا د شوروي مولداویا د جمهوریت بنسټ کیښودل شو.

له دو همې نړيوالې جګړې وروسته د مولداويا د جمهوريت وضعيت:

له دو همې نړيوالې جګړې وروسته کلونو کې په مولداويا کې د شوروي سياست له رومانيا سره د سيمې د تاريخي اړيکو په شلولو متمرکزشو. سرحدي تګ را تګ متوقفد روسان او او کراينيان مولداويا ته دمهاجرت لپاره وهڅول شول. سيرليك ليك او روسي ژبه تحميل او په(۱۹۵۰مه) لسيزه کې په زرګونو مولداويا يان منځنۍ آسياته تبعيدشول. ددې کلونو په اوږدوکې چې برژنف د مولداويا دکمونيست ګوند رئيس و، هڅه يې وکړه د غه سيمه چې اوس اوس له رومانيا څخه بيله شوې وه، د ګوندي ماشين تربشپړې څارنې او کنټرول لاندې دراوستو په ترڅ کې روسي کړي.

برژنف په بې رحمانه توګه د سيمه ايزو مخالفينو د ټکولو لاربښوونه وکړه او د شوروي په خيريې يو بيلګه يې بزګري اشتراکي نظام جوړکړ خو ددې پر خلاف مولداويا د شوروي د ويرې په يوه مرکز بدله شوې وه او د هغې پرسر په هميشنۍ توګه د بخارست او مسکو ترمنځ د ګډوډۍ ديوې سرچينې په توګه جګړه روانه وه، او په ځانګړې توګه وروسته له هغې چې رومانيا په(۱۹۶۴م) کال کې د ختيځ بلوك په چارو کې خپله خپلواکي اعلام کړه، په دې کال کې د شوروي او رومانيا ترمنځ نښتې مخ په زياتيدو شوې او د مولداويا مقامات درومانيا او شوروی د جګړو د تداوم او اوږدوالی له امله له سختو ستونزو سره مخامخ شول.

د(۱۹۶۶م) کال دمارچ په وروستيو ورځو کې دشوروي د کمونيست ګوند په دوولسمه کنګره کې د مولداويا د کمونيست

ګوند مشر روما نیاد مولداویا پرضد په ناسیونالیستي را دیویی تبلیغا تو تور کړه او ویې ویل:

رومانیا په اوسني حالت کې له جنګ نه وروسته د خپلې خاورې دوضعیت په بیا کتنه بوخته ده، د غه تور ددې سبب شو چې د رومانیا مشر چایو شسکود روبین تروپ- مولوتوف د تړون مساله مطرح کړي او د بسارابیا او شمالي بوکوینا د برخلیك په باب د کمونیستانو او نازیانو سازش و غندي.

د نظردغو تو پیرونو او لفظي نښتوپه (۱۹۸۹م) کال کې د چایوشسکو ترله منځه تللو پورې دوام درلود اوله هغه وروسته یې هم په بله بڼه غزونې وکړې.

مولداویا د ګورباچف په وخت کې:

د ګوبارچف په منځ ته راتګ سره د شوروي په سیاستونو کې بدلون راغی، دپروسترویکاد بیا رغاونې او ګلاس نوست(روښنګري) تګلارې د جمهوریتونو پر ژوند پراخه اغیزې وښندلې.

په (۱۹۸۶م) کال کې د ګلاسنوست سیاست مولداویایانوته دا موقع هم په لاس ورکړه څود روسي کولو له بهیر سره مخامخ ډغرې ووهي، په زیاترو جمهوریتونو کې لومړنی خوځښت په فرهنګي نظام کې دبدلون لپاره و، (دا کلونه په شوروي کې د ژبنیو انقلابونو زمانه وه) په (۱۹۸۸م) کال کې د پروسترویکا لپاره د دموکراتیك غورځنګ بنسټ کیښنول شو. د غه غور ځنګ ژبه د یوې مقدمې مسالې په توګه ومنله او د جمهوریت په رسمي ژبه د مولداویا د ژبې د بدلولو غوښتونکي شول. څرنګه چې په مولداویا کې رنګارنګ اقلیتونه شته والی لري، په دې تو ګه د

هغوي فرهنګي حقونه په کميد و شول. دوی د مسکو، دروس لړکيو، اوکراينيانو او د مولداويا د ګاګايوزيانو د هڅوني موجبات (سببونه) برابرول. تر څود هغو په وړاندې د يوې انترناسيونالیستي جبهې په جوړولو لاس پورې کړی اود رسمي ژبې په توګه د روسي ژبې د پيژندلو غوښتونکي شي.

په ۱۹۸۹م) کال کې د مولداويا د خلکو د جبهې بنسټ کيښودل شو، چې له هماغه پيله يې له بنسټ پالنې سره مينه وښودله. په همدې کال کې د چايو ششکود حکومت ړنګيدل د دې جبهې د زيات پراخوالي سبب شول د خلکو د جبهی هڅې چې داولس په منځ کې يې غوره ځای درلود، ددې سبب شوې چې د مولداويا د جمهوريت عالي شورا، مولداوي ژبه د جمهوريت درسمي ژبې په توګه اعلام کړی خو د هغې په خوا کې به روسي ژبه د جمهوريت د ټولو استوګنوقومونو ترمنځ د ارتباطي ژبې په توګه رول لوبوي. دغې مصوبې پراخه نيوکې او اعتراضونه را وپارول. مولداويايانو دغه مصوبه کافي نه بلله خود جمهوريت لږه کيو (اقليتونو) هغه د خپلو حقونو ملا تړ ګڼله. په دې قومي کړکيچونوکې ګورباچف لاسوهنې ته اړشو او د جمهوريت له لومړي منشي څخه يې وغوښتل چې روسي ژبه دې د قومي اړيکو ژبه شي، بالاخره عالي شورا د مولداويا يانو او مسکود فشار له امله وروستۍ نظريه اعلام کړه، چې د هغې پراساس مولداوي ژبه د هيواد رسمي ژبه او روسي دقومي اړيکو ژبه وګڼل شوه او لاتيني الفبې د سيرليك ځای ونيو. په دې توګه د مسکوغوښتنې هم پام کې ونيول شوې او روسي ژبې د قومي اړيکو د ژبې په حيث رسميت پيدا کړ. خو ددنيسترد رود په ختيځه سيمه کې چيرته چې

روسان او اوکراینیان اکثریت دی، کورنیو مقامونو د ژبې د قانون کارول رد کړل.

خپلواکي او د کورنۍ جګړې پیل:

د هیواد د رسمي ژبې د بدلون لپاره دمولداو یایانو هڅو، په (۱۹۸۹م) کال کې په دې هیواد کې د قومي کړکیچونو او نښتو لپاره زمینه برابره کړه په دې کې کال کې دهم غربۍ دوه روسي کمیټو، سویوز(اتحاد) اوادنیستوف (یووالی) ټولنې روسان سره منظم کړل او په ترانسپول کې یې لاریونونه او اعتصابونه پیل کړل. د(۱۹۹۰م) کال د جنوري په(۲۸مه) هغوی دټولپوښتنو په ترڅ کې دکمونیست ګوند دریځ وټاکه او په سیمه کې دروسیې د ځوارلسم پوځ دشته والی غوښتونکي شول. په تراسپول کې ددې ځواکونو موجودیت ددنیسترد پوځي ډله بیلتون غوښتونکو د تقویې او پیاوړتیا موجبات برابرکړل.

الف_ دد نیسترد جمهوریت جوړیدل:

د(۱۹۹۰م) کال د سپتامبر په دوهمه بیلتون غوښتونکو د یوې کنګرې په ترڅ کې د شوروي ددنیستردسوسیالیستی جمهوریت په اعلامولو تر خپل نفوذ لاندې سیمه کې د لنین د اهدافو د پلی کولو غوښتنه وکړه. د همدې کال په نوامبر کې په روسي میشتو سیمو کې د قومونو ترمنځ خپلمنځی تاوتریخوالی ډیرسخت شو، روسانو او نورو لږکیو ددسامبر په (۱۶مه) د مولداویا ددولت له خوا د اتحاد دټولپوښتنو د تحریم په پلمه _ په هغه کې ګډون وکړ او د اتحاد په ګټه یې رایه ورکړ.

د (۱۹۹۱م) کال په مارچ کې بیلتون غوښتونکو د یوې ټولپوښتنې په ترځ کې له مولداو یا څخه د بیلتون اوله شوروي سره یې د یوځای کیدو غوښتنه وکړه ، په همدې وخت کې وچې د څوارلسم پوځ د بیرته ستنیدو لپاره له روسیې سره یوه توافق ته درسیدلو په اړه دمولداویا ددولت هڅې پیل شوې. ددنیستر د بحران د زیاتوالي بل عامل د مسکود نوامبر د(۱۹مې) نیټې کودتاوه . بیلتون غوښتونکو ددې کود تا ملاتړ وکړ اوله بلې خوایې د ګوربا چف له اصلاحي طرحوسره خپل مخالفت اعلام کړ او د شوروي ددنیستر د سوسیالیستي جمهوریت په خپلواکۍ یې د ټینګار په ترځ کې له روسیې څخه ددې جمهوریت د ملاتړ غوښتنه وکړه.

د مولداویا دولت د کودتا د محکومولو په ترځ کې د ګورباچف بیرته راستنیدل مطرح او د نوامبر په(۲۷مه) یې لرشوروي څخه د مولداویا خپلواکۍ اعلام کړه خود رنیستر بیلتون غوښتونکو د هیواد خپلواکي ونه منله رود شوروی د څوارلسم پوځ په شته والي یې ټینګار وکړ.

په (۱۹۹۱م) کال کې ددنیستر نوي جمهوریت د خپلواکۍ او جمهوري ریاست ټولپو ښتني پیل کړې، که څه هم د مولداویا مقاماتو د غه ټاکنې د هیواد د اساسي قانون خلاف وګڼلې خو په هغو کې یوروسی مهاجر ابګور سمیروف دنیستر د جمهور رئیس په توګه وټاکل شو. د(۱۹۹۲) ومو کلونو په نیمایي کې دد نیستر له بیلتون غوښتونکو سره د مولداویا ددولت اختلافات خپل اوج ته ورسیدل، په دې نښتو کې دواړو خواوو په تیره بیا د مولداویایانو ـ نوي پرېښتو دریدلی هیواد چې د جګړې ددوام توان یې نه درلود- سخت مالي او ځا نی زیانونه ولیدل که څه هم

پيل کې د مولداويا ځواکونو وکولی شول چې بيلتون غوښتونکی په شاتګ ته اړکړی خود په تيراسپول کې د بيلتون غوښتو نکو په ګټه د مستقر څوارلسم پوځ مداخله له رومانيا سره د اتحاد د پلوی ځواکونو پراخو هڅو (په ځانګړې توګه د خلکو د موکراتيکه مسيحی جبهه) د هغوی په وړاندې د هيواد مقامات اړکړل، تر څو دا کورنۍ مخ په زياتيدونکې جګړه چې د هيواد خپلواکي يې تهديدوله ـ په يوه بڼه نه يوه بڼه پای ته ورسوی. دولتي ځواکونو د ځوښارونو د پريښودلو په ترځ کې د جنوب ختيځو او ختيځو ساحو ځينې کليوالې سيمې په خپل حال پريښودې او نا چاره يې د(۱۹۹۲م) کال د جون د(۲۱) نيټې د سولې د تړون لاسليک کولوته چې په هغه کې يې له د نيستر نه پورې غاړه له ځانګړې وضعيت سره موافقه وکړه ـ غ ړ د کيښوده او د روسيې څوارلسم پوځ او د مولداويا دنيستر دسيمې ځينې قواوی د سوله ساتو ځواکونو په توګه په سيمه کې پاتې شوې.

په همدې توګه په بيلتون غوښتونکو باندې د زوراچولو په خاطر دمولداويا دولت له بين المللی سازمانونو(اروپايې ټولنه، د اروپا د امنيت او همکاری سازمان ، د ناتو سازمان، د هلسنګی د بشر د حقوقو سازمان او بالاخره د ملګرو ملتون سازمان) څخه هم مرسته وغوښتله.

له دنيسترنه پورې غاړه حکومت هم د تيرو پنځوکلونو په ترځ کې د منازعې د حل لپاره چې د مولداويا د کورنۍ خپلواکۍ، د مشترك المنافع هيوادونو د يوه خپلواك جمهوريت جوړول، دروسيې له فدراسيون سره يوځای کيدل او ددنيستر درود پر غاړه د يوې ازادې اقتصادي ساحې په پام کې لرلو متفاوتې غوښتنې وړاندې کړې دي خو په دې اړه يې هر ډول پاشل او تجزيه رد کړې ده.

د پاملرنې وړ ده چې دا سیمه د مولداویا د اقتصاد د ثقل مرکز ګڼل کیږي او دنیستر د پورې غاړې مشران زیاتره د صنعتي ټولنو له مدیرانو څخه دي چې له همګټو هیوادونو (په ځانګړې توګه روسیه او او کرایین) سره د پراخواو هر اړخیزو اړیکو او په نهایت کې د شوروي اتحاد د احیا غوښتونکي دي. هغوي په تیر وخت کې له هغه اقتصادی سیاست څخه چې کرنیز محصولات یې په درندو صنایعو کې لګول- دفاع کوی. ددنیستر په سیمه کې کمونیستی سیاستونه او اقتصادی نظامونه بي بدلونه پاتې دی. د لنین مجسمه ددې جمهوریت په مرکز تیراسپول کې د هغوي له ویاړونو او سمبولونو څخه ګڼل کیږی. په دې وروستیو وختو کې یې نوې پیسی هم چې روبل نومیږی چاپ او وړاندې کړي دی ددې پیسو په یوه مخ دلنین عکس لیدل کیږي. بیلتون غوښتونکو اعلام کړې ده چې ددنیسترپه سیمه کې داروبل رایجې پیسې دې او له روسی روبل سره توپیرلری، ددې روبله رامنځ ته کیدو سره په سیمه کې په راکړ ورکړه ، پیرودلو او پلورلو کې خنډونه ایجاد او د بحران سبب شو. که څه هم روسي روبل او ددنیستر روبل د ارزښت له مخې سره برابر دی خو په دې سیمه کې له مولداویا سره هرډول راکړه ورکړه منعه ده.

له دنیسترنه پورې غاړه یو سیمه ایز پارلمان او یوه عالی شورا شته چې ددولت په توګه کار کوي. د څوارلسم پوځ قوماندان جنرال لیبد هم ددولتی شورا د غړي او ټولواکمن(تام الاختیار) استازي په توګه ټاکل شوی دی.

ددنیستر د سیمې رسمي ژبه- روسي ده اوله مولداوی زده کوونکو اومحصلینو سره چې و غواړي- په.نیول شوو سیمو کې په رومانی ژبه زده کړه او تحصیل وکړی، په کلکه مخالفت کیږی،

په دې سیمه کې د شوروي دوخت رخصتۍ او جشنونه اوس هم دود دي.

همدارنګه باید وویل شي چې د غه کوچنۍ جمهوریت له مولداویا سره هیڅ ډول ځمکنۍ ، هوایي، اقتصادي او سیاسي اړیکې نه لري او له بلې خوا تر اوسه د هیڅ هیواد له خوا په رسمیت نه دی پیژندل شوی.

په اوسنۍ وخت کې ددنیستر روسان او د روسیې دولت په مولداویا کې د یوه فدرال حکومت جوړیدل مطرح کړي دي، چې د مولداویا دولت له هغه سره مخالفت کړی دی.

ب_ د ګاګایوز جمهوریت:

د" استفان توپال" په مشرۍ د ګاګایوزیانو(د ګاګایو زد خلکو) مهم غیر رسمي سازمان د مولداویا د خلکو له جبهې سره پراخه اړیکې درلودې خود ژبنیو قوانیو له تصویب وروسته او د خلکو د جبهې له خوا بیا یووالي د مبارزو له پیل سره سم ددې قوم مشرانو ته څرګنده شوه چې ګټې یې په ډاګه د خلکو د جبهې له موخو سره په تو پیر کې دي. له همدې نیټې وروسته د نورو اقلیتونه نو لورته پام واړول شو او له روسانو، او کراینانو او بلغاریایانو سره یې نږدې اړیکې ټینګ کړل.

د(۱۹۹۰) کال په نومبرکې د مولداویا د خپلواکۍ له اعلام څخه وروسته ګاګایوزیانو په هیواد کې تا وتریخوالي ته لمن ووهله او د(۱۹۹۰م) کال د اکتوبر په (۲۶مه) د مولداویا رئیس سنګور دې ته اړشو، څو په پخوانیو سهیلي برخو کې چې د ګاګایوز جمهوریت یې تشکیل کړی ـ بیړنی حالت اعلام کړي او د

مولداویا ددولت دوزارت ځواکونه د مولداویا د ملیپالو او ګاګایو زیانو تر منځ دځای پرځای کیدو په منظور سیمی ته واستول شي.

د ګاګایوز جمهوریت د(۱۹۹۰م) کال په د سامبر کې خپل موجودیت اعلام کړ او د کمرات ښاریې د هغه مرکزو ټاکه. له دې وروسته د(۱۹۹۲م) کال په جون کې د روسي بیلتون غوښتونکو او ګاګایو زیانو په مرسته د مولداویا په وړاندې کورنۍ جګړې پیل شوې.

د بیلتون غوښتونکو کارنده موجودیت او د مرکزی دولت کمزورتیا ددې سبب شوه چې ګاګایوزیان د خپلو غوښتنو د زیادت لپاره هلې ځلې پیل کړي. ګاګایوزیانو د خپل ځانګړی قضایي قانون او په بیلا بیلو کاري ډګرونو کې یې دشتون په خاطر د سیمې د خپلواکۍ او فرهنګي آزادۍ لپاره منډې ترړې پیل کړې. په(۱۹۹۳م) کال کې د مولداویا پارلمان دې اقلیت ته په دې شرط د قضایي خپلواکۍ اود سیمې دځمکو دویش اجازه ورکړه چې د مولداویا خپلواکي په رسمیت وپیژني. د مولداویا دولت له کورتیو شخړو وروسته لږکیو او د هغوی غوښتنو ته زیاته پاملرنه وکړه، ځکه په دې پوهیدلی وو چې ددوی غوښتنوته نه پاملرنه د هغوي تر منځ دیووالي او اتحاد سبب کیږي.او د مولداویا جمهور رئیس سنګور هم اعلام وکړ چې ګاګایو زیان د یو شمېر هیوادونو لکه ترکیې او آذربایجان له مطبوعاتو څخه ګټه اخیستلی شی او هم خپل ځانګړی رادیو تلویزیون لري. په دې وروستیو کې د مولداویا دولت ددې اقلیت له دې غوښتنې سره چې ددوی کوچنیان په خپله مورنۍ ژبه زده کړه وکړي موافقه وکړه.

د سیاسي ارادې درا منځ ته کیدو څرنګوالی:

پر شوروي باندې دیو ګوندیز سیستم واکمنی ته په پاملرنه، د مولداویا د نوي خپلواك شوي جمهوریت له مهمو مسایلو څخه د ګوندونو او ډلو د هلو ځلو څرنګوالی و.(دمولداویا د خپلواکۍ له اعلام نه لږه موده وروسته د(۱۹۹۱م) کال ددسپتامبر په(۲۴مه) ددې هیواد پارلمان د ګوندونو اوډلو د فعالیت قانون تصویب کړ. په دې توګه په هیواد کې د څوګوندیز سیستم لپاره لاره هواره شوه، ددې هیواد په پارلمان کې د سیاسي ګوندونو د قانون له تصویب وروسته له(۲۰) څخه زیاتو ګوندونو، ډلو او ټولنیز و سازمانونو په رسمي توګه خپل فعالیت پیل کړ. باید وویل شي چې ددې ګوندونو ډیره برخه په کیفي او کمي لحاظ چندان اهمیت نه لري. د غړو د شمیر اویا د تصمیم نیولو د اغیزوله مخې له دې جملې څخه یوه ډیر مهم ته اشاره کیږي، برسیره پردې د مولداویا له خوا د اطلاعاتو د سخت محدو دیت او په ځانګړې توګه یې ګوندونه ددې باعث شوي څو په لنډه توګه د هغو په موضوګانو بحث او خبرې وشي.

قانوني ګوندونه:

د بزګرۍ د موکراتیک ګوند:

ددې ګوند بنسټ د مولداویا ددوو او لسی جبهو او کمونیست ګوند د منځلارو له خوا ایښودل شوی دی او د نو منکلاتور په لویې بزګرې ډلې او د پخواني حکومت د مشرانو د اشتراکي کروندو د رئیسانو او همدارنګه د اقتصادی تشکیلاتو په منځ کې ریښې لري.

دغه ګوند د مولداویا د خپلواکۍ ملاتړ کوي، په همګټو هیوادونو کې د خپل غړیتوب د پایښت او بقا او د اقتصادي په تیره بیا د بزګري چارو په برخه کې د اصلاحاتو په لور د هڅوپلوی دی. پخوانی او او سنی کابینه زیاتره د همدې ګوند له غړو څخه تشکیل شوې ده، چې په وروستیو ټاکنو کې یې هم ددې ګوند د عقایدو او مفکورې ملاتړ وکړ. باید یادونه وشي چې د مولداویا د بزګرۍ د موکراتیك ګوند د مولداویا ډېرو ځواکمنو ګوندونو له ډلې څخه ګڼل کیږي، زیاتره ځواکمن او قدرتمن مرکزونه هم د همدې ګوند په واك کې دي، ټولې طرحې او شننې(تحلیلونه) ددې ګوند په لارښوونه تر سره کیږي.

مسیحي او لسي د موکراتیک جبهه:

دې جبهې د خپل تاسیس له وخته را په دیخوا څوهدفونه درلودل، ددې ګوند لومړنی هدف له روسیې او همګټو هیوادو څخه د مولداویا بشپړه خپلواکي ده، دوهم هدف یې تیر تاریخ او دودونو ته بیرته ورګرځیدل دی. څرنګه چې د مولداویا(بسارابیا) جمهوریت د رومانیا، نه بیلیدونکې برخه ده نو ځکه باید په پایله کې له د غه هیواد سره اړیکې ټینګې اود لویې رومانیا د تشکیل طرحې ته د عمل جامه واغوندي.

د مسیحي د موکراتیکې جبهې دریم هدف دلویځې اروپا او امریکا له هیوادونو سره د ژور و اړیکو بر مختګ دی. د غه جبهه له لویدیځ سره په اړیکو کې له سیاسي، اقتصادي او ټولنیز بحران څخه د مولداویا د خلاصون په لټه کې ده.

دا جبهه لومړنی سیاسي ډله ده چې په مولداویا کې یې بنسټ کیښودل شو او د شوروي په وړاندې یې د هر اړخیزو اعتراضونو

لاربنوونه وکړه، په (۱۹۸۹م) کال کې دې جبهې له روسیې سره د بسارابیا د یوځای کیدو په کالیزه کې په سلګونو کسان د اعتراض په بڼه د کیشینوف میدانو نوته را وایستل.

د (۱۹۸۹م) کال په د سامبر کې د رومانیا له انقلاب نه وروسته دې جبهې له رومانیا سره د بیا یوځای کیدو د ایډیا په اړه په شدت سره تبلیغ کاوه چې په دې پسې د اولسي خلکو له ملاتړ څخه هم برخمنه شوه او د (۱۹۹۰م) کال په ټاکنو کې یې په پارلمان کې زیاتې څوکۍ هم تر لاسه کړې

سوسیالیست ګوند:

دغه ګوند د پخواني کمونیست ګوند ځای ناستی دی او له اقتصادی او ټولنیزو سیاستونو سره علاقه لري، د روسانو او نورو اقلیتونو د حقوقو ملاتړ کوي. د غه ګوند د اقلیتونو له پراخه ملاتړ څخه هم برخمن دی. سوسیالیست ګوند له روسانو او د همګټو هیوادونو له ټولنې سره په ټولو زمینو کې د اړیکو په جدي پیاوړتیا باوري دی او په دې برخه کې له بزګري(کشاورزی) د موکراتیك ګوند نه هم پر افراط زیات ټینګار کوی.

د روڼ اندو کنګره (د کلیوالو او روڼ اندو بلوک):

دغه سازمان له روسیې او همګټو هیوادو څخه د ګوښه کیدو غوښتونکی دی اوپه عین حال کې لویدیځ ته زیات متمایل او له لویدیځو هیوادو سره د اړیکو د ژورتیا او دوام په لټه کې دی. داسازمان سره له دې چې ملي ا وقومي بڼه لري او له رومانیا سره یو ځای کیدل یې اساسی هدف دی، بیا هم نسبت اولسي یا د خلکو جبهې ته ددې موضوع په اړه نرم چلند کوی.

الکساندر موشانو د کليوالو او روڼ اندو د بلوك رئيس(د مولداويا د پارلمان پخواني رئيس) د خپلو هدفونو د څرګندولو په ترڅ کې وايي:مسکو د خپلو امپرياليستي هدفونو په ترڅ کې غواړي چې مولداويا په همګنو هيوادوکې بقا او پايښت ومومي او مونږ د پخوا په شان په ځان پورې اړوندوساتي، پته نه ده چې روسيه په مولداويا کې خپل خاص ستراتيژيك هدفونه تعقيبوي او د مولداويا او رومانيا ترمنځ په اقتصادي او فرهنګي اړيکو خوشحاله نه ده

بهرنۍ اړيکې:

۱-په بهرنيو اړيکو باندې د بهرني سياست اغيزه:

د شوروي د دړې وړې کيدو او مولداويا د خپلواکۍ په ترڅ کې، دې جمهوريت له رومانيا سره دزياتو نږدې کيدو لپاره هلې ځلې پيل کړې، خو کورنۍ جګړې دا خوځښت له خنډونو سره مخامخ کړ او مولداويا ناچاره شوه چې له همګنو هيوادو سره يوځای شي. په دې تړلنه کې غړيتوب د مولداويا د بهرنيو اړيکو د تصميم نيولو په دستګاه کې بدلونونه را وستل.

له بلې خوا په مولداوياکې د روسيې د څوارلسم پوځ موجوديت، ددې جمهوريت سياستوال اړکړل چې دې مهم عامل ته په پاملرنه خپل سياستونه وټاکي. له خپلواکۍ څخه وروسته د مولداويا لومړنی اقدام له شوروي سره د هغو ځواکونو د په شاتګ په اړه چې په پولو کې ځای شوي وو- مستقيمې خبرې وې، خو مسکو هغه په يوه اقتصادي تړلنه کې د کيشينوف په موجوديت پورې اړوند وبلل او په دې هيواد کې يې د کورنۍ جګړې له پيل سره سم په سيمه کې د سولې د ساتنې په منظورد

روسيې د ځوارلسم پوځ ځای پر ځای کيدل کافي وبلل او د ملګروملتو د سوله ساتوځواکونو له استولو سره يې مخالفت څرګندکړ. همدا اوس هم روسيې د دنيسترله سيمې څخه د خپلو ځواکونو ايستل د مولداويا د دولت له خوا د دنيستر دساحلي برخو د اوسيدونکو د حقوقو په ورکړې پورې اړوند ګڼلی دی.

په رومانيا کې د(۱۹۸۹م) کال د دسامبر د بدلونونو، په (۱۹۹۱م) کال کې د پخوانی شوروي د جمهوريتونو د خپلواکۍ له پيله د رومانيا خلك او دولتي چارواکي تر هر څه لومړی د لويې رومانيا د احيا په فکر کې وو. په پيل کې د رومانيا د دولت له خوا ځينې اقدامات او څرګندونې وشوې چې د دې نوي په پښودريدلی جمهوريت ژوند او پاينبت يې له زياتو ستونزو سره مخامخ کړ. که څه هم رومانيا لومړنی هيوادو چې دمولداويا خپلواکی يې په رسميت وپيژندله خو هغه هيواد ته يې د سفيرله استولو څخه ډډه وکړه، د مولداويا د جمهوريت له خوا(د دواړو دولتونو د تڼ) له طرحې وروسته او همدارنګه د سيمې د واقعياتو د منلو په ترڅ کې د دواړو هيوادونو تر منځ نوې اړيکې پيل شوې او له خپلواکۍ څخه دوه کاله وروسته رومانيا د غه هيواد ته خپل سفير ورولیږه.

دهمګڼو هيوادونو په ټولنه کې د مولداويا غړيتوب د رومانيا د اعتراض سبب شو او د دې هيواد د بهرنيو چارو د وزارت په وينا کې د مولداويا دغه اقدام په روسيې پورې د هغې د بيا تړل کيدو او له شوروي حوزې سره د مولداويا د بيا يوځای کيدو سندو ګڼل شو. همدارنګه رومانيا د دنيستر د پورې غاړې په اړه د څلور اړخيزو خبرو اترو ديوه اړخ په توګه(اوکرايين، روسيه ، مولداويا، رومانيا) د خبرو له دايرې څخه لرې پريښودل شوه. او کرايين د مولداويا ديوه پياوړي ګاونډی او همدارنګه ديوه داسې هيواد په

توګه چې له روسیې سره ګډه پوله لري، په دې قادردی چې د روسیې او مولداویا ترمنځ دیوه اهرام په حیث ځای په ځای شي او د دوی تر منځ د ستونزو دلرې کولو په لاره کې مرسته او همکاري وکړي ،چې البته داد سیمې په شرایطو پورې اړه لري.

له د نیستر نه پورې غاړه جګړې خپلې سیمه د او کرایین پولو ته خیرمه پرته ده. همدا رنګه د دنیستر په پورې غاړه سیمو کې سختو نښتو د اوکرایین او مولداویا په اړیکو اغیزه کړې ده. کیف د دنیستر دپورې غاړې د کړ کیچو نو په له منځه وړلوکې دمنځګړي په توګه حاضرو.

اوکرایین په دې فکرکې دی چې د شوروي د ځوار لسم پوځ موجودیت به یې د هیواد په سیاستو نو منفي اغیزې وکړي، ځکه چې وروسته د دنیستر د پورې خوا په اړه داسې عمل کوي چې هلته د زیات حاکمیت دلرلو په ترڅ کې د کیف د اوضاع څارنه هم وکولی شي. پردې برسیره ترکیه هم په دې هڅه کې ده چې خپلې تاریخي اړیکې په بسارابیا او د بالکان په ډیره مهمه حوزه کې تعقیب کړي . همدې ټکي ته په پاملرنه دې هیواد د ترکي اقوامو او ترکي هیوادونو د ملاتړ انګیزه د خپل بهرني سیاست یوه برخه ګرځولې ده .

د شوروي دړې وړې کېدل او دنووو خپلواکوترکي دولتونو جوړېدل او همدا رنګه په نررو جمهوریتو نو کې د ترکي ټولنو موجودیت ددې سبب شو چې ترکیه د خپل سیاست د پلی کولو لپاره پراخ ډګرو مومي.

دمولداویا د خپلواکۍ له اعلام څخه وروسته، ترکیې په دې جمهوریت کې د اوسیدونکو تر کانو (ګاګایوز یانو) د راتلونکې په اړه اندیښنه څرګنده کړه او حتی تردې چې هغوي ته یې دمولداویا

په وړاندې دمادي او معنوي ملاتړ ژمنه هم وکړه، خوبې له ځنډه يې اعلام وکړ چې اصلاً" د مولداويا په کورنيو چاروکې د لاسوهنې نيت نه لري.

د غه انديښنه د ګاګايو زيانو دراتلو نکې په اړه د شوروي د ترکي ټولنو سره د پراخو اړيکو او همدارنګه په سيمه ايزو سياستونو کې د ترکيې د مشرتابه د نقش لوبول ګڼل کيږي. د ګاګايو زيانو پر عامل برسيره تر کيې هڅه کړې ده، چې د مولداويا له دولت سره هم پراخه اړيې ټينګې کړي، څرګندده چې ترکان هڅه کوي چې له مولداويانه د بالکان په سيمه کې د خپل ښکاره موجوديت په منظور ديوې اډې(پاېګاه) په توګه کار واخلي.

په سيمه ايز او نړيوالو ټولنو کې غړيتوب:

دمولد او يا جمهوريت د(۱۹۹۱م) کال د سپتامبر په(۲۷مه) له شوروی څخه د خپلې خپلواکۍ تر لاسه کول اعلام کړل او د(۱۹۹۲م) کال په مارچ کې ديوه خپلواك هيواد په توګه د ملګروملتوپه غړيتوب و منل شو. د(۱۹۹۲) کال په جون کې مولداويا د اروپا د امنيت او همکارۍ د کنفرانس غړيتوب هم تر لاسه کړ. همدارنګه د(۱۹۹۲م) کال د فبروري په دريمه د توري بيحرې د مرستې د اقتصادي شورا د تشکيل د وينا په لاسليك کولو له دې ټولنې سره يوځای شو.

مولداويا د ډانيوب ديوه ساحلي هيواد په توګه د(۱۹۹۳م) کال په اوايلو کې دډانيوب په کميسيون کې ومنل شوه او په کميسيون کې يې د ناظردريځ ترلاسه کړ چې د غه کارله شوروي څخه

بهرهیوادونو سره د سوداګریزو اړیکو د پراختیا په لار کې یو مهم ګام ګڼل کیږي.

د(۱۹۹۳م) کال په مارچ کې د مولداویا پارلمان د خپلواکو همګټو هیوادونو په ټولنه کې ددې هیواد غړیتوب تصویب کړ. د مولداویا مقاماتو ټینګار وکړ چې دې هیواد تر اوسه د همګټو خپلواکو هیوادونو له(۴۰۰) تړونونو څخه(۲۰۰) تړونونه لاسلیک کړي دي، چې زیاتره یې په اقتصادي برخو کې دي او تر اوسه یې په پوځي او سیاسي برخو کې کوم تړون نه دی لاسلیک کړی.

پولېنډ(لهستان)

د هیواد نوم: د پولېنډ جمهوریت.

جمهور رئیس: Aleksander Kwasnieski

صدراعظم: Leszek Miller

دوګړو شمیر: له(۳۶) میلیونو څخه زیات کسان.

د هیواد مرکز: د وارسا ښار(ورشو).

پولي واحد: زلوتی.

مهم ښارونه: پوزنان، ګدانسك او برست.

پولېنډ په شمالي نیمه کره کې د شمالی او مرکزي اروپا یوه برخه ده. دا هیواد له شمال ختیځ او خیتځ لوري د لیتوانیا او بلاروسیې(سپینې روسیې) او اوکرایین ، د جنوب له خوا د چك او سلواك له جمهوریتونو، د لویدیځ له خوا د آلمان له فدرالي جمهوریت او د شمال له خوا د بالتیك له بیحری او ددانزیك له خلیج سره نښتی دی.

تاریخچه:

دا هیواد په لرغوني تاریخ کې تل د ځواکمنو هیوادونو په واك کې و، خو په معاصر تاریخ کې د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د نازي آلمان او شوروي تر منځ ((د مولوتف - روبین)) د تړون له لاسلیك څخه وروسته ، اروپایي هیوادونه دې پایلې ته ورسیدل چې د ځواکمنې اروپا نظم به د ځواکمن پولینډ له شته والي پرته متصور نه وي.

پر پولینډ ، المان او اتریش باندې دواکمنو ځواکونو ماتې او د متحدینو برۍ د پولینډ د خپلواکۍ او ملي رغاونې سبب شو. په هغه وخت کې د خپلواکۍ غوښتونکو لارښوونه د یوسف پیلود سکي په غاړه وه.

په(۱۹۱۸م) کال کې د لومړۍ نړیوالې جګړې له پای ته رسیدو وروسته، هغه په اروپا کې د پولینډ د جمهوریت جوړیدل اعلام کړل. د خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته، پولینډ په هماغه کال د خپل ځمکنۍ تمامیت تامین ته ملاوتړله چې دا کار په(۱۹۲۰- ۱۹۲۱م) کلونو کې له روسیې سره ددې هیواد دجګړې سبب شو.

بالاخره ددواړو هیوادونو ترمنځ د خپلواکۍ غوښتونکو په ګټه دریګا تړون لاسلیك شو. په(۱۹۳۹م) کال کې فاشیستي آلمان پر پولینډ باندې برید وکړ او نوموړی هیواد یې تر خپلې ولکې لاندې راوست، خود(۱۹۴۴م) کال په وروستیو کې د پخواني شوروي په مرسته بیا آزاد شو او کمونیست ګوند واك ترلاسه کړ. په (۱۹۶۸م) کال کې د پولینډ پوځ دوارساد تړون د هیوادونو د پوځي ځواکونو تر نامه لاندې چې یو پوځي تړون و- د چکو سلواکیا د خاورې په نیو لو کې ګډون وکړ. دوار سا تړون د ناتو د تړون په وړاندې د(۱۹۵۵م) کال د مې دمیاشتې په(۱۴مه)

دوارسا په ښار کې د کمونیستي هیوادونو تر منځ لاسلیك شو، چې د شوروي، ختیځ آلمان، بلغاریا، پولینډ، رومانیا، مجارستان، چکوسلواکیا او البانیا هیوادونو په کې ګډون درلود، د البانیا هیواد چې چین ته متمایل و، په(۱۹۶۰م) کلونو کې له دې تړون څخه ووت. په(۱۹۷۴م) کال کې د پولینډ د ځمکو د اصلاحاتو قانون تصویب شو. په(۱۹۷۶م) کال کې کار ګرانو اغتشاش وکړ- او د یووالی اتحادیه جوړه شوه چې دولت یې ددې اتحادیې پیژندلوته اړکړ.

په(۱۹۸۹م) کال کې یې دهغه چاپه ریاست چې د کمونیستانو ملاتړ ورسره نه و- لومړنی ملی دولت جوړکړ. په دې وخت کې پولینډ د خپلو تاریخی هڅوپه نتیجه کې خپل حیثیت، خپلواکی او ځمکني تمامیت د ترلاسه کولو له پاره اقدام وکړ. په همدې کال(د پیوستون د اتحادیې) له سو له ایزو مبارزو وروسته پریزډنت یاروزو لسکی چې د کار ګری اتحادیو د مشر لخ وارسا ملاتړ ورسره و_ د چارو واك یې تادیوش مازو تسکي ته چې د" پیوستون غورځنګ" یو غیر روحانی کاتولیك روڼ اندی او د(Solidamosc Tygodnik) د مجلې مدیرو، وسپاره.

بزګري:

په وروستیو کلونو کې په پولینډ کې د اوربشت دنه کیدو په وجه کرنیزو چارو چندان ښې پایلی نه لرلې. له دوهمې نړیوالی جګړې څخه مخکې دغه هیواد له ښه اقتصاد څخه برخمن و او اروپایی هیوادوته د کرنیزو محصولاتو له مهمو صادروونکو هیواد څخه ګڼل کیده.

کانونه :

په دې هیواد کې د طبیعي ګاز، د ډبرو سکرو ، لیګنټ یاد ډبرو د قوه یې(انرژیتیکي) سکرو ، ګوګړو، سربو، اوسپنې، مسو، نادیومو او د معدني او ساختماني ډبرو د بیلا بیلو ډولونو کانونه شته دي.

صنایع:

ددې هیواد مهمې صنایع عبارت دي له: د کانو را ایستل، د ماشین آلاتو تولیدول، بیړۍ جوړول، د پولادو صنایع، الکتریکي صنایع، غذایي رونسا چې صنایع، کیمیایي صنایع، فلزي صنایع، د سمنټو تولید، د صنعتي ابزارو او سامان آلاتو جوړولو، د کوردلواز مو تولید او د موټروصنایع.

ترانسپورټ(حمل و نقل):

په (۱۹۸۸م) کال کې پولینډ ،(۲۶۸۵۰) کیلو متره د اوسپنې پټلۍ درلوده چې(۱۰۵۰۸) کیلو مترو یې د الکتریکي انرژي په واسطه کار کاوه.

ګرځندوی (توریزم)

پولینډ دنړۍ له لویو توریستي هیوادونو څخه ګڼل کیږي چې ښې ګرځندویي سیمې لري. ددې هیوادتاریخي ښارونه : روتسلاو، کراکوف او وارسا ، هر کال په میلیونونو سیلانیان ځان ته راکاږي، دا هیواد ښکلې ، غرنۍ ځنګلي سیمې او رودونه هم لري. د شمیرنو له مخې هر کال(۱۰۵) میلیون سیلانیان ددغه هیواد لیدلوته ورځي.

له افغانستان سره د سياسي او ډيپلوماتيکو اړيکو لرغونتيا:

افغانستان او پولينډ د سياسي او ديپلو ماتيکو اړيکو ډيره ښه سابقه لري.

لومړی ځل په(١٩٢١م) کال د اعليحضرت امان الله خان د سفر پرمهال ددواړو هيوادونو تر منځ د اړيکو بنسټ کيښودل شو. په اوسني وخت کې په پاکستان کې د پولينډ سفير ښاغلی(Tomaszkozlowski) په کابل کې د هغه هيواد نااستوګن سفير په توګه دنده تر سره کوي.

د افغانستان او پولينډ تر منځ اقتصادي اړيکې او همکاری:

په افغانستان کې د پولينډ پروژې عبارت دي له:

- د کابل د ستو ماتو لوژي روغتون(د غاښوکلينيك) چې د جوړيدو چارې يې په(١٣٦٨ش) کال کې پيل او په(١٣٦٩) کال کې پای ته ورسيدې په دې روغتون کې په يوه وخت کې په سلګونو کسان تداوي کيږي.

- په درېيمه کارته کې د موزيك او آرټ ښوونځی، دپولينډهيواد په مرسته ودان شوی و خو د جګړو په نتيجه کې وران شو. دغه ښوونځی په(١٣٨١هـ ش) کال کې دپولينډ ديوې(NGO) له خوا بيا ورغول شو.

دلولينډ دمرستو په اډانه کې(AFG.POI.LEM) کمپنۍ دې ته چمتو شوه چې د پوهنې دوزارت لپاره(١٠٨) اپارتما نونه ودان کړي چې هر اپارتمان به يوکمپيوټر هم ولری، البته په را تلونکې کې به دغه پروژه له پروتو ګول سره سم پراختيا ومومي.

د پولينډ د سولې ښوونځي، له کابل پوهنتون سره ديو شمير کتابونو مرسته کړې ده. پولينډ په (۱۹۹۵- ۲۰۰۱) کلونو کې په ايران کې له افغاني کډوالو سره ددوه امبولاسونو او په پاکستان کې يې له افغاني کډوالو سره د جامو او خوراکي موادو مرسته کړې ده. پولينډ د طالبانو رژيم په رسميت نه پيژانده، برعکس له متحدې جبهې سره يې ښې اړيکې درلودې. د نوي دولت له را منځ ته کيدو وروسته په پولينډ کې د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د سفير په توګه د ښاغلي ډاکتر عبدالحی حيدر په ټاکنه ددواړو هيوادونو ترمنځ سياسي او ډيپلوماټيکو اړيکو پراختيا ومونده.

پولينډ ته د جلالتماب حامد کرزي سفر اوکابل ته د پولينډ د جمهور رئيس په راتګ ددواړو هيوادونو په اړيکو کې له پخوانه زيات ټينګښت را منځ ته شو. د(۱۴) تحصيلي بورسونو منل ددواړو هيوادونو د مرستې او همکارۍ ښه بيلګه ده. همدا اوس له(۱۶۰) څخه زيات پخواني افغاني محصلين په پولينډ کې اوسيږي او په همدې توګه له(۷۰-۸۰) پورې افغاني پناه غوښتونکي هلته ميشته دي چې ټول خپل هيواد ته د راستنيدو په هيله شپې سبا کوي.

د (۲۰۰۳م) کال د چونګاښ په دوهمه نيټه د پولينډ ددفاع وزير ښاغلي شيما يفسکي ويژ د کابل دليدو په ترڅ کې ددولت د لومړي مرستيال او ددفاع له وزير مارشال فهيم او د بهرنيو چارو وزير ښاغلي ډاکتر عبدالله سره وکتل، چې د کادرونو د روزنې او (ISAF) دځو د تنظيم به برخه کې يې د فعالې همکارۍ ژمنه وکړه.

دچک جمهوریت :

د غه جمهوریت چې(۷۸۹۰۰) مربع کیلو متره مساحت لري، په مرکزي اروپا کې پروت دی. د چك جمهوریت په وچه کې واقع او آزادو اوبو ته لار نه لري. د چك د جمهوریت ګاونډیان عبارت دي له: په ختیځ کې د سلواك جمهوریت، په لویدیځ کې د پولینډ، جمهوریت او جنوب ته یې داتریش جمهوریت.

داهیواد(۲۳۰۳) کیلو متره بین المللي پوله لري، چې ډیره اوږده پوله یې د(۸۱۰) کیلو مترو په واټن له آلمان سره ده، له هغه وروسته له پولینډ سره(۷۶۲) کیلو متره، له اتریش سره(۴۶۶) کیلو متره او له سلواك سره(۲۶۵) کیلو متره پوله لري.

دوګړو شمیر(نفوس):

د(۲۰۰۱م)کال د جولای د میاشتې د شمېر نو پرېنسټ ددې هیواد د وګړو شمیر(۱۰۲۶۴۲۱۲) تنو ته رسیږي په دې جمهوریت کې چکان، سلواکان، پولینډیان، المانیا، سیلزیان، مجاریان او نور قومونه او سیږي.

ژبه:

چکی ژبه په اسلاوی ژبه کې ریښه لري، ژبپوهنه او ګرامریې ډیر سخت دی. په دې هیواد کې لاتیني لیکدود رواج دی. په پخواني وخت کې له روسي او آلمانی ژبو څخه ددوهمو ژبو په توګه را خیستل کیده.

مذهب:

د چك جمهوريت اوسيدونكي د مذهبي مناسكو په ترسرو كولو كې چندان پاپندنه دي.د چك په(۱۰۲۶۴۲۱۲) كسيزه ټولنه كې يوائې(۵۰۰۰۰) تنه د كاتوليك كليسا په مراسمو كې ګډون كوي او زياتره اوسيدونكې يې په الهي دين عقيده نه لري. په دې هيواد كې(۲۰۰۰) يهودان اوله(۱۰۰- ۵۰۰) تنو پورې مسلمانان ژوند كوي.

تاريخچه:

پر(۱۹۱۸م)كال ، ددوهمې نړيوالې جګړې په پاى كې د اتريش- مجارستان د امپراتورۍ له ټوټې كيدو وروسته ، چكسلواكيا منځ ته راغله. په دې هيواد كې ددواړو نړيوالو جګړو(۱۹۱۸- ۱۹۳۹م) ترمنځ يو ډموكراتيك دولت جوړشوپه (۱۹۴۶م) كال كې كمونيست ګوند واك تر لاسه كړ، ددې ګوند مشر(كلمنټ ګوتوالد) د ائتلافي دولت صدراعظم شو.

په (۱۹۹۰م) كال كې دچكسلواكيا د سوسيالستى جمهوريت نوم په فدراتيف جمهوريت بدل شو. د(۱۹۹۲م) كال ددسامبر په(۳۱مه) نيټه ټول فدرالى جوړښتونه منحل او د چك اوسلواك په نومونو دوه خپلواك جمهوريتونه منځ ته راغلل او د بين المللي حقوقوله مخې يې ددوبيلو او خپلواكو هيوادونو په توګه د اروپا او نړۍ د جغرافيې په ډګر كې ګام كيښود. له كوم كړكيچ پرته ددې هيوادونو تجزيه او ټوټې كيدل د نړيوالو دستاينې وړوګرځيدل اوله ځنډ پرته د هيوادونو او نړيوالو سازمانونو له خوا په رسميت و پيژندل شول.

د(۱۹۹۳م)کال د جنوري په وروستيو کې د چك ولسي جرګې ښاغلی واسيلوف هاول د پنځو کلونو لپاره د جمهور رئيس په توګه وټاکه.

ددې هيوواد اساسي قانون د(۱۹۹۲م)کال ددسامبرپه (۱۴مه) تصويب شو.

سياسي ګوندونه:

- ملی ډموکراتك ګوند.
- دچك سوسياليستي ګوند.
- دخلکود ګوند د موکراتيکه مسحي اتحاديه.
- مدني د موکراتيکه اتحاديه.
- د موراويا سيليزيا خپلواك غورځنګ.
- دچك جمهوريت د جمهوري غوښتونکی ګوند ټولنه.
- کمونيست ګوند.

له افغانستان سره د پخوانی چکسلواکيا مرستې:

د چکسلواکيا هيوادد ډېرو سکرو د را ايستلو او سمنټو په برخه کې له افغانستان سره مرسته کوله چې کيدای شي د لومړي غوري او جبل السراج د سمنټود فابريکو يادونه وکړو. د غه فابريکې له ديرشو کلونو را په ديخوا فعالي وې چې د کريډټ له لارې يې سامان آلات تمويليدل.

په(۱۳۶۷هـ ش) کال کې چې کله چکي کار پوهان بيرته ستانه شول د هغه هيواد فنی مرستې هم ودريدې چې په نتيجه کې دې فابريکې خپل توليد پريښود.

ددوهم غوري د سمنټو پروژې:

ددوهم غوري د سمنټو د فابریکې دودانولو او ساختمان چارې په(۱۳۶۵ش) کال کې د پخوانۍ چکسلواکیا د (۱۲، ۳۹) میلیونو ډالرو کیلیرنګ په اعتبار او د دولت په(۲۲، ۲۶۲) میلیونو افغانیو په بودجه په کال کې د(۳۱۰) زرو ټنو په ظرفیت پیل شوې چې دودانولو (ساختمان) چارې یې په سلو کې (۷۸) او د منتاژ کاریې په سلو کې(۳۰) بشپړ شوی و خود چکي کارپوهانو له بیرته ستنیدو سره سم یې کار ودرید.

دهرات د سمنټو فابریکه:

په (۱۳۵۵هـ ش) کال کې دوخت د چکسلواکیا(۲۶، ۰۸) میلیونو ډالري پانګې اچونې په اعتبار او ددولت له بودجې څخه په (۱، ۱۱۳) میلیونو افغانیو ددې فابریکې بنسټ کیښودل شو، چې دودانولو اومونتاژ چارو یې د چکي کارپوهانو تر نظر لاندې د(۱۳۶۷) کال تر نیمایي پورې دوام درلود، خو د امنیتي حالت د خرابوالي له امله په داسې حال کې چې تجهیزات یې راوارد شوي وو، د ودانولو ر ساختمان (چارې یې په سلو کې(۷۸)او د منتاژ چارې یې په سلو کې(۳۰) بشپړې شوې وې چې چکي کارپوهان بیرته خپل هیواد ته ستانه شول.

دیادولو وړده چې د هرات د سبزك د ډبرو سکرو دکان، د کرکرد ډبرو سکرو کان، دود کش، دره صوف او شپشتې د کانونو د را ایستلو چارې له ورته برخلیك سره مخامخ شوې. باید وویل شي چې له(۱۳۷۱) نه تر (۱۳۷۲)کاله پورې په کابل کې ددې پروژو د کار د بیا پیل کیدو په اړه د چك د سفارت له مسوولینو سره خبرې وشوې چې په دې خبرو کې چکي لوري خپل تیاری

وښود خو سره له دې هم تر اوسه په دې اړه کوم عملي ګام نه دی اخیستل شوی.

دافغانستان اوچکسلواکیا تر منځ اتفاهم تړونو نه او یا دداشتونه:

- په مختلفو برخو کې د افغانی پرسونل د زده کړې په منظور د چکسلواکیا په موسسو کې په اسانه شرایطو د کارپوهانو ګومارل.
- د وسایلو او ماشین آلاتو په بڼه فني مرستې.
- له اړوندو سب ستیشنونو سره د(۲۲۰)کیلو ولټو په ظرفیت د کجکي د بریښنا د لیږدولو د مزي غزول.
- د هرات د سلما د بندد بریښنا د مزي غزول.
- د سلماد بریښنادستګاه د(۴۰) میګاواټو په ظرفیت.
- ددره سوف د حرارتي بریښنا دستګاه، د(۲۰۰) میګاواټو په ظرفیت. -د ښیښی جوړولو فابریکه.- سړك جوړولو او بند و نهر سامان آلات او تجهیزات.
- د ګو ګړو د تولید فابریکه.
- د مالګی تصفیې فابریکه.
- د بزګری اختصاصی ساختمانی دستګاه.
- په ننګرهار کې د سبو د کنسروې فابریکه.
- په کندهار کې دمیوې د کنسروې او جوس د برابرولو فابریکه.
- د کابل په خوشحال خان مینه کې د برقي بسونو پروژه چې د استفادې وړ وه او په وروستیو پیښو کې سخته زیانمنه شوه.
- د غوري او جبل السراج د سمنټو فابریکې چې له دیرشو کالو را په دیخوا فعالیت کوی.

- ددوهم غوري د سمنټو فابريکه.
- دهرات د سبزك د سمنټو فابريکه.
- د هرات د سبزك کرکر، دودکش ، ددره سوف او شپشتې د ډبرو د سکرو تفحص او استخراج (را ايستل).
- د کابل د او روژنې درياست د اړتيا ورټانکرونو پيرودل.
- په چکسلواکيا کې د جوړشوو تاترا لاريو اوټانکرونو پيرودل.
- په کابل کې ديوه (۳۰۰-۵۰۰) بستريزپلمونو لوژي روغتون جوړول، (بلاعوضه مرسته)
- د(۲۰) ميليونو کرونو په ارزښت د کابل اوولايتونو د روغتونونو د اړتيا وړ تجهيزاتو برابرول(بلاعوضه مرسته)
- د عامې روغتيا وزارت له اړتيا سره سم په چکسلواکيا کې د جوړ شوي درمل برابرول(د بلاعوضه مرستې يا دالر کليرنګ پراساس)
- د افغانستان د عامې روغتيا دوزرات او چکسلواکيا د روغتيا وزارت ترمنځ د روغتيا يي مرستو دنړون تمديد او دوام.
- د چکسلواکيا له يوه روغتون سره دوزيرمحمد اکبر خان د روغتون توامېت.
- د طب په څانګه کې هر کال د(۱۰۰) تنو محصلينو منل.
د هرات د څرمنو د پخولو(د باغي) او بوټ ګنډلو پروژه.
په کابل کې دډيزلي جنراتورونو او برقي تجهيزاتو دترميم ورکشاپ.
په ولايتونو اودولسواليو په مرکزونو کې د ډيزلي جنراتورونو آماده کول.

د مزار شریف له(۲۰۰-۵۰۰) بستریز روغتون جوړول، چې د مخه یې د پخوانۍ چکسلواکیا په مرسته بنسټ ایښودل شوی و.

- په کابل کې د افغانستان د ملي موزیم د پروژې بیارغاونه.
- د افغان ننداري د پروژې بیارغاونه.
- د شپږو کرنونو او په سلو کې(۲۰) د هغو د سامانونو او پرزو پیرودل.
- د کندز د سړک پروژه.

ليتوانيا

د هيواد رسمي نوم: د ليتوانيا جمهوريت.
د هيواد پايتخت: ويليوس.
مساحت: ۶۵۳۰۰ مربع كيلو متره.
دوګړو شمير: د (۱۹۹۲م) د شميرنو پربنسټ ۳،۷۶۰۰۰۰ تنه.
جمهور رئيس: Valdas Adamkus
صدراعظم: Algirdas MykolasBrazauskas
د بهرنيو چارو وزير: AntanasValionis

جغرافيايي موقعيت:

دليتوانيا جمهوريت دبالتيك دبحيرې په ختيځه څنډه اود اروپا په شمال ختيځ كې پروت دى. دغه جمهوريت دجنوب ختيځ له خواله بيلاروسيې اوله جنوب لويديځ لورى له پولينډ اود لويديځ

پلوته د روسيې فدراسيون د لينينګراد له سيمې سره ګډې پولې لري.

د ليتوانيا په هيواد کې نږدې درې ميليونه تنه ليتوانيا يان ژوند کوي. نور اوسيدونکي يې روسان ، پولينډيان ، بلاروسان ، او کراينيان ، يهودان، ازبيکان، کوليان، المانيان مسلمان سنی مذهبه تاتاريان، ارمنيان مولداويان ، آذربايجانيان... اونور دي.

ليک او رسمي ژبه:

د ليتوانيا ژبه ليتواني او الفبې يې لاتيني ده، په (۱۹۸۹م) کال کې دې ژبې دروسي ژبې ځای ونيو او د ليتوانيا د رسمي دولتي ژبې په توګه ومنل شوه.له(۲۹۰۰۰۰۰) تنو څخه زيات په دې ژبه خبرې کوي

په سيمه کې د ليتوانيا ستراتيژيک اهميت:

ليتوانيا د خپل موقعيت له امله(له روسيې اود مرکزي اروپا له نورو قدرتونو سره په ګاونډيتوب کې) په کراتو د ګاونډيانو تر تيري لاندې راغلې، چې کولی شوله دې جملې څخه د روسيې ددوه ځلی‌او دپولينډ د يوځل تيری يادونه وکړو.

همدارنګه المان په دوريزه توګه ددې هيواد په نسبت ارضي ادعا درلوده. د (۱۹۱۷م) کال د اکتوبر له انقلاب څخه څه موده وروسته د(۱۹۱۸م) کال د فبروری په(۱۴مه) د ليتوانيا د خپلواکۍ له اعلام څخه را په ديخوا ، شوروي هڅه وکړه څود(ليتوانيا پولينډ) په نامه د شوروي جمهوريت را منځ ته کړي،چې دواړه هڅې يې له ماتې سره مخامخ شوې. بالاخره شوروي د

مسکو د هغه تړون پر بنسټ چې د(۱۹۲۰م) کال د جون په(۱۲مه) لاسليك شو- د ليتوانيا خپلواکي په رسميت وپيژندله.

له(۱۹۲۰م) کال څخه دوه لسيزه وروسته ليتوانيا په ټولنيزو، فرهنګي او اقتصادي برخو او په تيره بيا د بزګرۍ په چارو کې پرمختګ پيل کړ.

په (۱۹۳۹م) کال کې د المان او شوروي ترمنځ د مولوتف -رابين تروپ د. يرغل د نه کولو د پټ تړون پربنسټ ليتوانيا د المان د نفوذ يوه برخه شوه، بالاخره په همدغه(۱۹۳۹م)کال کې شوروي ليتوانيا ونيوله او د هغې(۲۱۰۰۰۰) اوسيدونکي يې ووژل.

د ليتوانيا لنډ تاريخ:

په ليتوانيا کې د استوګنې آثار له ميلاد څخه د مخه لسمې زريزې ته رسيږي. ليتوانيايان له هندوارو پايي نژاد څخه دي.

د ليتوانيا نوم د(۱۰۰۹) ميلادي کال په ليکلو منابعو کې ياد شوی دی ليتوانيا په(۱۵۳۹م) کال له روسيې سره دنښتو له امله له پولينډ سره د لوبين تړون لاسليك کړ.

په(۱۷۹۵م) کال کې دپولينډ ددرېيم ځل ويشلو پرمهال، ليتوانيا د روسيې له امپراتورۍ سره ضميمه شوه او په ۱۸۳۰، ۱۸۳۱، ۱۸۳۶کلونو کې دروسيې د حاکميت ضد پاڅون د روسانو له خوا وځپل شو.

په (۱۹۱۵م) کال کې د لومړۍ نړيوالې جګړې په ترڅ کې ليتوانيا د المان د ځواکونو له خوا ونيول شوه. په(۱۹۱۷م) کال کې د انتاناس استمونا په مشرۍ د ليتوانيا کنوانسيون جوړشو چې بالاخره د(۱۹۱۸م) کال د فبروری په (۱۴مه) نيته يې خپله

خپلواکي اعلام کړه او شوروي د(۱۹۲۰م) کال د تړون په ترڅ کې دلیتوانیا خپلواکي په رسمیت وپیژندله.

پولینډ دویلینوس دښارله نیولو وروسته د لیتوانیا پاتې خاوره په رسمیت وپیژندله. ددې هیواد اساسي قانون په(۱۹۲۲م) کال کې تصویب شو. په لیتوانیا کې د شوروي د پلویانو دواك ته له رسیدو او د شوروي د لیتوانیا د جمهوریت د ټینګښت د اعلام سره سم پار تیزانې جګړې پیل او تر(۱۹۵۲)کال پورې یې دوام درلود.بالاخره د(۱۹۹۱م)کال د سپتامبر په (۶مه) نیټه لیتوانیا خپله خپلواکي اعلام کړه، چې په همدې نیټه د هغې خپلواکي په رسمیت وپیژندل شوه.

سیاسي ګوندونه:

-دلیتوانیا کار ګرګوند (واکمن).
-د لیتوانیا د اصلاحاتو او بیارغونې غورځنګ .
-د لیتوانیا مسیحی‌د موکراټیك ګوند.
-د لیتوانیا سوسیال دموکراټیك ګوند.
-د لیتوانیا د موکراتیك ګوند
-د لیتوانیا د بزګرۍ اتحادیه.
-د لیتوانیا زرغون لیبرال ګوند.

استونیا

د هیواد نوم : د استونیا جمهوریت
پلازمینه (پایتخت): تالین.
مساحت: ۴۵۲۱۵مربع کیلو متره.
جمهوررئیس : آرنولدریوتیل
صدراعظم : مارت لار.
د بهرنیو چارو وزیر: توماس خندریك الوس.
ډوګړوشمیر: ۱۶۷۵۰۰۰تنه.
پولي واحد: استونیا یي کرون.

د استونیا هیواد د بالتیك د بحیرې په ختیځو څنډو کې پروت دی او دډنمارك ، سویس، او هالینډ د هیوادونو په پرتله لوی دی.

ددې هیواد د اوبود پولې(سرحد) اوږدوالی(۳۷۹۴) کیلو متره او دوچې پوله یې (۶۳۳) کیلو متره ده چې(۳۳۹)کیلومتره یې جنوبي پوله او(۲۹۴)کیلو متره یې له روسیې سره ختیځه پوله ده.

د استونیا مهم ښارونه عبارت دی له: تالین ، تارتو،نادوا ،کوتل، اجارو، پارنو، سیلاما ، وراکور،

تاریخي لرغونتوب:

استونیایان په بالتیکي فنلینډي ډلو پورې اړونند دي او د فنلینډي مجاري ملتونو څخه دي، چې له میلاد نه وړاندې په استونیا کې میشته شوي دي. په (۱۹۴۰م) کال کې له روسیې سره د استونیا یوځای کیدلو او دوهمې نړیوالې جګړې ددې هیواد پر اوسیدونکو له غمه ډکې اغیزې درلودې.

له ۱۹۴۱ نه تر ۱۹۴۵ کاله د ټولنیز اخراج او تبعید، جګړې، د عمومي پوځي تیاري او نورو هیوادونو ته دلیږداو مهاجرت په نتیجه کې د استونیا ټولنه چې په(۱۹۳۹)کال کې(۱۱۳۶۰۰۰) تنه وه،(۸۵۴۰۰۰) تنوته ورسیده. په (۱۹۴۰م) کال کې ځیلو دوام وموند او استونیا خپل قومی اقلیت له لاسه ورکړ.

استونیا دخپل ستراتیژیك موقعیت له امله تل مدام له خطر سره مخامخ ده ځکه چې له یوې خوا له پخواني شوروی سره ګډه پوله لري اوله بلې خوا د بالتیك بحیرې ته لار لري او مرکزي اروپا ته څېرمه پرته ده. او همدارنګه د اسکاندینا وی هیوادونو له ګاونډیانو څخه ده، نو ځکه تل پرې یرغلونه شوي دي.

دغه جمهوریت حتی په شلمه پیړۍ کې هم له دغه خطر څخه بچ پاتې نه شو. د (۱۹۱۸م)کال د فبروري په(۲مه)نیټه چې استونیا خپل موجودیت اعلام او ددولت په جوړولو یې پیل وکړ، سره له دې چې د المان او شوروي ترمنځ جګړه کې یې خپله بیطرفي اعلام کړه. المان د هغې په رسمیت پیژندلو څخه ډډه وکړه او هغه یې تر خپلې ولکې لاندې راوستله.

پخواني شوروي سره له دې چې په ۱۹۲۰ کال کې یې دغه جمهوریت په رسمیت وپیژانده خو د هغه جیوپولیتیك موقعیت یې

له پامه ونه غورځاوه او دیوه پټ تړون په ترڅ کې چې په ۱۹۳۹م کال کې لاسلیك شو، استونیا د پخواني شوروی تر واك لاندې راغله چې وروسته په (۱۹۴۰م) کال کې د هتلر او ستالین ترمنځ د سره پوځ له خوا ونیول شوه. د غه لاسبري د پخواني شوروي تر دړې وړې کیدو پورې دوام وموند. د (۱۹۸۸م) کال د نوامبر په (۱۶مه) د استونیا هیواد ملی حاکمیت او د اساسي قانون اصلاح اوسمون ته پام واړاوه او په ډاګه یې کړه چې د هغه هیواد دولت په استونیا کې ډیر لوړ قدرت دی.

د (۱۹۴۰م) کال د جولای په (۲۲مه) نیته داستونیا خاورې ته د پخواني شوروي د ځواکونو ننوتل د (۱۹۸۹م) د نوامبر په (۱۲مه) ددغه هیواد له خوا د یوه تیری او پوځي اقدام په توګه اعلام شول، اوله شوروي سره یې د استونیا یو ځای کیدل باطل اوبې اعتباره وګڼل.

همدرانګه هغه تړون چې د هټلر او ستالین تر منځ له شوروي سره د بالتیك دجمهوریتونو دیوځای کیدو په اړه لاسلیك شوی و، د (۱۹۸۹م) کال ددسامبر په (۲۵مه) د استونیا له خوا غیر قانونی او بې اعتباره اعلام شو. د (۱۹۹۰م) کال په می کې عالی شورا اعلام وکړ چې دپخوانی شوروی حکومت په استونیا کې غیرقانوني دی. په دې توګه د استونیا د جمهوریت ټینګښت او استقرار اعلام او دولتی نښانونه مشخص شول. بالاخره د (۱۹۹۰م) کال د اګست په (۲۱مه) استونیا خپله خپلواکي اعلام کړه او د همدغه کال دسپتامبر په (۶مه) پخواني شوروي د استونیا د جمهوریت خپلواکي په رسیمت و پیژندله او ددواړو خواوو ترمنځ پلاوی تبادله شول.

اقتصادي وضعیت:

په دې هېواد کې د فلزاتو د ویلې کېدو صنایع، د مهندسي صنعت، د پلاستیك جوړولو صنعت، غذایي صنایع او د کبانو نیول، د لرګیو او کاغذ جوړول، له نفتي زیرمو څخه دبریښنا د انرژۍ تولید او د نفتو په برخه کې یې د یادونې وړ پرمختګونه کړي دي.

د استونیا په جمهوریت کې مهم او فعال ګوندونه:

- مسیحي دموکراتیك ګوند.
- مسیحي د موکراته اتحادیه.
- کمونیست ګوند.
- لیبرال د موکرات ګوند.
- زرغون غورځنګ.
- د ملي خپلواکۍ ګوند.
- ټولنیز د موکراتیك ګوند.
- اولسي جبهه.

د استونیا له جمهوریت سره د افغانستان اړیکي:

د استونیا هېواد پخواله افغانستان سره سیاسي اود یپلوماتیکې اړیکې نه لرلې او اړیکې یې د پخواني شوروي له خوا تامینېدلې د وخت د شوروي له دړې وړې کېدو او د استونیا د خپلواکۍ له اعلام څخه وروسته دې هېواد له افغانستان سره خپلې دیپلوماتیکې اړیکې ټینګې کړې.

د یادونې وړده چې استونیا دلندمهالې ادارې له رامنځ ته کیدو وروسته یو کانتینر طبی مواد چې ارزښت یې(۹۹۳۷۳۲۷) استونیا یی کرونو ته رسیده، له افغانستان سره په بلا عوضه توګه مرسته وکړه.

لا تويا (لاتونيا)

د هيواد نوم: د لاتويا (لاتوانيا) جمهوريت.

پلازمينه : ريګا.

د وګړو شمير: ٢٣٨٥٢٣١

مساحت : ٦۴٦٠٠مربع کيلو متره.

پولي واحد: لاتوي روبل

مذهب : مسيحي پروتستانت او کاتولېك .

ژبه : لتواني او روسي.

جمهوررئيس: Vairavikefreiberga

صدراعظم: Andris skele

د بهرنيو چارو وزير: IndulisBerzins

لاتو يا د بالتيك د بحيرى په ختيځه غاړه کې پرته ده. ددې هيواد ګاونډيان عبارت دي له: په شمال کې استونيا، په ختيځ

کې روسیه، په جنوب ختیځ کې بیلا روسیه او په جنوب کې لیتوانیا.

له (۱۵۵۸- ۱۵۸۳م) پورې، د روسیې له خوا ددې هیواد د لاندې کولو په ترڅ کې په نابللې جګړه کې را کښیوته چې بالاخره د سویډن، پولینډ او لیتوانیا د امپراتورۍ ترمنځ وویشل شو. په (۱۹۱۸م)کال کې د المان له ماتې او دلومړۍ نړیوالې جګړې له پای ته رسیدو وروسته الماني ځواکونو له لاتویا څخه په شاتګ پیل کړ. د(۱۹۱۸م) کال د نوامبر په(۱۸مه) د لاتویاله آزادۍ وروسته کار لیس المانیس د لنډ مهاله دولت واګې ترلاسه کړې او د خپل هیواد خپلواکي یې اعلام کړه. په (۱۹۲۰م) کال کې وروستني بهرني ځواکونه له دې هیواد څخه و ایستل شول.

د(۱۹۲۰م) کال د اګست په یوولسمه د روسیې اولاتویا ترمنځ د سولې تړون لاسلیك شو. په دې تړون کې څرګنده شوې وه، چې روسیه د لاتویا پرخاوره باندې هیڅ ډول ادعانه لري. په(۱۹۲۱م) کال کې لویدیځې اروپا هیوادونو د ایټالیې، فرانسې او انګلستان په شمول دلاتویا د دوژوري حاکمیت په رسمیت وپیژانده. د(۱۹۳۴م) کال د مې په (۱۵مه) د المانیس دولت د هیواد د صدراعظم په لارښوونه دیوې کودتاپه ترڅ کې له واکه لیرې او دیکتا توري نظام ټینګښت وموند.

په دوهمه نړیواله جګړه کې لاتویا خپله بې طرفي اعلام کړه. د(۱۹۴۰م) کال د جون په(۱۷مه) لاتویا د شوروي له خوا ونیول شوه او دشوروي لومړنی لاسکښینولی جمهور رئیس اکوګستس کیرهن اشتیانس د هیواد مشرتوب په غاړه واخیست. په دې وخت کې په لاتویا کې ترهګري او تا وتریخوالی پیل شو.

د (۱۹۴۱م) کال د جون (۱۳-۱۴مه) د لویانو او کوچنیانو په شمول د لاتویا شل زره اوسیدونکي سایبر یاته تبعید شول.

په (۱۹۴۱م) کال کې نازي آلمان پردې هیواد یرغل وکړ او هغه یې تر خپلې واکمنۍ لاندې را وست. په (۱۹۴۵م) کال کې شوروي پوځ یو ځل بیا دغه خاوره ونیوله او تر ډیره وخته یې په خپل واک کې وساتله، بالاخره په ۱۹۹۱/۵/۴ نیټه دې جمهوریت بیا خپله خپلواکي ترلاسه کړه د (۱۹۹۱م) کال داګست په ۲۱مه دلاتویا عالي شورا دلاتو یا ددولت د خپلواکۍ د بیرته تر لاسه کولو پریکړه لیک صادر کړ، چې د هغه پربنسټ لاتو یا انتقالي دورې ته دا خل شوه.

د (۱۹۹۲م) په پای کې عالي شورا غوښتنه وکړه چې له خپلواکۍ وروسته دې دلاتویا لومړنۍ پارلماني ټاکنې د جون په (۵، ۶) نیټه وشي، د عالي شورا دغه غوښتنه دلاتویا د سیاسي خپلواکۍ د بیرته تر لاسه کولو په اړه وروستی ګام ګڼل کیږي.

طبیعي منابع:

ددې هیواد طبیعي منابع عبارت دي له: تورب یا اومه سکاره، دولومیت، درس خاوره او دچونې ډبرې.

اصلي صنایع:

اصلي صنایع یې عبارت دی له: میخانیکی، مهندسي، غذایی صنایعو، نساجی صنایعو کیمیاوی صنایعو، الکترونیکي صنایعو او دلرګیو جوړولو صنایعو څخه.

مقدونیا

د هیواد نوم: د مقد ونیا جمهوریت.
مرکز: اسکوپیا.
د ګړو شمیر: د ۲۰۰۰ میلادی کال د شمیرنو پربنسټ ۲۰۴۱۴۶۷ تنه.
جمهور رئیس: ۱۹۹۹م Boris Trajkovski
صدراعظم: LjupcoGeorgicVski-۱۹۹۸
د بهرنیو چارو وزیر: Slobodan Casule
دولتی نظام: پارلمانی جمهوریت.
مساحت: ۲۵۳۳۳ مربع کیلو متره.

جغرا فیا یی موقعیت:

ددغه هیواد ګرد چاپیره وچه ده او د جنوبی اروپا د بالکان په جزیره نما کې پروت دی، چی دلویدیځ له خوا په البانیا، د جنوب

له خوا په یونان او له ختیځ لوري له بلغاریا او د شمال له لوری له یوګوسلاویاسره نښتی دی.

بري اوبه او هوا لري، په شمال لویدیځ کې یې په ځنګلونو پټې لوړې لوړې غرنۍ سیمې چې ښکلې او دلیدو وړ منظرې یې جوړې کړي دي- پرتې دي دا هیواد اوږده رودونه لري. په مقدونیا کې(۵۳) طبیعی او مصنوعي واړه سیندونه شته دی.

مهم ښارونه یې دادي: اسکو پیا، بیتولا او پرلیپ.

ملي جوړښت:

په سلوکې ۶۵ مقدونیا یی، په سلو کې ۲۲ البانیایی، په سلو کې ۴ ترك او په سلو کې ۹ کرواتي دي.

مذهبي جوړښت:

په سلو کې ۶۷ ختیځ ارتودوکس، په سلو کې ۳۰ مسلمانان او په سلوکې ۳ د نورو ادیانو پیروان دي.

پولي واحد: دنا

رسمي ژبه: مقدونی اوالباني.

ددې هیواد اوسیدونکي دوولاندینیو لاملونو له مخې مخ په کمیدو دي.

- د ژوند ستونز من شرایط.
- د جګړوله امله د شلمې پیړۍ په وروستیو کې لیږدیدنې او مهاجرتونه.

لنډ تاریخ:

د دې هیواد نوم له ډیرې پخوازماني راهیسې په کتابونو کې ((دمقدس هیواد)) په نامه درج دی. مقدونیایان په حقیقت کې هغه قبایل وو چې له میلاد څخه (۲۱۰۰- ۲۲۰۰) کاله وړاندې یې پنیدوس په غرونو کې ژوند کاوه. بلغاریایانو مقدونیایان د بلغاریا له اقوامو څخه یو قوم ګڼه. یونانیانو مقدونیایانو ته دبیل ملیت په سترګه نه کتل او هغوی یې یوناني ګڼل، خو یو ګوسلاویایانو هغوی دسلاویانو دتوکم یوه برخه ګڼله.

دسترالکساندر دزوی دوهم فلیپ (۳۵۹- ۳۶۹) د الکساندر د امپراتورۍ له ټوټې کیدو وروسته د روم د امپراتورۍ جزوګرځیده. له هغه وروسته د بیزانس د امپراتورۍ یوه برخه شوه.

د بلغار د امپراتورۍ له ړنګیدو او د بیزانس د امپراتورۍ دله منځه تللو څخه وروسته په (۹۶۷-۱۰۱۸) کلونو کې د مقدونیا د لومړني دولت بنسټ کیښودل شو. په (۱۰۱۸م) کال کې هغه بیا د بیزانس دمپراتورۍ ترتسلط لاندې راوستل شوه. وروسته د صرب ددولت تر واکمنۍ لاندې او د نولسمې پیړۍ په پای کې د عثمانیانو تر تسلط لاندې راغله.

په (۱۶۸۹م) کال کې د مقدونیا ځینو اوسیدونکو د ګاریوش په لاربښوونه یو پاڅون په کارواچاوه، چې د هغه له امله دمقدونیا وضعیت په خرابیدو شو. په (۱۸۷۷-۱۸۷۸م) کلو نو کې له روسانو سره په جګړه کې دترکانو له ماتې وروسته مقدونیا له بلغاریا سره یوځای شوه. د نولسمې پیړۍ په دوهمه نیمایي کې د خپلواکۍ لپاره د مقدونیا هڅې رسماً پیل شوې. د برلین د کنګرې د پریکړې په پایله کې (۱۸۷۸م) کال د اکتوبر دمیاشتې چې په کرسنا مشهور و- پیل شو. په (۱۸۹۳م) کال کې دمقدونیا د خپلواك

دولت بنسټ کېښودل شو او په(۱۹۱۳م) کال کې د بالکان له جګړو وروسته له صربستان سره یوځای شوه او په(۱۹۱۸م)کال کې له صربانو، کرواتانو او اسلوونیانو سره د دلومړي پتر په مشرۍ د صر ب د پاچاهۍ یوه برخه شوه.

- په(۱۹۲۹م) کال کې لومړي الکساندر ددې هیواد نوم په یوګو سلوایا بدل کړ. په (۱۹۴۴م) کال کې مقدونیا آزاده شوه او دیوګوسلاویا د جمهوریت په جمع کې راغله.

په(۱۹۶۳م)کال کې سوسیالیستی جمهوریت شو.

د هغو سوله ایزو مبارزو په ترڅ کې چې په(۱۹۹۰-۱۹۹۱م) کلونو کې د مقدونیا خلکو پیل کړې وې. خپله خپلواکي یې ترلاسه کړه.

د ۱۹۹۱م) کال د نوامبر په(۱۷مه) د مقدونیا اساسي قانون تصویب شو.

- مقننه قوه : اسامبله.
  قضائیه قوه : محکمه.

د افغانستان او مقدونیا ترمنځ سیاسي اړیکې:

د شوروي له دړې وړې کېدو او نوو خپلواك شوو هېوادونو له جوړېدو وروسته د ختیځې اروپا هیوادونو چې دوارسا دتړون اوسو سیالیستی هیوادونو جزو، د ازاد بازار اقتصاد ته مخه کړه. دیو ګو سلاویا فدرال جمهوریت هم د پخواني شوروی له نړ دې متحدینو څخه و.

یو ګو سلاویا له شپږو خپلواکو هیوادونو څخه تشکیل شوې وه، د سوسیالیزم د پنډغالي (اردو ګاه) له دړې وړې کېدو وروسته ددې هیواد ، خپلواکو جمهوریتونو د خپلې خپلواکۍ د

ترلاسه کولو په منظور اخ و ډب پیل کړ، خو یواځې د مقدونیا خپلواك جمهوریت و کولی شول خپله خپلواکي تر لاسه کړي او دیوه خپلواك هیواد په توګه نړۍ ته ځان څرګند کړي.

ددواړو هیوادونو ترمنځ ددوستانه اړیکو د ټینګښت د تمایل په پیروۍ او په سیاسي، اقتصادی ، فرهنګي او نورو برخو کې د مرستې د پراختیا لپاره د ملګرو ملتو د سازمان د منشور او بین المللی قوانینو پربنسټ، دواړو هیوادونو موافقه وکړه چې ددیپلو ماتیکو اړیکو یوه ګډه وینا لاسلیك کړي. دغه ویناد (۱۹۹۶م) کال د جولای په(۸مه) په لندن کې لاسلیك شوه، چې له دې وروسته سیاسي او د یپلوماتیکو اړیکو د نا استوګنو سفیرانو په کچه ټینګښت وموند.

د مقدونیا له جمهوریت سره د بلغاریا هیواد د ګاونډیتوب او پر اړوندو چارو د ښه لاسبرۍ په خاطر په سوفیا کې د افغانستان د اسلامی دولت سفارت په مقدونیا کې د افغانستان د نااستوګن سفارت په توګه وګومارل شو.

څرنګه چې د اُفغانستان د اسلامي دولت د سفارت د استازو او د مقدونیا د جمهوریت ترمنځ د سیاسی او ډیپلو ماتیکو اړیکو په باب خبرې ، په لندن کې تر سره شوې وې نو ځکه ددواړو هیوادونو ترمنځ موافقه لیك او ګډه اعلامیه په لندن کې د افغانستان د اسلامي دولت سفیر لاسلیك کړل.

بوسنیا هرزو ګوینا

د هیوادنوم :   د بوسنیا هر زو ګوینا جمهوریت .
مرکز : سرایو.
د وګړو شمیر: ۵،۴ میلیونه.
دولتی نظام: جمهوري.
مساحت : ۵۱۱۲۹ مربع کیلو متره.
جغرافیایی موقعیت:

دغه هیواد د جنوبي اروپا د بالکان په ټاپووزمه(جزیره نما) کې پروت دی او شاوخواته یې مجارستان، یو ګو سلاویا، سلوانیا، کروشیا او د بالتیك بحیره پرته ده. په سلو کې (۵۰) او سیدونکي یې مسلمانان دي. له مسلمانانو وروسته صربان او کرواتان ددې جمهوریت د پام وړملیتونه دی ځینې واړه ملي

اقلیتونه لکه : الباني او سلاوي هم په دې جمهوریت کې ژوند کوي.

په دې جمهوریت کې ددې تر څنګ چې کرنه میکانیزه شوې؛ د درندو او سپکو صنایعو فابریکې هم فعالیت کوي او د صنایعو لویه برخه یې د بریښنا انرژي، د فلزاتو پروسس، کیمیاوي او نساجي صنایع او د ساکو په نامه دموټرو، ټراکټور، الوتکو او چورلکو(هلیکوپټرونو) د جوړولو صنایع موجودې دي.

له بوسنیا هرزو ګوینا سره د افغانستان سیاسي اړیکې:

دیو ګوسلاویا د کورني اخ وډب په ترځ کې د بوسنیا هر زو ګوینا جمهوریت چې اکثریت وګړي یې مسلمانان دي – خپله خپلواکي تر لاسه کړه او د نړیوالې ټولنې په کچه یې د ملګرو ملتونو د سازمان د غړي په توګه ځان څرګند کړ او د اسلامي هیوادونو د کنفرانس غړې شوه.

ددواړو هیوادونو ترمنځ د علاقې او اړیکو د په پام کې نیولو پربنسټ د بهرنیو چارو وزارت د ۲۳-۱-۱۳۷۳نیټې د (۵۴) ګڼه وړاندیز او ددولت دریاست په منظورۍ په اتریش کې د افغانستان د اسلامي دولت د سفیر ښاغلي سیدابراهیم ګیلاني ټاکنه د بوسنیا هر زوګوینا په نوي جوړشوي هیواد کې د نا استوګن سفیر په توګه منظوره شوه، چې ددواړو هیوادونو ترمنځ د سیاسي اړیکو د پیل په توګه ارزول کیږي.

د هیواد اوسنۍ وضعه:

دبوسنیا هرزو ګوینا بین المللی پولې د ډایټون(**Dayton**) د ساز شلیك پر بنسټ وساتل شوې او یو څو ملتي فدرالي هیواد

جوړشو چې د" مسلم" کروات فدراسیون او دبوسنیا د صرب جمهوریت په کې شامل دی.

فدرالي حکومت د هیواد د بهرنیو، اقتصادي او مالي چارو مسوولیت په غاړه لري. بوسنیا هرزو ګوینا یو فدرال دموکراتیک جمهوریت دی چې په لرلو سره د یوه دوه مجلسه پارلمان لرونکی دی چې لومړی مجلس یې عبارت دی له: د استازو ملی مجلس د(۴۲غړو) چې د خلکو له خوا ټاکل کیږي. او دوهم د خلکو مجلس(۱۵ غړي لري)، چې غړي یې د سیمه ایزو مجلسونو او غونډو له خوا انتخابیږي. دڅایټون موافقه لیك، ددې هیواد په اساسي قانون کې درج دی. له دې قانون سره سم ددولت په راس کې یو درې کسیزه لاربنود هیات موجود دی چې هر یو یې په یوه قوم (مسلمان، صرب ، کروات) پورې اړوند دی او ددې پلاوي (هیات) رئیس د اتومیاشتو لپاره ددولت درئیس دنده سرته رسوي.

اوسنی رئیس یې دراګان کویچ (Dragancovic) کروات) دی، چې د(۲۰۰۳م) کال د جون له(۲۷مې) څخه یې دنده پیل کړې ده او ددولت د ریاست د مشرتابه ه پلاوي دوه تنه نور غړي(Soljman Tihic (مسلمان) او Boris lay pravac) (صرب) دی. همدرانګه د غه هیواد د وزیرانو یوه شورا هم لري چې اوس یې رئیس(Adnanteryic) دی. د هغه له خوا و زیران ټاکل کیږي چې په هغو کې د ملي مجلس موافقه ضروري ده.

کروشیا

د هیواد نوم: د کروشیا کروشیا (کرواسی) جمهوریت .

مرکز : زاګرب.

دوګړو شمیر: د ۲۰۱۰م کال د شمیرنو پر بنسټ ۴۲۸۲۲۱۶تنه.

جمهورر ئیس:

صدراعظم: IvicaRacan

د بهرنیو چارو زیر: Tonino picula

دولتی نظام : جمهوریت

مساحت: ۵۶۵۳۸ مربع متره .

جغرافیایی موقعیت:

د غه هیواد د جنوبي اروپا دادریاتیك د سیند په ختیځو څنډو کې پروت دی، چې د الپ لـه لمنو د دانیوب د سیندتر څنډو او هوارو سیمو غځیدلی او لـه طبیعی پلوه پر څلورو سیمو ویشل شوی دی، چې عبارت دي لـه: لـه هوارو سیمو، غرنۍ سیمو،

ساحلي سيمو او ځنګلي سيمو څخه. کروشيا (۳۰) سيندګوټي (واړه سيندونه) لري. د کروشيا په شاوخوا کې: بوسنيا هرزوګونيا، د ادرياتيک سيند، هنګري او يوګوسلاويا پراته دي. کروشيا (۳۰۰) لوی او واړه بندرونه لري چې ډېر مهم يې عبارت دي له: چولا، دوبرو نيک، او ريسيکا څخه، د کروشيا دجمهوريت په سلو کې (۷۸) د کاتوليک مذهب او په سلوکي ۱، ۱۱ د ارتودوکس مذهب او په سلو کې (۲،۲) د پروتستانت د مذهب پيروان او په سلو کې (۱۰، ۲) اوسيدونکي يې مسلمانان دي.

لنډ تاريخ:

په (۸۷۹م) کال کې، پاپ ايوانا ر، دکرواتانو د نوي حکومت د سياسي جوړښت د فاع وکړه. کرواتانو په نهمه پيړۍ کې د الماتسيا په شمال کې خپل هيواد ايجاد کړ او په (۹۱۰- ۹۲۸) ميلادی کې يې د شاه توميلاکا په مشرۍ تر ساحلی برخو پورې خپل اقتدار ته پراختيا ورکړه او ددوولسمې پيړۍ په اوايلو کې کروشيا د مجارستان تروا کنمۍ لاندې شوه. په پنځه لسمه ميلادي پيړۍ کې د عثمانيا نو لاس ته ورغله او تر (۱۵۲۷) ميلادی پورې د ترکانو په واك کې وه. په (۱۵۲۷م) کال کې د هاسبورګ سلسلې واك تر لاسه کړ. په (۱۷۱۲) کال کې د کروشيا پارلمان شاهی نظام را ژوندی کړ او په (۱۹۶۸م) کال کې يې له اتريش او سلوانا سره د يووالي او اتحاد پريکړه وکړه. د (۱۹۱۸م) کال د اکتوبر په (۲۹مه) نيتهه يې له اتريش او هنګري سره اړيکي خړپړشول.

د (۱۹۱۸) کال د دسامبر په لومړۍ نيتهه دکرواسي ملی شورا پريکړه وکړه چې د کروات، صرب، انسلوانی، صربستان او مونتينيګرو ملتونه دې سره يوشي- او د صربستان پادشاهي دې

رامنځ ته کړي، چې وروسته يې په (۱۹۲۹م) کال کې دغه نوم په يوګوسلاويا بدل کړ. په (۱۹۳۹م) کال کې د يوګوسلاويا په اډانه کې د کرواسي شاهي دولت جوړ شو.

د (۱۹۹۱م) کال د جون په (۲۵مه) په کرواسي کې خپلواک حکومت اعلان شو. په ۱۹۹۲م کال کې ټولټاکنې پيل او د (۱۹۹۱) م کال د اکتوبر په (۱۸مه) نيټه د هغه جمهوريت د خپلواکۍ ورځ وټاکل شوه.

د کروشيا او افغانستان ترمنځ سياسي اړيکې:

د بهرنيو چارو وزارت د ۱۳۷۴/۱/۶ نيټې د (۳) ګڼې ورانديز او د افغانستان د اسلامي دولت د ۱۶/ ۱/ ۱۳۷۴) نيټې د (۱۹۴) ګڼه فرمان پراساس د کروشيا له جمهوريت سره د سياسي اړيکو د ټينګښت په منظور د نا استوګنو سفيرانو په کچه موافقه وشوه.

د کروشيا له خوا په ډهلي کې د هغه هيواد سفير په افغانستان کې د نا استوګن سفير په توګه وټاکل شو، خو تراوسه د افغانستان د اسلامي دولت له خوا په دې برخه کې کومه پريکړه نه ده شوې.

داوکرايين جمهوريت

جمهور رئيس(Leoni D kuch ma ليونيد کوچما(د ۱۹۹۵ کال په ټاکنو کې جمهور رئيس شو او د وهم ځل د ۱۹۹۹ کال په ټاکنو کې هم ورونکی شو.)

د بهرنيو چارو وزير: KostyantayIGryshchanko

مرکز: د کيف ښار.

مساحت: ۶۰۳۷۰۰ مربع کيلو متره.

دوګړو شمير: نږدې(۴۹) ميلونه تنه.

جغرا فيايي موقعيت:

اوکرايين په ختيځه اروپاکې پروت دی اوله اوو(۷) هيوادونو: د شمال له خوا له بيلارو سيې د شمال ختيځ او ختيځ له خوا د روسيې له فدراسيون او د جنوب له لوري له توري بحيرې، د جنوب لويديځ له خوا له مالداويا او رومانيا د لويديځ خواته له هنګري، سلواک او پو لينډ سره ګډې پولې لري.

تاریخي سیر: د غه هیواد په تیروخت کې د اروپایي حکومتونو تر واکمنۍ لاندې وه چې په روسي کییف یې شهرت درلود، البته له نهمې میلادي پیړۍ څخه وروسته د ختیځې اروپا سیاسي او فرهنګي مرکزو او یو وخت په (۱۴مه) پیړۍ کې د مغولو تر سلطې لاندې راغی. په (۱۵۹۱م) کال کې په دوو ډلو: ارتو دوکس او کاتو لیك وویشل شو. په (۱۶۵۴م) کال کې سیمه ایز حکومت د پولینډ په وړاندې له تزاري روسیې څخه دمرستې غوښتنه وکړه او له هماغې نیټې وروسته د تزاري روسیې د قلمرو یوه برخه وه، خو د (۱۹۱۸م) کال د جون په (۲۸مه) ازاد شو.

په (۱۹۲۰م) کال کې ددویم ځل لپاره د سره پوځ تر اشغال لاندې راغی او په (۱۹۲۲م) کال د شوروي اتحاد په سوسیالیستی جمهوریتونو کې شامل شو.

ددوهمې نړیوالې جګړې په کلونو کې له (۱۹۴۱- ۱۹۴۵) کلونو پورې څه ناځه د آلمان تر تسلط لاندې و. د (۱۹۹۱م) کال د اګست په (۲۴مه) یې د پخواني شوروي له دړې وړې کیدو وروسته خپله آزادي اعلام کړه.

د (۱۹۹۱م) کال په دسامبر کې د روسیې فدراسیون، بلاروسیې او او کرایین جمهورو رئیسانو د خپلواکو آزادو هیوادونو د همکارۍ تړون لاسلیك کړ، چې وروسته د پخواني شوروي (۹) نورو جمهوریتونو هم دغه غویتوب تر لاسه کړ او د خپلواکو همګټو هیوادونو CIS په نامه ونومول شول

د (۱۹۹۶م) کال د جولای په (۲۸مه) اساسی قانون د او کرایین د پارلمان (ورخونارادا) له خوا چې (۴۵۰) غړي لري تصویب شو.

کرنه:

د او کرایین مهم کرنیز محصولات عبارت دي له: جغندرو، غنمو، کچالو، سبو او میوو څخه.

صنعت:

د ماشینونو جوړول، د کیمیایي موادو تولیدول او د خوراکي موادو پروسس.

د افغانستان او اوکرایین ترمنځ سیاسي او د ډیپلوماتیکي اړیکې:

په(۱۹۹۱م) کال کې دشوروي له ټوټې کیدو وروسته، او کرایین خپله خپلواکي ترلاسه کړه، د افغانستان دولت هغه هیواد په رسمیت و پیژانده او له اوکرایین سره یې د سفارت په کچه د سیاسي اړیکو د ټینګښت په منظور یو پروتو کول لاسلیک کړ.

د(۱۹۹۵م) کال د دسامبر په دوهمه نیټه د افغانستان او اوکرایین ترمنځ د سفارت په کچه اړیکې ټینګې شوې چې اوس ښاغلی سید محمدخیر خواه په او کرایین کې ۱۰۱۰۱د. د سفیر په توګه دنده ترسره کوي.

د طالبانو په وخت کې د پخوانی شوروي له جمهوریتونو څخه له ترکمنستان نه وروسته او کرایین دوهم هیواد و چې په افغانستان کې یې له طالبانو سره اړیکې درلودې.د دواړو رژیمونو ترمنځ په متحده عربی اماراتو او المان کې لیدنې کتنې هم شوې وې، همدارنګه د بهرنیو چارو وزارت د سیاسی مرستیال مولوی عبدالرحمن زاهد په مشری دد سامبر په (۱۰-۲۰) نیټه دطالبانو یو پلاوی کییف ته تللی و.

په هیواد کې د نوې واکمنۍ له ټینګښت څخه وروسته د ښاغلی ویتالي ګیدوك په مشرۍ دکییف د ښاروالۍ د مرستیال او د اوکراین د جمهوریت د استازی په ګډون یو پلاوی کابل ته راغلی و چې د افغانستان د اسلامی انتقالي دولت درئیس، د مالیی وزیر اشرف غنی احمدزی،د سپکو صنایعو او خوراکي موادود وزیر، محمد عالم رزم، د سودا ګرۍ وزیر سید مصطفی کاظمی، د اوبو او بریښنا وزیر محمد یونس نو اندیش، د فواید عامې وزیر ډاکتر عبدالله علي او ددفاع وزارت له تخنیکی مرستیال سره وکتل.

د افغانستان د سودا ګرۍ د اتا قونو او د اوکراین د سوداګرۍ او صنایعو د اتاقونو ترمنځ د افغانستان د سوداګرۍ د اتاقونو درئیس او په کابل کې د او کراین د نا استوګن سفیر ښاغلی انا تولي کسیاننکو، چې په ازبکستان کې د او کراین سفیردی، د همکارۍ موافقه لیك لاسلیك شو.

د(۲۰۰۳م) کال د اګست په(۲۶-۲۷مه) نیټه کییف ته د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر ښاغلي ډاکتر عبدالله سفر چې په ترڅ کې یې د افغانستان د بهرنیو چارو دوزارت او د اوکراین د بهرنیو چارو د وزارت ترمنځ د مرستې او همکارۍ موافقه لیك، لاسلیك شو- ددواړو هیوادونو په اړیکو کې یوه نوې پیښه ګڼل کیږي. همدارنګه د او کراین د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی انتوننکو کابل ته راغی او د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت له رئیس حامد کرزي، ددولت دریاست له مرستیال هدایت امین ارسلا، او د بهرنیو چارو له وزیر ډاکتر عبدالله سره یې وکتل.

د او کراین جمهوریت د طالبانو د رژیم له نسکوریدو وروسته، د افغانستان له وسله وال پوځ سره د(۲۳) قلمه لوازمو او

وسایلو مرسته وکړه. د آریانا افغان هوایی شرکت له خوا په او کرایین کې جوړه شوې یوه ان-۲۴ ډوله الوتکه د او کرایین له جمهوریت څخه پیرودل شوې ده.

همدا اوس له (۳۰۵۰) تنو څخه زیات افغاني پناه غوښتونکي په اوکرایین کې ژوند کوي.

بلاروسیه (سپینه روسیه)

جمهـور رئـیس: الکـساندر لوکـا شـنکا Alyaksandar lukashenka

دبهرنیو چارو وزیر:

د وګړو شمیر : ۱۰ میلیونه تنه

رژیم : جمهوري.

مساحت: ۲۰۷۶۰۰مربع کیلو متره .

مرکز : د مینسك ښار، د اوسیدو شمیریې ۱،۵ میلیون تنه.

جغرا فیایي موقعیت:

د غه هیواد په ختیځه اروپا کې پروت دی ، چې د شمال له خوا ه لیتوانیا او لاتویا ، د ختیځ لـه خوا د روسیې لـه فدراسیون، د

لویدیځ له لوري له پولینډ او جنوبي پلوته د اوکرایین له جمهوریت سره ګډې پولې لري.

د بیلا روس هیواد په وچې پورې منحصراو آزادو اوبو ته لاره نه لري، خو د بالتیك د غاړې د هیوادونو له لارې د بالتیك بحیرې او له هغه ځایه له نړۍ سره اړیکي ټینګوي یو هوار، له ګڼو ځنګلونو او وړو سیندونو. څخه ډك هیواد دی.

پولي واحد: بیلاروسي روبل.

ژبه: بیلا روسی او روسي.

ملی جوړښت: بیلا روس په سلو کې ۷۸، روسان په سلو کې ۱۳، پولینډیان په سلو کې ۳-۱ او اوکراینیان په سلو کې ۳.

مذهب: ارتودوکس.

د لوستو (باسوادو) شمېر: په سلو کې سل.

تاریخي سیر:

دغه هیواد له پنځمې میلادي پیړۍ څخه راپه دیخوا منځ ته راغی. له (۹-۱۲) میلادي پیړیو پورې د کییف د ټولواکانو (شاهانو) تر سلطې لاندې و او د مغولو له خوا د او کرایین له نیولو سره سم یې خپله آزادي ترلاسه کړه، وروسته له (۱۴-۱۸) پیړۍ پورې، د لیتوانیا او پولینډ یوه برخه شوه. د اتلسمې میلادي پیړۍ په وروستیو کې د تزاری روسیې د امپراتورۍ جزشو چې د لومړۍ نړیوالی جګړې له پای ته رسیدو څخه وروسته په بین المللی ټولنه کې دیوه ازاد هیواد په توګه وپیژندل شو، چې په روسیه کې د کمونیستانو له واکمن کیدو سره سم، د سره پوځ له خوا اشغال شو.

د روسيې اوپولينډ ترمنځ د(۱۹۱۸ - ۱۹۲۱) کلونو د جګړو په اوږدو کې يې لويديځه برخه پولينډيانو او لويې ختيځې برخې يې روسانو ترخپلې اداري لاندې راوستلې. په (۱۹۲۲م) کال کې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو يوه برخه شوه. شوروي د(۱۹۳۹) کال د جګړو په اوږدو کې، لويديځه برخه هم له پولينډ څخه ونيوله. دغه هيواد ددوهمې نړيوالې جګړې په کلونو کې د المانيانو لاس ته ورغی، خوله جګړې وروسته بيا د شوروي تر واکمنۍ لاندې شو.

د(۱۹۹۰م) کال په جولای کې يې خپله آزادي اعلام کړه چې د(۱۹۹۱) کال په اګست کې يې رسميت پيدا کړ.

د (۱۹۹۱) کال په دسامبر کې د خپلواکو همګټو هيوادونو غړی شو. په(۱۹۹۷م) کال کې يې د روسيې له فدراسيون سره ددوستۍ او همکارۍ يو تړون لاسليك کړ.

له افغانستان سره يې اړيکې:

دغه هيواد له افغانستان سره سياسي اړيکې لري، اوس اوس په مسکو کې افغانی سفارت په عين حال کې د مينسك کې د هيواد نااستوګن سفارت هم دی.

آلبانیا

د هیواد نوم: د البانیا جمهوریت.
مرکز : تیرانا.
جمهور رئیس: Rexhep Medani
صدراعظم : IlirMeta
دبهرنیو چارو وزیر: Mme Arta'Dade
د وګړو شمیر: .....
مساحت : ۲۸۷۵۰ مربع کیلو متره.

جغرافیایي موقعیت:

البانیا په جنوبي اروپا کې، د بالکان د ټاپووزمې په لویدیځ کې ، د ادریاتیک د سیند پرغاړه پرته ده، دا یوغرنی هیواد دی چې درې پرځلور برخه یې غونډیو او غرونو نیولې ده.جنوبي‌غرنۍ

سیمې او د هیواد د شمالي برخه یې په ځنګلونو پټه ده. مدیترانه یي اوبه او هوا لري. ګاونډي هیوادونه یې عبارت دي له: جنوب پلوته یونان، ختیځ لورته مقدونیا، شمال ته یې مونتینګرو او صربستان، لویدیځ ته یې د ادریاتیک بحیره. د آلپ غرونه په ځنګلونو پوښل شوي او لوړوالی یې (۲۷۵۱) متروته رسیږي، سیندونه یې دادي: درتیني، مالتی او ایزدي. د البانیا مهم بندرونه عبارت دي له: دروس، د اوو او سازاندی ښخه. مهم ښارونه یې: باسیرام، سوري او فیبر دي.

لنډ تاریخ:

د البانیاوګړي د بالکان د ټاپووزمې له ډیرو لرغونو توکمونو څخه دي چې له میلاد نه (۲۰۰۰) کاله وړاندې د ایلیرین د قبیلې په نامه په دې خاوره کې میشته شوي دي. له پرله پسې جګړو وروسته ایلیري قبایل سره یو او متحدشول چې ډیره مهمه یې دتاولانتس یا ایلیریانو اتحادیه وه. له میلاد څخه د مخه په پنځمه پیړۍ کې هغوی دیوه څواکمن ایالت څښتنان شول او ددوی دې ګړندۍ ودې د رومیانو او یونانیانو پام ځان ته را واړاوه.

یونانیانو او رومیام چې د ادریاتیک د کنټرول او ښارنې نیت یې درلود ـ له ایلیریانو سره و نښتل. په همدې وخت کې د ایلیریانو یو مشهور دولت دریان وکولی شول د ایلیریانو د خاورې یوه پراخه سیمه تر خپل واک لاندې راولي. له میلاد څخه د مخه په (۲۲۹-۱۷۶) کلونو کې د پرله پسې اوږدو جګړو په ترځ کې رومیان د [illegible] انیا پر بومي او سیدونکو بریالي شول او د ایلیریانو خاوره د ټوټې ټوټې کېدو لپاره د رومیانو په کلابندۍ کې پاتې شوه.

په څلورمه میلادي پیړۍ کې په دوو برخو د روم د امپراتورۍ د ویشلو: ختیځ(بیزانس)، لویدیځ (روم) پرمهال د ایلیریانو خاوره د ختیځې امپراتورۍ تر واک لاندې راغله.

د نهمې میلادي پیړۍ په نیمایي کې په بالکان کې د بلغاریا لومړنی دولت تشکیل شو، بلغاریایانو د ختیځ روم پر امپراتورۍ د یرغل په ترځ کې وکولی شول چې د ایلیری (اربر) د خاورې یوه برخه ونیسي. د بلغاریایانو او رومیانو نښتې(۱۵۰) کاله اوږدې شوې، چې بالاخره رومیان په دې بریالي شول هغه ځمکې چې بلغاریایانو نیولې وې، بیرته تر خپل واک لاندې راولي او د بیزانس واکمنې د څوارلسمې پیړۍ تراوایلو دوام درلود چې په همدې ترځ کې د ایلیریانو پرځمکه د صربانو دویم یرغل پیل شو.

د عثمانیانو له پنځو پیړیو واکمنۍ وروسته، په (۱۹۱۲م) کال کې البانیا د خپلواکۍ اعلام وکړ او د اسماعیل پاچا په نامه د البانیا له قبایلو څخه یو سړي ددولت ریاست ترلاسه کړ. په (۱۹۱۴-۱۹۱۸م) کلونو حالات ډیرخراب وو. یونان او ایتالیا له وخت نه په ګټې اخیستلو د البانیا یوه برخه تر خپلې اداري لاندې را واستله او په(۱۹۱۵م) کال کې د مونتینګرو پوځ هم په البانیا یرغل وکړ او د اشکودر ښارېې ونیو. همدارنګه د صربستان پوځ هم د هغې شمالي برخې ونیولې.

څه موده وروسته د البانیا د خلکو د مقاومت پر اساس د مونتینګرو پوځ ددوی له خاورې ووت او د احمد زوغو(زوګو) په مشرۍ دتیرانا دولت د لویو ځمکه والو او فیوډالونو لاس ته ورغی.

زوغو په(۱۹۲۵م) کال کې رسماً ددولت ریاست په غاړه واخیست او ځان یې دالبانیالومړنی جمهور رئیس وګاڼه.

په(۱۹۲۸م) کال کې دجمهوري رياست دنظام په لغوه کولو سره د پاچهۍ اعلام وشو او لومړی زوغون ځان پاچاکړ.

په(۱۹۲۸م) کال کې د لومړي ځل لپاره دکمونيست ګوند بنسټ کيښودل شو.

په (۱۹۳۹م) کال کې البانيا د ايټاليا لاس ته ورغله، ددوهمې نړيوالې جګړې پر مهال د انور خواجه په مشرۍ د مقاومت ډله جوړه شوه.

په(۱۹۴۳م) کال کې د ايټاليا له ماتې وروسته، کمونيست ګوندواك ترلاسه کړ. په(۱۹۴۵م) کال کې لومړنۍ پارلماني ټاکنې تر سره شوې او د البانيا جمهوريت اعلام شو. د(۱۹۴۶م) کال په مارچ کې لومړنی اساسي قانون تصويب شو.

له (۱۹۴۴م) کال څخه را په ديخوا انور خواجه واك ترلاسه او تر(۱۹۸۵م) کال پورې د البانيا جمهور رئيس و.

سياسي ګوندونه:

- د البانيا د کارګرانو اتحاديه.
- د موکراتيکه جبهه.
- دموکراتيك ګوند.
- سوسياليست ګوند.

بهرنۍ اړيکې:

له پخواني شوروي سره په(۱۹۴۴م) کال کې د البانيا مناسبات ښه شول او په(۱۹۵۵م) کال کې يې دوارسال د تړون غړيتوب تر لاسه کړ خو په (۱۹۶۲م)کال کې له مسکو سره د اړيکو د خړ پړکيدو له امله د وارسا له تړون څخه ووتله.

په (۱۹۶۱م) کال کې له چین سره دالبانیا اړیکې ډیرې نږدې شوې.

له افغانستان سره يې سیاسي اړیکې:

دواړه هیوادونه استوګن سفیران لري. همدا اوس په مسکو کې د ۱۰۱. د. سفیر په البانیا کې د افغانستان نا استوګن سفیر دی.

څه موده وړاندې د البانیا ددفاع وزیر زموږ د هیواد د لیدو په ترڅ کې د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت درئیس ښاغلی حامد کرزی ، ددولت دریاست له لومړي مرستیال مارشال فهیم او همدارنګه یې له هغوالبانیا ییځواکونو سره چې د ایساف په چوکاټ کې په افغانستان کې خدمت کوي وکتل.

یوګو سلاویا

دهیواد نوم: دیوګو سلاویا فدرالي جمهوریت.
مرکز: بلګراد.
دوګړو شمېر: ۶۴ میلیونه.
جمهور رئیس: Vojislavkostunic
صدراعظم: Draisa pesic
د بهرنیو چارو وزیر: GoranSvilanovie
دولتي نظام: فدرالي جمهوریت
مساحت: ۱۰۲۱۷۳۱۰۶

یوګو سلاویا یوګن ملیتیز هیواد دی چې تر(۱۵) زیات ملیتونه په کې ژوند کوي. د یوګو سلاویا فدرالي جمهوریت له شپږو جمهوریتونو او دووخپلواکو ایالتونو څخه جوړشوی دی.

یوګو سلوایا د هغي له شنني اوتجزیې د مخه ترکیب پراساس په(۱۹۱۸م) کال کې جوړه شوه. په لرغونو زمانو کې د نننی یوګوسلاویا په یوه لویه برخه کې ایلیرې قومونه استوګن شول ،

چې په همدې دلیل ایلیریان بلل کیدل. د غه قوم له میلاد څخه د مخه د یوې پیړۍ په شاوخواکې د روم د امپراتورۍ تابعیت ومانه.

د شپږمې میلادی پیړي په شاوخواکې جنوبي اسلاویا نو دې سیمې ته مهاجرت پیل کړ او ورو ورو په بیلابیلو سیمو کې میشته شول، دا سلاو مهم قومونه چې دې سیمې ته راورسیدل عبارت دي له: صربانو، کرواتانو، سلوا نیانو او مقدونیانو څخه.

له نهمې پیړۍ څخه په دې سیمه کې مسحیت باب شو. د(۱۴) پیړۍ له نیمایی څخه، صربستان د بالکان په یوه ځواکمن دولت بدل شو.

په(۱۴-۱۵) پیړۍ کې د خلکو له سخت مقاومت سره سره د هیواد یوه لویه برخه عثمانیانو ونیوله چې په پیړیو پیړیو یې ترنفوذ لاندې پاتې شوه.

په(۱۸۲۹م) میلادي کال کې د روسیې او صربستان د هڅو او د ادریانو پل، د تړون په ترڅ کې عثمانیانو له ناچارۍ د صربستان خپلواکي و منله او د مورثی میلوش حکومت یې په رسمیت وپیژانده. په(۱۸۷۹م) کال کې صربستان له عثمانیانو سره د جګړې اعلام وکړ. روسیې هم دعثمانیانو په وړاندې جګړې ته ورودانګل. د برلین کنګرې په هماغه کال صربستان په بشپړه توګه خپلواك اعلام کړ خو بوسنیا هرزو ګوینا یې اتریش- هنګري ته په لاس ورکړه او دیوګو سلاویا د یووالی هیله یې په نا هیلۍ بدله کړه

کله چې په(۱۹۱۴م) کال.کې د اتریش و لیعهد فرانتس فردیناند په سرایو کې د یوه محصل له خوا ترور شو، د اتریش دولت د پیښې د څرګندیدو او پلټنې په خاطر د مستقیمې مداخلې غوښتنه وکړه خو صربستان د غه غوښتنه ونه منله چې په نتیجه

کې اتریش په همدغه کال له صربستان سره د جنګ اعلام وکړ او نور اروپایي ځواکونه د جګړې له دوو اړخونو سره یوځای شول. په(۱۹۱۵م) کال کې صربستان په شدت سره تر برید لاندې راغی او د المان، اتریش او بلغارستان هیوادونو صربستان ته ماتې ورکړه.

په(۱۹۱۷م) کال کې د صربستان، کروشیا، سلوانیا او مونتي نیګرو د سیمو استازو د جنوبي اسلاویانو اتحاد اعلام کړ. په(۱۹۱۸م) کال کې د صربانو، کرواتانو او سلوانیانو هیواد د لومړي پتر(۱) د نوي سلطنت په نامه تشکیل شو چې داد((یو ګوسلاویا)) لومړنی تاریخي تشکیل دی.

په(۱۹۱۸م) کال کې متحدینو اتریشیان لومړی له صربستان او وروسته یې له ټولو سیمو څخه وایستل او د لومړي پتر پاد شاهي لاپسې ټینګه شوه. په(۱۹۲۱م) کال د لومړی پترزوی لومړی الکساندر پاچاشو چې د کروات او مقدونیا بیلتون غوښتونکو له هغه سره مخالفت پیل کړ. له هغوی سره د مقابلې په خاطرې له(۱۹۲۹م) کال څخه دیکتاتوري حکومت ټینګ او په همدغه کال یې د هیواد نوم د صربستان په عوض په" یو ګوسلاویا" واړاوه.

ددوونړیوالو جګړو په منځ کې د ثبات، نظم او هوساینې نشتوالی څرګندو. په(۱۹۴۱م) کال کې متحدینو(آلمان، هنګري، اتریش) پر بالکان باندې د بشپړ بري د ترلاسه کولو په خاطر په یوګو سلاویا برید وکړ او د هغې له نیولو وروسته یې. هلته خپل لاس کیښنولی دولت ټینګ کړ، خو په همدې ترځ کې دیو سیپ بروز (تیتو)او نورو سلطنت غوښتونکو په مشرتابه د المان او د هغه د لاس کیښنولي دولت په وړاندې پارټیزانی جګړې پیل شوې.

په(۱۹۴۴م) کال کې دروسيې ځواکونه يوګوسلاوياته ننوتل او د تيتو ځواکونو د هغو په مرسته المانيان وشړل، له جګړې وروسته تيتو پر اوضاع مسلط شو. په(۱۹۴۵م) کال کې ديوګوسلاويا د مؤسسانو مجلس د سلطنتي حکومت پای او د جمهوري حکومت ټينګښت اعلام کړ او تيتو ديوګو سلاويا د فدراتيف سوسياليستي جمهوريت لومړی وزير شو. د(۱۹۴۶م) کال د اساسي قانون پرينسټ مقدونيا، بوسنی هرزوګوين،او مونتينګرو له صربستان څخه بيل او بيلا بيلو خپلواك جمهوريتونه شول.

تيتو په خپل بهرني سياست کې د ختيځې اروپا پرخلاف له شوروي څخه د خپلو کړنو(عم) خپلواکي تر لاسه کړه او په همدې منظوريې په(۱۹۴۸م) کال کې تيتو د کمونيزم له اصولو څخه په انحراف تورن کړ او ديوګوسلاويا له مشرتا به څخه د هغه دلرې کيدو غوښتونکي شول. د ننه په هيواد کې هم پر هغه باندې د کمونيستانو فشار زيات شو. تيتو د شوروي د فشار په وړاندې مقاومت وکړ او د شوروی مستشارن يې له هيواد څخه وايستل. ددواړو خواوو ترمنځ شديدې لفظی تبليغاتی نښتی پيل شوې. تيتو په خپل بهر ني سياست کې د لويديځ له لريوالي څخه په ويره کې و.

په (۱۹۵۰م) کال کې تيتو په وار وار هڅه وکړه چې له شوروي او نورو سوسياليستی هيوادو سره اړيکې ښې کړي خود هغه د بيطرفی تګ لاره د هغه ددې کارخنډشوه.

له(۱۹۷۴م) کال څخه را په ديخوا تيتو د هميشني جمهور رئيس په نوم ونومول شو.

د ختیځې اروپا کمونیسانو په (۱۷۶م) کال کې له (۲۸ کلن تحریم څخه وروسته یوګوسلاویا په خپل بندغالي(اردوګان) کې ومنله، چې دا په نړیوال سیاست کې دتیتو د نقش د اهمیت یوه نښه وه.

تیتو په(۱۹۷۸م) کال امریکا ته لاړ او په (۱۹۷۹م) کال کې یې په افغانستان کې د شوروي پوځي لاسوهنه وغندله.

په(۱۹۸۰م) کال کې تیتو د(۸۷ کالو په عمر مړشو. د هغه له مړینې وروسته د هیواد په جنوبي سیمو کې د خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره خورې ورې نښتې پیل شوې. د غه نښتېورځ په ورځ د تاریخي دښمنیو، قومي غچ اخیستې، پرځمکو ددعواګان، ملي جوړښت او ناکراري سیاسي پوځي وضعې ته په پاملرنه:د بهرنیو هیوادونو، په ځانګړې توګه د اروپا یې هیوادونو لکه المان، مجارستان اواتریش د لاسوهنې له امله لاپسې غځېدلې، چې د مقدونیایانو،کرواتانو او سلوانیانو د بیلتون غوښتنې له ارمانونو سره یې همغږي درلوده. دغه کار د کورنیو څوکلنو خونړیو جګړو د رامنځ ته کیدو سبب شو. بالاخره په(۱۹۹۲م) کال کې د یوګوسلاویا سوسیالیستی جمهوریت د بیلا بیلو میلتونو له(۷۴) کلن ګډ ژوند څخه وروسته و پاشل شو او په څلورو خپلواکو جمهوریتونو د یوګوسلاویا فدرالي جمهوریت(چې اوس د پخوانۍ یوګوسلاویا وارث ګڼل کیږي) د (کرواسي (کروشیا) سلوانیا او مقدونیا په جمهوریتونو وویشل شو.

د افغانستان او یوګوسلاویا سیاسي او دیپلوماتیکې اړیې:

د افغانستان او یوګوسلاویا ترمنځ سیاسي اړیکي په(۱۹۵۴م) کال کي پیل شوې اوپه (۱۹۶۰م) کال کې دواړو خواوو د

سفیرانو مبادله پیل کړه. په همدغه کال کې د سیاسي، اقتصادي ، تجارتي، فني، فرهنګي او همدا رنګه دداړو هیوادو ترمنځ د مواصلاتی کرښې د ایجا دولو تړون هم لاسلیك شو، چې دغه موافقه لیکونه کال په کال تمدید شوي هم دي.

په (۱۹۶۱م) کال کې سیاسي اړیکې(د وخت د صدراعظم محمد داود خان د لیدنې پر وخت چې د ناپیېلو هیوادونو په کنفرانس کې د ګډون لپاره یې یو ګوسلاویا ته سفر کړی و) د استوګنو سفیرانو کچې ته لوړې شوې.

د (۱۹۶۸م) کال د جنوري له (۷-۱۰) نیټې د وخت د یو ګوسلاویا جمهور رئیس مارشال تیتو افغانستان ته رسمی سفر وکړ. یو ګوسلاویا هم د ناپیېلو هیوادونو له مؤسسینو څخه ګڼل کیږي.

په(۱۹۷۳م)کال کې دیو ګوسلاویا د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال یا کتاپترویچ کابل ته راغی. په(۱۹۷۶م) کال کې دیو ګو سلاویا د وزیرانو د شورا مرستیال میلوش مینیچ کابل ته راغی.

په (۱۹۷۷م)کال کې د افغانی لوري د غوښتنې پربنسټ، د مارچ په میاشت کې دیوګوسلاویا د انکارا له تجارتی شرکت سره د(۲۳۸۱۶۶۰) ډالرو په ارزښت د کابل د مسلخ تړون لاسلیك شو. دغه تړون چې د(۱۵)کلن کریدت په(۲۴) شپږمیاشتینو مساوي قسطونو د یوې درې کلنې دورې په معافیت سره لاسلیك شو، د مسلخ فابریکه په(۱۹۸۴م) کال کې تکمیل او ګټې اخیستنې ته چمتو شوه.

د (۱۹۶۵م) کال په جون کې د افغانستان او یو ګوسلاویا ترمنځ د فنی مرستو موافقه لیك لاسلیك شو. ددې موافقه لیك

برېنسټ يو ګوسلاويا دې ته چمتو شوه چې دهريرودد پروژې يوه برخه تمويل کړي. ديوګو سلاويا لوري ددې پروژې د تمويل لپاره له افغانستان سره د(۸) ميليونو ډالرو د پور ژمنه وکړه، خو په آزادو اسعارو يې ددې پور دورکړې غوښتنه وکړه، چې د غه وړانديز د افغاني لوري له خوا ونه منل شو.

په (۱۹۷۷م) کال کې د يو ګو سلاويا يو جګ پوړی پلاوی افغانستان ته راغی چې د پلان له وزارت سره يې د اقتصادي، علمی او فنی همکاريو د پراختيا په منظور د يوه کميسيون د جوړېدو تړون لاسليک کړ. ددوه اړخيزو خبرو پر بنسټ ددې تړون له لاسليک کولو سره سم يو ګوسلاويا په افغانستان کې د لاندينيو پروژو د جوړولو چارې په غاړه واخيستې:

له اووه کلن پلان سره سم ددرمل جوړولو د فابريکې ودانول.

- د څړ ځای او مسلخ په ګډون د کند هار د مالدارۍ فنی او اقتصادی مطالعه.
- په کابل او ځينو ولايتونو کې د خښتو دفابريکو جوړول.
- دبريښنا د وړو دستګاوو جوړولو.
- له (۱۳۵۷ش) کال څخه وروسته اړيکې لا پسي نږدې شوي.

په (۱۹۷۸م) کال کې ددواړو هيوادونو ترمنځ د اقتصادی،علمی او فنی همکاريو ګډ کميسيون جوړ شو.

په ۱۹۷۹ ۱۹۸۱ کلونو کې يو ګو سلاويا له افغانستان سره(۲۰۰) زره ډالر بلا عوضه مرسته وکړه.

په (۱۹۷۹ م) کال کې د يو ګوسلاويا د بهرنيو چارو وزير کابل ته راغی چې په دې کتنه کې يې له افغانستان سره د اقتصادی ، علمی او فنی همکارۍ تړون لاسليک کړ.

په همدغه کال دیو ګوسلاویا له انرګو پرایکت کمپنۍ څخه یو پلاوی افغانستان ته راغی او د (۱۸۱۴۲۴۵) ډالرو په ارزښت یې له افغاني لوري سره د بلاعوضه مرستې په توګه د بادغیس، جوزجان او فارياب دولایتونو د اوبو او خاورې له منابعو څخه د ګټې اخیستنې د لارو چارو ، د مهندسي او مشورتي خدمتونو موافقه لیکونه لاسلیك کړل.

د(۱۹۹۱م) کال د دسامبر په (۲۷مه) نیټه یو ګوسلاویا پریکړه وکړه چې خپلې سیا سي نماینده ګۍ وتړي چې په دې کې افغانستان هم شامل شو. د افغانستان دولت هم د ځینو ملحو ظاتو له امله خپل سفارت وتاړه د وخت په یوګوسلاویا کې د افغانستان وروستی سفیر سرور منګل و.

هنګري (مجارستان)

د هیواد نوم: هنګري.

مرکز : بودا پست.

دوګړو شمېر: د (۲۰۰۰م) کال د شمېر نو پربنسټ(۱۰۱۳۸۸۴۴تنه)

جمهوررئیس: Ferenc Madl

د بهرنیو چارو وزیر: JansoMartan

دولتی نظام: جمهوري.

مساحت : ۹۳۰۳۰ مربع کیلو متره.

پولی واحد: فورینټ:

جغرافیایي موقعیت:

هنګري په جنوبي اروپا کې د کارپات د غرونو په لمنه کې له شمال څخه جنوب ته د بالکان په ټاپوکې پروت دی.

د شمال خواته يې سلواك، لويديځ پلوته يې اتريش او سلوانيا، جنوب ته يې كروشيا او يو ګوسلاويا او د ختيځ له لورې له رومانيا او اوكرايين سره ګډې پولې لري. د ډانيوب رود (۴۱۰) كيلومتره او د نيسا رود (۶۹۷) كيلو متره د مجارستان په خاوره كې بهيږي او د تودو او طبيعي اوبو له پلوه د نړۍ له بډايو هيوادو څخه ګڼل كيږي.

ملي جوړښت:

په سلو كې ۷۸،۹ مجاري يا هنګري، په سلو كې ۴ جټ يا ګيسي، په سلو كې ۳ ارمني، په سلوكې ۲،۴ صرب، په سلوكې ۲ سلواك او په سلوكې ۷،. رو ماني.

مذهبي جوړښت: په سلو كې ۵، ۶۷ كاتوليك او په سلوكې ۲۵ پروتستانت.

لنډ تاريخ:

د نهمې پيړۍ په وروستيو كې په مجارستان كې يوه ډله خلك ميشته شول چې په ديارلسمه پيړۍ كې يې شمير درې ميليونو ته ورسيده.

په (۱۵مه) پيړۍ كې له تاتا ريانو سره د جګړې په ترڅ كې له تلفاتو سره سره بياهم ددې ځاى داوسيدونكو شمير درې ميليونو ته رسيده. په لسمه پيړۍ كې اووه سوبمنې (فاتح) قبيلې سره يوځاى شوې او په اوسني مجا رستان كې يې د پرنس ارپاد - موس په مشرۍ د مجاريانو د لومړنۍ سلسلې بنسټ كيښود. په (۱۰۰۰) ميلادى كال كې مقدس استيفان د مجارستان لومړنى پاچاشو.

په(۱۲۴۱ - ۱۲۴۴) میلادي کلونو کې مجارستان د مغولو تر برید لاندې راغی. په (۱۳۴۲ - ۱۳۸۲) میلادی کلونو کې د لومړي لويي پروخت د مجارستان قدرت خپل اوج ته رسیدلی و.

په(۱۳۸۹م) کال کې له عثمانیانو سره له اوږدو جګړو وروسته د مجارستان یوه ستره برخه د ترکانو لاس ته ورغله او په یوه برخه یې اتریش لاسبری شو.

په (۱۶) میلادی پیړۍ کې مجارستان د سیمه ایز و ځدرتونو ترمنځ ویشل شوی و.

په(۱۷۰۳م) کال کې فیرنس راکو چي، د مجارستان د آزادۍ لپاره وسلې ته لاس واچاوه چې د فرانسې له خوا يې ملاتړ کیده.

په(۱۷۱۱م) کال کې د ژرمن د توکم لمنه د بالکان هیوادونو ته وغځیده او د اتریش- هنګري امپراتوري را منځ ته شوه.

په ۱۸۴۹م) کال کې کشوت، د یوې وینا په ترځ کې د مجارستان خپلواکي اعلام کړه او دلومړنې جمهور رئیس په توګه وټاکل شو. دې لړۍ د شلمې پیړۍ تر دوهمې لسیزې دوام درلود.

د(۱۹۱۸م) کال د نوامبر په شپاړسمه په مجارستان کې فاشیستانو واك تر لاسه کړ، کزولي د جمهوریت اعلام وکړ او دې سلسلې تر(۱۹۴۵م) کاله پورې دوام وکړ او ددیکتاتور فاشیست هورتی په نیولو سره په(۱۹۴۴م) کال کې د غه لړۍ پای ته ورسیدله.

په(۱۹۴۵م) کال کې مجارستان خپله آزادي تر لاسه کړه، ځکه چې په(۱۹۴۴م) کال کې سور پوځ مجارستان ته ننوتلی و. د مجارستان کیڼ اړخو ګوندونو د سره پوځ په مستقیمه مرسته په خپل هیواد کې سوسیالیستی جمهوریت اعلام کړ. د(۱۹۴۹ م) کال د اپریل په(۸مه) اساسی قانون تصویب شو او مجارستان

دسوسیالیستی ودی لار غوره کړه. د هلګری سو سیالیستی نظام(د خلکو جمهوریت) تر(۱۹۸۹م) پوری دوام درلود چې په نړۍ کې د کمونیزم له دړی وړې کیدو سره سم له منځه لاړ. هنګری د(۲۰۰۳م) کال د اپریل په(۱۶مه) د اتن په ښار کې له اروپا یي ټولنې سره د مجارستان د یوځای کیدو تړون لاسلیك کړ چې دغه تړون د(۲۰۰۴م) کال د می په لومړۍ نیټه نا فذشو او دغه هیواد د اروپا یی ټولنې غړی شو. په تیروخت کې له نورو هیوادو سره د مجارستان اړیکې ، د وارساد تړون د غړي په توګه زیاتره له سوسیالیستی هیوادو سره نږدې وې.

د هنګري(مجارستان) له جمهوریت سره د افغانستان اړیکې:

دلنډ مهالې اداري له رامنځ کیدو او د انتقالي اسلامي دولت له جوړیدو وروسته هنګری د توکیو د کنفرانس له ګډون ګوونکوڅخه و. دې هیواد په افغانستان کې د تروریزم په وړاندې د نړیوال ائتلاف د عملیاتو له پیله د افغانستان په بیا رغاونه کې مینه ښودلې او خپله ونډه یې اعلام کړې ده او په افغانستان کې دیوه باثباته او ځواکمن مرکزی حکومت ملاتړ کوي.

د هیواد ابعادو او امکاناتو ته په پاملرنه، هنګری هڅه کړې څو په افغانستان کې بشرې ناورین کمښت ومومي. د هنګري حکومت د (۱۰۰) میلیونو فورنټو په ارزښت چی له(۳۰۰) زرو ډالرو سره برابردی د(۲۰۰۱ کال له اکتوبر څخه را په دیخوا د افغانی پنا ه غوښتونکو لپاره د مرستې ټولنه جوړه کړې ده.

مجارستان تراوسه پورې د(۵۰) میلیون فورنټو په ارزښت(۳۰) زره انډیه خورا کي مواد د ازبکستان له لارې مزارشریف ته استولي دي. همدارنګه(۴۰) زره انډیه خوراکي مواد او(۲۶) ټنه حبوبات یې هم له افغاني لوري سره مرسته کړې ده. برسیره پردې

يې د (۱۰۰) میلیون فورنټو په ارزښت د افغانستان له ملي اردو سره په پوځي برخه کې مرستې کړې دي.

هنګری د یو میلیون ډالرو په ارزښت د غذایي موادو او درملو، چې د افغانستان د بیارغاونې د پروژو د پلي کولو سل میلیونه فورنټو مرسته هم په کې شامله ده_ ژمنه کړې ده.

تر ۱۳۷۱ کاله د افغانستان او مجارستان اړیکې د استوګنو سفیرانو په کچه وې او له همدې کاله څخه وروسته د نااستوګنو سفیرانو په کچه تامین شوې. په اسلام آباد کې د هنګري سفیر په افغانستان کی د نا استوګن سفیر اوپه و یا نا کې د ۱۰۱۰۱۰ د ۰ سفیر په هنګری (مجارستان) کې د نااستوګن سفیر په توګه دي.

رومانیا

د هیواد نوم: د رومانیا جمهوریت.
مرکز : بخارست
جمهور رئیس: Lan Alesko
صدراعظم: Drian Nastase
د بهرنیوچارو وزیر Mire cea Dan Geoana
دولتی نظام: جمهوري.
مساحت : ۲۳۷۵۰۰ زره مربع کیلو متره .
دوګړو شمیر: ۲۲۴۱۱۱۲۱ تنه .

جغرا فیا یی موقعیت:

د غه هیواد د اروپا په جنوب لویدیځ کې پروت دی. هغه هیوادونه چې له رومانیا سره ګډې پولې لري عبا رت دي له: اوکرایین، ملداویا، هنګري، یوګوسلاویا او بلغاریا څخه. توره بیحره له دې هیواد سره ۷۳۱۸۱ کیلو متره ګډه پوله لري. په دې هیواد کې(۳۵۰۰) واړه سیندونه شته چې له دې جملې څخه(

۲۳۰۰) یې طبیعی دي. رومانیا نیمه غرنی هیواد دی د کارپاتې اوالپ غرونه د هغه په مرکزی او شمالي سیمو کې پراته دي. په دې هیواد کې د ملدو،ا دوبروجا او پانونیک په نومونو درې هوارې سیمې شته دي. د رومانیا مهم ښارونه عبارت دي له: بخارست، براشو، پیمیشوارا، کلنستانزا او کلوژ. مهم بندرونه یې عبارت دي له: ګالاتس برایلا، تورون او ما ګورل.

لنډ تاریخ:

د شواهدوله مخې په دې هیواد کې دوه میلیونه کاله وړاندې انسان ژوند کاوه. له(۴۰۰۰) کالو د مخه آثار هم لاس ته راغلي دي. له میلاد څخه د مخه په (۴۴- ۸۲) کلونو کې دستر روحانی په مرسته د حتو او داچ ټول قبایل سره یو شول او دداچیا پاچاهي یې جوړه کړه چې مرکزیې ترانسیلوانیا و. دغه هیواد په لومړۍ میلادي پیړۍ کې د رومانیایا نولاس ته ورغی.

په (۱۹۱۸م) کال کې رومانیایان د متحدنیو له ترواك لاندې شول او دالمانیانو او رومانیانو ترمنځ د بخارست ژمنلیك (عهدنامه) لاسلیك شو. او د هماغه کال په نوامبر کې دغه تړون په جنګ کې د متحدینو له ماتې وروسته لغوه شو خو په(۱۹۱۹م) کال کې د سن ژرمن او په ۱۹۲۰ م کال کې د تریانون تړون د رومانیا متصرفات رسمی کړل. ددوونړیوالو جګړو په کلونو کې رومانیا تل د مجارستان او بلغاریا ترګواښ لاندې وه. ددوهمې نړیوالې جګړې په لومړي کال، رومانیا په جګړه کې خپله بیطرفي اعلام کړه په(۱۹۴۰م) کال کې له المان سره یوځای او په جګړه کې شامل شوه. په(۱۹۴۱م) کال کې هغه سیمې چې په ۱۹۴۰م) کال کې یې له لاسه وتلې وي، بیرته ونیولې او له المان سره یوځای یې پرشوروي یرغل وکړ.

د(۱۹۴۵م) کال په مارچ کې شاه میهایي دیوه کمونیستی دولت له جوړیدو سره موافقه وکړه. د (۱۹۴۹م) کال د نوامبر په تاکنو کې کمونیست ګوند واك تر لاسه کړ.

د(۱۹۸۹م) کال ددسامبر په(۲۱مه) نیکولای چائسسکو غوښتل څو د خلکو په یوه غونډه کې د اوښیي چې له ملاتړ څخه برخمن دی. ددې پرخلاف مخالفانو د هغه وینا ګډوډه کړه، مظاهرې پیل شوې او یو شمیر خلك د جمهور رئیس دوفادارو ځواکونو له خوا ووژل شول. هغه بیړنی حالت اعلام کړ او لیبرالو کمونیستان، روڼ اندو او د پوځ له غړو څخه لنډمهالی دولت جوړشو.

په(۱۹۹۰م) کې له آزادو ټاکنو وروسته، هیواد د رومانیا په نامه اعلام شو. د(۱۹۹۱م) کال د نوامبر په(۲۱مه) اساسي قانون تصویب شو چې د هغه پربنسټ له هر ډول تبعیض څخه پرته د توکم، ملیت، مذهب، جنسیت، افکارو، سیاسی وضعې او پانګې له مخې ټول اوسیدونکی د قانون په وړاندي یوشان دي.

اداري ویش:

رومانیا درې ناحیې لري: ترانسیلوانیا، و لاچیا او ملداوا.

سیاسي ګوندونه:

د رومانیا سوسیال د موکرات ګوند چې په(۱۹۹۲م) کال کې دیان السکو د ملاتړو له خوا د ملی نجات په جبهی کې له انشعاب څخه وروسته د سپټامبر په ۲۲مه جوړشو او په(۱۹۹۳م) کال کې یې د رومانیا سوسیال د موکرات ګوند، په نامه خپل نوم بدل کړ.

په ۱۹۹۳ کال کې د رومانیا د کنوانسیون اتحادیه جوړه شوه.

- د بزګرانو مسیحي ملی د موکراټیك ګوند
- د ملی‌نجات د جبهی د موکراتیك ګوند چی په(۱۹۹۲م) کال کې چائسسکو درژیم له نسکوریدووروسته د ملی نجات د

جبهې په نامه رامنځ ته شو او په (۱۹۹۳) کال کې يې په اوسنې نامه بدلون وموند.

له افغانستان سره د رومانيا سياسي اړيکي:

لـه رومانيـا سـره د افغانسـتان سياسـي اړيکـې تـر اوسـه د نـا استوګنو سـفيرانو پـه کچـه دي. پـه مسـکو کـې د افغانسـتان د انتقالي اسلامي دولت سفارت د نا استوګن سفارت په توګـه دنـده ترسـره کـوي. پـه اسـلام آبـاد کـې د رومانيـا سـفير ښـاغلى ( ) په افغانستان کې دنا استوګن سفير پـه توګـه د (۱۳۸۱ش) کـال د تلې پـه ۲۴ نيتـه خپـل باورليـك د افغانسـتان داسلامي انتقالي دولت رئيس جلالتماب ښاغلي حامد کرزي تـه وړاندې کړ. نو موړي په هغې کتنه کې چې د بهرنيـو چـارو وزارت له اداری مرستيال سره يې لرلـه_ په ډاګه کړه چې د رومانيا هيـواد په کابل کې د خپـل سفارت د پرانيستلو هيلـه مـن دی، غـواړي يـو آپارتمـان پـه کرايـه ونيسـو څو خپـل موقتي د فتـر پرانيـزو او پـه راتلونکي کې د سفارت دودانولو لپاره ځمکـه اخلو چې د بهرنيـو چـارو وزارت لـه خوا د ځمکې په اړه د هغـه د غـو ښتـنې پـه بـاب سفارت ته ډاډ ورکړل شو.

همدارنګه د رومانيا جمهوريت په مختلفو برخو په ځانګړې توګـه پـه فرهنګـی ډګـر کـې لـه(۱۳۵۱ - ۱۳۶۲) کلونـو پـوری د افغانستان له دولت سره همکاری کوله.

اوس د رومانيـا هيـواد لـه افغانسـتان سره د سياسي اړيکـو د ټينګښـت پـه منظـور د (۲۰۰۲) او(۲۰۰۳) تحصـيلی کلونـو لپاره(۶) بورسونه د ۱۰۱۰۱۰ د. په واك کې ورکړي دي.

بلغاريا(بلغارستان)

د هيواد نوم: د بلغاريا جمهوريت .

مرکز : سوفيا.

جمهور رئيس : ګيور ګي پروانف Georgi parvanov

صدراعظم: ايوان کوستوف Iv^n kostov

د بهرنيو چار وزير: سلمان پاسي Solomon passy

دولتی نظام: جمهوري

دوګړو شمير: د(۲۰۰۰م) کال د شمېرنو پر بنسټ(۷۶۹۴۷۹۶) تنه.

مساحت: ۱۱۰۹۱۰ مربع کيلو متره

جغرافيايي موقعيت:

د غه هيواد په جنوبي اروپا کې د تورې بحيرې په لويديځه غاړه د بالکان د ټاپووزمې په شمال کې پروت دی. د ډانيوب سيند

ددې هیواد او رومانیا ترمنځ ګډه پوله جوړوي. او دبوسفور او دانیل د آبنا له لارې له مدیترانې او نړۍ سره اړیکې ټینګوي. لویدیځ ته یې یوګو سلاویا او مقدونیا، جنوب ته یې یونان او ترکیه، ختیځ ته یې توره بحیره او شمال ته یې رومانیا پرته ده. دایو ښکلی هیواد دی، چې د خپلو طبیعي مناظرو له امله په نړۍ کې او ځار دی. غرونه یې په ځنګلونو پټ، شنې او له ګلونو ډکې ورشوګانې لري. ددې هیواد اقلیم مرطوب دی خو جنوبي، ختیځې او شمالي سیمې یې سمندري اقلیم لري.

په سلو کې یې ۳،۸۵ او سیدونکې بلغاري، په سلو کې ۵،۸ترکي، په سلوکې ۵،۲ مقدوني، په سلوکې ۵،۲ جټ د کولي) چې د ګیسی په نامه یې یادوی، په سلوکې۲،۶ ارمني، په سلوکې ۲، ۰ روسان او پاتې لږه کې (اقلیتونه) یې یوناني، روماني، تاتار او یهود دي.

۸۵- په سلو کې بلغاریایان د ارتو دوکس مذهب پیروان دي،۱۳په سلو کې مسلمانان ۸،. په سلو کې یهود او ۵-،. په سلو کې رومن کاتولیك دي.

لنډ تاریخ:

په (۶۸۱م) کال کې د بلغاریایانو او جنوبي سلاویا د یووالی په پایله کې د بلغاریا ددولت بنسټ کیښودل شو . سلاویان په شپږمه او ترکي بلغاریا یان په اوومه پیړۍ کې په دې سیمه کې مېشته شوي وو.

د بلغاریا دولت په نهمه- لسمه میلادي پیړۍ کې له سیاسي- نظامي او فرهنګي پلوه ډېرې بریاوې تر لاسه کړې د خان کریما دواکمنۍ پرمهال د(۸۰۳- ۸۱۴ کلونو ترمنځ بلغاریا یا نو کولی

شول چې اوارسان شهزاده بوریس او بیزانسیا په جنوب کې مات او خپل قلمرو لاپسې بنه کړي. د مسیحانو نفوذ دسلاویانو او بلغاریایانو مذهبي شخړې پای ته ورسولې او د بلغاریا د فیوډالي نظام لپاره یې یوه ایډیا لوژیکي نقشه جوړه کړه.

په (۸۵۵م) کال کې د سیریل او میتهودیوس Syril, Methodius ورونو له خوا نوې سلاوي الفبې جوړه او د پرنس بوریس له خوا په خوښۍ سره ومنل شوه.

بلغاریا د تزارسیمون د پاد شاهۍ په وخت کې(۸۹۳- ۹۲۷م) ډیر پرمختګ وکړ او د مرکزي دولت واکمني له بایارانو(Boyars) سره د اتحاد له امله لازیات ټینګښت وموند.

په (۹۱۷م) کال کې تزارسیمون بیزانسیان ته ماتې ورکړه او د هغو دخاورې یوه بله برخه یې هم ونیوله. په ۹۷۲ میلادی کال کې بیزانس یو ځل بیا د بلغاریا یانو په ختیځو سیمو لاسبري شول. خود بلغاریا لویدیځې سیمې ته(۱۰۱۸م) کال پورې د تزار سامونیل Tazarsamunil په لارښوونه له خپلې خپلواکۍ څخه د فاع وکړه مګر د بیزانس تسلط پراختیا وموندله، چې بالاخره بلغاریایانو یو ځل بیا په(۱۰۴۰- ۱۰۴۱) کلونو کې د خپلې خپلواکۍ د ترلاسته کولو لپاره یوځه تحرکات په کار واچول خوله ماتې سره مخامخ شول.

په(۱۱۷۸م) کال کې د بیزانس دلاسبري په وړاندې د بلغاریایانو د پاڅون له امله چې ددووورونو پیتر او اسن له خوا یې لارښوونه کیده، د ختیځ روم امپراتوري ناچاره شوه چې د بلغاریایانو شته والی په رسمیت وپیژني. داد بلغاریایانو دوهمه سلطنتي کورنۍ وه. ددووورونو پیتر او اسن دله منځه تلو څخه وروسته د هغوی دریم او کوچنی ورور کالویان(Kaloyan) په(۱۱۹۳) کال کې پا چا شو او

تر۱۲۰۴ کاله له پاپ سره متحد شو، دې اتحاد په بلغاریا کې د کاتولیزم د نفوذ لپاره ښه زمینه برابره کړه. په څوارلسمې میلادي پېړۍ کې د بلغاریایانو، صربانو او بیزانسیانو ترمنځ نښتو د بلغاریا ددولت د کمزورتیا او له منځه تلو زمینه برابره کړه چې له هغې امله بلغاریا د ایوان الکساندر Ivan Alexander د سلطنت پر مهال په(۱۳۳۱_۱۳۷۱م) کلونو کې په دري کوچنیو دولتونو(د ترنوو TurNova شاهي دولت، د وایدین (Vidin) سلطنتی دولت او دوبرو جا Dobrouja شهزاده میشتو) وویشل شو. د څوارلسمې پېړۍ په نیمایي کې عثمانیانو د یوه لوی ځواك په څیر ظهور وکړ او په بالکان کې یې د نړۍ په لاندې کولو پیل وکړ، ددې پرمختګ په ترځ کې یې د بلغاریا ځمکې هم تر لاسه کړې او په(۱۳۹۶) کال کې یې ددولت موجودیت ته د پای ټکی کېښود او په نتیجه کې د بلغاریا خاورې د عثماني امپراتورۍ د یوه ولایت حیثیت غوره کړ. پر بلغاریا باندې د عثمانیانو تسلط(۵۰۰) کاله دوام وکړ. د بلغاریا خلکو په بلغاریا باندې د ترکانو دواکمنۍ پر مهال په وارو وارو د خپلې خپلواکۍ د ترلاسه کول لپاره هلې ځلې وکړې مګرد غه هلې ځلې او خوځښت، په ډېر زور د عثماني امپراتورۍ له خوا وټکول شول.

په(۱۸۸۵ م) کال کې د بلغاریا شمال او جنوب سره یو شول. په(۱۸۸۶م) کال کې بلغاریا یوځل بیا د عثمانیانو د تسلط د له منځه وړلو لپاره پاڅون وکړ، بالاخره په(۱۹۰۸) کال د یوه خپلواك سلطنتي دولت په توګه وپیژندل شوه.

بلغاریا په(۱۹۱۲م) کال کې د یونان، صربستان او مونتینګرو سره په اتحاد او یو والي د بالکان اتحادیه جوړه کړه، په (۱۹۱۳م) کې یې د بالکان په جګړه کې د خپل هیواد یوه برخه له

لاسه ورکړه . په نړیواله جګړه کې د یوې پوځي کودتا له لارې په بلغاریا کې یو فاشیستی دولت منځ ته راغی.

په دوهمه نړیواله جګړه کې د نازي المان ځواکونه بلغاریا ته ننوتل. ځکه چې بلغاریا له جنګ نه د

مخه د محوري ځواکونو په درې اړخیز تړون کې شامل شوې وه. آلمانیانو د بلغاریا له خاورې څخه د یونان او یوګوسلاویا په وړاندې یرغلونه پیل کړل.

د ۱۹۴۱م) کال په پای کې بلغاریا د المان په پلوۍ د بریتانیا او د امریکا د متحده ایالاتو په وړاندې د جنګ اعلام وکړ. د المانیانو له خوا د بلغاریا د نیولو پر مهال د بلغاریا هیواد پالو او نورو ملي ځواکونو د المانیانو په وړاندې پارتیزاني پاڅون پیل کړ.

په (۱۹۴۲م) کال کې جورجی دیمتروفGeorgiDimit rorv د مترقی، د موکراتیکو او نورو ملي ځواکونو په مرسته یوه متحده جبهه جوړه کړه او د نازي المان د اشغال او تیري په وړاندې یې ددې غورځنګ مشر توب په غاړه واخیست.

د(۱۹۴۴م) کال په د سامبر کې شوروي د بلغاریا د فاشیستی دولت په وړاندې د جنګ اعلام وکړ. د شوروی ځواکونه د المانیانو له تسلط څخه د بلغاریا د خلاصون په خاطر هغه هیوادته ننوتل، په دې وخت کې کمونیست ګوند د بلغاریا هیوادنۍ ملي جبهې او ملي د موکراتیکو ځواکونو سره یو ځای د شوروي په مرسته د(۱۹۴۴م) کال د سپتا مبر په نهمه نیټه واك تر لاسه کړ او په (۱۹۴۶م) کال کې د بلغاریا هیواد د پاریس تړون لاسلیك کړ.

له بلغاریا سره د افغانستان سیاسی او د ډیپلوماتیکې اړیکې:

په (۱۹۶۰م) کال کې د بلغاریا یو سوداګریز هیات کابل ته راغی چې په سوداګرۍ پورې د اړوندو موضوعګانو تر څنګ یې ددواړو هیوادو ترمنځ د سیاسي اړیکو د پراختیا غوښتنه هم وکړه، چې دوخت د شاهي دولت له خوا ددوي ددې غوښتنې تود هرکلی وشو. په دې غوښتنه کې د بلغاریاد نا استوګن سفیر داګریمان وړاندیز هم وشو. همدارنګه افغانستان داقتصادي ستونزو له امله د خپل نا استوګن سفیر ټاکنه (د مسکو، ډهلي او یا بلګراد) په یوه سیاسي نماینده ګۍ کې پیشنهاد کړه. دبلغاریا هیواد د (۱۹۶۱م) کال د اپریل په میاشت کې، په خپلې پخوانۍ پریکړه کې د بدلون پر بنسټ د خپل سودا ګریز پلاوي په استولو سره په کابل دخپل لومړني سفارت د پرانیستلو غوښتنه وکړه، چې د افغانستان دولت ورسره موافقه وکړه. د بلغاریا د هیواداستازي خپل باور لیك د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ته چې ښاغلی علی محمد خان یې سر پرستي کوله او په عین حال کې د صدارت مرستیال هم و- وړاندې کړ.

دسیاسی اړیکو د ټینګښت او همدا رنګه د دواړو هیوادونو د استازو د ټاکلو په خاطر یو موافقه لیك لاسلیك شو.

د (۱۹۶۱م) کال دجون په (۲۱م) نیټه د افغانسنان دشاهي دولت او د بلغاریا دجمهوریت ترمنځ یو ګډ موافقه لیك شو، چې د دواړو هیوادونو تر منځ د سیاسیی اړیکو پیلامه ګڼل کیږي.

د سپتمامبر په (۱۱مه) نیټه په مسکو کې د بلغاریا د هیواد استوګن سفیر ته لاربښوونه وشوه، څو دسفیر په توګه د لاززشکوف د ټاکنې پر بنسټ د افغانسان له دولت څخه د هغه د اګریمان غوښتنه وکړي. ښاغلی توشکوف د (۱۹۶۱م) کال دجنوري په

(۲۳) نیټه کابل ته راورسید او د همدې کال د فبروري په (۱۸مه) يې خپل باورليك د افغانستان پاچا ته وړاندې کړ، بناءً ښاغلی لارزشکوف په کابل کې د بلغاریا د خلکو په جمهوریت لومړنی سفیر او فوق العاده استازی ګڼل کیږي.

د (۱۹۶۲م) کال دجون په میاشت کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت، په کابل کې د بلغاریا د سفارت له لارې د اوستوګن سفیر په توګه په بلګراد کې د افغانستان د سفیر ښاغلي محمد عارف د اګریمان غوښتنه وکړه. محمد عارف خان د همدې کال د نوامبر په دوهمه نیټه، د نااستوګن سفیر په توګه خپل باورلیك د مرکزي کمیټې عمومي منشي او د بلغاریا جمهور رئیس ښاغلی تو دورژیفکف ته وړاندې کړ. په (۱۹۷۴م) کال کې افغانستان په سوفیا کې خپل سفارت پرانیست، ښاغلی پاچا ګل وفادار په سوفیا کې د افغانسان د سفیر په توګه کار پیل کړ.

له (۱۹۶۱-۱۹۹۲)کاله پورې په افغانستان کې د بلغاریا د جمهوریت سفیران:

۶. ښاغلی لارز شکوف، د باور لیك دوړاندې کولو نېټه د۱۹۶۲م د فبروری ۱۸مه(په کابل کې استوګن سفیر)
۷. ښاغلی ولکو ګرچیف، د باور لیك دوړاندې کولو نیټه: د(۱۹۶۵م) کال د دسامبر پنځمه.
۸. ښاغلی ایوان کراساکوف، د باور لیك دوړاندې کولو نیټه: د (۱۹۷۱) کال د مارچ (۲۸مه)

۹. ښاغلی ستیان را دو سلاووف، دباور لیک دوراندې کولو نیټه: د(۱۹۷۵م) کال د سپتامبر ۲۱مه نیټه.

۱۰. ښاغلی ملادین ملا دینف، دباورلیک د وراندې کولو نیټه: د(۱۹۸۰ م) کال د اکتوبر ۷ مه.

۱۱. ښاغلی پترو لکانف، د باورلیک دوارندې کولو نیټه: د (۱۹۸۲م) کال د اکتوبر ۲۶مه.

۱۲. ښاغلی ایوان متیف، د باورلیك دوراندې کولو نیټه:(۱۹۸۸م)

۱۳. ښاغلی ګاتسنسکی، د بلغاریا وروستی سفیر و، چی په(۱۹۹۲) کال کې د بیلا بیلو ډلو ترمنځ د جګړو له امله تپی او سفارت یې تر(۲۰۰۱م) کاله پورې وتړل شو.

دبلغاریا په جمهوریت کې د افغانستان ددولت سفیران:

۶. ښاغلی محمد عارف، دباورلیك دوراندې کولو نیټه: د(۱۹۶۲م) کال د نوامبر دوهمه، بلګراد (په بلغاریا کې نا استوګن سفیر).

۷. ښاغلی عبدالحکیم طبیبی، دباورلیك دوراندې کولو نیټه: د (۱۹۶۵م) کال د اکتوبر ۱۳مه، بلګراد (په بلغاریا کې نااستوګن سفیر)

۸. ښاغلی عبدالقیوم رسول، د باورلیك دوراندې کولو نیټه: د(۱۹۶۸م) کال داګست ۱۵مه، بلګراد(په بلغاریا کې استوګن سفیر)

۹. ښاغلی عطا الله ناصرضیاء د باورلیك دورانديږ کولو نیته: د(۱۹۷۰م) کال د سپتامبر ۱۲مه، بلګراد(په بلغاریا کې استوګن سفیر)

۱۰. ښاغلی صدیق فرهنګ، د باورلیك دورانديږ کولو نیته: د ۱۹۷۲م) کال د اکتوبر ۷مه بلګراد(په بلغاریا کې استوګن سفیر)

۱۱. ښاغلی پاچا ګل وفادار، دباورلیك دورانديږ کولو نیته: د(۱۹۷۴م) کال د اپریل ۲۲مه په سو فیا کې استوګن سفیر.

۱۲. ښا غلی محمد سالم مسعودي، دباورلیك دورانديږ کولو نیته: د(۱۹۷۸م) کال د اکتوبر پنځمه (استوګن سفیر)

۱۳. ښاغلی امتیاز حسن، د(۱۹۸۱م) کال دمارچ ۵ مه(استوګن سفیر)

۱۴. ښاغلی محمد صدیق رهپو، د(۱۹۸۳م) کال د مارچ ۵ مه(استوګن سفیر)

۱۵. ښاغلی محراب الدین پکتیا وال، د(۱۹۸۳م) کال د نوامبر ۲۰ مه (استوګن سفیر)

۱۶. .ښاغلی عبدالصمد ځاځی.

۱۷. ښاغلی احسان الحق ګران، شاژردافیر.

۱۸. ښاغلی فاضل سیفی، د(۲۰۰۳م) کال د می له ۲۰مې نیټې څخه تر اوسه په بلغاریا کې د ۱۰۱۰۱۰سفیر(په بلګراد کې نا استوګن سفیر)

هغه پروژې چې د بلغاریا په مرسته جوړې شوې دي:

۱. د کند هار د مېوې د سمون (پروسس) فابریکه، چې تړون يې په ۱۹۸۱م) او ۱۳۶۰ لمریز کال کې لاسليك شوی و.

۲- په کابل کې دتخنیکی‌الکولو د فابریکې ودانول، ۱۳۶۳-۱۳۶۷ لمریز او ۱۹۸۶- ۱۹۸۸ م کلونه.

۳_ د ده سبز دخښتو د فابریکې جوړول، ۱۳۵۸ - ۱۳۶۶ لمریز او ۱۹۷۹ - ۱۹۸۷م کلونه.

۴ د بریښنا دانرژۍ په برخه کې مرسته.

۵- د بادام باغ او د بګرامیو د چرګانو د روزنې د فارمونو، دریشخورو د پیورو غواګانو او د بغلان د غوښو د غویانو، د قرغې او د بغلان د چشمهٔ شیر د کبانو د پروژو ودانول.

۶ د بلغاریایی چودر سرویس موټرونو په برخه کې مرسته.

د قبرس جمهوریت

دقبرس ټاپو(جزیره) په اروپا کې د مدیترانې په ختیځ کې پرته ده، مساحت یې ۹۲۵۱ مربع کیلو متره او دو ګړو شمیر یې د(۲۰۰۲م) کال د شمیرنو پر بنسټ(۷۶۲۸۸۷) تنو ته رسیږي چې له دې جملې څخه په سلو کې په قوم یونانیان او په سلوکې ۱۸ په قوم ترکان او پاتې یې ارمنی، مارونی‌او نوردی.

پلازمینه یې د نیکو سیا ښار او ژبې یې: یوناني، ترکي او انګلیسی دي. د اکتوبر لومړۍ ورځ د هیواد ملي ورځ ده. ددې هیواد دین یونانی ارتودو کس یا پراوسلاوا او اسلام دی.

د قبرس ټا پوله ۱۵۷۱ - ۱۸۷۸م پورې د عثماني ترکیې په واك کې او له(۱۸۷۸ - ۱۹۶۰م) پورې د بریتانیې په لاس کې وه. انګلستان په(۱۹۰۹ م) کا کې د ترکیې او یونان د هیوادونو په موافقه د زوریخ - لندن د موافقه لیك شرایط د قبرس په اساسی

قانون کې درج کړل چې د هغه پربنسټ د قبرس ترکان په عین حال کې د ترکیې اوسیدونکي هم وګڼل شي.

انګلستان د قبرس ۹۹ مربعه میله ځمکه د خپلې پوځي اډې لپاره وساتله چې له هغې نه دپوځي اډې په توګه کاروأخلي. د۱۹۵۹م کال د زوریخ لندن د موافقه لیك د شرایطو پربنسټ، انګلستان، یونان او ترکیې ځانونه دقبرس د آزادۍ تضمین کوونکي اعلام او قبرس یې نا چاره کړ څود یونان او ترکیې د متحد په توګه پاتې شي. دغه پریکړه وروسته قبرس ته ددواړو هیوادونو د پوځي ځواکونو د ننوتلو سبب شوه. قبرس د (۱۹۶۰) کال د اګست په(۱۶مه) له انګلستان څخه خپله آزادي ترلاسه کړه.

د(۱۹۶۰) کال د اساسي قانون پربنسټ قبرس جمهوري دولت دی چې جمهور رئیس یې یوناني او مرستیال یې باید ترك وي چې دپنځوکلونو لپاره ټاکل کیږي. مقننه قوه یې د(۵۰) کسیزه پارلمان له خوا چې له (۳۵) یوناني استازو او(۱۵) ترکي استازو څخه دډواړو ټولنو دوګړو د شمیر د ترکې او یونانۍ په اندول، د پنځوکلونو لپاره ټاکل کیږي - پرمخ بیول کیږي.

د یادولو وړده چې په(۱۹۸۵) کال کې د پارلمان د غړو شمیرله(۵۰) استازو څخه(۸۰) استازو ته لوړشو چې له دې جملې څخه(۵۶) تنه د یوناني ټولنې استازي او(۲۴) تنه ترکي ټولنې ته ځانګړي شوي دي.

د(۱۹۶۰) کال له سپتامبر څخه قبرس د ملګرو ملتونو د سازمان غړی شو. قبرس د نا پیيلتوب د غور ځنګ غړی دی.

د (۱۹۶۳) کال د نوامبر په ۳۰ مه نیټه د قبرس لومړنی جمهور رئیس ماکاریوس په اساسي قانون کې د بدلون غوښتنه وکړه ترڅو د هیواد پراختیا چټکه کاندي خو تر کې ژبو استازو په

دولتي ارګانونو کې له ګډون څخه ډډه وکړه. په ۱۹۶۴/۳/۴ نیټه د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د پریکړې پربنسټ سوله ساتي ځواکونه قبرس ته ورننو تل چې تر اوسه هم هلته دي.

په ۱۵ / ۷/ ۱۹۷۴ نیټه پوځې کودتا - چې د ناټو د هیوادونو او د امریکا د متحده ایالاتو نو له خوایي ملاتړ کیده ـ وشوه او حکومت نسکورشو. ترکیې د ۱۹۷۴کال د جولای په شلمه د نظم د بیرته را منځ ته کیدو په منظور خپل ځواکونه قبرس ته واستول او د همدغه کال په اګست کې یې د قبرس شمال چې په سلو کې ۴، ۳۶ پراخه ټاپوګان په برکې نیسي ، د هغې تاریخي ادعا پربنسټ چې پر دي ټاپو یې درلوده- ونیو، ددې کار په نتیجه کې په قبرس کې د یونانی توکمه مهاجرینو مساله را منځ ته شوه او د(۲۰۰) زروتنو په شاوخواکې د هیواد له شمال نه جنوب ته وتښتیدل. ددې کار په وړاندې د امریکا کانګرس ترکیه پوځي مرستو په درولو تهدید کړه چې په مقابل کې ترکیې له پوځي اډو څخه د امریکا استفاده کول تعلیق کړل تر هغو چې د ۱۹۷۶ کال په مارچ کې ترکیې له امریکا سره له پوځي اډو څخه د ګټې اخیستنې نوی تړون لاسلیك کړ. په ۱۹۷۸م کال کې له ترکیې سره د امریکا مرستې له سره پیل شوې.

د ۱۹۷۴م کال په دسامبر کې سرا سقف مکاریوس بیا د جمهوري ریاست په کرسۍ کښیناست او ملي شورایي جوړه کړه. مکاریوس د همدې کال په اګست کې مړشو او ددموکراټ ګوند مشر کیپریانوس جمهور رئیس شو. اوس دوزیرانو شورا او مجلس له یونانیانو څخه تشکیل شوی دی او له ۱۹۷۵/۱۱/۱۳ نه د قبرس د شمال ترکي ژبې ټولنې د قبرس د شمال یو اړخیز فدراتیف دولت او له ۱۹۸۳/۱۱/۱۵ نیټې څخه یې د قبرس د

شمال د ترکانو خپلواك دولت اعلام کړ او وروؤف دنکتاش يې د جمهوريت رئيس په توګه وټاکه د ملګرو ملتونو د سازمان د امنيت شورا د غه يو اړخيز عمل غير قانوني وګاڼه او له بين المللی ټولنې څخه يې و غوښتل چې د قبرس له يوه (واحد) دولت څخه پرته کوم بل قبرسي دولت په رسميت ونه پيژني. د امنيت شورا له دواړو خواوو څخه و غوښتل چې خپل ځواکونه له ټاپو څخه و باسی او د ترکي او يونانی ټولنې ترمنځ اړوند مسايل دې د خبرو اترو له لارې حل و فصل کړي.

قيرس يومخ پرودې کرنيز هيواد دی، خوراکي صنايعو او دکانو را ايستلو په کې زياته وده کړې ده. په سلو کې (۳۲) وګړي يې په کرهڼه او ۳۰ په سلو کې په صنايعو، انرژي او ودانولو(ساختماني) چارو او پاتې په غير توليدی ډګرونو کې بوخت دي. کرنيز محصولات يې عبارت دی له: ستروشو، کچالو او انګورو څخه له توريزم (ګرځندوی) څخه د يادونې وړ عايدات ترلاسه کوې د ساري په توګه په ۱۹۸۶ کال کې په ټوليزه توګه (۸۹۸) تنو سيلانيانو دغه هيواد کتلی دی.

واردات:

لګښتي يا مصرفی مالونه، ماشين آلات او تجهيزات.

صادرات:

الکول ، و اين، داغوستلو شيان، بوټان، تنباکو، ستروس او منرالونه. عمده پيرودونکی يې د اروپايی ټولنې او ختيځې اروپا هيوادونه دي.

دیادولو وړده چې د شما لي برخې(ترك میشتو) د ژوند کچه د جنوب په نسبت ټیټه ده.

په دې ورځو کې د قبرس موضوع یو ځل بیا په ډله ایز ورسنیو کې د نړیوالو پام ځانته اړولی دی. په اروپا یي ټولنه کې دقبرس دشمول مساله د بحث موضوع ده چې په دې برخه کې د ملګرو ملتو عمومي منشي کوفي عنان ترکیې او یو نان ته دیوې طرحې وړاندیز کړی دی. ددې وړاندیز پربنسټ داسې یو فدرالي دولت چې په هغه کې په شمال او جنوب کې خپله کورنۍ خپلواکي وساتي تلی شي او ددولت دریاست مقام به دورانی بڼه ولري- را منځ ته شي.

تراوسه پورې دواړه خواوې(ترکیه، یونان،شمالي او جنوبي قبرس) دخبرو اترو کوم وروستي پړاو ته نه دي رسیدلي، خوتر(۲۰۰۴م) کاله چې په اروپا یی ټولنه کې بهٔ د(ترکیې او قبرس شمولیت وڅیړل شي، ښایي په تفاهم بریالي شي. د یادولو وړده چې یونان د ترکیې په وړاندې د قبرس له مسالې څخه په اروپایی ټولنه کې ددې هیواد د غوښتنی د څیړنې پرمهال- دیوه سند په توګه کار اخلي او له هغه سره مخالفت کوي.

د قبرس د مسالې په وړاندې دا فغانستان دریځ:

تر(۱۹۶۴م) کاله پورې افغانستان د قبرس په اړه کوم ځانګړی او خاص نظر نه درلود. اروابناد لودین او اروابناد پژواك د ملګرو ملتون په سازمان کې د یونان او ترکیې ترمنځ د قبرس د مسالې فیصله د هغې ټاپو د اکثریت یونانی ژبو په اتکا په پام کې نیولې وه، چې د افغانی پلاوی د څرګندونو په نیتجه کې د ترکیې مقاماتو د افغانستان دولت د قبرس په مساله کې له خپلوملاتړ و

څخه نه ګانه خوله(۱۹۶۴م) کاله وروسته افغانستان خپل کړه وړه بدل کړه او نوی دریځ یې غوره کړ. پردې بنسټ چې د قبرس ترکي ژبې ټولنه اسلامي فرهنګی- ټولنیزې ځانګړتیا وې لرې، له دې امله باید په خپل ذات کې د برخلیك د ټاکنې حق ولرې، هیڅکله هم باید اکثریت یونانی ژبي د ترکی ژبو اقلیت له خپلو حقوقو څخه بې برخې نه کړي.

په هغې ګډې اعلامیه کې چې د(۱۳۴۷ هـ. ش) کال د غویی د میاشتی په یوولسمه او د(۱۹۶۸ م) کال د مې په لومړۍ نیټه د جودت سونای دلیدنې په پای کې په کابل او انقره کې خپره شوه، د قبرس د مسالې په اړه داسې راغلي دي: "ددولت دواړه رئیسان د قبرس او د هغه د چټك او فوری حل ـ چې د هغه په موجب د جزیرې د ترکي ژبې ټولنې حقوق او منافع، په کومه بڼه چې وکولی شی په پشپړې سولې او امنیت کې ژوند وکړي غوښتونکي شول ـ".

د ۱۳۵۸ کال د لیندۍ په شلمه چې د(۱۹۷۹م) کال ددسامبر له یوولسمې سره سمون خوری، په نا استوګنه توګه د افغانستان او قبرس ترمنځ د سیاسی اړیکو د ټینګښت بنسټ ددواړو هیوادونو د ګډې اعلامیې پر اساس کیښودل شو او د غه اړیکې په(۱۳۶۶ش) کال کې رسماً ددواړو هیوادونو ترمنځ د نااستوګن سفارت په سویه ټینګې شوې. د(۱۹۸۸م) کال د جون په(۲۹مه) نیټه په مسکو کې افغانی سفیر محمد الله صافی د لومړنی نا استوګن سفیر په توګه د قبرس جمهور رئیس جورج و اسیلو ته خپل باورلیك وړاندې کړ. وروسته په دمشق کې افغانی سفیر په هغه هیواد پورې اړوندې چارې ترسره کولې. په(۱۳۸۲هـ ش) کال کې په روم کې افغانی لوی سفیر ښاغلی مصطفی ظاهر په

نیکوسیا کې د نا استوګن افغاني سفیر په توګه وټاکل شو او تراوسه پورې ددې سفارت د سیاسي چارو متصدي دی. په (۱۳۶۸ش) کال کې د بهرنیو چارو د وزیر مرستیال سرور یورش د قبرس ټاپوته رسمي سفر درلود. د افغانستان دولت په داسې حال کې چې د قبرس د شمال له مسلمانانو سره بشپړه وروری او خواخوږی لري، د امنیت شورا او د ملګرو ملتود سازمان د عمومي اسامبلې د پریکړو د عملي کولو پربنسټ دموضوع د عادلانه حل او ددې هیواد په چارو کې د نورو هیوادونو د نه لاسوهنې غوښتونکی دی.

استرالیا

استرالیا د کامنو لټ د خپلواکو هیوادونو له غړو څخه ده،چې په جنوبی نیمه کره کې پرته ده. د استرالیا وچه په هغو ساحلي وړو ټاپوګانو سره چې د هغه هیواد په جنوب کې پراته دی، له نورو وچو څخه د سمندرونو د اوبو په واسطه بیلیږي.

ددې هیواد تر اداري لاندې بهرنۍ سیمې عبارت دي له: پاپوا ،نورفوګ، شمور،کارتیر، هردو، مکدونالد، کاکوس، کرسمس ټاپوګانو او د استرلیایی انترکتیکا سیمه، ګینه نوو نورو څخه چې د غه سیمې د ملګرو ملتونو تر قیمومیت لاندې دي.

داسترالیا مساحت(۲۹۶۷۸۹۳) مربع میله دی اود وګړو شمیر یې(۱۹۳۵۷۵۹۴) تنو ته رسیږي لوی ښارونه یې عبارت دي له : سدني، ملبورن، برسان او ادیلاید څخه داسترالیا مروجې

پیسې _ استرالیایی ډالر او رسمی ژبه یې انګلیسی ده.د استرالیا اصلی مذهبونه: پروتستانت ،رومن کاتولیك او یهودي دي.

استرالیا د شمال له خوا د تیمور او ارفورا په سیندونو، د شمال ختیځ له لوري د کوراك په سیند، د ختیځ له خوا په آرام سمندر او د تسمان سیند او د جنوب او جنوب لویدیځ لـه خـوا د هند پـه سمندر پورې نښلي.

داسترالیا کـامنو لـټ د شـپږو ایـالتونو او دوه قلمرونـو لـه فدراسیون څخه متشکل دی چې پارلماني حکومت یې دبریتانیا له نظام سره شریك دی خو ددې هیواد د فدرالی سیستم اجرایی قدرت دمرکزي او سیمه ایز حکومت ترمنځ د امریکا د متحده ایالاتو په څېر ویشی.

ددې هیواد رسمی نوم د استرالیا کامنو لټ دی او مرکزیې د کانبیرا ښاردی. د استرالیا د حکومت طرز د لویې بریتا نیا او استرالیا شاهي نظام دی چې ددوهمی ملکی الیزابت لـه خوا اداره کیږي. اواجرایي قوه چې د هیواد د چا رو لویه برخه پرمخ بیایی او د ګورنر جنرال ښاغلي لـه خوا چې لـه(۲۰۰۱م) کال څخه را په دیخوا دا دنده پرمخ بیایی تمثیلیږی، همدا رنګه هم د استرالیا د صدراعظم پـه تو ګه دنده ترسره کوي.

د افغانستان او استرالیا ترمنځ دوه اړخیزې اړیکې:

د ستـرالیا هیـواد د۱۰۱۰۱. د د رامـنځ تـه کیـدو پرمهـال ددوستانه اړیکو په پراختیا بریالی شو، چې د افغانستان له خواهم متقابـل ګامونـه اوچـت شـوي دي. پـه هغـه هیـواد کـې افغـانی قونسلګري سفارت ته لوړه شوه چې د(۲۰۰۲م) کال د اګسټ په

نولسمه نيټه په رسمي توګه پرانيستل شو او فعاليت يې پيل کړ، په استراليا کې د افغانستان لومړنی سفير ښاغلی محمود صيقل دی.

د(۲۰۰۲م) کال په فبروری کې په نيويارک کې د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت درئيس ښاغلی حامد کرزي او د استراليا د صدراعظم ښاغلی جان هاورډ ليدنې په راتلونکي کې ددواړو هيوادونو ترمنځ د اړيکو د پراختيا لپاره ښه زمينه برابره کړه، چې په دې ترڅ کې ښاغلي هارورد برون په افغانستان کې داستراليا دنا استوګن سفير په توګه خپل باورليك د ۱۰۱۰ د. رئيس ښاغلي حامد کرزي ته وړاندې کړه. وروسته ددواړو هيوادونو مقاماتو دوستانه ليدنې کتنې وکړې چې ددوه اړخيزو اړيکو په پراختيا کې ګټورې تمامې شوې.

د (۲۰۰۲م) کال د. په مياشت کې د استراليا ددفاع وزير ښاغلی رابرټ هل او د مهاجرينو وزير ښاغلي وليپ اودوك کابل وکوت. د جولای په مياشت کې د استراليا د پارلمان د غړو يوه ډله د افغانستان ليدو ته راغلې وه.

د دسامبر په مياشت کې د استراليا ددفاع وزير يوځل بيا افغانستان ته راغی. په همدې ميا شت کې افغاني او استراليايی ګډ پلاوي په کابل کې د ليدنو کتنو په ترڅ کې له استراليا څخه په خپله خوښه د افغانی پناه غوښتونکو د راستنيدو په اړه له اړوندو مقاماتو سره خبرې وکړې.

د(۲۰۰۲م) کال د می په(۱۶مه) د افغاني پناه غوښتونکو په خپلې خوښې را ستنيدو په اړه ددواړو هيوادونو ترمنځ يو تفاهم ليك لاسليك شو. له پروتو کول سره سم په خپله خوښه د افغاني غوښتونکو د بيرته راستنيدو په صورت کې مجردانو ته لس زره

استرالیا یي ډالره او متاهلانوته دیرش زره استرالیایي ډالره ورکول کیږي.

د(۲۰۰۳م) کال د فبروري په میاشت کې د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي ډاکتر عبدالله استرالیا ته رسمي سفر وکړ.

د استرالیا حکومت تیاری ښودلی چې د بهرنیو چارو وزارت کارمندان د انګلیسی ژبې د تقویې په برخه کې وروزي. برسیره پردې د افغانستان رونیز او فرهنګي مرکز، په کانبیراکې د افغانی سفارت ترڅنګ تاسیس او کاریې پیل کړ چې د غه کار ددواړو هیوادونو ترمنځ د فرهنګی اړیکو په پراختیا کې د یوه مثبت ګام په توګه ارزول کیږي.

له استرالیا څخه د افغاني پناه غوښتونکو راستنېدل:

د استرالیا مقاماتو ته یوه له مهمومو‌ضوعګانو څخه، افغانستان ته د هغو کسانو بیرته راستنیدل دي چې د طالبانو دواکمنۍ پر مهال د قاچاق وړونکو له خوا په نا قانونه توګه په کښتیو کې استرالیا ته بیولو شوي دي. ددغو کسانو شمیر پنځو زرو تنو ته رسیږي، چې له دې جملې څخه (۳۵۰۰) تنه یې درې کلنې موقتې ویزې لري او پاتی کسان د نارو، و میرا، کرتن، و یلاوود او نورو پنډغالو کې او سیږي.

د(۲۰۰۲م) کال د می په(۱۶مه) په خپله خوښه د دغو افغانانو د را ستنیدو په اړه ددواړو هیوادو ترمنځ یو تفاهم لیک لاسلیک شو، چې د هغه پر اساس تر اوسه له سلو څخه زیات کسان هیواد ته راستانه شوې دي او له پولي امکاناتو او نورو منافعو څخه یې مستفید شوي دي.

که څه هم د مخه د افغاني پناه غوښتونکو يوه ډله د نارو له پنډ غالي څخه په خپله خوښه د راستنيدونکو له پروګرام څخه په استفاده په انفرادي توګه هيواد ته راستانه شوي دي خوپه دې وروستيو کې ددې پنډغالي(۴۲۰) تنو پناه غوښتونکو په ګډه غوښتنه کړې څو هيواد ته د افغانی پناه غوښتونکو د په خپلې خوښې راستنيدوله پروګرام څخه په استفادې سره هيواد ته راستانه شي.

د دوه اړخيزو پروګرامونو په اډانه کې اوسنی مرستې:

د کابل د جنګلك د فابريکې ترڅنګ د افغاني پناه غوښتونکو د ميلمستون د پراختيا او بيا رغاوني پروژه چې ددوه اړخيز پروګرام په اډانه کې د يو ميليون استراليا يی ډالرو(۵۶۰ زره امريکا يي ډالر) د بلا عوضه مرستې په لګښت جوړه شوې ده، د ودانولو چارې يې د(۲۰۰۲م) کال د جون په مياشت د (۱۳۸۱کال دسرطان) کې پيل شوي او اوس ګټې اخيستنې ته تياره ده، چې د استوګنې په بلا کونو کې يې په يوه وخت کې (۶۰۰) را ستنيدونکي ځايږي. برسيره پردې په پام کې ده چې په همدې ميلمستون کې د راستنيدونکو لپاره لنډمهاله روز نيز حرفه يی کورسونه جوړشی څو کولای شی د خپل ژوند او د هيواد په بيارغاونه کې ونډې اخيستې ته چمتوشي.

د کورنيو چارو وزارت په چوکاټ کې د افغانی هويت د تثبيت دد فترتاسيس:

استراليا د انسانانو د قاچاقو او همدارنګه د هغوستونزو په وړاندې د مبارزې پرېنسټ چې د يو شمير افغانی پناه غوښتونکو

د هویت په تثبیتولو کې موجودې دي چمتو ده چې د کورنیو چارو وزارت پهچوکاټ کې د هویت د تثبیت په منظور دیوه ځانګړي دفتر د جوړولو لګښت ومنی.

ددې دفتراساسي دنده داده چې که چېرې د افغانستان په دننه اویا بهر کې د عادي څېړنې په ترڅ کې د یو شمیر کسانو په افغانی هویت کې شك او تردید موجود وی، موضوع به همدې د فتر ته راجع کیږي څو وروستۍ پریکړه وکړي. استرالیا اوس د پنځو کارکوونکو یو.دفتر چې په مډرنو شبکه یی کمپیوټرونو له پرنټر او سکینر سره، په مبایل تیلفونونو،فاکس او ستالایت، فرنیچرونو او....مجهز دی، په پام کې نیولی دی.

د پانګې اچونې او سوداګریزو اړیکو پیل:

په دې وروستیو وختونو کې څو استرالیا یي کمپنیو علاقه مندي ښودلې ده چې په افغانستان کې پانګه واچوي خو زیاتره په دې نه پوهیږي چې د افغانستان له مختلفو مراجعو سره څه ډول معامله تر سره کړي او د افغانستان قوانین او مقررات څه ډول دي او د پولي معاملاتو لپاره څه ډول اسانتیاوې شته دي. ددې اړتیا دلرې کولو لپاره په استرالیا کې افغانی سفارت په پام کې لري چې د) تر سرلیك لاندې یو کنفرانس، د استرالیا په مهمو ښارونو له دې ډلې څخه په سدني او ملبورن کې دایر شي. په کنفرانس کې افغانی مسوولینو اوکارپوهانو ته بلنه ورکول کیږي څو د افغانستان او استرالیا ترمنځ د سوداګرۍ د پراختیا په اړه خبرې وکړي. ددې کنفرانس په ترڅ کې په استرالیا کې د افغانستان سوداګریز نندارتون جوړیږي څو افغانی تولیدات او امکانات و پیژندل شي.

تحصیلي بورسونه:

استرالیا چمتو ده څو په کالنۍ توګه یو شمیر تحصیلي بورسونه افغانستان ته ځانګړي کړي. د کار د پیل لپاره په دې وروستیو وختوکې د استرالیا دبهرنیو چارو وزارت د پراختیایي مرستو د فتر د فوق لیسانس او ماستري په سویه شپږ بورسونه رسماً د افغانستان حکومت ته وړاندې کړل چې متاسفانه د فني ستونزوله امله د نوماندو (کاندیدانو) اړوندې پاڼې په خپل وخت استرالیاته ونه لیږدول شوې له همدې امله د (۲۰۰۳م) کال په لومړي سمستر کې له دې بورسونو څخه استفاده نا شونې شوه.

د یادولو وړده چې د استرالیا د کډوالو او څوملیتیز وچارو وزارت چمتو دی چې یو میلیون افغانۍ ویزې په بهر کې د افغانستان د سیاسي نماینده ګیو د استفادې لپاره چمتو کړي. چې استرالیا ته د افغانستان د کډوالو چارو وزیر دسفر پر مهال د استرالیا د کډوالو چارو وزیر لومړنۍ ویزه هغه ته ورکړه. تاکل شوې ده چې دغه ویزې په راتلونکي کال کې د استفادې وړ وګرځي.

دچیلي جمهوریت

موقعیت : دجنوبي امریکا په جنوب لویدیځ کې.
مساحت: ۷۴۱۷۶۷ مربع کیلو متره.
د وګړو شمیر: ۱۵۱۵۳۷۹۷ میلیون تنه
پلازمینه: سانتیا ګو [illegible]

دهیواد لنډ تاریخ:

چیلي هم د لاتیني امریکا دنورو هیواد و په څیر، په شپاړسمه پیړۍ کې د اسپانیا له یرغل نه دمخه د سور پوستو او بومي قبایلو استوګنځای ګڼل کیده. دغه هیواد له شپاړسمې پېړۍ څخه، په (۱۸۱۸م) کال کې دخپلواکۍ د تر لاسه کولو تر وخته د اسپانیایانو تر واکمنۍ لاندې و، چې دې خاورې ته یې له ننوتلو سره سم د سانتیا ګود ښار بنسټ کیښود او درې پیړۍ یې پرې واکمني و چلوله تر هغو چې په نونسمه پړۍ کې آزادي غوښتو نکو غور ځنګونو ټوله سیمه ونیوله. ددې غورځنګونو مشرتوب چې له (۱۸۱۱) میلادي څخه را پیل شو- دچیلی په پلار او څار، جنرال

هیګنتایا په غاړه درلوده تر هغو چې په (۱۸۱۸م) کال کې د بهرنیو ځواکونو په شړلو او دجمهوریت پر ته سیس بریالي شول.

حکومتي تشکیلات:

اجرائیه قوه:

داجرائیه قوې په راس کې جمهور رئیس دی. د (۱۹۲۵) کال د اساسي قانون پر بنسټ جمهور رئیس د شپږ و کالو لپاره ټاکل کیده او د کابینې غړي یې په مستقیمه توګه ټاکل، همدارنګه د هیواد بودجه د هغه تر څارنې لاندې د دولت له خوا کنګرې ته وړاندې کیدله، هغه اصلاحات چې د (۱۹۸۹) کال د ټولپو ښتنو وروسته تصویب شول، دجمهوري ریاست دوره له شپږو کالو څخه څلو رو کالو ته راټیټه کړای شوه او د دوهم ځل لپاره د جمهور رئیس ټاکنه هم حذف شوه.

مقننه قوه

ملي کنګره له استازو او سنا څخه جوړه ده. د دواړو مجلسونو غړي، په ایالتونو کې دعامه رایو پربنسټ ټاکل کیږي. ملي کنګره یوه دوره عادي ناسته او یوه دوره فوق العاده جلسې لري. د قانون جوړولو چارې د جمهور رئیس یا د کنګرې دیوه غړي په غوښتنه، د استازو د مجلس د لسو تنو یا د پنځو تنو سناتورانو په ملاتړ له دوو مجلسونو څخه په یوه کې پیل کیدای شي.

د مشرانو جرګه (دسنا مجلس):

په اوسني وخت کې د مشرانو جرګه (۴۸) تنه غړي لري چې(۳۸) تنه یې انتخابی سناتوران دي چې په(۱۹) ناحیو کې د

خلکو په مستقیمو رایو ټاکل کیږي او (۸) تنه نوریې انتصابي سناتوران دي.

ولسي جرگه(د استازو مجلس):

ولسي جرگه (۱۲۰) تنه غړي لري چې د خلکو په مستقیو رایو ټاکل کیږي او په(۶۰) انتخاباتی حوزه پورې اړوند یږي، چې له هرې سیمې څخه دوه تنه مجلس ته لاړ مومي.

قضائیه قوه:

په درې گونو قواوو کې تر ټولو کمزرې او ضعیقه قوه، قضائیه قوه ده او په ځانگړې توگه پر چیلي باندې د پوځیانو اووه لس کلنی واکمنې او په قضایی نظام باندې د هغوی نفوذ ددې قوې له ضعف او کمزورتیا سره مخکې له مخکې مرسته کړې ده.

د چیلي د قضایی سیستم اصلی څانگې دادي:

- ستره محکمه
- د استیناف محکمه
- دټاکنو عالي محکمه
- پوځې محکمه.

د بهرني سیاست اصول او بنسټونه.

د چیلي د بهرني سیاست د اصولو لنډیز په لاندې ډول دی:

- د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کې لاس نه وهل.
- د ټولو ملتونو لپاره د برخلیك د ټاکلو حق.
- له هسته یي جنگي وسایلو(افزارو) څخه دکارونې منعه کول.
- په سوله ایزه توگه د اختلافاتو د حل پلوي.

مذهب:

د چیلي د اساسي قانون پر بنسټ، رسمي مذهب نشته. خو د عقیدې او مذهبي مراسمو تر سره کول په داسې بڼه چې له عامو اخلاقي ارزښتونو او نظم سره منافات ونه لري، مانع نه لري. د ټولو مذهبونو پیروان کولی شي خپل دیني مناسک پرځای کړي. د چیلي زیات خلك مسیحیان دي چې زیاتره یې د روم دکا تولیك کلیسا پیروان دي. همدارنګه د انګلیسي او آلماني پروتستانو او نورې کلیسا ګانې فعالیت کوي.

د مسیحي کلیساګانو له پیروانو پرته د مسلمانانو او یهودانو لږه کې(اقلیتونه) هم په چیلي کې او سیږي

مالي وضعه :

د چیلي پو لي واحد پزو دی چې د ارزښت له مخې په منځنۍ توګه(۴۲۰) پزو له یوه امریکا یي ډالر سره برابردي. یو پزوله سلو سنتاوسو سره برابره ده.

په(۱۹۸۶م) کې کال د چیلی د هر اوسیدونکی سړي سرعاید(۲۰۴۶) ډالره وه. دغه اندازه په(۱۹۹۳م) کال کې ۳۰۷۰ ډالرو ته لوړه شوه چې په منځنۍ کچه په سلو کې ۱،۶ وده دټولو اوسیدونکو دودې منځنۍ اندازه په سلوکې له(۱,۶) سره برابره ده.

طبیعي جغرافیه او اقلیمي اوضاع:

د چیلي جغرافیایي موقعیت:

چیلي یو اوږد او نری (باریك) هیواد دی په دې توګه ویلی شو چې د ځمکې پرسر یوائیني هیواد دی، چې اوږدوالی ې نږدې ۴۳۰۰ کیلو متروته رسیږي.

له همدې امله دغه هیواد د ځمکې د کرې په نرې او اوږده کمر بند باندې مشهور شوی دی. سور یې په منځنۍ توګه ۲۵۰ کیلو متره دی. دا هیواد چې په جنوبي امریکا کې د آرام سمندر د څنډو په اوږدو کې د لویدیځې نیمې کرې په وروستۍ جنوبي برخه کې پروت دی، د شمال خوا ته یې آ رام سمندر پروت دی. د جنوب لورته یې دورسك (دماغه) بڼه غوره کړې ده.

ددې هیواد جغرافیایي بڼه د چیلي دویي(کلمي) بڼه ښکارندویه ده، چې د بولیو او پیرو سیمې د بومي سور پوستکو په ژبه د هغه ځای په معناده چې هلته ځمکه خپلې انتهایاپای ته رسیږي.

د لویوالي او پراختیا پربنسټ د جنوبي امریکا اووم هیواد دی، چې(۷۵۶۶۲۶) مربع کیلو متره مساحت لري. د جنوبي قطب د برخې په شمول چې په چیلي پورې اړونده ده، ددې هیواد مجموعي مساحت_ ۲۰۰۶۶۲۶ مربع کیلو متره ده.

انساني جغرافیه:

د چیلي هیواد له دوولسمې میلادي پیړۍ څخه تر(۱۸۱۸م) پورې چې ویې کولی شوای خپله خپلواکي بیرته تر لاسه کړي. د اسپانیایي واکمنو له خوا اداره کیده. ددې هیواد اوسیدونکي له دغو توکمیزو ډلو څخه عبارت دي:

په سلو کې ۹۲ ، په سلو کې - ، په سلو کې یو .

دچیلي له ټولو لوو ګړو څخه په سلو کې ۸۴ په ښارونو او په سلو کې(۱۶) په کلو کې ژوند کوي. د چیلي دوګړو اکثریت ښځې دي.

کډوالي(مهاجرت):

د چيلي په خلکو کې په اوسني وخت کې د کډوالو ونډه ډېره لږه ده. خو بهرنيانو په ځانګړې توګه هغوی چې له شمالي اروپا څخه دې هيواد ته راغلي دي، زياترو يې په ټولنه، سياست او دهيواد په اقتصادي پراختيا کې زيات نفوذ درلود.

په کښته او لوړه سطحه کې د کډوالو دشته والی له امله د ټولنې په ټولنيزو او اخلاقي ساحو کې بدلونونه تر سترګو کيږي، دا کار ددې سبب شوی چې اصلي او سيدونکو ته د ټولنې په کښتنۍ برخه کې ځای ورکړي. هغه لومړني کډوال چې د اوسنۍ ټولنی داخلاقی جوړښت په توسعه کې يې مهم نقش لوبولی دی، د اسپانيې د پيرينه د سيمې بسکان وو.

ژبه او ليک:

د هيواد له رنګا رنګۍ او مختلف جغرافيايي وضعيت سره سره بيا هم په چيلی کې د خلکو ژبه يو شانته جوړښت لري، د بيلګې په توګه : د شمال خلك کټ مټ د جنوب په لهجه خبرې کوي، د هيواد رسمی ژبه اسپانوي ده چې په سلو کې ۹۲ تنه پرې غږيږې او په سلو کې ۸ تنه د سيمې په بومي ژبه خبرې کوي، د هيواد رسمی ليك لاتين دی.

سياسي جغرا فيه:

چيلي ځانګړی ستراتيژيکی مهم ځای لري . د غه هيواد له هغو نورو هيوادو سره چې د جنوبی امريکا په لويديځو غاړو کې پراته دی په لويديځه نيمه کره کې يی يو مهم سياسي قطب جوړ وي.

د ها رمون ورسك (د ماغه) او د ماژلان تنګي چې د چيلي په جنوب کې پراته دی د پانامې د کانال د بنديدو په صورت کې آرام سمندر ته او ددې په عکس د بيړيو د تيريدو اجتناب نه منونکی مسير دی.

له بلې خوا چيلي په دا سې سيمه کې پروت دی چې د دوديزو ځمکنيو سرحدی اختلافاتو پر اساس د احتمالي نښتو لپاره له ډيرو مستعدو سيمو څخه ګڼل کيږي. او د غه موضوع د جنوبی امريکا د امنيت او همدارنګه د پر مختللو صنعتی هيوادو د ګټو په نسبت، په اومه حياتی موادو او ډاډمن سمندری تجارت باندې د لاسبری له مخې ډير اهميت لري. بر سيره پردې چې چيلي له کافي زيرمو څخه برخمن دی د جنوبی امريکا له ډيرو بډايو هيوادونو څخه ګڼل کيږي.

له يوې خوا په نړۍ کې د مسولوی توليدوونکی هيواد دی او ددې په خوا کې دډېرو سکاره، او سپني لرونکې ډبرې، سرب، مګنيز. جيوه، آلمينيوم او... توليد وی او بازار ته يې وړاندې کوي او له بلې خوا ددريمې نړۍ په هيوادونو کې د اقتصاد په برخه کې د ډيرو. وده کوونکو هيوادونو څخه ګڼل کيږي، په نتيجه کې د صنعتی تجا رتی مالونو، تکنالوژي، ددولتی او خصوصي پانګې اچونې، بانکونو او مالي موسسو لپاره مناسب بازار ګڼل کيږي. په چيلي کې د مسو د لويو زيرمو شتون په چيلي کې د پرديو د حضور يو ستر لامل دی.د آسيا په ختيځو هيوادونو کې د مسو زيات لګښت ته په پاملرنه او دا چې ددې هيوادو اقتصادی راتلونکې زياتره د مسو په واردولو پورې اړونده وی- چيلي سيمې ته ديوه نړدې هيواد په توګه د هغو لپاره ديوه باثباته تامينوونکې په توګه ګڼل کيږي. برسيره پردې د آرام سمندر د

حوزې له هیوادونو سره به په راتلونکي کې د چیلي اړیکې ورځ په ورځ پراختیا ومومي.

دافغانستان او چیلي اړیکې:

په(۱۳۴۱) کال کې په ملګرو ملتوکې د چیلي لوی سفیر له افغانستان سره د سیاسي او قونسلي اړیکو د ټینګښت په اړه د خپل هیواد هیله څرګنده کړه. د بهرنیو چارو وزارت په غوښتنه د(۱۳۴۱) کال د زمری په میاشت کې د وزیرانو عالي شورا دیوه فرمان په ترځ کې، ددواړو هیوادونو ترمنځ د لوی سفارت په کچه د غیر مستقیمو سیاسي اړیکو ټینګښت تصویب کړ او لاربښوونه وشوه چې په واشنګټن کې دې افغاني لوی سفیر په دې دنده وګومارل شي.

ددې لاربښوونې پر بنسټ د(۱۳۴۱) کال دوړي په شلمه چې د(۱۹۶۲) کال د سپتامبر له یوولسمې سره برابره ده د سیاسي او قونسلي اړیکو اړوند موافقه لیك په نیو یارك کې ددواړو هیوادونو د استازو عبدالرحمن پژواك او دا نیل شوایتزر ترمنځ لاسلیك شو.

په دې منظور په دواړو هیوادو کې پریوه وخت د(۱۳۴۱) کال د وړي پر ۲۴ مه، د(۱۹۶۲م) د سپتامبر په پنځلسمه په کابل او سانتیاګو کې یوه اعلامیه خپره شوه چې د هغې له مخې به افغاني سفارت په سانتیا ګو او د چیلي سفارت په کابل کې ددواړو هیوادونو ترمنځ د راتلونکې موافقې پر اساس وټاکل شي.

داسې ښکاري چې تراوسه به ددواړو هیوادونو تر منځ دا ډول موافقه لیك نه وی لاسلیك شوی. لکه څنګه چې لیدل کیږي د افغانستان او چیلي په اړیکو کې له پیله تر اوسه کوم بدلون نه دی پیښ شوی.

ددواړو هیوادونو ترمنځ اړیکې هغه وخت ټینګې شوې چې چیلي په لاتینه امریکا او د ملګرو ملتو په سازمان کې د سیاسي وزن لرونکي و. د سلوادورالیندي د حکومت په رانسکوریدو چې په غالب ګومان زیاتره د بهرنیو هیوادونو په لاسوهنه ترسره شوی) د پنو چت حکومت او دهیواد او سنی ښي اړخي پوځي حکومت، د مخالفو عناصرو په وړاندې- ترکومه ځایه چې په هغه هیواد کې د بشر د حقوق د میثاقونو په تطبیق پورې اړه پیدا کوي- د او سنی حکومت نړیوال دریځ په شدت سره لړزولی دی.

افغانستان په ځینو هغو پریکړو کې چې څه موده وړاندې د چیلي د حکومت له خوا د بشر د حقوقو د نه مراعات کولو په اړه چې د ملګرو ملتو په سازمان کې طرحه او تصویب شوي دي. د ملګرو ملتو د سازمان د غړو په اکثریت یې د چیلي په وړاندې موافقه رایه ورکړي ده.

د امریکا متحده ایالات

دهیواد نوم : د امریکا متحده ایالات
موقعیت : شمالي امریکا.
جمهور رئیس: جورج ډبلیو بوش.
د بهرنیو چارو وزیر: کولن پاول.
ددفاع وزیر : دونالډ رامز فلډ.
رسمي ژبه : انګلیسي

جغرا فیا یی موقعیت:

د امریکا متحده ایالات د شمال له خوا له کاناډا ، د جنوب له لوري له مکسیکو او د ختیځ له خوا د اتلس سمندر(اتلانتیک) او د لویدیځ لورته له آرام سمندر سره نښتي دي

د امریکا متحده ایا لات په شما لي ا مریکا کې موقعیت لري، چې مساحت یې ۹۵۲۹۲۰۲ مربع کیلو متر ه دی . د (۲۰۰۳م) کال د شمیرنو پر بنسټ یې دو ګړو شمیر ۲۷۰ میلیونو تنو ته

رسیږي. دا هیواد د خاورې د لویوالي له نظره له روسیې، کاناډا او چین څخه وروسته څلورم هیواد دی.

د امریکا د متحده ایالاتو اقلیم په بیلا بیلو برخو کې توپیر لري، د بیلګې په توګه د فلوریدا په شګلنو سیمو کې ډیر تود او د الاسکا په شمالي سیمو کې منجمد دی.

د غه هیواد لویې طبیعی منابع لري، ځینې سیمې یې د ځمکې له شتمنو سیمو څخه ګڼل کیږي. ددې هیواد پلازمینه واشنګټن ډی سی دی . حکومت یې فدرالي او پنځوس ایالته لري. او وګړي یې په سلوکې ۵، ۹۹ لوستي (باسواده) دي او د مسیحي مذهب پیروان دي.

مهمې صنایع یې دادي: د موټرو جوړولو . پترو شیمی، اتومی، د الوتکو جوړولو، وسلې جوړولو، مهند سي، الکتروتیک او نورو د رندو ضایعو څخه....

د امریکا متحده ایالات ماشین الات، وسایل او غلې د نړۍ نورو هیوادو ته صادر وي. اومه او تصفیه شوي تیل. ماشین آلات او موټر واردوي. د امریکا متحده ایالات له مکسیکو، کاناډا ،جاپان، آلمان ، انګلستان، سعودي عربستان او د نړۍ له یو شمیر زیاتو هیوادونو سره تجارتي اړیکې لري

دامریکا د متحده ایالاتو سیاسي نظام، بهرنۍ اړیکې اوسیا ست:

سیاسي نظام :

د هیواد سیا سی نظام د اساسی قانون پربنسټ پرزدنتسیال (جمهوری ریا ست) او له درې قواوو: اجرائیې مقننې او قضائیې څخه تشکیل شوی دی.

جمهور رئیس په عین وخت کې د حکومت رئیس هم دی او د اساسي قانون پربنسټ د څلورو کلونو لپاره ټاکل کیږی او له دوه ځلو څخه زیات ځان نشی کاندیدولی..

وزیران په مستقیمه توګه د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي او د هغوي ټاکنه له کانګرس څخه د اعتماد له رایي اخیستنی سره تړاونه لري ،یواځې د سنا د مجلس یا د مشرانو جرګې تایید غواړي، ځکه چې د امریکا د متحده ایالاتو د پرزډنټسیال یا ریاستی نظام لویه ځانګړتیا داده چې په دې نظام کې د قواوو بیلتون یا تفکیك په مطلقه توګه منل شوی دی، لکه د مخه موچې یادونه وکړه جمهور رئیس د پراخ او هر اړخیز واك خاوند دی.

مقننه قوه له دوو مجلسونو څخه جوړه ده: د استازو مجلس (ولسی جرګه) اود سنا مجلس(دمشرانو جرګه). دولسي جرګې غړي د خلکو له خوا د دوو ایا لتونو د وګړو د شمیر پر بنسټ ددووکالولپاره ټاکل کیږي او په دواړو کلونو کې یې دریمه برخه غړي نوي کیږي. د مشرا نو جرګې لپاره له هر ایالت نه، دوګړو د شمیر له په پام کې نیولو پرته دوه تنه ټاکل کیږي چې ټول غړي یې(۱۰۰) سنا تورانو ته رسیږي.

د امریکا د سیا سی نظام دریمه ځانګه قضائیه قوه ده. د قضائیي قوې په راس کې ستره محکه ده چی د حکمیت پر حیا تی نقش بر سیره، د هیواد د ساسی قانون د تفسیرا و حراست دنده یې هم پر غاړه ده او په عین حال کې دفدرال حکومت او دا یا لاتو د حکومتونو او همدارنګه د کانګرس او جمهوري ریاست ترمنځ د سم توازن ساتونکې او څارونکی هم ده، قضائیه قوه د فردي آزادیو، د بیان د آزادې، مطبوعاتو. د سوله ایزو غونډو، د مذهب د آزادۍ، دوسلې دلیږدولو د حق او له قانونی او حقوقی

مزایاوو څخه د برخمنۍ ضامنه ده. د سترې محکمې قاضیان، د نورو فدرالي کار کوونکو په څېر د جمهور رئیس له خوا د مشرانو جرګې په موافقه انتخابیږي. د قاضیانو د خپلواکۍ لپاره په اساسي قانون کې تصریح شوې ده چې قاضیان باید د ټول عمر لپاره وټاکل شي.

د امریکا د متحده ایالاتو سیاسي ډګر ددې هیواد له تاسیس څخه را په دیخوا تل مدام ددوو ګوندونو(دموکراټان او جمهوري غوښتونکي) ترمنځ د سیالیو شاهد پاتې شوی دی، یعنې ددې هیواد سیاسي نظام په دوه ګوندیز سیستم ولاړ دی، چې دا کار د فرانسې له انقلاب څخه وروسته او ضاع ته په پاملرنه چې په فرانسه کې د ګوندونو زیاتوالي د ثبات د نشتوالي لامل شو ـ د امریکا په ثبات او د موکراسۍ باندې دیادولو وړ نقش لوبولی دی.

تاریخچه:

د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د کډوالو او یرغلګرو ورتګ او په تاریخي لحاظ ددې هیواد ځواني د متحده ایالاتو په اړه د مطالعې له اصلي موضوعګانو څخه ده چې پردې پراخه او دپریمانه طبیعي شتمنیو لرونکي هیواد باندې د لاسبرې په منظور ورغلي دي.

متحده ایالات له نورې نړۍ سره چې په هغې کې انسانان له پخوا څخه اوسیدل او د ځمکې مالکان وـ تو پیر لري ځکه چې دا هیواد بکر او لاس ناوهلی پاتې و. د نړۍ له بیلو بیلو سیمو څخه امریکا ته د کډوالو ناځاپي بهیر چې زیاتره یې له هغه تاو تریخوالي(خشونت) سره ملګری دی، چې له صلیبي جګړو څخه ـې نشات کړی دی. په (۱۴۹۲م) کال کې کرستف کلمب د امریکا په ګاونډ کې د بهاماس ټاپوګانو ته ورسید

په(۱۴۹۷م)کال کې یوه انګلیس ددې هیواد شمال ختیځې سیمې وکتلې. په همدې توګه په(۱۵۱۳م) کال کې د فولریدا څنډې کشف شوې، تر هغو چې په(۱۵۲۴م) کال کې د فرانسې لومړنی پلاوی نیویارك ته ورسید. په مدې ډول اروپائیان هم له دې هیواد سره بلد شول، چې ورورو یې دې هیواد ته لیږداو مهاجرت پیل او وروسته یې پردې هیواد د ښکیلاك منګلولې ښخې کړې.

دا ښکیلاك او مهاجرت ددې لا مل وګرځیده ، چې کډوال انګلستان ته د مالیې له ورکولو څخه ډډه وکړي، او دانګلیس له قوانینو څخه سرغړونه وکړي، نوي هیواد له انګلستان سره د مبارزې په خاطر جورج واشنګټن د خپل لارښود په توګه وټاکه او له شپږکاله مبارزې وروسته یې په(۱۷۷۶م)کال کې خپله خپلواکي ترلاسه کړه. په دغه وخت کې چې دیا رلس هیوادونه سره یوځای شوي وو، د خپلواکۍ له ترلاسه کولو سره سمیې د خپلواکۍ اعلامیه تصویب او خپره کړه. د غه اعلامیه د آزادۍ برابرۍ او عدالت پربنسټ ولاړه وه. وروسته یې په ۱۷۸۷ کال کې د اساسي قانون په تصویب ددې اعلامیې بنسټونه لاپسې ټینګ کړل، په ۱۷۸۳ کال کې جورج واشنګټن د امریکا د متحده ایالاتو د لومړني جمهور رئیس په توګ . وټاکل شو، چې له هغې نیټې څخه تر اوسه ۴۳ جمهور رئیسان یو په بل پسې ټاکل شوي دی. په ۲۰۰۱ کال کې جورج ډبلیوبوش ددغه هیواد د دري څلویښتم جمهور رئیس توګه وټاکل شو.

بهرنۍ اړیکې:

د امریکا د متحده ایالاتو جمهور رئیس، دا جرائیه قوې د لوړ مقام په توګه د هیواد ټولې سیاسي اړیکې طرح او پر مخ بیا یې.

د بهرنیو سیا سی استازو منل او نورو هیوادو ته د استا زو ولیږل او د نورو هیوادونو پیژندل د جمهور رئیس پر غاړه دی.

له نورو هیوادونو سره د تړونونو او ژمنلیکونو لاسلیك کول که څه هم د مشرانو جرگې تصویب ته اړتیا لری، بیا هم د جمهور رئیس لـه واکو نـو څخـه دی. د بهرنیـو اړیکـو پـرمخ بیولـو او د بهرنـی سیاسـت پـه تگلاره کـې د جمهـور رئـیس تـرڅنگ د هغـه مرستیال او د بهرنیـو چا رو وزارت چې پـه سر کې یې د بهرنیـو چارو وزیـر دی مهـم رول لوبـوی. همدارنگـه دمشـرانو جـرگې د بهرنیو اړیکو کمیټه او د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو اړیکو شورا د امریکا د بهرنیو اړیکو د پرمخ بیولو او بهرنی سیا ست په سمبالولو کې اساسی نقش لري.

بهرنی سیا ست:

د امریکا متحده ایالات دیوه ځواکمن ،لوی او اغیزمن هیواد په توگـه لـه انگلستان څخـه د خپلې خپلواکۍ د ترلاسـه کولـو لـه مهاله، تل د خپل هیواد د گټو پـه ترلاسـه کولو کې دیـوه فعـال او هر اړخیز سیاست لرونکی دی، پـه نورو پړاوونـو کـې پـر خپلـو گټـو برسیره، د لویدیځې نړۍ د منـافعو تـامینوونکی هـم دی دا هیـواد د لویو اقتصادي منـافعو لکـه طبیعـی منـابع، انسـاني ځواك او د عصري تکنالوژي پـه ملاتړ(پشتوانه) پـه دې بریـالی شوی دی چې گټـور بهر ني سیاستونه تدوین او وکاروي.

له خپلواکۍ څخه وروسته لسیزه کې امریکا یی سیاستوالو پـه ځانگړې هوښیارتیا سره د قدرت تـرمنځ د انډول د فورمـول د پـه پام کې نیولو او(پـه بهرنـی سیاست کې) یې پـه ټولیزه (عامـه) توگه د گوښه کیدلود سیاست د ژمنو تگلارد خپله کړه.

ددې اصل پر بنسټ چې د مونرو په د کتورینو او څارډی، د امریکا واکمنانو د امریکا د نوي پر پښو دریدلی هیواد لپاره دیوه مناسب فرصت د رامنځ ته کولو په خاطر د اروپایي قدرتونو او د هغوی په ژوند رقابتونو پورې اړوندو مسایلو کې او په اروپا، آسیا او افریقا کې د هغوي په خاصو مسایلو کې له لاسوهنې څخه ډډه وکړه او یوازې دامریکا (شمالي او جنوبی) پر وچه یې بسنه وکړه او ددې وچې د اړوند و مسایلو په نسبت حساس او محتاط وو.

د امریکا په ځواکمن کیدو سره ورووردې هیواد د خپل نفوذ دایره پراخه کړه. په دې بڼه چې د مونرو د دکتورینو له اعلام څخه وروسته. دوهمې نړیوالې جګړې ته په وردانګلو یې رسماً او عملاً ګوښه پاتې کیدل پریښودل او په رښتینی توګه په نړیوال او بین المللی سیاست کې شامل شول. د بهرنی سیاست په بدلون سره د امریکا د فاعی سیاست هم بدل شو. ځکه چې د دوهمې نړیوالې جګړې لویې پایلې دا وخت د اروپایي قدرتونو تضعیف او اضمحلال او نورو هیوادونو لکه د امریکا متحده ایالاتو، روسیې او چین ته د قدرت دلیږدیدو سبب وګرځید.

د امریکا متحده ایالاتو او پخواني شوروي په ډیرې چټکۍ سره ددووسترو قدرتونو په توګه د نړیوال سیاست په ډګر کې تبارز وکړ. خو ددواړو سترو قدرتونو ترمنځ ایډیالوژیک اختلاف او د متضادو ګټو تعقیب د نړۍ ددوو قطبونو (ختیځ، لویدیځ) ترمنځ د سړې جګړې سبب شو.

د پخواني شوروي په دړې وړې کیدو او په نړیواله کچه د کمونیزم په له منځه تلو، د امریکا متحده ایالات د یوازیني ابرقدرت په توګه د نړیوال سیاست ډګر ته راودانګل او دیوه کورني او

بهرنـی انـډولیز سیاسـت پـه لـور پـه ګـام ایښودلـو او د بهرنیـو سیاستونو پـه وړانـدی د قـدرت د اصـل د انډول پـه مراعـا تولـو، د کورنۍ هوساینې او پراختیا د نه قربانولو، د خپلې خپلواکۍ لـه وخته دیوې نیمې پیړۍ پـه اوږدو کـې پـه یـوه قـدرت تبدیل شـوي دي چې اوس پر لویدیځه نیمـه کـره برسیره، د نـړۍ پـه ډیـرو لیـرو سیمو کې هم په بیلا بیلو عنوانونو شته والی لري او پـه سیمـه ایزو او نړیوالو سیاستونو کې یې نقش تا کونکی او اغیز من دی.

د افغانستان اوداامریکا د متحده ایالاتو سیاسي اړیکې:

افغانستان پـه(۱۹۱۹م) کـال کـې د خپلواکـۍ لـه ترلاسـه کولـو سره سم د نړۍ لـه ډیرو هیوادونو سره د فعـالو سیاسـی اړیکـو هیلـه من شو. یو شمېر هیوادونو افغانستان په رسمیت وپیژانده، خو پـه هغـه وخت کـې د امریکـا متحـده ایـالاتو د افغانسـتان لـه پیژنـدلو څخه ډډه وکړه، ځکه امریکائیانو دا سې فکر کاوه چې افغانستـان لا اوس هم د بریتانیا د شاهي دولت پـه قلمـرو کـې دی. حتـی پـه(۱۹۲۱م) کـال کـې د راولپنډۍ او کابل لـه معاهـدې وروسـته چـې د بریتانیا شاهی دولت د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپیژندلـه. د امریکا متحده ایا لاتو لـه یوي خوا د نړۍ د هیوادونو پـه وړانـدې د خپل ګوښه پاتی کیدو د سیاست د تعقیب او لـه بلـې خـوا دواتـن د لریوالی لـه امله ، افغانستان په رسمیت ونه پیژانده.

پـه (۱۹۲۲م) کـال کـې کورنیلیـوس وان، اچ انګرت، چـې هغـه وخت پـه تهران کـې د امریکـا پـه نماینـده ګـۍ کـې مـوٴظـف و، لـه افغانستان او د شاه امان الله لـه کار نامو سره یـې مینـه درلـوده پـه تهران کې یې د خپلې دندې پـه پـای کـې د افغـانی ډیپلوماتـاتو پـه مرسـته د افغانسـتان ویـزه تـر لاسـه او پـه خپـل شخصـي لګښـت د

فارس خلیج، کراچۍ او پیښور له لارې افغانستان ته راغی، په کابل کې د هغه تو دهر کلي وشو او په شاهي میلمستون کې ځای ورکړل شو. نوموړي د خپلې کتنې په پای کې خپل ملاحظات په یوه مفصل ګزارش کې ولیکل او دیوې قوي سپارښتنې په ملتیایي چې د امریکا متحده ایالات باید افغانستان په رسمیت وپیژني او له هغه سره سیاسي اړیکې ټینګې کړي د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ته واستاوه. بالاخره په (۱۹۳۴ م) کال کې افغانستان په رسمیت وپیژانده او له (۱۹۳۵م) نه تر (۱۹۴۲م) کلونو یې له افغانستان سره په نا استوګن ډول خپلې اړیکې ټینګې کړې چې په دې موده کې په تهران کې د امریکا نماینده ګې د افغانستان د چارو مسووله هم وه. په (۱۹۴۲م) کال کې ددواړو هیوادونو اړیکې د استوګنو سفارتونو کچې ته لوړې شوې، چې دده کار په کابل او واشنګټن کې د سیاسي نماینده ګیو د جوړیدو لامل شو.

له ۱۹۳۵ نه تر ۱۹۷۹ م پورې د متحده ایالاتو استوګن اونا استوګن استازي:

- ویلیم اچ. هارنی بروك ، مختار وزیر، په تهران کې استوګن، ۱۹۳۵ ۱۹۳۷ ، د ایران او افغانستان په چا رو کې موظف.
- کارنیلیوس وان اچ انګرت ، په تهران کې استوګن، شار زدافیر، ۱۹۳۷ ۱۹۴۰م د ایران او افغانستان په چارو کې موظف.
- لویس جی. دری فیوس جونیر، مختار وزیر، په تهران کې استوګن، ۱۹۴۰ ۱۹۴۲ ، د ایران او افغانستان په چارو کې موظف.

- کرنیلیوس وان اچ انګرت، مختار وزیر، ۱۹۴۲ ۱۹۴۵ م، په کابل کې استوګن، د افغانستان په چارو کې موظف.
- ایلی ای. پالمر، مختار وزیر، ۱۹۴۵ ۱۹۴۸ م، په افغانستان کې د امریکا سفیر.
- لویس جی درای فیوس جونیر، ۱۹۴۹ ۱۹۵۱، په کابل کې استوګن سفیر.
- جورج ار میریل له ۱۹۵۱ ۱۹۵۲ م په کابل کې استوګن سفیر.
- انګوس وارد له ۱۹۵۲ ۱۹۵۶ م په کابل کې استوګن سفیر.
- شلدون تی. ملز، له ۱۹۵۶ ۱۹۵۹ م په کابل کې استوګن سفیر.
- هنری ای. بایرود، له ۱۹۵۹ ۱۹۶۶ م په کابل کې استوګن سفیر.
- جان ام. استیوز، له ۱۹۶۲ ۱۹۶۶ په کابل کې استوګن سفیر.
- او برت جي نیو مان، له ۱۹۶۶ ۱۹۷۳ م په کابل کې استوګن سفیر.
- تیود ورال. الیوت جونیر له ۱۹۷۳ ۱۹۷۸م په کابل کې استوګن سفیر
- دولف ډبس نه ۱۹۷۸ ۱۹۷۹ په کابل کې استوګن سفیر.

له ۱۹۷۹ کال څخه د ۲۰۰۲ کال تر جنوري پورې په کابل کې د امریکا سفارت تړلی و.

- د ۲۰۰۲ کال له جنوري څخه د یو ید سدنی د شارژ دا فیر په حیث.

له ۲۰۰۲ نه د ۲۰۰۳ کال تر اګست پورې را برت فن د سفیر په توګه.

د یوید سدنی، شارژدافیر، د ۲۰۰۳ کال اګست.

د ۱۹۷۹ م کال د فبروري په ۱۴ مه نیټه ددندې په بهیر کې په کابل کې د ډبس په وژل کیدو او له هغه سره سم پر افغانستان

باندې د پخواني شوروي د تيرى په ترڅ کې متحده ايالاتو له کابل څخه خپل ديپلوماتان و ايستل او سفارت يې وتاړه. متحده ايالاتو د کمونيستانو په وخت کې، په کابل کې د سعودي عربستان سفارت د خپلو ګټو د ساتونکي په حيث د سر پرست په توګه وټاکه، خو وروسته سعودی عربستان هم په کابل کې خپل سفارت وتاړه.

د امريکا متحده ايالاتو په دې موده کې له مجاهدينو سره نږدې اړيکې درلودې او په سياسی، پوځی او مالی برخو کې يې د جهاد ملاتړ کاوه خو په۱۹۹۲ م کال کې يې د مجاهدينو له بري وروسته د بهرنيو لاسوهنو د مجاهدينو د بيلا بيلوډلو ترمنځ د جګړو له امله په کابل کې خپل سفارت پرانه نيست.

د طالبانو او ترهګرو دواکمنۍ پر مهال او د هغو له خوا د افغانستان د خاورې د زياتې برخې له کنټرول سره سره بياهم د امريکا متحده ايالاتو طالبان په دې دليل چې د القاعدې نړيوال تروريستي سازمان مالاتړې کاوه_ په رسميت ونه پيژندل. سره له دې چې د برهان الدين رباني په مشرۍ د افغانستان اسلامی دولت د ملګرو ملتو په سازمان کې د افغانستان کرسۍ په واك کې درلوده او د افغانسنان استازيتوب يې کاوه، د امريکا متحده ايالاتو د استاد ربانی له دولت سره اړيکې نه لرلې او هيچ ډول استوګن استازيتوب وجود نه درلود او په واشنګټن کې افغانی سفارت له لنډې مودې فعاليت او د مزار له نيولو وروسته تړل شوی و.

د ۲۰۰۱م کال د سپتامبر د يوو لسمې د پيښې او وريسی د تروريزم په وړاندې د امريکا دمتحده ايالاتو په مشرۍ د نړيوال ائتلاف په جوړيدلو، د افغانستان د مقاومت د جبهی په مرسته د

طالبانو په مقابل کې پوځي عملیات پیل شول، چې په پایله کې د طالبانو رژیم رانسکور شو او د نړیوالې ټولنې په سرکې د ملګرو ملتو د سازمان په مرسته، د ۲۰۰۱ م کال د نومبر په ۲۹ مه د بن تاریخي کنفرانس د المان په بن کې جوړشو او د افغانانو ترمنځ د توافق سبب شو چې په پایله کې یې د شپږو میاشتو لپاره لنډ مهاله اداره جوړه شوه چې په ترڅ کې یې دا نړۍ زیاترو هیوادونو یو ځل بیا له افغانستان سره خپل سیاسي اړیکي په استوګنه کچه ټینګې کړي. د امریکا متحده ایالاتو له یو اوږده ځنډ وروسته په کابل کې خپل سفارت پرانیست چې اوس ښاغلی زلمی خلیل زاد په کابل کې د هغه هیواد منتخب سفیر دی.

له متحده ایالاتو سره د اړیکو د ټینګښت له پیل څخه د افغانستان سفیران:

عبدالحسین عزیز،افغاني وزیر مختار ، ۱۹۴۳ ۱۹۴۸ .
- محمد نعیم خان، شارژدافیر(کاردار) ، ۱۹۴۸ ۱۹۵۰.
- عبدالحمید عزیز، شارژدافیر (کاردار)، ۱۹۵۰ _ ۱۹۵۱،
- محمد کبیر لودین ، سفیر، ۱۹۵۳ _ ۱۹۵۶.
- ډاکتر نجیب الله توروایانا ،سفیر، ۱۹۵۶ ۱۹۵۸ .
- محمد هاشم میوند وال، سفیر ۱۹۵۸ ۱۹۶۳ .
- ډاکتر عبدالمجید ، سفیر ، ۱۹۶۳- ۱۹۶۷.
- عبدالله ملکیار، سفیر، ۱۹۶۷ ۱۹۷۸.
- ډاکتر عبدالواحد کریم ، سفیر، ۱۹۷۸ ۱۹۸۰.
- نور احمد نور، سفیر، ۱۹۸۰ ۱۹۸۱ .
- ډاکتر محمد سالم اسپارتك شارژدافیر،(کاردار)، ۱۹۸۲ ۱۹۸۴ .

- محمد حیدر رفیق، شارژدافیر(کاردار) ، ۱۹۸۴ ۱۹۸۷.
- میا ګل شارژدافیر، (کاردار) ۱۹۸۸- ۱۹۹۰.
- عبدالغفور جوشن، شارژدافیر(کار دار) ۱۹۹۰ ۱۹۹۲
- انجینر عبدالرحیم ،شارژدافیر(کاردار) ۱۹۹۲ ۱۹۹۴.
- انجینر یارمحمد، شارژدافیر، کاردار، ۱۹۹۴ ۱۹۹۵

د طالیانو دواکمنۍ پر وخت په واشنګټن کې افغانی سفارت تړلی و (له ۱۹۹۶ څخه د ۲۰۰۲ تر جنوری) پورې .

هارون امین ،شارژد افیر (۲۰۰۲ له جنوري څخه.

اسحق شهریار، سفیر، د ۲۰۰۲ له جون څخه.

سید طیب جواد، سفیر، د ۲۰۰۳ له نوامبر څخه.

د امریکا له متحده ایا لاتو سره د افغانستان اقتصادي اړیکې:

د پیژندنې له تړون څخه وروسته د افغانستان او متحده ایالاتو ترمنځ په مختلفو (اقتصادی، فنی او فرهنګي) ډګرونو کې تړونونه لاسلیك شول. د پیژندنې له وخته د ۱۳۵۷(۱۹۷۸م) کال د غویی ترکود تا پورې ددواړو هیوادونو ترمنځ له ۶۰ زیاتې موافقې لاسلیك شوي دي. د امریکا متحده ایالاتو دوهمې نړیوالې جګړې له پای ته رسیدو وروسته له افغانستان سره خپلو مرستوته عملي جنبه ورکړه، چې کولی شو په دې ډګر کې د لومړي ګام په توګه د هلمند دوادي او ارغنداب د پروژو دودانولو یادونه وکړو. د ۱۳۵۷ کال د غویی له کودتا سره سم د پروژو کار تعلیق او یا هم په ټپه ودرید.

د ۱۳۷۱ (۱۹۹۲ م) کال په ثور کې د مجاهدینو له برې سره سم تمه کیدله چې د امریکا متحده ایالات به د پخوانیو پروژو پر بشپړولو برسیره د کمونیزم له اشغال څخه وروسته د افغانستان

په بیارغونه کې بې ساري ونډه خلی خو دغه هیواد چې تازه د کمونیزم له شره خلاص شوی او ... ساړه جنګ په پای ته رسیدو یې افغانستان سره نه دې چې د جهاد پرمهال یې د مجاهدینو قوي سیاسي ، پوځي او اقتصادي ملاتړ کاوه_ له یاده وایسته.

افغانستان په دغه موده کې په کورنیو جګړو اخته او له بهرنیو په تیره بیا د ګاندیانو له لاسوهنو سره لاس او ګریوان شو. ددې جګړو په ترخ کې د القاعدې د ترهګرو سیاسي شبکې په ملاتړ له دیني مدارسو څخه د طالبانو توند لارو ځوانو ځان ښکاره او افغانستان یې د تروریزم د صادریدو په مرکز بدل کړ او له نړۍ سره یې اړیکې وشلولې.

دافغانستان اسلامي دولت په هغه کې د نړۍ له یوه زیات شمېر هیوادونو سره د تماس او مرادوې په حال کې و.

د ۲۰۰۱ م کال د سپټمبر پورې ... افغانستان یو ځل بیا د نړیوالې ټولنې د توجه ور وګرځاوه او د طالبانو د نسکوریدو وروسته امریکا متحده ایالاتو د سیاسي اړیکو ترڅنګ له افغانستان سره خپلې اقتصادي اړیکې له سره پیل کړې چې د طالبانو له نسکوریدو وروسته د افغانستان په بیارغاونه کې له مهمو هیوادو څخه ګڼل کیږي. لکه څنګه چې د توکیو په کنفرانس کې یې د کومې مرستې ژمنه کړې وه. د ۲۰۰۱ م کال له اکتوبر څخه تر اوسه یې له افغانستان سره په بیلا بیلو ډګرونو کې ... ۱،۶ _ میلیارده ډالره مرسته کړې ده. همدا رنګه په دې وروستیو وختو کې د امریکا د جمهور رئیس په وړاندیز، د هغه هیواد کانګرس ۸۷ میلیارده ډالره د عراق او افغانستان د بیارغاونې لپاره تصویب کړل چې دا پخپله د افغانستان په اقتصاد باندې د امریکا د متحده ایالاتو د ونډې څرګنده نښه ده.

کاناډا

کاناډا د شمالي امریکا یو هیواد دی د لویوالی له مخې د نړۍ دوهم لوی هیواد دی، چې ۹۹۷۰۶۱۰ مربع کیلو متره مساحت لري. د کاناډا په سلو کې ۴۷ وګړي انګلیسي توکمه، په سلو کې ۲۷ فرانسوي توکمه دي. په داسې حال کې چې په سلو کې ۲۳ تنه له نورو اروپا یي هیوادونو او په سلو کې درې تنه د نړۍ له بیلا بیلو سیمو څخه دې هیواد ته راکډه شوي دي.

انګلیسي او فرانسوی د کاناډا رسمي ژبې دی. وګړي یې په سلو کې ۴۶ کا تو لیك او په سلوکې ۴۱ پروتستانت دي او په سلو کې د ۷۶ په شاوخوا کې خلك ښاري ژوند لري. له دې ډلې څخه او تاوا چې د کاناډا پلازمینه ده د وګړو شمیر یې همدا او س(۸۱۹۰۰۰ تنو ته رسیږي.

دا هیواد په جنوب کې د امریکا له متحده ایالاتو سره(۸۸۹۲) کیلو متره پوله لري. روسیه د شمالي منجمد سمندر په پسور

ددې هیواد ګاونډی ده. د کاناډا په شمال کې شمالي قطب، په ختیځ کې یې د اتلس اقیانوس، جنوب ته یې د امریکا متحده ایالات او لویدیځ ته یې آرام سمندر او په شمال لویدیځ کې له الاسکا سره ګډه پوله لري.

په سیمه کې ددې هیواد ستراتیژیک اهمیت:

څرنګه په ختیځ کې د اتلس سمندر او په لویدیځ کې آرام سمندر، کاناډا آسیا او اروپا له لویو وچو څخه بیلوی، نو څکه پردې بریالی شوی چې له ګډوډیو او جګړو پرته خپلو اقتصادی پراختیا ووته ادامه ورکړي.

دا هیواد له امریکا سره ژورې اړیکې لری، د ساري په توګه په سلو کې ۸۰ صادرات او په سلوکې ۷۳ واردات یې له دې هیواد سره تر سره کیږي.

کاناډا په بین المللی ټولنه کې د ملګرو ملتو دسازمان او ناټو په ګډون د اتو سازمانونو غړیتوب لری.

تاریخچه:

د لومړي ځل لپاره یوه انګلیسی غرختونکی (کوه نورد) په ۱۴۹۷ م کال کې د کاناډا ختیځو څنډو ته لاړ. په ۱۵۳۴ م کال کې فرانسوی جاك کارتیر د کاناډا خاورې ته ورننوت. په ۱۶۶۳ کال کې فرانسویانو د کیوبك ایالت د نوې فرانسې د مستعمرو په لیکه کې ودراوه، د غه مستعمرې په ۱۷۶۳ کال کې د انګلیستانو لاس ته ورغلې.

د افغانستان او کاناډا د اړیکو تاریخي پسمنظر:

د کاناډا حکومت په ۱۳۴۹/۴/۱۴ نیټه چې د ۱۹۷۰ م کال د جون له پنځمې سره برابره ده په دا سې حال کې له افغانستان سره د نا استوګنو سفیرانو په کچه خپلې اړیکې پیل کړې چې په واشنګټن کې افغاني سفیرښاغلی عبدالله ملکیار او په اسلام آباد کې د کاناډا سفیر ښاغلی مک ګوګی د خپلو هیوادونو د تمثیل ژمن شول. په پیل کې دیپلو ماتیکې اړیکې په عادي توګه رواني وې، حتی د کاناډا څو اقتصادي پلاوي زمونږ هیواد ته راغلل چې د ګرځندوی په برخه کې د مرستو د پراختیا د هوایی ډګرونو دودانونو د کارپوهانو استولو، د څښلو د اوبو پروژو، دپوهنې له وزارت سره مرستې، د بریښنا د چارو د تنظیم په منظور د فني مرستو د پراختیا په برخه کې یې په کار لاس پورې کړ.

همدارنګه په ۱۹۷۷ م کال کې کاناډا خپل دوه سوه اتیازره (۲۸۰۰۰۰) ډالرې پور په بلا عوضه مرسته تبدیل کړ. په همدې توګه له افغانستان سره ددې هیواد د مرستو په بهیر کې د ۱۹۷۸ م کال په فبروری کې کابل ته د دیوه پلاوي په راتلو د کاناډا هیواد د اوبو او بریښنا، کرهنې، پوهنې، عامې روغتیا، کانو او صنایعو په برخه کې د پروژو د مرستې ژمنه وکړه.

د پخواني شوروی له لاسوهنې وروسته، پروژې نابشپړې پاتې او کاناډایي کارپوهان له افغانستان څخه ووتل او سیا سي اړیکې وشلیدې.

دډیپلو ماتیکو اړیکو بیا پیل:

د سپټامبر یوو لسمې د نړۍ د هیوادونو ترمنځ نه یواځې په سیا سي ډګرکې بلکې د بډایو او درېیمې نړۍ د هیوادونو ترمنځ.

په ځانګړې توګه په افغانستان کې ډیپلوماتیک، ټولنیز او اقتصادي بدلونونه رامنځ ته کړل، چې د دیپلوماتیکو اړیکو له جملې څخه یوهم د افغانستان او کاناډا ترمنځ د دیپلوماتیکو اړیکو له سره پیل کول دي. په افغانستان کې د نړیوالو ائتلافي ځواکونو له خوا د طالبانو له نسکوریدو او د حامد کرزي په مشرۍ د نوي دولت له ټینګښت څخه وروسته د کاناډا صدراعظم Jean Joseph Joseph Jacques Chretion د ۲۰۰۲ م کال د جنوري په یوولسمه نیټه، په اسلام آباد کې د هغه هیوادد سفارت له لارې رسماً د سیاسي او د ډیپلوماتیکو اړیکو دله سره پیل کولو غوښتنه وکړه. د افغانستان دولت په ۱۳۸۰/۱۰/۲ نیټه د کاناډا د هیواد دې نیك او پروخت اقدام ته هرکلی ووایه.

ددې توافق پر بنسټ په اسلام آباد کې د کاناډا عالي کمیشنر Konrad Sigurdson په افغانستان کې دهغه هیواد د نا استوګن سفیر په توګه و پیژندل شو او په مقابل کې ښاغلی عبدالجلیل جمیلی په اوتاوا کې د افغانستان د لومړنی استوګن سفیر په توګه کاناډا ته وروپیژندل شو. د ۲۰۰۲ م کال د جون په (۲۱مه) په اوتاوا کې د کاناډا د بهرنیو چارو له وزارت سره د افغانستان د سفارت مستشار مختار وزیر ښاغلي شریف غالب دتماس پر اساس له کاناډا سره د افغانستان اړیکې د شارژدافیر په کچه ټینګې شوې. چې د۲۰۰۲ م کال د اکتوبر په ۲۹ مه د ښاغلي عبدالجلیل جمیلي له خوا د باورلیك په وړاندې کولو دغه اړیکې د سفارت کچې ته لوړې شوې.

د یادولو وړده چې په اوتاوا کې د افغانستان د سفارت د هڅو پر اساس د ۱۳۸۲ کال دوری په ۲۲ نیټه چې د ۲۰۰۳ م کال له

اپریل سره سمون خوري. په تورنتو کې د افغانستان جنرال قونسلګري پرانیستل شوه.

د ۲۰۰۳ م کال د جون په ۶ مه نیټه د کاناډا د بهرنیو چارو وزارت د(PSA ۰۰۸۱) ګڼه لیك په ترځ کې په کابل کې د هغه هیواد د سفارت د پرانیستلو په اړه د کاناډا تصمیم په ډاګه کړ او په دې اړه یې د افغانستان موافقه وغوښتله. په مقابل کې د ۱۰۱۰۱.د. په ۲۱-۳-۱۳۸۲ نیټه ددیپلو ماتیکو اړیکو په اړه د کاناډا تصمیم ګټور وګاڼه او د هغه ته یې مثبت ځواب ورکړ.

همدارنګه د ۲۰۰۳ کال دجون په لسمه نیټه د کاناډا د بهرنیو چارو وزارت ښاغلی الکساندر کرسترفر په کابل کې د هغه هیواد داستوګن سفیر په توګه معرفی کړ او د هغه د اګریمان د صادریدو غوښتنه یې وکړه چې بالاخره هغوی د ۲۰۰۳ م کال د سپتامبر په ۳مه نیټه خپل باورلیك د جلالتماب حامد کرزی حضورته وړاندې کړ.

د ۲۰۰۳ م کال د جون په یوولسمه نیټه د کاناډا د بهرنیو چارو، د فاع او نړیوالو مرستو وزیرانو CIDAدیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترځ کې، په کابل کې د هغه هیواد د سفارت پرانیستل، د ایساف په چوکاټ کې د(۱۸۰۰) تنو کاناډایی سر تیرو ګومارل او د هغه هیواد د(۲۵۰) میلیونو ډالرو مرستی ورکولو(برسیره پرهغو ۱۰۰ میلیونو ډالرو چې د توکیو په کنفرانس کې یې له افغانستان سره ژمنه شوې وه) - چې د کاناډا د مرستو په تاریخ کې له یوه هیواد سره د مرستې ډیره لوړه کچه ده - په رسمي توګه اعلام کړل.

د۲۰۰۳ م کال د جولای په ۲۳- ۲۴ نیټه چې د ۱۳۸۲ هـ ش کال د چنګاښ له دریمې نیټې سره سمون خوری، د کاناډا ددفاع

وزیر ښاغلی JohnMC Callum کابل ته د راتګ پرترخ کې د ۱۰۱۰۱ .د . له رئیس ښاغلي حامد کرزي، ددفاع وزیر مارشال محمد قسیم فهیم، د کورنیو چارو وزارت معین ښاغلی هلال الدین هلال سره وکتل. دکاناډا ددفاع وزیر ددې کتنو په ترخ کې په سیاسی او نظامي ډګرونو کې د کاناډا د کړو وړو (عمل) پر خپلواکۍ ټینګار وکړ او په سیاسی ،نظامی او بشری ډګرونو کې یې په راتلونکي کې له افغانستان سره د هغه هیواد د یو میلیارډ ډالرو په شمول د مرستو ژمنه وکړه، چې پر دغې ژمنې کاناډا ته د۲۰۰۳ م کال د سپتامبر په ۲۷مه نیټه د ۱۰۱۰۱ .د. درئیس د سفرا ود ۲۰۰۳ کال د اکتوبر پر ۱۸ مه نیټه د کاناډا د صدراعظم ښاغلی جان کرستین دلیدنې په ترخ کې یو ځل بیا د کاناډا له خوا ټینګار وشو.

د (۱۳۸۲ کال د چنګاښ په ۱۳مه نیټه چې د ۲۰۰۳ م کال د جولای له څلورمې نیټې سره برابره ده د کاناډا لوی درستیز کابل ته راغی او په هغو مرستو یې چې د هغه هیواد ددفاع د وزیر له خوایې ژمنه شوې وه ټینګار وکړه.

په همدې توګه د کاناډا د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی Bill Graham د ۲۰۰۳ کال دسپتامبر په پنځمه نیټه د یوه یوورځنی سفر په ترخ کې، په داسې حال کې چې د بهرنیو چارو وزیر ډاکتر عبدالله، د سوداګرۍ وزیر سید مصطفی کاظمی، په کابل کې د هغه هیواد د سفارت په مقر کې حاضروو، د کاناډا د بیرغ په جیګولو یې رسماً د هغه هیواد سفارت پرانیست، دسوداګرۍ له وزیر سره یې د هغه تفاهم یاد داشت چې د هغه پر بنسټ به کاناډا د افغانستان د نساجۍ د سامان آلاتو ګمرکی معافیت منلی و- د سوداګرۍ له وزیر ښاغلی کاظمی سره لاسلیک کړ.

کاناډا په نړیوال ډګر کې:

په وروستیو کلونو کې چې په نړۍ کې د یادونې وړ سیاسي، ټولنیز او اقتصادي بدلونونه تر سترګو کیږي، کاناډا د سولې، دموکراسۍ او حقوقي قوانینو ددودولو په برخه کې مهم نقش لوبولی دی. له ۱۹۴۵ کال څخه را په دیخوا دا هیواد د نړۍ د هیوادونو په یوه خورا بډای هیواد اوښتی دی او وګړي یې د ژوند له غوره معیا رونو څخه برخمن دي.

کاناډا د سړې جګړې پر مهال د بهرنی سیا ست په ډګر کې له غیر کمونستو قدرتونو سره موتلف او د شمال اتلانتیك د سازمان تړون ته یې دځواکونو په استولو کې په خپل وار ونډه اخیستې ده. کا ناډا زیاتره خپل نظامي ځواك تر هر څه وړاندې په ټوله نړۍ کې ددې ټولنې په خاطر سوله ساتو دندو او ماموریتونو نه ځانګړې کړي دي.

د کاناډا د بهرنیو چارو او نړیوالې سودا ګرۍ وزارت د کاناډا د نړیوالو اړیکو مسوول دی. دپرلپسې کلونو په ترځ کې ددې دیپارټمنټ نقش بدلون موندلی دی.

همدا اوس بهرنۍ سیاست، سوداګریز سیاست او د هغو لوړتیا، قونسلي مرستې او خدمتونه ددې وزارت پر غاړه دي. د بهرنیو چارو دیپارتمنټ په ۱۹۰۹ کال کې تاسیس شو، د شلمې پیړۍ له وروستیو وختو څخه یې د کاناډا او نورو هېوادونو تر منځ مستقل دیپلوماټیك اړیکي ټینګ کړل. دکاناډا لومړنی سفارت په ۱۹۲۷ م کال په واشنګټن کې جوړشو او په ۱۹۹۳ م کال کې یې په ټوله نړۍ کې د دیپلوماتیکو او قونسلی نماینده ګیو شمیر له (۱۰۰) څخه واوښت.

په ۱۹۸۲م کال کې دکا ناډا د سوداګرۍ د کميسون د ستګاه د بهرنيو چارو دديپارټمنټ يوه برخه شوه اوله همدې نيتې را په ديخوا يې د بهرنيو هيوادونو او نړيوالو سازمانونو ترمنځ چې پرتجارت نفوذ لري - دکاناډا د بهرنيو چارو او نړيوالې سوداګرۍ تماس ټينګ کړی دی.

دکاناډا دولتي نظام:

د کاناډا دولت فدرالي دی او تر ۱۹۸۲ م کاله پورې يې دولتي نظام فدرال او ايا لاتو يې(د شمالي امريکا د انګليس دقانون) پر بنسټ عمل کاوه. سره له دې چې د انګلستان د ملکې رسمي استازي اوس هم د کاناډا په دولت کې شته دي خو د ۱۹۸۲ م کال د اساسی قانون پربنسټ د وروستی ځل لپاره په کاناډا کې د انګريزانو شته والي ته د پای ټکی کيښودل شو. په فدرال دولت کې د ملکې استازی ګورنر جنرال دی، چې د فدرالي کابينې په سپارښتنه ټاکل کيږي. د ايالت د ګورنر مرستيال، د اکثريت د ګوند مشر دايالت د لومړی وزير په توګه انتخابوي. د ايالت لومړی وزير خپله کابينه د قانون جوړولو د ټولنې له منتخبو غړو څخه ټاکي، له هغوي سره د سياست جوړولو شورا تشکيلوي. د وزيرانو د کابينې شمېر له ۲۰- ۳۰ تنو دی. د هر ايالت د قانون جوړولو د ټولنې استازي د خلکو له خوا د پنځو کالو لپاره انتخابيږي.

نیکارا ګوا

جغرافیایي موقعیت:

نیکارا ګوله مکسیکو څخه وروسته د مرکزي امریکا خورا لوی هیواد دی، چې له امریکا سره د ګاونډیتوب له امله یو حساس وضعیت لري.

نیکارا ګوا د شمال له خوا د هاندوراس او السلوادور له هیوادونو، د ختیځ له لوری د کارایب له سیند (د اتلس سمندر)، د جنوب پلوته له کوستاریکا او د لویدیځ له لوري له آرام سمندر سره نښتي ده.

اوبه او هوایې استوایی دي هوایې په لوړو سیمو کې ښکلې او په زړه پوري ده خو په نورو سیمو کې توده، لنده (مرطوبه) او با رانې ده. د اوبو او هوا په لحاظ دوه فصله لري: یویې لوند (مرطوب) او بل یې تود او وچ دی.

مهم ښارونه یې: لیون، ګرا نادا، ماسایا، خنید نګار ... او نور دي.

مهم بندرونه يي: ساندينو، کوانتيو، سن خوزه او دلی مور دي.

سياسي نظام:

ددې هيواد نوی اساسی قانون په ۱۹۸۷ م کال کې تصويب شو. د اجرائيه قوې په سرکې يې جمهور رئيس دی، چې د حکومت او د ټولو قوتونو او د ملي امنيت د ځواکونو لوی قوماندان هم دی. جمهور رئيس د خلکو له خوا ټاکل کېږی او حکومت جوړوي.

د قضائيه قوې په سرکې ستره محکمه ده چې له(۷) قاضيانو څخه جوړه ده. او دنده يې د عدالت د ترسره کولو مستقيمه سازما ندهي ده.

مقننه قوه:

د خلکو د منتخبو نماينده ګانو مجلس د قانون جوړولو دنده پر غاړه لري، ملی مجلس(۹۵) تنه غړي لري چې د خلکو په پټو او مستقيمو رايو ټاکل کيږي.

عمومي اطلاعات:

په ۱۹۹۳ م کال کې د نيکاراګوا دوګړو شمير ۴۲۴۴۰۰۰ تنه وو، چې په هر مربع کيلو مترکې ۲۹۰۶ تنه ژوند کاوه، او سيدونکي يې دمستيزو، سپينو، تورو، تامرانيدين له توکمونو څخه دي چې د دريو قومونو له اختلاط څخه متشکل دي.

بومي، اروپايي او افريقايی.

په هيوا کې مروج مذهب مسيحيت دی چې په سلو کې يې ۹۳ اوسيدونکي د رومن کاتوليك پيروان دي. د پروتستان مذهب هم په کې دوددی خو په سلو کې ډير لږ پيروان لري.

ددې هیواد ملي جشنونه عبارت دي له: ددومنګوی سپیڅلی جشن د اګست له لومړۍ نیټې څخه تر اتلسمې نیټې، آسمان ته د بي بي مریمی د معراج جشن د اګست له ۱۴ نه تر دیرشمې، رخصتۍ او رسمي اخترونه یې عبارت دي له: د می لومړۍ د کارګر نړیواله ورځ، د جولای ۱۹ مه د آزادۍ ورځ، دد سامبر ۷مه د حضرت عیسی تعادل، ددسامبر ۲۵ مه کرسمس، د جنورۍ لومړۍ نیټه د نوي کال لومړۍ ورځ، دې هیواد. د ۱۹۳۸ م کال د سپتامبر په ۱۵ مه چې د سنبلې له ۲۵ مې سره برابره ده خپله خپلواکي ترلاسه کړه، چې په دې ملی ورځ عمومي رخصتي ده.

د هیواد بیرغ درې افقي سطحې لري چې آبي، سپین ،آبی - له ملی نښان سره په وسط کې، ملی سرود درود پرتانیکارا ګوا.

د نیکاراګوا په سلو کې ۹۶ وګړي په اسپانوي ژبه خبرې کوي او ۴ په سلو کې په بومي ژبو: میسکیتو او کا رایبی او په محدوده توګه له انګلیسی ژبې څخه هم استفاده کیږي. لاتینی لیك د هیواد رسمي لیك دی.

اقتصادي نظام:

د نیکاراګوا اقتصاد مختلط(دولتي او خصوصی) دی چې زیاتره په کرهڼه ولاړ دی. د کرنیزو محصولاتو صادرول د هیواد اصلي عاید تامینوي. صنعت په اوسنۍ معنی په نیکاراګواکې له هرډول پرمختګ څخه بې برخې دی. د سرو او سپینو زرو مهم کانونه لری خو نشی کولی چې ددې هیواد په اقتصاد کې مهم نقش ولوبوي.

بهرنۍ اړیکې:

د نیکاراګوا د بهرني سیا ست اصول او بنسټونه د اساسي قانون پر اساس د نه ژمنتیا پر اصل په سوله او د نړۍ د ټولو

هیوادونو حاکمیت ته په درناوي ولاړ دی او د هر ډول تبعیض په وړاندې دریږي: سوله ایز ژوند، له بې وسلې کولو څخه ملاتړ، دهسته يي او تسلیحاتی مسابقو درول، د مختلفو سیاسي اهدافو په رڼاکې له هیوادونو سره د اړیکو پراختیا، په امریکا کې د سولې په خاطر هلې ځلې، د مرکزي امریکا د هیوادونو د اتحاد د ملاتړ او دسیمې له هیوا دونو سره د سیاسي، ټولنیزو او اقتصادی اړیکو پراختیا، ددې هیواد د بهرنی سیاست له اصولو څخه دی.

تاریخچه:

تاریخي پسمنظر:

د اسپانیا له ښکیلاك څخه دمخه یې په سلو کې ۹۳ او سیدونکی سره پوستان وو چې د نیکاراګوا اصلي اوسیدونکي ګڼل کیږي. د اسپانیا یرغل او د کارایب له سیند څخه د تورپوستانو له تیریدو وروسته د درې بومي، اروپایي او افریقایي قومونو له اختلاط څخه توکمیزو او قومي ریښو تشکل ومونډ.

په ۱۵۰۲ م کال کې کرستیف کلمب دنیکارا ګوا ختیځې څنډې کشف کړې. د هغې نورې سیمې په ۱۵۱۹ م کال کې د ژبل ګوتزالتس د رومیدر له خوا کشف شوې. په ۱۵۲۲ م کال کې لومړنی اسپانیایی ډله نیکا را ګوا ته ورسیده او د فیوډالي ټولنې بنسټ یې کیښود. په ۱۵۲۴ م کال کې د کور دوبا په مشرۍ د کډوالو یوې ډلې د هیواد په لویدیځ کې د ګرانادا او لیون د ښارونو بنسټ کیښود، د سور پوستانو مقاومت یې مات او د هیواد د سروزرو پر منابعو او انساني ځواکونو یې لاسبری ومونډ.

له افغانستان سره اړيکې:

ددواړو هيوادونو ترمنځ سيا سي اړيکې د ۱۹۸۳ م کال د مارچ په ۱۲ مه نيټه په ډيلي کې ديوې اعلاميې په خپرولو رسماً پيل شوې او د هغې پر بنسټ په ها وناکې دداړو هيوادونو سفارتونو ته د اړوندو چا رو او ددواړو هيوادونو د اړيکو د ټينګيدو په منظور دنده ورکړه شوه، همدارنګه د ۱۹۸۳ م کال په اپريل کې ددواړو هيوادونو ترمنځ د مرستې او همکارۍ لومړنی پروتوکول لاسليك شو. افغانستان او نيکارا ګوا په بين المللي ټولنو کې، په ځانګړې توګه د ناپييلتوب په غورځنګ کې يوله بل سره مرسته کړې ده.

په هاوانا کې د افغانستان سفارت او په کابل کې د کيو با سفارت د متقابلو اړيکو چارې پرمخ بيايي.

د۱۳۶۵ کال د لړم په ۱۲مه نيټه د نور احمد نور په مشرۍ يو پلاوی د نيکارا ګوا د ملي‌خپلواکۍ د ۲۵ مې کاليزې په مراسمو کې د ګډون په منظور نيکاراګواته تللی و.

ونزويلا (Venezuela)

پلازمينه : کارا کاس.

دولتی ژبه: اسپانوي

مذهب: مسيحی کاتوليك

دوګړو شمير: ۲۳۹۱۶۸۱۰ تنه.

د حکومت بڼه : جمهوري

ملي ورځ : د جولای پنځمه.

مساحت : ۳۴۰۲۰۰ مربع کيلومتره .

تاريخي پسمنظر:

کريستف کلمب په ۱۴۹۸ م کال کې خپل درېيم سفر پيل کړ چې په ترځ کې يې امريکا ته ورسيد. په ۱۴۹۹ م کال کې د او جيدا په نوم يو بل سړی دې سيمې ته ورسيد او هغه يې د ونزويلا په نوم ونوموله.

ویزویلا لومړنی هیواد دی چې په ۱۸۱۰ م کال کې یې د اسپانیایانو په وړاندې پاڅون وکړ او تر ۱۸۲۰ م کاله یې له ځنډه پرته تر هغه جګړه وکړه چې خپله خپلواکي یې ترلاسه کړه.

جغرافیایي موقعیت:

ونزویلا له ۷۴ ټاپو ګانو څخه جوړه شوې ده. په اداري لحاظ په دوو قلمروونو او ۲۰ ایالتونو ویشل کیږي چې د امریکا د شمال دسترې برخې د کارابین د سیند پرڅنډو پرته ده.

د ونزویلا ختیځ ته ګیانا او برازیل، لویدیځ ته یې کولمبیا، د کارابین سیند او جنوب ته یې برازیل او کولمبیا پراته دي.

پلازمینه یې د کاراکاس بندر دی چې په ۲۰۰۲ میلادي کال کې ۳۲۴۷۰۰۰ تنو په کې ژوند کاوه. وینزویلا په څلورو حوزو ویشل کیږي:

- د مارا کایبو د سیند ګي ټیټې ځمکې.
- په شمال او شمال لویدیځ کې غرنۍ سیمه.
- په شمال کې د اورینو کو په وښوړ کې د ښتې.
- په جنوب او جنوب ختیځ کې لویې او پراخه ځنګلي سیمې.

-نړدې په سلو کې و ګړی یې په کرنیزو چارو بوخت دي. قهوه، وریجې، میوه او ګنی ددې هیواد له مهمو کرنیزو محصولاتو څخه ګڼل کیږي، دا هیواد د معدنې منابعو له حیثه د اهمیت وړ دی چې په دې ترڅ کې د نفتو، اوسپنې او سروزرو زیرمې یادولی شو. ونزو یلا په نړۍ کې د تیلو پنځم تولید وونکی هیواد دی.

په ونزویلا کې نفتی، نساجی، کاغذ، بوټانو او داسې نورو ماشیني تولیداتو پراختیا موندلې ده. د ژووروزنه او کب نیونه هم په دې هیواد کې اهمیت لري.

د ونزویلا جمهوریت ۹۱۲۰۵۰ مربع کیلو متره مساحت لري. په ۲۰۰۲ م کال کې یې دوګړو شمیر ۱۹۲۴۰۰۰ تنوته رسیده چې ۹۶ په سلو کې د کاتولیك مذهب پیروان دی او په اسپانوي ژبه خبرې کوي او بیلا بیل توکمونه پکې شامل دي. ۶۹ په سلو کې سپین پوستي، ۲۰ په سلو کې تور پوستي، ۹ په سلو کې ۰۰۰ او ۲ په سلو کې سور پوستي. ددې هیواد صادرات عبارت دي له: نفتو، تیرو او قهوې څخه ، ددې په عکس ماشین آلات، کیمیاوي او استهلاکي مواد وارد وي.

په ونزویلا کې د پخو سړکونو یوه پراخه شبکه جوړه شوې او زیات شمیر سمندري بندرونه لري. په سلو کې له ۸۸ څخه زیات وګړي یې لوستي(با سواده) دي او پولي واحد یې بولیوار دی.

له افغانستان سره سیاسی اړیکې:

د ملګرو ملتو په سازمان کې د افغانستان دوخت سفیراو دایمی استازي نور احمد نور او د ملګرو ملتو په سازمان کې دونزویلا دایمی استازي او سفیر اندریاس اګولیا ر د ډیپلو ماتیکو اړیکو د پیل کیدو په منظور دیوې ګډ ې اعلامیې متن لاسلیك کړ.

ددغې ګډې اعلامیې په یوه برخه راغلی دي: د افغانستان او ونزویلا حکومتونه د ملګرو ملتو په منشورکې ددرج شو وا صولو په رڼا کې د نړیوالو عمومی حقوقو پر بنسټ د دوستانه اړیکو د پراختیا او ګټورې همکارۍ لپاره په تیره بیا د نړۍ د ملتونو ترمنځ د تساوي د اصولو په پیروۍ، خپلواکۍ، ملی حاکمیت، ځمکني تمامیت، د یو بل په چارو کې نه لاسوهنې ته د متقابل احترام په اړه پریکړه وکړه ترڅود ۱۹۹۰ م کال د اکتوبر په لسمه نیټه یې د سفیرانو په کچه سیا سی اړیکې ټینګې کړې.

یورو ګوای Uruguay

پلازمینه : مونټ وریدو

دولتی ژبه: اسپانوي

مذهب : رومن کاتولیك .

دوګړو شمیر: ۳۳۶۰۱۰۵ تنه

مساحت : ۱۷۷۵۰۸ مربع کیلو متره .

پولی واحد : پیزو

جغرا فیایي موقعیت:

یورو ګوای ۱۷۷۵۰۸ کیلو متره مساحت لری، د غه هیواد د برازیل په جنوب، د ارجنتاین په ختیځ، دریودو لاپلاتا د خلیج په شمال او د ۱۹۳ کیلو مترو په اوږدوالي د اتلس د سمندر په غاړه پروت دی. ددې هیواد زیاته خاوره د لږ ارتفاع لرونکو نا حیو او هوارو سیمو پوښلې ده او له جغرافیایي پلوه د جنوبی امریکا له خورا تیټو هیوادو څخه ګڼل کیږي. مشهور سیندونه یی عبارت

دي له: یوروګوای او ریودو پلاټا. دیورو ګوای‌اوبه او هوا معتدله ،لنده او باراني ده. وګړي يې د کاتولیك مذهب پیروان دي. رسمي ژبه يې اسپانوي ده. ددې هیواد پلازمینه مونت وریدو ده او سالتو، کولونیا او پا بسا ندو يې له مهمو ښاروڅخه دي.

د حکومت بڼه يې جمهوري ده په ۱۹۷۳ م کال کې په دې هیواد کې د سیاسي ګوندونو فعالیتونه بند شول.

یورو ګوای د لومړي ځل لپاره په او وه لسمه پیړۍ کې د پرتګالیانو له خوا کشف شو. دوی په ۱۶۸۰ م کال کې د کولونیا دښار بنسټ کیښود. وروسته اسپانویانو هم دې هیواد ته لار وموندله اود مونتو ویدو ښاریې جوړکړ. په ۱۹۳۰ م کال کې یورو ګوای خپله خپلواکي تر لاسه کړه او دغه هېواد د ملګرو ملتو د سازمان په غړیتوب ومنل شو.

نساجی صنایع، کیمیاوي، ساختماني او غذایي مواد، د غوښې کنسروا ... په دې هیواد کې د اهمیت وړدي. څرمن، غنم، اوربشې، جودر، او وریجې د دې هیواد له مهمو محصولاتو څخه ګڼل کیږي.

یورو ګوای د امریکا له متحده ایالاتو ،برازیل اوارجنتاین سره نږدې سودا ګریزې اړیکې لري. اومه مواد، د سونګ مواد، ماشین آلات، اوسپنه او پولاد، درمل، نفت، برقي وسایل او موټر له دې هیوادونو څخه واردوي او په بدل کې يې دې هیوادونو ته پنبه، څرمن، غوښه، غذایي مواد، لبنیات،مواشي او میوه صادر وي.

له افغانستان سره سیاسي اړیکې:

افغانستان د ملګرو ملتو په سازمان کې دیوروګوای له استازي سره د پرله پسې خبرو اترو په پایله کې بالاخره یو ګډه

اعلامیه لاسلیك کړه، چې په یوه برخه کې یې راغلي دي: د افغانستان او یورو ګوای حکومتونه د یو بل متفاوتو نظامونو ته د درناوي او ددوستانه اړیکو دودې په هیله د ملګرو ملتو د منشور له مفاد سره سم مجدداً ددولتونو ترمنځ د همکارۍ او دوستانه اړیکو په منظور د بین المللی حقوقو پرژمنتیا ټینګار کوي.

داعلامیې د لاسلیك نیټه: د ۱۹۹۰ م کال د اکتوبر ۴مه، چې د ۱۳۷۰ هـ ش کال دغویې له ۲۴ مې سره برابره ده.

د افغانستان دوخت دبهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل او د ملګرو ملتو په سازمان کې د یورو ګوای سفیر او دایمی استازی هیکتور کراس آسپایل، ددی اعلامیې په پای کې لاسلیك کړی دی. د افغانستان اویورو ګوای ترمنځ دیپلوماتیکې اړیکې په نړۍ کې د قدرت د دوو اساسي اهرامونو موجودیت ته په پاملرنه او د ساړه جنګ له قهره ډکې فضا، لکه د مرکزي او لاتیني امریکا د نورو دولتونو په څېر په نړیوالو محافلو کې دوقفه یې لیدنو کتنو او د بیلا بیلو مناسبتونو په اړه د پیغامونو په لیږلو را لیږلو ولاړې دي.

کولمبیا COLOMBiA

پلازمینه : بوګاتا .

دولتي ژبه: اسپانوي.

مذهب : مسیحی کاتولیك .

دوګړو شمېر: ۴۰۳۴۹۳۸۸ تنه .

د حکومت بڼه : جمهوري.

پولي واحد : پیسو.

جغرافیايي موقعیت:

کولمبیا په شمال لویدیځ کې له ونزویلا ، په شمال ختیځ کې له پاناما، په ختیځ کې له برازیل او په جنوب کې له پیرو اواکوا دور سره هم سرحده ده دا هیواد د امریکا په شمال لویدیځ، د اتلس د سمندر او کارابین د سیند پرڅنډو پروت دی. ددې هیواد لویدیځ خواته د انديز غرونه چې له شمال څخه د جنوب لورته د

اکوا دورتر پولې غځېدلې دي او د کولمبیا ختیځ ته هوارې ځمکې او له ځنګلونو ډکې دښتې پرتې دي چې دامازون او اورنیکو د سیندونو په واسطه خړوبېږي. په دې ځنګلونو کې سره پوستي قبایل ژوند کوي، په داسې حال کې چې د کولمبیا زیاتره اوسېدونکي په ختیځو حاصلخېزو درو کې ژوند کوي. بوګاتا ددې هېواد پلازمېنه ده چې ۲۰۰۲ میلادي کال په کې ۳۲۶۷ تنو ژوند کاوه. مشهور ښارونه یې عبارت دي له: سين چې ۱۶۶۴۰۰۰ وګړي لري او کالي چې ۱۴۵۰۰۰۰ تنه وګړي په کې اوسي. ۵۸ په سلو کې وګړي یې له مختلفو توکمونو څخه دي چې په سلو کې ۲۰ یې سپین پوستي او ۱۴ نور په سلو کې په مختلفو تورو او سپینو توکمونو سره بېل شوي دي. ددې هېواد زیات وګړي په کرنیزو چارو بوخت دي.

تولیدات:

ددې هېواد عمده کرنیز تولیدات: قهوه، وریجې، جوار ګنې، پنبه او کېلې دي. کولمبیا د معدني منابعو له حیثه هم بډایه ده. په هغې کې د نفتو، ګازو، سروزرو، سربو، سکرو، نکلو، مالګې او زیر مې شته دي. د نړۍ په سلوکې ۹ زمرد له همدې هېواد څخه لاس ته راځي. په کولمبیا کې ماشیني صنایع لکه نساجي، پروسس شوو موادو، څرمنې، او سپنې او پولادو، سمنټو او کیمیاوي موادو پر مختګ کړی دی.

د آمازون د سیند د شاوخوا مناظرو د دننداري لپاره د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه هر کال یو شمېر ګرځندویان دې هېواد ته راځي.

کولمبیا ۱۱۴۱۷۴ مربع کیلو متره پراختیا لري. چې په ۱۹۹۸ کال کې ۳۷۸۲۱۰۰۰ تنو وګړو ژوند په کې کاوه، چې ټول د کاتولیك مذهب پیروان او په اسپا نوي ژبه خبرې کوي.

صادرات:

د کولمبیا صادرات عبارت دي له قهوې - چې د هیواد د صادراتو په سلو کې ۵۰ جوړوي، نفتو، پنبې، تنباکو او نساجي توکرانو څخه.

واردات:

ددې هیواد واردات عبارت دي له: فلزاتو، فلزي صنایعو، ترانسپورتي وسایلو او دا سې نورو څخه.

د کولمبیا جمهوریت (۲۳) حوزې لري او په سلوکې د ۸۰ په شاوخوا کې وګړي یې لوستي(باسواده) دي.

په کولمبیا کې له میلاد څخه پنځه زره کاله وړاندې سره پوستان او سیدل. په(۱۵۳۰ مو) میلادي کلونو کې اسپانو یانو د سور پو ستو سلطنت رنګ کړ او د هغو په عوض یې درې سوه کاله پردې هیواد واکمني وچلوله. کولمبیا په ۱۸۱۹م کال کې دیوه خپلواك هیواد په توګه و پیژندل شوه.

له افغانستان سره سیا سي اړیکې:

د ملګرو ملتو په سازمان کې د افغانستان دایمي استازي نور احمد نور او د کولمبیا دایمي استازي انریکو پینولسا په(۱۹۹۰ م کال د نیویارك په ښار کې د کولمبیا د جمهوریت د نماینده ګۍ په استوګنځی کې د دیپلوماتیکو اړیکو د ټینګښت او ددواړو

هیواد و د خلکو ترمنځ د ګټورې همکارۍ او دوستۍ سره د مینې په منظور یوه ګډه اعلامیه لاسلیک کړه او د نا استوګنو سفیرانو په کچه دیپلوماتیکې اړیکې ټینګې شوې.

په هوانا کې د افغانستان سفارت او په ډیلي کې د کولمبیا سفارت په ترتیب سره د خپلو هیوادونو استازیتوب کاوه. د کولمبیا حکومت د ۱۹۹۰ م کال د جولای په ۱۷ مه نیټه د ملګرو ملتو په سازمان کې د افغانستان ددایمي نما ینده ګۍ له لارې په نیویارک کې د افغانستان پلاوي ته بلنه ورکړه څو دهغه، هیواد د نوي جمهور رئیس د کار د پیل کیدو په مراسمو کې چې دهمدغه کال د اګست په ۷مه د هغه هیواد په پلازمینه کې دایر شول ګډون وکړي.

د۱۹۸۴ کال ددسمبر په یوولسمه نیټه د چین د سینهواد خبر رسولو اجانس تر" د افغاني مقاومت له غورځنګ سره د کولمبیا د هیواد د پیوستون د اوونۍ اعلام" سرلیك لاندې یو مطلب خپورکړ، د سینهوا آژانس دوینا له پر اساس ددې اوونۍ په اوږدوکې د بوګاتا او نورو ښارونو په لسګونو زره او سیدونکی د سیاسي ګوندونو، د کانګرس د غړو، د مطبوعاتي او فرهنګي شخصیتونو دیوزیات شمیرفعالانو په شمول واټونو ته راووتل، په داسې حال کې چې له افغانستان سره یې خپل ملاتړ او پیوستون په ډاګه کړ او د پخواني شوروی د یرغل په وړاندې یې احتجاج وکړ. باید وویل شي چې ددواړو هیوادو په اړیکو کې د پاملرنې وړپیښی نه دي رامنځ ته شوي او یوازې ددواړو هیوادونو ترمنځ په نړیوالو محافلو کې په لیدنو کتنو او د بیلا بیلو مناسبتونو په اړه د پیغامونو په تبادله ولاړې دي.

مکسیکو (مکزیک) MEXICO

پلازمینه : د مکسیکو ښار.
دولتي ژبه: اسپانوي.
مذهب: په سلو کې ۸۹ رومن کاتولیك.
د وګړو شمیر: ۱۰۱۸۷۹۱۷۱
دولتي نظام : فدرالي جمهوریت.
پولي واحد: پیزو .
مساحت: ۷۴۱۶۰۰ مربه کیلو متره.

جغرافیایي موقعیت او ځانګړتیاوې:

مکسیکو په مرکزي امریکا کې د متحده ایالاتو په جنوب د واتیما لا په شمال د مکسیکو د خلیج او آرام سمندر په څنډو کې پروت دی. مکسیکو یو غرنی هیواد دی، چې د غرونو دوه مشهوري لړۍ لري، یوه د مکسیکو د خلیج په څنډو کې ختیځ سیرامدیرای او بله لویدیځ سرامدیرای، د آرام سمندر په څنډو

کې پرته ده. د غرونو د غه لړۍ له شمال لويديځې خوا څخه جنوب ختيځ لورته غځيږي او د مکسيکو د ښار په جنوب کې سره يوځای کيږي.

د غرونو په دې دوولړيو کې يوه لوړه وچه سطحه پرته ده چې د جنوب لورته يې لوړوالی زياتيږي. په عام ډول په سلوکې ۴۵ ددې هيواد ساحه له وچو ځمکو څخه جوړه شوې ده. مکسيکو په ساحلي سيمو کې تود او لوند، په دا خلی سيمو کې وچ او تود اقليم لري او په لوړو برخو کې ښکلې او په زړه پورې اوبه او هوا لري.

د مکسيکو د فدرالي هيواد پراختيا ۱۹۷۲۵۴۷ مربع کيلو متره ده. په ۱۹۸۹ م کال کې يې دوګړو شمير ۸۸۰۸۷۰۰۰ دي چې ټول د کاتوليك مذهب پيروان او په اسپانوی او سيمه ايزو ژبو خبرې کوي.

دمکسيکو حکومت کلونه کلونه د سب کمونډ انتی مارکوس په مشرۍ د چياپاس په ايالت کې له خپلو بومي وګړو سره په جګړه او تاوتريخوالي اخته وو، چې تير کال مارکوس ته وفادارو بومي توکمه اړو دوړ کوونکو له کلونو کلونو تاوتريخوالی وروسته بالاخره د هغه هيواد له حکومتی مقاماتو سره د سولې د شرايطو د موافقی په ترڅ کې روغه جوړه وکړه.

د تو کم له مخې د مکسيکو وګړي په سلو کې ۶۰ له ګډ ياسره او سپين توکمه، په سلو کې ۲۹ سره پوستان او ۹ په سلو کې سپين پوستان دي.

مکسيکو پريمانه کرنيزې او معدنی سر چينې لري. زياتره وګړي يې د بزرګرۍ، ژوو د روزنې او کب نيولو په چارو بوخت دي.

عمده کرنیز محصولات یې عبارت دي له. پنبې، قهوې، ګنیو، سبو او جوار وڅخه. د معدني سرچینو له مخې هم ځانګړې اهمیت لري او د سپینو زرو، سربو، جستو، سروزرو، نفتو او طبیعي ګاز لویې زیرمې لري. په ځانګړې توګه د نفتو تولید د ددې هیواد په اقتصاد کې ستر او اساسي نقش لري. په وروستیو کلونو کې ماشیني صنعت لکه: د اوسپنې او پولادو، کیمیاوي موادو، برقي وسایلو، نساجي، ربړ، نفتو او همدارنګه ګرځندوی(توریزم) په دې هیواد کې پرمختګ کړی دی.

مکسیکو نفت، سلفر، پنبه، بوره او قهوه صادروي او ماشین آلات، ترانسپورټي وسایل اولګښتي سامانونه(کالا) و اردوي.

د مکسیکو جمهوریت یوه فدرالي سیمه او ۳۱ ایالتونه لري. ددې هیواد پلازمینه د مکسیکو ښار دی چې په ۲۰۰۲ م کال کې یې دوګړو شمیر ۲۵ میلیونو ته رسیده، نورښارونه یې دادي: ګوادلاجارا(چې دري میلیونه اوسیدونکي لري) اومونتیري.

د مکسیکو پولي واحد پیزو دی. په سلو کې یې ۹۲ وګړې لوستی(باسواده) دي.

تاریخي پسمنظر:

دسپین پو ستو له ورتګ څخه دمخه په مکسیکو کې بیلا بیل قبایلو: سره پوستانو لکه مایا، تولیتك اوازتکانو ژوند کاوه. دوی په دې سیمه کې یو ستر تمدن رامنځ ته کړی و او د بزګري په چارو بلدو.

ډیر هرمونه یې جوړ کړل او خپل کلیز (تقویم) یې هم رامنځ ته کړ. په ۱۵۱۷ م کال کې اروپایي سپین پوستان د پانګې(ثروت) د لټولو په منظور دې هیواد ته ننوتل او د ۱۵۱۹ ۱۵۲۱ کلونو

په ترڅ کې يې د (ازتکانو) امپراتوري رنګه کړه. په دې توګه اسپانويانو درې سوه کاله پر دې هيواد حکومت وکړ. د خلکو له اوږدو مبارزو وروسته، په ۱۸۲۱م کال کې د مکسيکو خپلواکي په رسميت و پيژندل شوه.

له افغانستان سره سياسي اړيکې:

ددواړو هيوادونو ترمنځ د ۱۹۶۱ م کال د جون پر ۲۸ مه نيټه د نا استوګن لوی سفارت په کچه ديپلو ماتيکې اړيکې ټينګې شوې. په واشنګټن کې افغانی سفارت په مکسيکو کې دهيواد ديپلوماټيك ممثليت او په ترتيب سره په ډيلی کې د مکسيکو سفارت دغه مسووليت په غاړه درلود.

په ډيلي کې د مکسيکو سفارت د ۱۳۴۹ هـ ش کال د تلې د مياشتې په ۲۲مه نيټه د هغه هيواد د جمهور رئيس د کارد پيل په مراسمو کې د ګډون لپاره يوه افغاني هيات ته بلنه ورکړه چې د يو لړستونزو له امله په دې مراسمو کې د افغانی پلاوي د ګډون په اړه ديوه رسمی ياد داشت په ترڅ کې معذرت وغوښتل شو. خود ۱۹۷۶ م کال د دسامبر په لومړۍ نېټه په واشنګټن کې افغاني سفير ښاغلي عبدالله ملکيار د افغانستان د ځانګړي استازي په توګه د مکسيکو په ښار کې د ډاکتر هوزي لويز پورتيلو د جمهوري رياست د دورې دپيل کيدو په مراسمو کې ګډون وکړ.

دواړو خواوو په نړيوالو غونډوکې پردوه اړخيزو اړيکو برسيره د پيغامونو او اطلاعاتي موادو تبادله او کله يې هم په اقتصادي، سودا ګري او فرهنګی ډګرونو کې دهياتونو د تبادلې لپاره هڅه وکړه، خودوه ارخيزې اړيکو د لاټينګښت په برخه کې د نوو

امکاناتو ارزونه وکړي. خو د غه هڅه د غوبي د اوومې د کودتا او وریسي په افغانستان باندې د شوروی دیرغل په پایله کې له ناکامۍ سره مخامخ شوه. په هغوکلونو کې چې د وخت د شوروي پوځونه په افغانستان کې وو. مکسیکو په کابل کې د هغه وخت له حکومت سره کومه اړیکه نه لرله، خو له دې سره سره د هغو په وړاندې یې دهرډول نظر له ښکاره کولو څخه ډډه کوله. خو یوازې په افغانستان کې یې د بهرنیو ځواکونو د شته والي په اړه د ملګرو ملتو د سازمان پریکړه لیکونوته دمثبتې رایې ورکولو مخالفت وکړ.

د ۱۳۶۶ کال دوري په ۱۹ مه نیټه افغانستان هڅه وکړه څو د مرکزي امریکا له هیوادونو او په ځانګړې توګه له مکسیکو سره خپلې اړیکې پراخه کړي. په نوي ډیلی، واشنګټن اوهاوانا کې افغاني سفارتونو ته لارښوونه وشوه څو دمکسیکود هیواد له سفارتونو سره دنږدې مناسباتو او همیشنیو اړیکو د رامنځ ته کیدو په اړه د دوه اړخیزو اړیکو د ښه والي د مناسبا تو د لوړتیا په منظور هغه هیواد ته څرګنده کړي. د لاړمومدارکو دنشتوالی له امله داسې بریښي چې د غوهڅودیادونې وړ بریاوې نه درلودې.

ارجنتاین

جغرافیایي موقعیت:

ارجنتاین د ۱۸۱۰ م کال په نوامبر کې خپله خپلواکي ترلاسه کړه، ددې هیواد مساحت ۲۷۶۶۸۸۹ مربع کیلو متره ده چې په جنوبي کره کې په جنوبي امریکا کې پروت دی او د خاورې د پراختیا له مخې د امریکا له متحده ایالاتو، کاناډا او برازیل څخه وروسته ددې وچې څلورم هیواد دی.

ارجنتاین د شمال له خوا په برازیل، پاراګوای او پولویا، د ختیځ له لوري داتلس په سمندر اویو رو ګوای، د لویدیځ او جنوب له خوا په چیلي پورې نښتی دی چې زیاتره سرحدونه یې له ګاونډیو هیوادونو سره - پرته له بولویا طبیعی دی چې له غرونو، سیندونو او رودونو څخه جوړشوي دي.

د ارجنتاین دوګړو شمیر له ۳۷۳۸۴۸۱۶ تنو څخه زیات دی، چې له دې امله د نړۍ پنځه ویشتم هیواد دی. ددې هیواد پایتخت د بوینس ایرس ښار دی چې دلویوالی له مخې د نړۍ لسم

ښار ګڼل کيږي. د ارجنتاين په سلو کې ۹۵ وګړي لوستي دي او د هيواد رسمي ژبه اسپانوي يا په اصطلاح کې کاستا ژانو ده د ارجنتاين د خلکو د اکثريت مذهب مسيحي (کاتوليك) دی چې په عين حال کې د هيواد رسمي مذهب هم دی. همدارنګه په دې هيواد کې د نورو مذهبونو پيروان لکه د اسلام او يهوديت هم ژوند کوي.

د ارجنتاين اوبه او هوا په دې دليل چې د استواکرښې ته نږدې پروت دی په شمالي او جنوبي قطب کې ډيره متغيره ده چې د غه عامل ددی سبب شوی خوبې اوړی ډير تود او ژمي يې ډير سوړ وي.

ارجنتاين پريمانه لاس نا وهلي طبيعي منابع لري. خو د وروستيو کلونو اقتصادی بحران ددې هيواد د اقتصادی لارې دودې لوی خنډ ګڼل کيږی نو ځکه له همدې امله د ارجنتاين دولت په دې وروستيو وختوکې اقتصادی ريفورم او اصلاحات تر لاس لاندې نيولي دي چې دا کار تريوې اندازې اغيز من واقع شوی دی د ارجنتاين پولي واحد پيسو دی چې سل پيسو له يوه امريکايي ډالر سره برابر دي.

سياسي نظام:

د۱۸۵۳ م کال دا ساسي قانون پر بنسټ د هيواد نظام فدرالي دی چې له ۲۳ ايالاتو او درې قواوو: مقننې، اجرائيې او قضائيې څخه متشکل دی.

جمهور رئيس چې د درې ګونو قو اوو په سرکې دی له خپلو مرستيالانو سره يوځای د خلکو په مستقيمو رايو د څلورو کلونو لپاره ټاکل کيږي. جمهور رئيس د ټولو قواوو قوماندان دی. د

کابینې وزیران په خپله ټاکي. همدارنګه دیوې واکمنې مرجع په توګه د بهرنی سیاست ممثل دی. په بهر کې د سیاسی نمایندګیو د مسوولینو ټاکل او د نورو هیوادونو د سفیرانو د باورلیکونو منل او له نورو هیوادونو سره د تړونونو لاسلیك کول د هغه له واکونو څخه دي.

په ارجنتاین کې مقننه قوه له دوو مجلسونو: ولسي جرګې او دمشرانو جرګې څخه جوړه شوې ده چې شمیر یې د هیواد دوګړو په شمیر پورې اړه لري. د غه دوه مجلسونه اوس (۳۵۰) استازي لري چې له دې جملې څخه ۲۵۷ استازی په ولسي جرګې پورې اړوند دي او غړي یې دیوې څلور کلنی دورې لپاره ټاکل کیږی. د مشرانو جرګه ۴۸ تنه غړی لری چې له هرایالت څخه دوه سناتوران ټاکل کیږي، د سناتورانو د کار دوره څلور کاله ده، چې په هر ودریو کلونو کې یې له دریو څخه یوه برخه تجدیدیږي.

قضائیه قوه چې په سرکې یې ستره محکمه ده، له ۹ سترو قاضیانو څخه جوړه ده چې د جمهور رئیس په وړاندیز او د مشرانو جرګې له خوا منصوبیږي. د غه محکمه د کښته محکمو- چې په دوو برخو جزایی اوحقوقی ویشل کېږي- نظارت او څارنه کوی.

د ارجنتاین په تاریخ کې د سیاسي قدرت او اداري جوړښت په همیشنۍ توګه د پوځیانو دواکمنۍ پرمهال د کودتاو له لارې او د غیر پوځیانو په وخت کې د بیلا بیلو سیاسی ګوندونو او ډلو ترمنځ د سیاسی شخړو او سیالیو تراغیزې لاندې راغلی دی.

د سیاسی ګوندونو له ډلې څخه دوه ګوندونه: راډیکال او پرونیست، د هیواد ددوواصلی ګوندونو په توګه د سیاسی قدرت په تر لاسه کولو کې ستر نقش لری. سره له دې چې نورګوندونه

لکه: سوسیالیست ګوند، کمونیست ګوند او مرکزي د موکراتیکې اتحادیې هم موجودې دي.

بهرنۍ اړیکې او سیاست:

په ۱۹۸۹ م کال کې د کارلوس منم د دولت تر رامنځ ته کېدو د ارجنټاین بهرنۍ سیاست د سوله ایز ژوند پر بنسټ او له درېیمې نړۍ سره د ښو او حسنه اړیکو په لرلوو لاړو. د غه بهیر دلاتیني امریکا د هیوادونو په اړه، ددې هیواد هڅو ته په پاملرنه د مشرتابه د نقش په لوبولو یې په سیمه کې ځانګړې او لویت درلود. خو بیلا بیل عوامل باعث شول چې د اړیکو دټینګولو دغه تګلاره له لوېدیځو هیوادونو، د هغو په سرکې د امریکا له متحده ایالاتو سره بدلون ومومي، ځکه چې د منم د جمهوري ریاست په دوره کې د ارجنټاین په بهرنی سیاست کې ژور بدلونونه څرګند شول چې له پخوانه زیات د نړۍ له ځواکمنو صنعتي هیوادونو په تېره بیا د امریکا له متحده ایالاتو سره نږدې کېدو او له مختلفو اندولو او ددرېیمې نړۍ له هیوادونو څخه د لرې کېدو سبب شو.

د ارجنټاین د بهرنیو چارو وزیر، ګیدود تیلا د ۱۹۹۱ م کال په سپتامبر کې دیوې مسابقې او د باورنه وړ مرکې په ترڅ کې ددریمې نړۍ هیوادونو ته به خطاب کې، اعلام کړه: درېیمه نړۍ کیدل یو ډول سازوخیست کیدل ګڼل کېږي او ارجنټاین هڅه کوي چې له لومړۍ نړۍ سره یوځای شي، ځکه چې دوهمه نړۍ حذف شوې او ددریمې نړۍ ماهیت هم له یوې مخې بدلون موندلی دی.

ددې تر خواو تندو مواضعو له اعلام نه یوڅه وروسته، د ۱۹۹۱ م کال په دسامبر کې د ارجنټاین دمقاماتو له خوا له نا پیيلتوب څخه ددې هیواد وتل اعلام شول، چې دهغه په بهرنی سیاست کې یو نوی فصل راڅرګندشو. که څه هم په هغه وخت کې

د یادو شوو مقاماتو له خوا دغه اقدام د دوه قطبي نظام د بدلون او ناپېیلتوب د وجودي فلسفې تر پوښتنې لاندې نیولو په توګه توجیه شوه. خو اصلي موخه د لومړۍ نړۍ د هیوادونو خواته نږدې کېدل و، چې دغه کار ددې باعث شو ترڅو نن ورځ ارجنټاین د دریمې نړۍ له هیوادونو سره په مقایسه په خپل بهرنۍ سیاست کې د ګوتو په شمار څواکمنو هیوادونو په سرکې د امریکا متحده ایالاتو ته لومړیتوب ورکړی.

نا ویلې دې نه وي چې د ارجنټاین بهرنۍ اړیکې او سیاست هم لکه نورو هیوادو غوندې تل له داخلي عواملو څخه اغېزمن دی، چې په سرکې یې د هیواد د اقتصادي بحران، د بیلا بیلو خواو مختلفو او سیاسي ډلو نفوذ ، په ځانګړې توګه پر دې هیواد حاکم صهیونیزم اصلي نقش لري.

ارجنټاین د ټولو نړیوالو سازمانونو غړیتوب لری او له هماغه پیله یې هڅه کړې شوې دې سازمانونو په تیره بیا د ملګرو ملتو په سازمان او د امریکایی هیوادونو په سازمان کې مهم نقش ولوبوي.

د افغانستان او ارجنټاین ترمنځ سیاسي اړیکې:

ددواړو هیوادونو ترمنځ سیاسي اړیکې د طرفینو په موافقه، د ۱۹۶۰ م کال په جون کې په نا استوګنه بڼه پیل شوې، چې په هغه وخت کې په واشنګټن کی د افغانستان لوی سفیر محمد هاشم میوندوال د لومړني افغانی نا استوګن مختار وزیر په توګه خپل باورلیك په ارجنټاین کې د هغه وخت جمهور رئیس ته وړاندې کړ او د ارجنټاین له خوا په تهران کې د هغه هیواد استوګن سفیر په افغانستان کې د نااستوګن مختار وزیر په توګه خپل باورلیك د افغانستان پاچا ته وړاندې کړ.

څه وخت وروسته افغانستان د ارجنتاین د حکومت له دې وړاندیز سره چې دوه اړخیزې نماینده ګۍ دلوی سفارت کچې ته لوړې شي موافقه وکړه او د ۱۳۴۳ هـ ش کال د غبرګولې په یوولسمه نیټه چې د ۱۹۶۴ م کال د جون له لومړۍ نیټې سره سمون خوري په کابل او بونس آیرس کې ګډه اعلامیه خپره شوه او اړیکې د نا استوګنو سفیرانو کچې ته لوړې شوې چې په واشنګټن کې افغاني سفیر ښاغلي ډاکتر عبدالمجید او په تهران کې د ارجنتاین سفیر ښاغلي فریره سواهي ددواړو هیوادونو ترمنځ د لومړنیو نا استوګنو سفیرانو په توګه باورلیکونه وړاندې کړل.

په ۱۹۶۶ ۱۹۸۷ م کلونو کې ددواړو هیوادونو اړیکې په ټپه ولاړې وې. په ۱۹۷۹ م کال کې دوخت درژیم درئیس نور محمد تره کي له خوا د نوي میلادي کال په مناسبت د ارجنتاین د جمهور رئیس په نامه د مبارکۍ پیغام واستول شو چې په مقابل کې د مننې ځواب ترلاسه شو.

په ۱۹۸۳ م کال کې د ارجنتاین په بلنه یولوړ رتبه افغانی پلاوی راول ته د جمهوری ریا ست د مقام د سپارلو په مراسمو کې د ګډون په منظور د غه هیواد ته لاړ. دغه سفر د دواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو د فعالولو او ټینګولو زمینه برابره کړه خو دغه اړیکې ونه پالل شوې. د ۱۹۸۵ م کال په دسامبر کې د ارجنتاین د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان د وخت د بهرنیو چارو د وزیر شاه محمد دوست په نامه دیوه لیک په ترځ کې د ملګرو ملتود سازمان د ځلویښتمې عمومي اسامبلې له پریکړه لیک ۴۰، ۲۱ څخه د ملاتړ په منظور خپله خوښي څرګنده کړه.

له ۱۹۸۹ م کال څخه تر ۲۰۰۱ م پورې ددواړو هیوادونو اړیکې په ټپه ودریدې او ددواړو هیوادو ترمنځ هیڅ ډول اړیکې نه وې موجودې د ۲۰۰۱ م کال په دسامبرکې د لنډمهالې ادارې له جوړیدو سره سم چې د نړۍ زیاتره هیوادونو له افغانستان سره بیا خپلې اړیکې ټینګې کړې. د ارجنتاین له خوا ددواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو د بیا ټینګیدو په اړه هیڅ ډول علاقه ونه ښودل شوه،سره له دې چې د افغانستان د اسلامی انتقالی دولت د رئیس او د بهرنیو چارو د وزیر له خوا د جولای په ۹ مه نیټه دهغه هیواد د ملی ورځی په مناسبت د ارجنتاین د جمهور رئیس او بهرنیو چارو د وزیر په نامه هغه هیواد ته د مبارکۍ پیغام واستول شو چې په بشپړه توګه یو اړخیز و او له هغې نېټې څخه تراوسه د ارجنتاین له خوا د مختلفو اړیکو په اړه هیڅ ډول پیغام نه دی رارسیدلی.

د اتریش فدرالي جمهوریت

دهیواد نوم: اتریش Osterr eich

موقعیت: مرکزي اروپا

مساحت: ۸۳۸۵۸ مربع کیلو متره.

دوګړو شمېر: ۸۱۶۹۹۲۹ تنه (په سلو کې له ۹۰ څخه زیات وګړی یې اتریشیان دی. همدارنګه په دې هیواد کې کرووتان، سلووانیان، چکان او مجاریان هم ژوند کوی، د زیږېدنو کچه په سلو کې ۹،۶ او مړینې په سلو کې ۴،۴ او په هر مربع میل کې د اوسیدونکو شمیر ۲۵۲ تنه دی.)

پلازمینه: وین (ویانا)

دولتی ژبه: المانی (په سلو کې ۹۸)

د کارځواك: ۷،۳ میلیونه، له دې جملې څخه په سلوکې ۶۸ په خدماتی چارو، په سلو کې ۲۹ په صنایعو او مهارتونو او په سلوکې ۳ په ځنګلونو او کرنیزو چارو بوخت دي (د ۱۹۹۹ کال شمیرنې)

لوی تجارتی شریکان : اروپایی ټولنه، سویس، متحده ایالات او مجارستان .

تاریخچه:

د اتریش جمهوریت د ۱۹۱۸ م کال په نوامبر کې د اتریش ـ هنګری امپراتوری د ټوټې کیدو په پایله کې منځ ته راغی. د ۱۹۳۸ م کال په مارچ کې د فاشیستي آلمان ځواکونو اتریش ونیو. د ۱۹۴۹ م په اپریل کې ویانا او د اتریش دیادونې وړ برخه د پخواني شوروي لاس ته ورغله. له ۱۹۴۵م نه تر ۱۹۵۵ پورې په اتریش کې اشغالی رژیم واکمن و. اتریش دپخوانی شوروي، امریکا، انګلیس او فرانسې په اشغالی زونونو ویشل شوی و.

د ۱۹۵۵ م کال د می په میاشت کې د شوروی، د امریکا د متحده ایالاتو، دفرانسې او انګلستان استازو په ویانا کې د خپلواک او دموکراتیك اتریش ټینګښت او استقرار دولتي معاهده لاسلیك کړه.

د ۱۹۵۵ م کال په اکتوبر کې د اتریش پارلمان دهیواد د همیشنۍ بیطرفی قانون تصویب کړ. د اتریش ژمنې له دولتي معاهدې او ددایمي بیطرفی له وضعیت سره سمې ومنل شوې چې دا ژمنې د اتریش د بهرنی سیاست بنسټ جوړوي.

اتریش فدراتیف جمهوریت دی او له ۹ ولایتونو(سیمو) څخه جوړ دی. ویاناهم دحقوقو په لرلو په دې ډله کې شامل دی، ولایتونه خپل اساسی قانون، پارلمان او حکومت لري. فدرال جمهور رئیس چې د خلکو له خوا د شپږو کلونو لپاره ټاکل کیږي، ددولت رئیس دی. د قانون جوړولو عالی ارګان - پارلمان - له دوو مجلسونو څخه جوړ دی: ملی شورا او فدرالي شورا د فدرالي شورا استازي د لنډ تاګانو (دولایتونو پارلمانونه) له خوا ټاکل کیږي

سیاسي ګوندونه:

د اتریش سوسیالیست ګوند: دا ګوند په ۱۹۴۵ م کال کې تاسیس شو او د کار ګرانو، کارمندانو او کوچنیو پانګوالو په منځ کې نفوذ لري، رفورمستي سیاست لري د کار ګرانو او کارفرمایانو د ټولنیزي همکارۍ غوښتونکی دی.

د اتریش د خلکو ګوند: په ۱۹۴۵ کال کې یې بنسټ ایښودل شوی دی. دلویو پانګوالو او ځمکوالو استازیتوب کوي اوله کا تولیکو ټولنو سره ډېر نږدې دی.

د اتریش لیبرال ګوند: په ۱۹۵۵ م کال کې تاسیس شوی دی او منځنۍ او کوچنۍ پانګوالي سره یو کوي او فدرالی المان ته متمایل دی.

کمونیست ګوند: په ۱۹۱۸ م کال کې تاسیس شوی دی.

له افغانستان سره اړیکې:

د ۱۹۵۰ م کال د اپریل په ۷مه نیټه ددواړو هیوادونو (افغانستان او اتریش) ترمنځ د قونسلۍ په کچه اړیکې پیل شوې او په ۱۳۳۰ کال مختار وزارتونه او وروسته په ۱۳۳۱ کال کې د نا استوګن سفارت کچې ته لوړې شوې.

په لومړۍ سرکې په "بن" کې افغاني سفارت او له ۱۹۷۲ کال څخه په پاریس کې افغاني سفارت وروسته په بلګراد کې افغاني سفارت په نا استوګنه بڼه اړوندې چارې پر مخ بیولې. په ۱۳۶۶کال کې په استوګنه بڼه په ویاناکې د افغانستان سفارت پرانیستل شو. دغه سفارت په ویانا کې د ملګرو ملتو په سازمانونو کې هم د افغانستان استازیتوب کوي.

آلمان (جرمني)

جغرافيايي موقعيت:

د آلمان هيواد په مرکزي اروپاکې په شمالي نيمه کره کې له ۴۸ څخه تر ۵۵ درجو شمالي سور(عرض) او له ۱۶ درجو ختيځ اوږدوالي کې پروت دی.

د آلمان اوږدوالی له شمال نه ترجنوبه ۸۷۶ کيلو متره او پلنوالی يې له ختيځ نه تر لويديځه ۵۴۰ کيلو متره دی.

مساحت او څلورم خواوې:

د آلمان شمال ته د بالتيک بحيره، ډنمارک، د شمال سيند او لويديځ ته يې هالينډ، بلجيم، لوکزامبورګ، فرانسه او جنوب ته يې سويس او ختيځ ته يې چك او پولينډ پراته دي

د آلمان مساحت ۳۵۶ زره او ۹۷۴ مربع کيلو متره دی چې په دې حساب يې په نړۍ کې يو شپېتم (۶۱) ځای نيولی دی. د آلمان له مساحت څخه ۳۴۹ زره مربع کيلو متره وچه او(۸) زره

مربع کیلو متره یې اوبه دی ددې هیواد سطحه پوښلې ده. پر ۱۹۵ زره مربع کیلو متره کرنیزې شیمې او چمنونه(د آلمان د خاورې په سلو کې ۷، ۴۵

- ځنګلونه، ۱۰۴ زره مربع کیلو متره(دآلمان خاورې په سلو کې (۲، ۲۹)

- د استوګنې او ساختمانی سیمې، (۲۱) زره مربع کیلو متره(د آلمان د خاورې په سلوکې ۸، ۵)

- واټونه او لوېې لارې، (۱۶) زره مربع کیلو متره(د آلمان د خاورې په سلو کې ۶، ۴)

- سیندګې (واړه سیندونه) اورودونه، (۸) زره مربع کیلو متره(د آلمان د خاورې په سلو کې ۲، ۲)

- صنعتی، سوداګریزې سیمې او بندرونه، ۲ زره مربع کیلو متره(د آلمام د خاورې په سلوکې ۷.)

آلمان له ۹ هیوادونو سره ګډې پولې لري، چې له دې امله د اروپا یی هیوادونو ترمنځ زیات ګاونډیان لری، د آلمان د ځمکنیو پولو اوږدوالی ۳۷۵۸ کیلو متره او په دې ډول دی:

-په شمال کې ډنمارك، ۶۷ کیلو متره.

-په شمال لویدیځ کې ها لینډ، ۵۶۷ کیلو متره .

- په لویدیځ کې بلجیم ، ۱۵۶ کیلو متره.

- په لویدیځ کې لوکزامبورګ، ۱۳۵ کیلو متره.

- په لویدیځ کې فرانسه ، ۴۴۸ کیلو متره .

- په جنوب کې سویس، ۳۱۶ کیلو متره.

- په جنوب کې اتریش، ۸۱۶ کیلو متره .

- په ختیځ کې چك، ۸۱۱ کیلو متره.

- په ختیځ کې پولنډ(لهستان)، ۴۴۲ کیلو متره.

طبيعي جغرافيه :

د هيواد شمال دښته،مرکز يې غونډۍ لرونکی او جنرب يې، غرنی او د طبيعی عوارضو لرونکی دی.دباواريا دښته (فلات) يې په جنوب لويديځ کې پرته ده، چې لوړوالی يې د سمندر له سطحې څخه ۴۸۸ متره دی خود زوګس پيتنزه په غرونو کې يې لوړوالی ۲۹۶۳ متروته رسيږي.

د بيړۍ چلولو وړ رودونه يې عبارت دي له:

- ډانوب چې له تور ځنګله نه سرچينه اخلي او په ټوله باواريا کې بهيږي او په اتريش کې ننوځي.
- دراين سيند چې له سويس څخه سر چينه اخلي، له هالينډ نه تيريږي او له دوو لارو (کانالونو) د شمال له سيند سره نښلي او دوړو بيړيو د ګرځيدو وړ دی. دراين او آلب سيندونه په شمال سيند کې تو ييږي.
- دوسر سيند، چې د شمال د سيند په لور بهيږي.
- دماين او موسل سيندونه چې دواړه دراين د سيندڅانګې او دا هميت وړدی.
- په شمال کې د لويديځ المان ټيټې برخې له هالينډ نه ترختيځ آلمانه او لوړې برخې يې په غرنۍ سيمو کې د فارنهايت له ۲۱ درجو څخه ژمي کې په غرنۍ سيمو کې اوپه کالنۍ توګه د باران او واورې د اوريدو له امله په درو کې له ۲۰ نه تر۷۸ انچو او په اوړي کې د فارنهايت ۶۷ درجو ته رسيږي.

د ليد لو وړ ځايونه:

دآلپ غرونه، تورځنګل، د هارز غرونه، اوس غونډۍ ګانې، دډانوب او راين سيندونه، هايد لبرګ، برمن بايويوت، برشت

ګادن ،په فرانکفورت کې د ګويټه کور، په نور نبورګ کې د آلمان ملی موزيم. په هامبورګ کې د نبات پوهنې او ګلانو ښونه، دکلن جامع کليسا ، ددآخن شارلماني تخت و تاج، د پا سايو د منځنيو پيړيو ښار.

برلين کې: ددوو برلينونو ترمنځ ديوال، دقيصر ويلهلم د تجليل د نمانځنې کليسا ګرون والډها نتېنګ لوړ ،هانساکوارتره دداهلم موزيم.

حکومت:

د ۱۹۴۹ م کال د مې په ۲۳ مه د آلمان د فدرال حکومت او پارلمانی د موکرا سي په بنسټ د لويديځ آلمان اسا سی قانون تدوين شو. پارلمان دوه مجلسونه لری: اعلی مجلس(بوندس تاګ) او کښتني (سفلی) مجلس(بوندس رات چې د ټولټاکنو له لارې د څلورو کالو لپاره انتخابيږي.

جمهور رئيس دقانون جوړولو د مجلس له خوا ديوې پنځه کلنې دورې لپاره ټاکل کيږي. خو بوندس رات يواځې صدراعظم ټاکي.

مهم سياسی ګوندونه:

مسيحي سوسيال اتحاد د موکرا ټيك ګوند.

مسيحی سوسيال ډموکرات ګوند.

ليبرال ډموکراټيك ګوند.

مکلنبورګ، براند بورګ، لوساتيا ، ساکسونی او تورنجيا ختيځ المان را چاپيروی(په برکې نيسی). په ۱۹۴۵ ميلادی کال کې د شوروي سره يوځ دغه پنځه سيمې د نازيانو له پنجو څخه

وایستلې او تر خپلې ولکې لاندې یې را وستلې، د ۱۹۴۵ م کال په ویش کې دغه پنځه ګونی سیمې شوروي ته ځانګړې شوې. روسي ځواکونو د ختیځ آلمان په نامه په یو حزبي سیستم(سوسیالیست- کمونیست اتحاد) یو هیواد تاسیس کړ.

هغه فابریکې چې د جګړې له امله په وحشیانه توګه ویجاړې شوې وې بیا ورغول شوې. د آلمان د فدرالی جمهوریت له اتحاد سره سم، د اوسنی لویدیځ المان په سیمه کې د ختیځ آلمان حکومت د مرکزي حکومت پر اساس د ۱۹۴۹ م کال کې د اکتوبر د میاشتې په اوومه خپل ا ساسي قانون ددموکراتیک جمهوریت پر بنسټ تدوین او تصویب ته وړاندې کړ.

سره له دې چې شوروي روسیې ختیځ آلمان له یوې نیول شوې سیمې څخه ویوست خو بیا هم د روسیې یو شمیر ځواکونه په ختیځ المان کې پاتې شول. لویدیځیانو له آلمان څخه په بشپړه توګه د سره پوځ دوتلو غوړونه جګ او د خپلواکۍ د په رسمیت پیژندلو غوښتنه یې وکړه خو ختیځ آلمان په ختیځ پنډغالی (ا ردوګاه) کې پاتې شو.

په ۱۹۵۳ کال کې سره له دې چې حکومت له پوځیانو څخه غیر پوځیانو ته ولیږدید، خو په ختیځ برلین او نورو ښارونو کې د سیاسي آزادیو په وړاندې خنډونه او سختګیری په بشپړه توګه لري نشوې او کله کله په ختیځ آلمان کې نښتې تر سترګو کیدې.

ختیځ المان په ۱۹۵۵ م کال کې دوالتراو لبریخت په مشرۍ دوارساله د فاعی پوځي تړون سره یو ځای شو. په ۱۹۶۰ م کال کې د هیواد اقتصادمخ په ښه کیدو شو. د ۱۹۶۸ کال په اپریل کې د هیواد په اساسی قانون کې بدلونونه رامنځ ته شول او د

فردي او ټولنیزو آزادیو دریځې خلاص شوې. تر ۱۹۷۰ م کال پورې ددواړو آلمانونو تر منځ ډیرې لفظي او سیاسي نښتې وشوې، خو په همدې کال کې دواړو آلمانونو خپلې خبرې یود بل د په رسمیت پیژندلو او د سیاسي او اقتصادي اړیکو پر بنسټ پیل کړې. په ۱۹۷۱ کال کې یوځل بیا ددواړو آلمانونو ترمنځ یو تړون لاسلیك شو. په ۱۹۷۴ م کال کې له لویدیځ آلمان سره د اړیکو د زیاتوالي په منظور، په اساسي قانون کې بدلونونه راغلل او د همدغه کال د سپتامبر په څلورمه ددواړو آلمانونو ترمنځ خصمانه چال چلند تقریباً پای ته ورسید.

د ۱۹۷۸ م کال په جولای کې د ختیځ آلمان د جوړ جاړي چارې زیاتې شوې آن تردې چې په دې نیته د امریکا د متحده ایالاتو جمهور رئیس کارټر لویدیځ برلین ته سفر وکړ او د ختیځ آلمان د اتوبان له لارې غربي برلین ته راغی. (لویدیځ برلین په بشپړه توګه د ختیځ آلمان په سیمه کې پروت دی او د لویدیځ برلین دیوال یې په منځ کې راوستی دی) په ۱۹۷۷ م کال کې د لویدیځ برلین او لویدیځ آلمان ترمنځ اتوبان د ختیځ آلمان له خوا وتړل شو چې د امریکا د متحده ایالاتو، فرانسې او انګلستان د اعتراض سبب شو.

هغه سختګیري چې د آلمان ددولتي شورا رئیس او صدراعظم اریش هونیکر د فردي آزادیو په اړه رامنځ ته کړې وې، بنایي په ۱۹۸۰ او ۱۹۸۱ کلونو کې په پولینډ کې د پیښو شو و ګډوډیو له ویرې وې، ځکه چې دې هیواد له پولینډ سره خپلې پولې تر زیاتې څارنې لاندې ونیولې، په داسې حال کې چې د لسو کلونو په اوږدو کې ددواړو هیوادونو پولې یو دبل په وړاندې خلاصې وې. د بېلګې په توګه په یوه کال کې پنځه میلیونه

پولیندیان ختیځ آلمان ته تلل او په ختیځ آلمان کې یې لګښتي مالونه پیرودل.

د ۱۹۸۱ م کال په فبروري کې هو نیکر د لیدونکو د ډیرې حیرانتیا سره سره د کمونیست ګوند شپاړسمې کنګرې ته ورو دانګل او لویځ آلمان ته یې د سرحدي مبادلاتو او تګ راتګ زیاتې اسانتیاوې برابرې کړې.

په ۱۹۶۱ م کال کې د شپې پر مهال د ختیځ آلمان له خوا په ناڅاپي توګه د لویدیځ برلین له ښار څخه کانګریټي دیوالونه را تاول شول.

د آدنایر د صدارت ددورې له پای ته رسیدو وروسته، په ۱۹۶۶ م کال کې کورت جورج کیزینګر د عظمی صدارت مقام ترلاسه کړ. په ۱۹۶۹ م کال کې دلویدیځ برلین ښاروال د صدارت مقام ته ورسید.

په ۱۹۶۸ م کال کې د ختیځ آلمان مشر والتر او لبریښت له لویدیځ آلمان سره یو څو اصولي موافقه لیکونه لاسلیك کړل. په ۱۹۷۴ م کال کې صدراعظم ویلي برانت په اوچتو ګامونو سره چې ددواړو آلمانونو د سره نږدې کیدلو او ددواړو هیوادونو ترمنځ د سوله ایزو او نیکو اړیکو د ټینګښت په لار کې یې واخیستل، د نوبل دسولې د جایزې په ترلاسه کولو بریالی شو. هغه په همدې کال د جاسوسی په تور د هغه دیوه وزیر د تورن کیدو له امله، له صدارت څخه ګوښه کیدو ته اړشو، او دده د کابینې یو غړی، له سوسیال دموکراټ ګوند څخه هلموت شمیت، د صدرات مقام ته ورسید.

په ۱۹۷۴ کال کې دواړو آلمانونو یو بل په رسمیت و پیژندل او یو بل یې سیا سی استازی واستول.څرنګه په ۱۹۷۶ کال کې

د آزادو د موکرا تانو او سوسیال ډموکراټانو د ائتلاف له امله بریالیتوب ترلاسه کړ، هلموت شمیت د صدارت په دنده پاتې شو له والتړشل څخه وروسته په ۱۹۷۹ م کال کې کار شتنس د جمهوري ریا ست مقام ته ورسید.

په ۱۹۸۱ م کال هلموت شمیت په لویدیځ المان کې د امریکا د متحده ایالاتو د اتومی توغندیو له ځای پر ځای کولو سره موافقه وکړه، ددې کار په پایله کې ددې پریکړې په وړاندې ستر لاریونونه پیل شول. هلموت شمیت د خپلې وسله والې ماجراغوښتنی او نورو اقداماتو له امله د ۱۹۸۲ م کال په ټولټاکنو کې بریالیتوب تر لاسه نکړ او د هغه پرځای هلموت کول د صدارت مقام ترلاسه کړ او په ۱۹۸۴ م کال کې ریچارد فون وایز سکر د لویدیځ آلمان جمهور رئیس شو.

د آلمان په فدرالي جمهوریت کې د جمهوري ریاست لپاره ټولټاکنې په هرو څلورو کالو کې یوځل تر سرد کیږي او د آلمان وګړې د آزادورایو له لارې د ۶۰۴ تنو په شمیر د بوندستاګ د پارلمان غړې انتخابوي. د آلمان د ټولټاکنو دیا راسمه دوره د ۲۰۰۲ م کال د سپتامبر په ۲۲ مه د یکشنبې په ورځ ترسره شوه. ددې هیواد ۶۱،۵ میلیونه وګړي درایې حق لري چې له دې جملې څخه په سلوکې ۷۷ تنو په ټولټاکنو کې ونډه اخیستې وه.

د آلمان د سیاسی ګوندونو شمیر ۲۸ ته رسیږي، دآلمان د اساسي قانون پر بنسټ یواځې هغه ګوندونه چې په سلو کې یې له (۵) څخه زیاتې رایې ترلاسه کړي، پارلمان ته تللی شي.

دهغو ګوندونو درایو شمیر چې د سږکال په ټولټاکنو مې بریالي شوي، په لاندې ډول دي:

سوسیال د موکرا ټان، په سلو کې، ۳۸،۵.

- مسیحی سوسیال متحده ګوندونه، په سلو کې ۳۸،۵.

- د زرغون ګوند، په سلو کې، ۸،۶.
- لیبرا لان، په سلو کې، ۷،۶
- کیڼ اړخی سو سیالیستان ددووغړو په ټاکنو په پارلمان کې شامل شول. ددې ټاکنو پر اساس سو سیال ډموکراټ ګوند له زرغونو سره په ائتلاف کې له ۴،۶ څوکیو څخه د پارلمان ټولې ۳۰۳ څوکۍ ترلاسه کړې. په داسې حال کې چې متحدو سوسیالیستی ګوندونو له مسیحي سوسیال ګوند سره په ائتلاف کې په پارلمان کې ۲۹۹ څو کۍ ترلاسه کړې.
- واکمن ائتلاف به دیوه کمزوري اکثریت په ترلاسه کولو د ګرد هارد شرودرتر صدارت لاندې د آلمان دفدرالی حکومت واګی په لاس کې واخلی.
- داوسنی حکومت په ترکیب کې، Jscskafischr چې د آلمان له ډیرو منلو څیرو څخه دی، د بهرنیو چا رو دوزیر په توګه ټاکل شوی دی.

پلاز مینه او ښاروونه:

د آلمان پلازمینه برلین دی، دغه ښار د برلین د ایالت مرکز هم دی چې له زیات تاریخي، فرهنګي او اقتصادی اهمیت څخه برخمن دی. د برلین ښار په ۱۷۰۱ م کال کې د لوی فرد ریك، شاه پروس له خوا د هغه دولت د پلازمینې په توګه انتخاب شو.

د ۱۹۹۰ م کال د اګست له ۳۱ نیټی څخه چې ددواړو المانونو دیو کیدو تړون لاسلیك شو، برلین یو ځل بیا د هیواد پایتخت شو. د آلمان پارلمان هم بر لین د پلازمینې په توګه وټاکه او د المان حکومت پریکړه وکړه چې د ۱۹۹۰ م کال په اوړي کي دې له بن څخه برلین ته د پارلمان او دولتی ادارو دلیږد چارې ترسره شی. مهم وزارتونه لکه: د

بهرنیو چارو وزارت، ددفاع او مالیې وزارتونه برلین ته ولیږدول شول خو تر اوسه لاڅوو وزارتونه په بن کې پاتي دي.

دغه ښار چې د المان د لومړني صدراعظم کنراد ادناور د زوکړې ځای و، په ۱۹۴۹ م کال کې دفدرالی جمهوریت د موقت پایتخت په توګه وټاکل شو.

مهم ښارونه او بندرونه:

په ۱۸۸۷ م کال کې د شمیر نو د نړیوال کنفرانس د تعریف له مخې لوی ښارونه، هغه ښارونه دي چې له ترلږه سل زره وګړي ولري، په دې جدول کې د هغو ښارونو یادونه کیږي چې د سیاسي، اقتصادی او فرهنګی دلایلو پر بنسټ د اهمیت وړ دي.

ښار	اوسیدونکی	اهمیت
برلین	۵،۳ میلیونه	پلازمینه، صنعتی، تجارتي او کلتوري مرکز
هامبورګ	۱،۷ میلیونه	د آلمان ډیر لوی بندر، دسوداګرۍ مرکز
مونشن	۱،۳ میلیونه	د بایرن د ایالت مرکز، علمی او صنعتی ښار
کولن	۹۶۳ زره	تاریخی، کلتوري او صنعتی ښار
فرانکفورت	۶۶۰ زره	د آلمان د بورس د بازار او بانکونو مرکز، د اروپا دریم هوایي ډګر
اسن	۶۲۰ زره	دپولادو دصنا یعو مرکز او د ډبرو سکرو منبع
دورتموند	۶۰۰ زره	کارګري او صنعتی مرکز،د پولاد جوړل او کانونه.
اشتوتګارت	۵۹۵ زره	د بادن او رتمبرګ ایالت مرکز، موټر جوړول.
دوسلدورف	۵۷۵ زره	د نور دراین او وستفالن د ایالت مرکز د نندارتونونو ښار
برمن	۵۵۰ زره	د برمن د ایالت مرکز، تجارتی او صنعتی ښار

دویسبورګ	۵۳۷زره	تجارتي، صنعتي او معدني ښار.
هانوور	۵۲۵ زره	د نیدر ساکسن د ایالت مرکز، د نندارتونو ښار
نور نبودګ	۴۹۹ زره	تاریخي، فرهنګي ښار، دنازیانو مرکز او د نړیوال عدالت دمحکمې محل
لاپیزیګ	۴۹۰زره	د کیمیایي صنایعو مرکز، تاریخي او فرهنګي ښار، د انقلاب ښار
درسدن	۴۸۰ زره	دساکس دایالت مرکز، تاریخي، فرهنګي او صنعتي ښار
بن	۳۰۰ زره	د فدرال حکومت پخواني مرکز، تاریخي او فرهنګي ښار
کمنیتس	۲۸۰ زره	سوداګریز او صنعتي ښار
کار لسروهه	۲۷۸ زره	اتومي مرکز، د اساسي قانون د محکمې استوګنځی اود فدرال دمدعی العموم
ویبادن	۲۷۸ زره	د هسن دایالت مرکز، په آلمان کې د امریکا اډه
کیل	۲۷۰ زره	ستربندر د شلسویګ ګان هلشتاین د ایالت مرکز
هاید لبرګ	۲۵۰ زره	علمي ښار، او د لرګیو دصنعت مرکز
پوتسدام	۱۴۰زره	د براندبورګ دایالت مرکز، تاریخي او فرهنګي
برمرهاطن	۱۳۹ زره	ستراندر، دسوداګرۍ او د بیړۍ جوړولو مرکز.

انساني جغرافیه:

آلمان د اروپا یې تولنې له ګڼمیشتو هیوادو څخه دی. د ۲۰۰۲ م کال د شمیرنو پر بنسټ د آلمان دوګړو اوسنی شمیر(۸۳۲۵۱۸۵۱) تنه دی چې د ګڼمیشتو هیوادونو په دوولسم ردیف کې ځای لري. د المان د او سیدونکی ۴۰،۰۹۱ میلیون تنه نارینه او ۷۹، ۴۲ میلیون تنه ښځې دی. دمتاهلو کسانو شمېر ۴۰ میلیون تنه، مجرد ۳۲ میلیونه تنه، یوله بله بیل شوي میړونه او ښځې ۱۱ میلیون تنه دي. د المان د لویدیځې برخې او سیدونکی ۹، ۶۶ میلیون تنه او دآلمان د ختیځې برخې اوسیدونکي ۳، ۱۵ میلیونه تنه. په هر مربع کیلو مترکې په نسبی توګه د المان ۲۳۰ تنه اوسیږي. د او سیدونکو په تیتوالي کې دوه عامله د اهمیت وړدي:

لومړی عامل سیاسی دی او هغه دا چې د ۱۳ میلیون تنو په شاوخوا کې د ختیځی اروپا فراریان او بی ځای شوی کسان او د هیواد د پخوانیو ایالتونو لکه ختیځ پروس چې ددوهمې نړیوالې جګړې د پای په وروستیو میا شتو کې له سره پوځ څخه وتښتیدل او دآلمان په لویدیځ کې ځای په ځای شول.

جرمنیان د اروپا د خلکو له هغوقومونو څخه وو، چې په سویډن، ناروې، آلمان، اتریش، آیسلینډ او ډنمارک کې یې استوګنه درلوده، تر هغو چې له میلاد څخه د مخه په اوومه پیړۍ کې په بیلا بیلو څانګو وویشل شول او د آلمان په جنوبی، ختیځو او لویدیځو برخو کې خواره شول. دهغه څه له امله چې د تاریخ په اوږدو کې، دا قوم په ښیګنه او ښه نامه یاد شوی، له میلاد څخه د مخه په لومړۍ پیړۍ پورې اړه لری او هغه له رومیانو سره مخامخ کیدل دي. هغه څه چې په دی مهال یې د جرمنیانو په اړه په

واك كې لرو ياپرې پوهيږو دادي چې جرمنيان په دې عصر كې جګړه مار او نيمه وحشي وو، لكه چې ومو ويل جرمنيان يوځل بيا له ميلاد څخه د مخه په اوومه ميلادي پيړۍ كې په څانګو وويشل شول، وروسته په دوهمه يادرېيمه ميلادي پيړۍ كې يوځل بيا منشعب شول. په هغه وخت كې جرمني قومونه عبارت وله: فرانكانو، لمبارانو، انګلوساكسونانو او ويزيګوتانو څخه.

د جرمنيانو لومړني ادبيات د اسكانډينا وي او ايسلينډي قومونو په وسيله څرګند شول. جرمنيان په لرغونو او منځنيو پيړيو كې په نورو څانګو او قومونو وويشل شول. په همدې توګه له ميلاد څخه د مخه په ۱۰۱ او ۱۰۵ موكلونو كې يې درې ځله رومي سپاهيانو ته ماتې وركړه، خو په ۱۰۲ كال كې يې ماتې وخوړه په اتلونكى كې يې كله بريالیتوب او كله ماتې په برخه كيدله، ترهغو چې په څلورمه او پنځمه ميلادي پيړۍ كې يې بيا پر روم بريد وكړ او د آلب د سيند ختيځې برخې يې ترولكې لاندې را وستلې. څه وخت وروسته فرانكانو نور جرمني قومونه د ځان تابع كړل او په اروپاكې يې ستره امپراتوري را منځ ته كړه. دوی په اوومه او اتمه ميلادي پيړۍ كې دحضرت مسيح دين ومانه.

په ۸۴۳ ميلادي كال كې د فرانكانو د امپراتورى ختيځه برخه - د اوسنى المان يوه سيمه - د جرمنى د(لويى) ترواك لاندې راغله اود آلمان د منځنيو پيړيو امپراتوري. رامنځ ته شوه. له دې وروسته المان د(لومړى اتو) د حكومت پر مهال دا سى ځواك ترلاسه كړ تر هغو چې په يوو لسمه پيړۍ كې د نړۍ يوله ځواكمنو او مقتدرو دولتونو څخه ګڼل كيده.

په ۱۱۳۸ او ۱۲۵۴ ميلادي كلونو كې د كليسا او آلمان د امپراتورۍ ترمنځ د كليسا د واك او قدرت پر سر اختلافات منځ

ته راغلل چې د پاپ له پلویانو څخه(دوهم فردریك) ماتې وخوړه او آلمان چې د امپراتورۍ بنسټ یې ډیر بې مترې اوسست شوی و د آزادوښارونو بڼه غوره کړه، له دیرش کلنو جګړو وروسته(۱۶۱۸ ۱۶ ۴۸) د المان دپاچاهانو قدرت لږ او محدود شو حتی تر دې چې یواځې نوم ورته پاتې شو او قدرت د فیوډالانو لاس ته ورغی. په دې ترځ کې اتریش او پروس رقابت پیل کړ چې با لاخره په ۱۸۰۶ م کال کې لومړی ناپلیون په موقتــه توګه دې رقابت ته دپای ټکی کیښود. د پروسانو، اتریشیانو او فرانسویانو ترمنځ له ګډوډیو او زیاتو نښتو وروسته بالاخره د بیسمارك او امپراتور ویلهلم له خوا په ۱۸۷۱ میلادی کال کې د هیواد یووالی او وحدت تامین شو.

له ۱۸۷۱ میلادی کال څخه دوهم رایش المان د ترقۍ او یووالی په لور وخوځاوه، دساری په توګه له صنعتی او پوځي لحاظه یې داسې پرمختګ وکړ چې ګاونډیانو ته یې جدي خطرونه را پیدا کړل. بالاخره دویلهلم یاغي طبعې او نورو عواملو د لومړۍ نړیوالې جګړې اور بل کړ، تر هغو چې په ۱۹۱۸ م کال کې المان ماتې وخوړه او ویلهلم له کاره ووت او په ۱۹۱۹م کال کې جمهوریت منځ ته راغی او تریوی اندازې یې پرمختګونه د المان په برخه کړل خود ۱۹۲۹ م کال عمومي بحران آلمان له ماتو او زیانونو سره مخامخ کړ ترهغو چې هیټلر او ملګرو یې په چل ول، تزویر او تبلیغ سره په ۱۸۳۲ م کال کې واك ترلاسه او آلمان یې یوځل بیا په جنګی ما شین بدل کړ.

له ۱۹۳۳ نه تر ۱۹۴۵ م پورې هیټلر د تیري بنسټ کیښود او په ګاونډیو هیوادو کې یې لاسوهنه پیل کړه. په ټول آلمان کې مطلق العنانی حکومت رینبی وځغلو لې اوله آلمان نه دوسلې انبار

جوړ شو، ترهغو چې په ۱۹۳۹ م کال کې یې د جګړې اورولګاوه خو بالاخره المان د پریمانه دردونو او مصیبتونو له ځغملو وروسته په ۱۹۴۵ م کال کې ما تې وخوړه.

به۹٫۷/ ۱۹۴۵نیټه د آلمان فدرالي جمهوریت دیوه دولت په حیث. له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د امریکا د متحده ایالاتو، انګلستان اوفرانسې د نیول شوو زونونو ترمنځ جوړشو. د نازي المان له قطعي ماتې وروسته ددې هیواد اداره د جګړې د سوبمنو(فاتحانو) ، (د شوروي ځواکونو قوماندانان د ۱۹۴۹م کال د مارچ په اتمه نیټه اوله دې وروسته فرانسوي، انګلیسي تو امریکایي ځواکونه برلین ته ننوتل) . شوروي، فرانسې، انګلستان اود امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د همدې کال د جون په پنځمه وویشل شوه، د المان د حکومت ددفاکتو د کنټرول ا... اداري شورا تشکیل شوه د همدې کال د جولای له ۱۷ مې نه د اګست تر دوومې پورې د امریکا د متحده ایالاتو جمهور رئیس(ترومن)، د شوروي صدراعظم ستالین، د انګلستان صدراعظم کلمنټ اټلي د برلین یا پوتسدام په کنفرانس کې د المان د کنټرول او څارنې شورا ارائه کړه. په ټول آلمان کې حتمي بې وسلې کول اعلام شول و یجاړې شوې فابریکې بیا ورغول شوې څو د سوبمنو جنګي زیانونه ورکړل شي. دا ټولې د فاتحو تر څارنې لاندې راغلې د جګړې د ... سوبمنو د آلمان دبې قیدو شرطه تسلیمېدو وړاندیز ومانه او د متحدینو له خوا د سولې وړاندیز ومنل شو.

همدارنګه دغه وړاندیز له جګړې وروسته د المان دمشرانو له خوا هم ومنل وشو. د کالنین ګراد(کونیسبرګ) ښار او شاوخوا سیمې یې روسیې او د اودرینسه د کرښې ختیځ یې پولینډ ته پرېښودل.

د سولې له تړون څخه وروسته د المان اداره د څلورو دولتونو څلورو پوځي قوماندانانو ته وسپارل وشوه. لویدیځو ځواکونو له روسیې سره د سرو پوځونو له خوا د المان د نیول شوو سیمو د یوځای کیدو او الحاق په اړه موافقه ونکړه. او مساله امنیت شورا ته محول شوه. روسیې د لویدیځ پیشنهاد ویټو کړ او د ۱۹۴۸ م کال د مارچ په شلمه د سوبمنو له څلور اړخیزې شورا څخه ووتله په دې وخت کې د امریکا متحده ایالاتو او انګلستان د المان د لویدیځې برخې د اداری لپاره د مې د میاشتې په ۳۱مه نیټه یوه درې اړخیزه شورا جوړه کړه. بالاخره روسیې په ناڅاپي توګه د شپې له خوا د برلین شاوخوا دیوال وواهه او له دې وروسته د ځمکې له لارې د هغو کسانو تګ راتګ چې لویدیځ برلین ته یې کاوه ناشونی او یواځې دهوا له لارې ممکن و او د برلین نیمه لویدیځ ښار له خپلو (۶۰۰۰۰۰) تنو او سیدونکو سره کلابند شو. فدرالی المان په (۱۹۴۹ م) کال کې خپله پلازمینه بن ته ولیږدوله. په پارلمانی ټاکنو کې مسیحی د موکراتیك ګوند بریالی شو او کنراد آد نایر د صدارت مقام ته ورسید او له دوهمی نړیوالې جګړې وروسته تئود ورهس د آزا دو دموکراتانو له خوا د لومړنی جمهور رئیس په توګه انتخاب شو.

فدرالی آلمان لومړی د ډبرو د سکرو او پولادو د اروپا یي ټولنې غړیتوب او وروسته یې د اروپا د مشترك بازار غړیتوب تر لاسه کړ. په ۱۹۵۰ کال کې لویدیځ برلین د ځانګړی اساسی قانون او د قانونګذاری د مجلس خاوند شو.

د پاریس د (۱۹۵۴) کال د تړون پر بنسټ فدرال المان د بشپړې خپلواکۍ خښتن شو او د امریکا د متحده ایالاتو، انګلستان او فرانسې پوځي واکمنی د (۱۹۵۵) کال د مې په پنځمه پای ته

ورسیده او د همدې تړون پر اساس ایټالیا او لویدیځ المان د بروکسل د ژمنلیك (معاهدې) له لاسلیك کولو وروسته چې په (۱۹۴۸) کال کې سازمان ورکړل شوی و، د اروپا یې هیوادونو پنډغالی (اردوګاه) ته یې ورودانګل، چې وروسته د اروپا یې تولنې په نامه ونومول شوه. لویدیځ المان د ناتو د سازمان غړیتوب هم ترلاسه کړ. په (۱۹۵۵م) کال کې روسیې لویدیځ المان په رسمیت وپېژانده. د ۱۹۵۷ م کال د جنوري په لومړۍ نیټه لویدیځ المان له فرانسې سره اقتصادي اړیکې ټینګې کړې.

په (۱۹۶۳ م) کال کې صدراعظم آدنایر له فرانسې سره د زیاتې اقتصادي همکارۍ او دوستۍ تړون لاسلیك کړ.

دواړه المانونه د ۱۹۹۱ م کال د اکتوبر په دریمه نیټه سره یواو متحد شول. د المان د اتحادي جمهوریت پایتخت د بن ښار و، خو پارلمان د ۱۹۹۱ م کال دجون د میاشتې د شلمې نیټې په غونډه کې په (۳۷۷) موافقو او ۳۲۰ مخالفو رایو پریکړه وکړه چې پایتخت دې له بن څخه برلین ته ولیږدول شي.

د افغانستان او المان اړیکې:

داسې ډېرې رشتې شته چې افغانستان له المان سره نږدې کوي، چې ددې نږدیوالی بنسټ په (۱۹۱۴م) کال کې افغانستان ته د نیدر مایر په مشرۍ د یوه الماني پلاوي دسفر په ترڅ کې د امیر حبیب الله خان په وخت کې اېښودل شوی دی.

د افغانستان او المان ترمنځ په (۱۹۲۰ م) کال کې منا سبات ټینګ شول، د غو اړیکو د هیواد د بشپړې خپلواکۍ له ترلاسه کولو، په ځانګړې توګه هغه هیواد ته د امان الله خان له سفر

وروسته په سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او سوداګرۍ اړخونو کې ټینګښت وموند.

هغه وخت چې المان په دوهمه نړیواله جګړه کې شامل و، افغانستان د دوهمې نړیوالې جګړې په وړاندې خپل د ناپېیلتوب سیاست وساته چې د دغه سیاست غوره کول د افغانستان او المان په دوستۍ کې د پام وړ تکي ګڼل کېږي. په ۱۹۲۳ م کال په هیواد کې د افغان ـ المان تولنه جوړه شوه او په (۱۹۲۴م) کال کې د المان په مرسته اماني لیسه پرانیستل شوه او د دې ترڅنګ د ودانیو د جوړولو په منظور یو شمیر الماني انجینران هم هیواد ته راغلل.

په ۱۹۲۶ م کال کې چې له ۱۳۱۵ کال سره سمون خوري د افغان او المان ترمنځ د دوستۍ تړون لاسلیک شو.

د امان الله شاه د حکومت له ړنګیدو وروسته د المان د فدرالي جمهوریت مینه کمه شوه او په ۱۹۳۰ م کال کې د سجید زابلي له خوا د آزاد اقتصاد له اعلام سره سم دغه هیواد همکاري له سره پیل شوه چې د هغې په رڼا کې د زیمنس د کمپنۍ پلاوی هیواد ته راغی او له دې وروسته په بیلا بیلو څانګو کې هیواد ته د الماني متخصصینو او کارپوهانو تګ راتګ دوام وموند. په المان کې د ملي بانک نماینده ګي هم په همدې وخت کې جوړه شوې ده.

د دوهمې نړیوالې جګړې په بهیر کې الماني هیاتونو هیواد پرېښود. د افغانستان - المان د دوستۍ دریېم پړاو په ۱۹۴۸ کال کې پیل شو او د سیاسي نماینده ګیو په کچه له المان سره ډیپلوماتیکي اړیکې په (۱۹۵۴م) کال کې تامین شوې او دغه اړیکې په ۱۹۵۸م کال کې د لوی سفارت سطحې ته لوړې شوې.

له (۱۹۶۱م) کال څخه د مخه د المان همکاریو زیاتره تخنیکي، جنبه درلوده خو وروسته انکشافي مرستې هم رامنځ ته شوې دي. په (۱۹۲۶م) کال کې د افغانستان او المان ترمنځ د دوستۍ تړون لاسلیك شو. له دوهمې نړیوالې جګړې او د فدرالي المان دنوي جمهوري دولت له جوړېدو وروسته د افغانستان دولت لويديځ المان په رسميت وپيژانده او له هغه سره يې سياسي اړيکې ټينګې کړې.

په (۱۹۶۰م) کال کې چې له (۱۳۳۹) کال سره سمون خوري، دلويديځ المان د اقتصاد وزير ډاکتر ارهارد (وروسته د هغه هيواد صدراعظم) هيواد ته دوستانه او رسمي سفر وکړ. په ۱۹۶۱ کال کې چې له ۱۳۴۰ کال سره سمون خوري د افغانستان د وخت صدراعظم محمد داود خان د المان جمهوريت ته رسمي او دوستانه سفر وکړ. په ۱۹۶۲ کال کې چې له ۱۳۴۲ کال سره سمون خوري د المان اتحادي جمهوريت ته د افغانستان د پخواني پاچا اعليحضرت محمد ظاهر له مسافرت وروسته د ۱۹۶۷م کال په مارچ کې چې د۱۳۴۵ کال له کب سره سمون خوري، د المان د اتحادي جمهوريت جمهور رئيس افغانستان ته دوستانه سفر وکړ. همدارنګه په ۱۳۴۲ کال کې د فدرال المان د تيلفون او تلګراف وزير کابل ته سفر وکړ. او د ۱۳۴۸ کال د غويي په مياشت کې د افغانستان د مخابراتو وزير د المان اتحادي جمهوريت ته سفر وکړ.

د ۱۳۵۱ کال دوېې په مياشت کې چې د ۱۹۷۲ م کال د سپتامبر له ۱۲ مې سره برابره ده دوخت صدراعظم ډاکتر عبدالظاهر. د المان د فدرالي جمهوريت د صدراعظم ويلي برانت په بلنه هغه هيواد ته رسمي سفر وکړ. همدارنګه د ۱۳۵۲ کال د

غویي په میاشت کې چې د ۱۹۷۳ کال نه مې سره برابره ده دوخت د کورنیو چارو وزیر نعمت الله پژواك د المان فدرالي جمهوریت ته سفر وکړ.

د المان فدرالي جمهوریت د۱۳۵۷ کال د غویي په ۱۶ مه نیټه د افغانستان د هغه وخت دولت په رسمیت وپیژانده او ددواړو هیوادونو ترمنځ عادي اړیکو ادامه ومونده. له (۱۹۸۰) کال او د شوروي د سره پوځ له خوا د افغانستان له نیولو وروسته د افغانستان دهغه وخت د حکومت او د المان دفدرالي جمهوریت ترمنځ اړیکې په سړیدو شوې. کله چې په برلین کې د افغانستان په سفارت یر غل وشو، دا کار د المان د مقاماتو له بې تفاوتۍ سره مخامخ شو.

د شوروي له خوا د افغانستان له نیولو وروسته په المان کې د مجاهدینو په نوښت دغه لاندې ټولنې جوړوې شوې:

- د افغانستان لپاره د مرستې ټولنه.
- په بن کې د مجاهدینو اطلاعاتي دفتر.
- د مجاهدینو لپاره د افغان- المان ټولنه.
- د پناه غوښتونکو لپاره د افغان المان ټولنه
- په بن او مونشن کې د افغانانو فرهنګي مرکزونه.
- د انساني کرامت او د بشر د حقوقو د ساتنې ټولنه.

د جهاد په دوران کې د غولاندې جهادي مشرانو د الماني مقاماتو په بلنه هغه هیواد ته سفر کړی دی:

استاد برهان الدین رباني، دوه ځله المان ته سفر کړی او په وهم سفر کې یې دمسیحي سوسیال ګوند له مشر او د بایرن د ایالت له رئیس اشتراوس سره وکتل.

مولوي محمد یونس خالص، درې ځلې المان ته تللی دی. په لومړي سفر کې یې په ترتیب سره له ایالتي صدراعظم البرشت او په پارلمان کې د المان دسوسیال د موکرات ګوند د فراکسیون له مرستیال م کې او په درېیم سفر کې یې له فرانس جوزف اشتراوس سره وکتل.

- حضرت صبغت الله مجددي، دوه ځلې المان ته سفر کړی او په دوهم سفر کې یې د هغه هېواد په پارلمان کې خبرې کړې دی.

- ګلبدین حکمتیار، دوه ځلې المان ته تللی چې دوخت د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال وان ول او د المان د سوسیال د موکرات ګوند له رئیس ویلي برانت سره یې لیدلی دی.

- پیر سید احمد ګیلاني، درې ځلې هغه هیواد ته سفر کړی دی او له فرانس جوزف اشتراوس سره پرکتني برسیره یې د هغه هیواد په پارلمان کې هم وینا کړې ده.

اقتصادي اړیکې:

له افغانستان سره د فدرالي المان مرستې د ۱۹۵۸ کال د اقتصادي او فني مرستو د موافقه لیک پربنسټ چې په ۱۹۶۵ م کال کې تعدیل شو، ترسره کیږي. له افغانستان سره د هغه هیواد مرستې تر ۱۳۵۶ هـ ش کاله پورې ۲۴۹ میلیونو مارکوته رسېږي.

د افغان- المان د ګډ کمیسیون د مرنۍ غونډې د ۱۹۷۷ کال د مې په میاشت کې په کابل کې جوړه شوه چې په پایله کې د دواړو خواوو ترمنځ د ۲۰۰ میلیونو مارکو د مرستې موافقه لیک لاسلیک شو. د افغان- المان د ګډ کمیسیون د همه غونډې د ۱۹۷۸ کال د

اکتوبر په میاشت کې په بن کې جوړه شود په دې کمیسیون کې لاندېنۍ نوې پروژې تایید شوې:

- د راډیو افغانستان د پروژې د پراختیا، لومړۍ پړاو.
- د کابل او د هغه د شاوخوا د بریښنا د ځلوړمې شبکې د پروژې لومړی پړاو.
- د پایو(ستنو) جوړولو پروژه.
- داوبو لګولو پروژه.
- د ماهیر د بریښنا ددستګاه او د انرژی د نورو تاسیساتو لپاره د فالتوسامان آلاتو برابرول.
- د علمی آثارو د ژباړې په منظور، د کیمیاد انستیتوت د تجهیزاتو برابرول
- د پکتیا د پراختیا پروژه.
- په کابل کې د غاښود کلینیك دپروژې پراختیا او د غاښودطب دپوهنځی او په کلو کې د غاښو د روغتیا یی مرکزونو جوړول.
- د نساجی، حرفه یی ښوونځیو، او راډیو افغانستان د کار کوونکو د ترینںنګ مرکز.
- په تجربی ډول د کانکریټي ستنو(پایو) د جوړولو په فابریکه کې دلمر له انرژی څخه ګټه اخیستل.
- په ۱۹۸۰ کال کې د (۲۳ سکالر شیپونو او(۵۴) فیلو شیپونو منل.
- په افغانسنان کې د المانی رضا کارانو د کار دوام.
- د علی آباد د اوبو لګولو پروژه.
- آلمان له ۱۹۶۱ کال څخه تر ۱۹۶۶ کاله پورې د پنځه کلن پلان د پلی کولو لپاره(۳) میلیونه مارکه مرسته کړې ده.

د ۱۹۶۰ کال دوهم پرمختیایي (انکشافي) پلان لپاره یې ۴ میلیونه مارکه مرسته کړې ده. له ۱۹۶۱ نه تر ۱۹۶۶ کاله پورې یې د دریم انکشافي پلان لپاره (۲۳،۳) میلیونه مارکه) مرسته کړې ده.

همدارنګه د افغان ترکانۍ تصدی، د قندکار نساجي فابریکه او د پلچرخي د وریو او بدلو فابریکه په ۱۹۶۱ کال کې د المان په مرسته جوړې شوې دي.

په ۱۹۵۷ م کال کې د کابل او قندهار میخانیکي لیسې او په ۱۹۵۸ کال کې د صنایع لیسه د المان هیواد په پانګه اچونه جوړې شوې دي. المان په ۱۹۵۶ کال کې د افغاني افسرانو د روزنې په برخه کې د پولیسو له اکاډمۍ سره یو تړون لاسلیک کړ. د هوخست، هوختیف او زیمنس شرکتونو هم په همدې مهال فعالیت پیل کړی دی.

کلتوري مرستې:

په ۱۹۶۷ کال کې د اماني لیسې له سوئیدوورسته. د وخت د جمهور رئیس ویلي برانت له خوا ددې لیسې د بنسټ ډبره کیښوده شوه.

په ۱۹۶۱ م کال کې د المان د کولن له پوهنتون سره د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي د توامیت تړون لاسلیک شو، چې دهغه بربنسټ په ۱۹۶۱ کال کې یو شمېر افغاني محصلان المان ته لاړل او په ۱۹۶۶ کال کې بیرته هیواد ته راستانه شول.

برسیره پردې په (۱۹۶۶م) کال کې د کابل پوهنتون د علومو او ادبیاتو د پوهنځیودتو امیت تړون لاسلیک شو. چې کلنی لګښت یې دوه میلیونو مارکو ته رسیږي.

سیاسي اړیکې:

د طالبانو د حکومت له نسکوریدو وروسته، دآلمان فدرالي جمهوریت، په افغانستان کې د امن او ثبات د ټینګښت لپاره د چارو د اجرا نوبت، خپل کړ او د افغانستان د قضیې بنکیل اړخونه یې خبرو اترو او د معضلی سوله ایز حل ته را وبلل. هماغه وچې د آلمان د بن د پترز بورګ په ښار کې د افغانستان د مختلفو ګوندونو استازی سره را ټول شول، په پایله کې دا سې پریکړه وشوه چې د هغې پربنسټ باید په افغانستان کې د شپږو میاشتو لپاره لنډ مهاله اداره تاسیس او د شپږو میاشتو له تیریدو وروسته بیړنۍ لویه جرګه جوړه او ددې لوبې جرګې په رڼا کې انتقالي حکومت رامنځ ته شي او له اتلس میاشتو یعنې د انتقالي حکومت د کار په پای کې بله لویه جرګه جوړه او د هغې په رڼا کې سرتر سري ټولټاکنې ترسره شي.

مالي مرستې:

د المان حکومت ژمنه کړې ده چې له ۲۰۰۲ نه تر ۲۰۰۵ کال پورې له افغانستان سره ۲۳۰ میلیونه ډالره مرسته وکړي. همدارنګه د المان حکومت په دې وروستیو کې له هغو پیسو څخه چې د ۱۹۶۲ نه تر ۱۹۷۹ کلونو پورې یې له افغانستان سره دپور په ډول مرسته کړې ده، تېرشوی دی. د المان حکومت دیادونې، کتنې او تادیې وړ لاتدینۍ پیسې د ۲۰۰۲ کال د مې په لومړۍ نیټه سل په سلو کې د افغانستان حکومت ته سپارې. دغه اندازه چې(۳۴۳۸۹۳۵۷۱) یوروته رسیږي، دهغه پور وړ کړه ده چې له افغانستان سره د مالي مرستو د توافقاتو په نتیجه کې

د ۱۹۶۲ او ۱۹۷۹ کلونو کې د المان له خوا په لاندې برخو کې شوې ده:

- د ماهیپر د بریښنا بند د ۱۹۶۴ کال د نوامبر د ۲۴ مې نیټې د پور موافقه لیك،
- سامان اومالونو د ۱۹۷۴ کال ددسمبر د ۷ مې نیټې د پور موافقه لیك .
- دماهیپر د بریښنا د بند د ۱۹۷۵ کال د دسامبر د ۲۲مې نېټې د پور موافقه لیك
- د کابل د ښاري د شبکې د ۱۹۷۰ کال د اکتوبر د ۲۶ مې نېټې دپور موافقه لیك
- د تیلی کمونیکیشن په ۱۹۷۶ کال د مارچ د ۱۸ مې نیټې د پور موافقه لیك
- دڅښلو د اوبو د اړتیا د پوره کولو د ۱۹۷۶ کال دمارچ د ۱۸ مې نېټې د پور موافقه لیك
- د کابل د ستنو(پایو) جوړولو د پروژې د ۱۹۷۹ کال د مې د ۱۰ مې د پورموافقه لیك.
- د موافقه لیکونو له مخې د ژمنه شوو پیسو لپاره د اجرت ورکړه به د ۲۰۰۲ کال د مې له لومړۍ نیټې څخه وروسته ونه غوښتل شي.
- دپور د موافقه لیك هغه پیسې به چې کټه ترې نه ده اخیستل شوې او ټول شمېر یې(۴۸۶ . ۸۶۷۶) ته رسیږي په تیرید نی بدلې شي.

د المان د فدرالی جمهوریت حکومت Kreditanstalt Fur Wied drauFbau(KFW) موسسې ته واك ورکړی دی چې د افغانستان په بیارغاونه کې ۴۱۷۸۵۵۵۰۸۹ یورو مالي

مرسته وکړي. د غه مالی مرسته د لاندينيو پروژو د تمويل لپاره ځانګړې شوې ده:

د ښوونې او روزنې پروګرام، ۳۵۷۹۰۴۳۱۷ يورو.

- روغتيايي پروګرام. ۳۵۷۹۰۴۳۱۷ يورو
- د برېښنا دتامين لپاره، ۵۱۱۲۹۱۸۸۱ يورو .
- د مطالعـــاتو او متخصـــصانو د پروګـــرام وجـــوه ۲۵۵۶۴۵۹۴۱، يورو .
- د څښلو داوبو د برابرولو پروګرام، ۷۱۵۸۰۸۶۳۴
- د کابل د لارو بيا رغاونه، ۳۵۰۰۰۰۰ يورو
- په هرات کې د څښلو د اوبو برابرول، ۷۵۰۰۰۰۰يورو
- د سروبي د برېښنا د بند بيا رغاونه۲۸۰۰۰۰۰ يورو
- - د ماهيپر پروژه
- - د کابـــل د برېښنـــا د تـــامين د شـــبکې بيارغاونـــه ۶۰۰۰۰۰۰ يورو.

د ۱۹۶۲ نـــه تـــر ۱۹۷۹ کلونـــو پـــورې د المـــان د فـــدرالی جمهوريت د حکومت لـه خوا د افغانـستان حکومـت تـه د پورتنيو يادوشو و مالي ارقامو دورکړې ژمنه شوې خو تـر اوسـه يې د اجـرا پړاو لانه دی پيل شوی.

د افغانستان د بيارغاونې لپاره د المان د اغيز منې همکارۍ د سريع او اغيـز منـې څارنې پـه منظـور د پتـرز بـورګ (بـن) د کنفرانس په رڼا کې، د المان د فدرالی جمهوريت حکومت. Kfw تـه اجـازه ورکـوي څـو د پورتنيـو پـروژو تطبيـق او تفـصيل لـه اړ وندووزارتونو سره مطرح او موافقه وکړي.

د يادونې وړه ده چې همدا اوس د المان لاندېنۍ مؤسسې د هېواد د بيارغاونې د خدمتونو د پراختيا په اړه کې په کار بوخت دي:

German Agency for technical coop eration _ GTZ

-Kreditans talt far wiederauf bau- KFW

-Technisches hil fs werk- THW

-DED

-Frid rich Nauman stitung

Kunrad Adenauer stiftung -

د بریتا نیا شاهي دولت
(انګلستان)

بریتانیا د اروپا په لویدیځ کې یو ټاپویي هیواد دی. ددې هیواد شمال ته د اتلس سمندر، ختیځ ته یې د شمال سیند او جنوب ته یې د لامانش سیند موقعیت لري. مساحت یې (۹۴۲۲۶) میله او دوګړو شمیر یې ۷۱۲۱۰۰۰۰ (د ۱۹۹۰ شمېر نې) دی، چې په سلو کې (۸۱) یې انګلیسي توکمه دي. پایتخت یې د لندن ښار دی.

په بریتانیا کې دغه بیلا بیل توکمونه میشته دي: په سلو کې ۸۱ انګلیس، په سلو کې ۹،۴ سکاتیسن، په سلو کې ۲،۴ اریس، په سلو کې ۹،۱ ویلز، په سلو کې ۸، ۲ لویدیځ هندوستانیان، پاکستانیان او نور.

اصلي ژبې یې انګلیسي، ویلزي، سکایتی او ګالیک دي او مذهبونه یې عبارت دي له: انګلیس کنسایی او رومي کاتولیک څخه.

د فرانسې او بریتانیا ترمنځ د مانش بحیره(دلا مانش سیند) پرته ده چې د ۲۱ میلو په واټن دواړه هیوادونه سره بیلوي.

د مرکزي دولت رامنځ ته کیدو او د (۱۶۴۲- ۱۶۴۹ م) نېټې بورژوازي انقلاب د نورو اروپا یي هیوادونو په پرتله د بریتانیا دودې او تکا مل لپاره ښه زمینه برابره کړه.

داکار ددې باعث شو چې بریتانیا سمندري واکمنی ترلاسه او پریمانه مستعمرې تر واک لاندې را ولي.

له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د بریتانیا مساحت۶، ۳۴ مربع کیلو متره او دوګړو شمیر یې تر ۷۰۰ میلیونو زیات و.

له جګړې وروسته د امپراتورۍ ټوټې کیدل په چټکۍ سره پیل شول چې اوس د بریتانیا د ټولو مستعمرو شمیرله ۱۲ کوچنیو ټاپوګانو څخه عبارت دی. بریتا نیا اصلي خاوره عبارت ده له: انګلینډ، سکا ټلینډ او شمالي ایرلنډ څخه.

د بریتانیا ټاپوګانی طبیعی څوړې لري چی د سمندر له سطحې څخه یې لوړوالی له۲۰۰ نه تر ۳۰۰۰ فوټونه رسیږي، دې کار د کبانو د روزنې لپاره ښه زمینه برابره کړې ده، د بحیرو په منځ کې د ټاپوګانو ددی ځانګړی موقعیت له امله د بریتانیا د خاورې دا سې نقطه نشته چې له سیند څخه له ۷۵میلو څخه زیات واټن ولري . د بریتانیا ټاپوګان په زړه پورې اوبه او هوا لري چې په اوړي کې یې د تودوخې درجه له ۲۷ ۳۲ او په ژمي کې په منځنۍ کچه د سانتی ګرید ۷ درجو ته رسیږي.

د بریتانیا ملکه دوهمه الیزابته په میراثی او دودیزه توګه د ملکې په حیث چی یواځی تشریفا تي جنبه لري له ځانګړي محبوبیت څخه برخمنه ده. د بریتا دوه لوی ګوندونه: محافظ کار او کار ګر د هیواد د پالیسي چلوونکي دي، چې دا دواړه ګوندونه

له ډېرو کلونو راهیسې د ټولټاکنو له لارې په مستقیمه توګه هیواد د رهبري کوي. د ۱۳۶۹ کال په دوهمې نیمايي کې دغه سیاسي بحران له امله چې په کارګر ګوند کې رامنځ ته شو. مارګریت تاچر ګوښه کیدو ته اړه شوه. د هغو ټولټاکنو په پایله کې چې د سپتامبر په ۲۷ مه تر سره شوې له محافظ کار ګوند څخه جان میجر د صدراعظم په توګه او نباغلی دوګلاس هرډ د بهرنیو چارو د وزیر په حیث و ټاکل شو. جان میجر چې نږدې د پنځو کالو دی، په یوه هنرمنده کورنۍ کې (چې له سرکس سره یې سروکار درلود) زیږیدلی او خپلې زده کړې یې نه دي بشپړې کړي او په کار یې پیل کړی دی. هغه مخکې له دې چې سیاست ته مخه کړي، په بانکې چارو بوخت و. له دوه ځلي ماتې وروسته یې په ۱۹۷۷ م کال کې دوکیل په توګه پارلمان ته لاره موندله. په ۱۹۸۵ م کال کې د عامې روغتیا دوزارت مرستیال او په ۱۹۸۷ م کال کې د خزانې د رئیس په حیث د کابینې غړیتوب ته لوړشو. په ۱۹۸۹ م کال کې د بهرنیو چارو وزیر او د همدې کال په اکتوبر کې د مالیې وزیر شو چې د ۱۹۹۵ م کال د نوامبر تر ۲۷ مې یې دې دندې ته ادامه ورکړه.

د افغانستان او بریتانیا اړیکې:

د ۱۹۱۹ م کال د نوامبر په ۲۲ مه د افغانستان او بریتانیا تر منځ د مودت تړون لاسلیك شوه چې د همدې تړون پر بنسټ دیوبل په مرکزونو کې ددواړو هیوادونو قونسلګرۍ رسما تاسیس او په کار یې پیل وکړ او عبدالهادی داوی په لندن کې د لومړنی فوق العاده افغاني استازي او مختار وزیر په توګه وټاکل شو. ددواړو

هیوادونو د مشرانو د لیدنوکتنو په بهیر کې، په ۱۳۵۱ کال کې د برېتانیا د بهرنیو چارو وزیر دوګلاس هرډ افغانستان ته راغی.

دجهاد په کلونو کې د افغانستان په وړاندې د برېتانیا سیاست نسبت نورو اروپايي هیوادونوته، زیاتره دمجاهدینو په پلوي او د هغوی د موخو او غوښتنو د پلي کولو په لور روان و. دبرېتانیا دولت د ۱۴کلن جهاد په بهیر کې له مجاهدینو سره زیاتې مرستې کړي چې د جهاد په بهیر کې ددې هیواد مادي او معنوي مرستې نه هیریدونکې دي.په ګڼ‌شمېر نړیوالو غونډو او ټولنو کې برېتانیا په کلکه د جهاد حمایه او ملاتړ کړی دی.

دمجاهدینو له بریالیتوب څخه وروسته افغاني نوری نه برېتانیا سره د اړیکو دودې او پراختیا مینه وال و. خو برېتانیا له دې سره مینه ښودله چې په اسلام آباد کې ددې هیواد عالي کمیشنر ښاغلی بارینګټن په کابل کې د نا استوګن لوی سفیر په توګه ومنل شي.

څرنګه چې د برېتانیا هیواد، د دواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو له پیله، تل په کابل کې استوګن سفارت درلود، نو څکه افغاني لوري. د نا استوګن سفیر د ټاکنې په اړه د برېتانیا وړاندیز ونه مانه، څکه چې دغه کار د هیواد په نازکو او حساسو تاریخي شیبو کې، په کابل کې د استوګن سفیر د ټاکلو په اړه د نړۍ د نورو هیوادونو دهڅونې سبب کیده.

اقتصادي اړیکې:

په لاندې ډول کولی شو چې د برېتانیا د لویو او عمده موافقه لیکونو او مرستو یادونه وکړو:

بریتانیا حکومت په ۱۹۶۵ م کال کې په افغانستان کې د هلمند د نباتي غوړیو د فابریکې د جوړولو لپاره د کریډت په توګه د ۶۵۰ زرو سټرلنګ پونډو مرسته کړې ده.

په ۱۹۶۸ م کال کې د هغه هیواد دیوه خصوصي بانک د پور ورکړې له لارې د میکرد د ساختماني کمپنۍ له خوا د انټر کانټیننټال هوټل ودان شو.

د ۱۳۵۳ هـ ش کال د تلې دمیاشتې د موافقه لیك پربنسټ یې د ګرشك د جنو پرس د فابریکې د پراختیا په منظور یو میلیون سټرلنګ پونډه(په سلو کې له ۶ ربحې او په سلو کې له ۴۰ ګرانټ پرته) مرسته کړې ده. همدارنګه یې د هلمند د نباتي غوړیو او جن وپرس د فابریکې او د ګرشك د جن و پرس د نوې فابریکې د اصلاح د اضافي لګښتونو د تمویل لپاره ۶۸۷ زره سټرلنګ پونډه بلاعوضه مرسته کړې ده.

په همدې توګه یې د۱۳۵۳ کال د سلواغې او د ۱۳۵۶ کال د تلې د میاشتې د شفاهي یادونو له مخې د لښکر ګاه د جن و پرس د پروژې د اضافي لګښتونو لپاره یې په ترتیب سره ۳۷۲ زره او ۳۰ زره سټرلنګ پونډ بلاعوضه مرسته کړې ده.

د۱۳۵۶ کال د غبرګولي د ۲۳ مې نیټې د موافقه لیك پر بنسټ بریتانیا له افغای لورې سره شپږ میلیونه سټرلنګ پونډه بلاعوضه مرسته کړې چې په پروژو کې ترې استفاده شوې ده:

- د کرنې د پراختیا بانك لپاره ، ۵۰۰۰۰ سټرلنګ پونډه.
- له ملاریا سره د مجادلې د پروژې لپاره ۱۸۰ زره سټرلنګ پونډه.

په پام کې وه چې د پوهنې وزارت دودانولو د تصدۍ د اړتيا وړ سامان او تجهيزاتو د برابرولو لپاره د بريتانيا د شپږو ميليونو پونډو له مرستې څخه ګټه واخيستل شي.

د ۱۳۵۵کال د زمري په مياشت کې د (تيلو ملي مؤسسې) او د بريتانيا د ټراى سنټرال کمپنۍ ترمنځ تړون لاسليك شو چې موخه يې د افغانستان په لويديځ(د فراه بلاك) کې د جيولوژي سروې وه د سروې لګښت بې ۵۰ زره ډالره اټکل شوى وو چې هغه دټراى سنټرال کمپنۍ په غاړه اخيستى وو. ددې شرکت ساحوي چاري د ۱۳۵۶ کال په چنګاښ کې پاى ته ورسيدې، خو ګزارشونه د افغانى لوري په واك کې ورنکړل شول. د پخواني شوروى له خوا د افغانستان له نيولو وروسته، بريتانيا خپلې ټولې مرستى قطع او پايې تعليق کړې.

د بريتانيا د هيواد مرستې:

پـه ۱۹۷۸ م کـال کـې بريتانيـا د ۱۳،۸۵ميليـون ډالـرو بلاعوضه نقدې مرستې ژمنه کړې وه چې له دې جملې څخه له ۶۳، ۱ ميليون ډالرو څخه ګټه اخيستل شوى او نورېې د تعليق په حال کې پاتې دي.

څلور د اخذې دستګا وې چې د ماردرنى کمپنۍ جوړې کړې، له فنى سامان او و سايلو سره چې مشخصات يې څرګند دي، د بريتانيا د هيواد له بلا عوضه مرستو څخه وې چې د افغانستان له اشغال سره سم د تعليق په حال کې پاتې شوې.

د بيسيم دستګاه، د انګلستان دمادوين په کمپنۍ کې د جوړوشوو د بيسيم د ۳۰ دستګاوو، په بلاعوضه توګه له افغانى

لوري سره ژمنه شوې، چې همدا اوس هغه ته زیاته اړتیا لیدل کیږي.

د ښوونې او روزنې او دولتي مطبعې بیارغاونه: څرنګه چې ددې مؤسسو ټول ماشین آلات د انګلستان له خوا برابر شوي وو، د ۱۹۹۲ کال د جګړو له امله د غه مؤسسې ویجاړې او ماشین آلات یې له منځه تللي دي، تمه کېږي څو د بلاعوضه مرستو له مدارکو څخه د هغود بیا رغاونې لپاره اقدام وشي.

انګلستان له ۱۳۵۷ کال څخه د مخه د کرنې په ډګر کې د سلا کارانو د استولو په برخه کې په یادوشوو ساحو کې مرسته کوله. په ۱۹۶۸ م کال کې د انټرکانټیننټال نړیوال هوټل، د هغه هیواد د یوه خصوصي بانك د پور دورکړې له لارې د تیلرو دود دودانولو کمپنۍ له خوا ودان شو.

د اتلسمې پیړۍ له وروستیو څخه را په دیخوا افغانستان د خپل ځانګړی جغرافیایي موقعیت پراساس د بریتانیا د ښکیلاکګر دولت د پاملرنې وړو ګرځید. بریتانیا درې ځله له افغانستان سره په جګړو کې ښکیل شوه او درې ځله له ستروماتو سره مخامخ شوه د بریتانیا د تیریو په پایله کې په جنوبي او ختیځه برخه کې د افغانستان د خاورې یوه برخه د هیواد له اصلي خاورې څخه بیله شوه چې لومړی د افغانستان او بریتانیا او وروسته د افغانستان او پاکستان ترمنځ یوه سیاسي معضله شوه.

د افغانستان او انګلیس ترمنځ لومړنۍ مخامخ خبرې په پېښور کې ترسره شوې چې په پایله کې یې د شاه شجاع الملك او الفنستن معاهده منځ ته راغله. په دې معاهده کې بریتانیا ژمنه وکړه چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه ونکړي. خو د پیښو بهیر وښودله چې انګلیسانو نه یواځې د افغانستان په چارو

کې له لاسوهنې څخه ډډه ونکړه بلکې د ننه په افغانستان کې یې د خپلو نظامي تیریو لپاره زمینه برابره کړه، تر هغو چې له یو لړملی پاڅونونو څخه وروسته انګلیس ناچاره شو چې له افغانستان څخه ووځي او عبدالرحمن خان د چارو واګې ترلاسه اوډیورنډ معاهده یې لاسلیک کړه.

د ۱۹۱۹ کال په مارچ کې امان الله خان د افغانستان خپلواکي اعلام کړه او بـه تـرڅ کـې یـې پـه درې جبهـو: جنـوبي، ختیځې او قنـدهارکې د افغانسـتان د پـوځ او بریتانیـا یـی ځواکونـو تـرمنځ جګړه پیل شوه، چې انګلیس لـد ماتـی وروسـته لـه افغانسـتان سره خبرو ته غاړه کیښوده په دی خبرو کـې د افغانسـتان خپلواکـي پـه رسمیت وپیژنـدل شـوه. خـو د اختلاف وړ عمـده او مهـم مطلـب افغانستان له لاسه وتلي ځینې ایالتونه او په ځانګړې توګـه د آزادو قبایلو موضوع وه، چې د زیات ټینګار لـه املـه لاینحلـه پاتې شـو، ترهغو چې د ۱۹۲۲ م کال د نوامبر پـه ۲۲مـه د کابـل تـړون لاسـلیک شو او د انګلیس استازي ډایس دیوه یوه مکتوب پـه تـرڅ کـې چې له لیك سره مل و، ډاډ ورکړ چې له آزاد و قبایلو سره به ښه چلندو شـي.د همـدې تـړون پـر بنسـټ افغانسـتان او بریتانیـا د سیا سی اړیکو په پیل او دقونسلګریو پرتاسیس په خپلو کې موافقه وکړه.

د بریتانیـا هیـواد پـه زوره توګـه د محمـود مسـتیری د هڅوملاتړو کړ. همدا اوس بالفعـل پـه سلو کـې ۲۰ د افغانسـتان لپاره ټولې بشري مرستې د ملګرو ملتو د ټولنې له لارې د بریتانیا له خوا تمویلیږی او همدارنګه یو شمیر انګلیسي خیریـه موسسـې د هیـواد پـه د ننـه او بهـر کـې د افغانستان لـه خلکو سره مرسته کوي.

هغه پریکړه لیك چې د شوروي د اشغال پر مهال په افغانستان پورې د اړوندې پالیسۍ په اړه، په ځانګړې توګه د شوروی د ځواکونو د وتلو په باب د انګلیس د دسناد مجلس روحیه ځرګندوله، په دې کلك ولاړ و ترهغو چې روښانه شوې نه وي چې شورویانو پوځي اشغال پای ته رسولی او خپل ځواکونه د بیا اشغال لپاره نه سوقوی،مجاهدین په کافی اندازه تجهیزات په واك کې لری ځووکولی شي ځان د انتقالي حکومت په پیچلې دوره کې - چې په نوو ټولټاکنو پای ته ورسیږی- وساتی. همدارنګه د متحده ایالاتو دمرستو د درولو او محدو دولو غوښتنه یې هم نه ده کړی او دشوروی تروتلو پوري یې له مجاهدینو څخه خپل ملاتړ اعلام کړی دی.

له انګلستان سره د افغانستان د ډموکراتیک جمهوریت اړیکې:

د افغانستان د موکر اتیك دولت له انګلیستان سره ښې دیپلوما تیکې اړیکې نه درلودې او د کمونیستانو دواکمنۍ په بهیر کې له لویدیځ سره ددې هیواد اړیکې شلیدلې وې. ددولتونو د پیژندنې په اړه د انګلیس ددولت پالیسي داسې ده چې د انګلیس حکومت دولتونه د فاکتو په رسمیت پیژنی، لکه چې دافغانستان د اسلامی دولت د جمهور رئیس استاد ربانی په مشرۍ یې د افغانستان دولت په رسمیت وپیژانده او د هغه په نامه یې د مبارکۍ پیغام استولی و چې په خپله د انګلیس ددولت له خوا د افغانستان د اسلامي دولت د جمهور رئیس په توګه د ښاغلی ربانی پیژندنه ارزول کیدله. همدارنګه د انګلیس دولت ددیپلوماټیکو اړیکو د ټینګښت غوښتنه کوله او په پرله پسې ډول یې د افغانستان له اسلامي دولت څخه په افغانسان کې د نا

استوګن سفیر په توګه په پاکستان کې د انګلیس د عالی کمیشنر ښاغلی برنګټن د منلو غوښتنه کوله.

د جهاد له بریالیتوب څخه وروسته د انګلستان په مطبوعاتو کې د افغانستان د پیښو انعکاس ډیر پیچلی، مبهم، تیاره او تباه کوونکی ښودل شوی دی. چې د افغانستان د عامه خلکو په اذهانو کې یې د تونډ لارو ترهګرو، د مخدره توکو بازار، له سیاسی او ټولنیزو چارو څخه له فاقدې ټولنې برته بل تصویر نه درلود. ترهغه ځایه چې تجربو ښودلې ده.

انګلستان د مطبوعاتو د پالیسۍ یو اصل دادی چې د پیښو په اړه د انګلستان په مطبوعاتو کې بدلون یوډیر ستونز من او اوږد مهاله کار دی. د بیلګې په توګه د شوروی د تیری په وړاندی څوارلس کاله د مجاهدینو د دریدو ملاتړ کیده او د شورویانو او په بهر کې د هغوی د ګوډاګیانو پر له پسې هڅو و نشو کولی چې دغه بهیر بدل کړي.

دانګلیس هیوادله مقاماتو سره دا فغانی دیپلوماتانو لیدنې کتنې:

⬉ دآسیا د برخې د دیپار ټمنټ له آمرمایز فیلډ سره د بهرنیو چارو وزارت د اداری مرستیال ډاکتر شمس کتنه چې په هغی کې د مختلفو سیاسی، فرهنګی او اقتصادی موضوعګانو په اړه خبرې وشوې.

⬉ د آسیا د دیپارټمنټ له آمرویلیم اود بهرنیو چارو وزارت له دووغړو ښاغلی تیسری او ښاغلی هیون سره د ۱۹۹۲ کال د اکتوبر په ۷ مه نیټه د صدرات د مرستیال او بهرنیو چارو وزیر سید سلمان ګیلانی او د وخت د بهرنیو چارو وزارت د سیاسی چارو مرستیال ښاغلی حامد کرزي کتنه، چې په کابل کې د

انګلیس دهیواد د نماینده ګۍ د فعالیتونو او په بیارغاونه کې د اقتصادي مرستو وړاندې کولو، د درملو او طبي لوازمو د لیږلو او د بورسونو د تمویل په اړه وشوه.

د لنډ مهالي اداري او اسلامي انتقالي دولت له منځ ته راتګ څخه وروسته ددواړو هیوادونو ترمنځ اړیکو بنسټیز بدلون وموند. په دې ترڅ کې ددواړو خواوو د رسمي مقاماتو پرلپسې لیدنې کتنې دیادولو وړدي.

د بیلګې په توګه د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت رئیس ښاغلی حامد کرزی دې هیواد ته دوه ځله رسمي سفرکړی دی، لومړی ځل په ۲۰۰۲ م کال او دوهم ځل د ۲۰۰۳ کال په اکتوبر کې.

اسپانیا

رسمي نوم: د اسپانیا پاد شاهی.

ملی نوم: رینو اسپانیا

سیمه ایز نوم: اسپانا

پلازمینه: مادرید (اوسیدونکی یی: (۳۱۵۸۸۰۰تنه)

دحکومت بڼه: مشروط سلطنتي، له ۱۹۷۸ کال څخه، د قانون جوړولو ددوومجلسونو په لرلو.

ددولت رئیس: پادشاه، لـه ۱۹۷۵ کـال څخـه ، لومړی خـوان کارلوس

پولي واحد: پزدا

دین: مسیحي

ژبه: اسپانیایي، باسك کاتالان او ګالیسي.

توکم: اسپانیایی، کاتلان، باسك او ګالیسي.

ملي ورځ: د اکتوبر ۱۲مه(د کریستف کولمب له خوا د امریکا د کشف کالیزه)

لوی ښارونه: ما درید، بارسلونیا، والنیسیا، سویل

مساحت: ۵۰۴۷۵۰ مربع کیلو متره.

دوګړو شمېر: څلویښت میلیونه.

طبعي جغرافیه:

اسپانیا د اروپا په جنوب لویدیځ کې هغه هیواد دی چې (۸۵) ټاپووزمې لري. دا هیواد د شمال له خوا د ګاسکوني په خلیج (بیکسی)، د فرانسې او آندو را په هیوادونو، د جنوب او ختیځ پلوته د مدیترانې په بحیرې، د جبل الطارق په تنګي او د کادیز خلیج پورې او لویدیځې خواته د پرتګال په هیواد او د اتلس په سمندر پورې نښتی دی. دا هیواد(۸۲) په سلوکې د ایبري په ټاپو وزمه کې شامل دی چې داروپا په جنوب لویدیځ کې پرته او له فرانسې څخه بیله شوې ده. په شمال کې د بیسکا ی کوچنی خلیج، په لویدیځ کې د اتلس سمندر او په جنوب او ختیځ کې یی د مدیترانې بحیره پرته ده. افریقاله ۱۶ کیلو مترو څخه لږ د جبل الطارق له تنګی سره له اسپانیا څخه لرې پرته ده؛ هغه پلنه مرکزی صحرا چې د غرونو د لړیو او سیندونو په واسطه قطع شوې ده. بالئار او قناری ددې هیواد نور مهم ټاپوګان دی.

د اسپانیا مرکزي برخې د ۶۰۰ متره په منځنی لوړوالی یوې دښتې راچاپیرې کړې دي، چې په شمال کې د کانتابری د غرونو لړۍ د سیرامورنا تر غرونو اود سیرانوا دا په جنوب کې غځیدلي دي. دغه دښته ددوئرو، ټاګوس او ګواد یانادر ودخانو په دره کې قطع کیږي. په شمال ختیځ کې د رودابرو سور وره دره هغه د

پیرینه د غرونو له لړۍ نه چې د فرانسې او اسپانیې رامنځ او اندورا ترمنځ پوله جوړوي- بیلوید سیرانوادا په کې د مولاسن څوکه د ۳۴۸۲ مترو په لوړوالی، د هیواد ډیره لوړه نقطه ګڼل کیږي. د پیکو د انتو غرونه ۳۴۰۴ متره د کورنیه په غرونو کې او آلمانزو ۲۵۹۲ متره چې د مادرید په ۱۵۰ کیلو متری کې پروت دی، د اسپانیې له نورو لوړو غرونو څخه ګڼل کیږي.

ددې هیواد مهم سیندونه عبارت دي له: په شمال ختیځ کې آبرو، په مرکزي برخه کې تاګوس(تاخوس)، د بالاریك د جزایرو په جنوکې: دوئرو او ګوادا د الکو ئیویر زانکار او ګواد یاناچې د مدیترانې په سیند کې خواره دي. د افریقا په لویدیځ د اتلس په سمتدر کې د مایور کا مهمه توریستي ټاپو هم په اسپانیا پورې اړونده ده.

اسپانیا د اروپا له مهمو هیوادونو څخه ده چې د سمنټو په تولید، د کبانو په ښکار او یورا نیمو په برابرولو کې لومړی ځای لري.

هرکال له دیرش میلیونه څخه زیات نړۍ ګرځندونکي ددې هیواد لیدلو ته ورځي، ځکه چې ملایمه هوا او پریمانه تاریخي وداتۍ لري، اسپانیا په ۱۷ خپلواکو ناحیو ویشل شوې ده او له هغو څخه هره یوه د خپلو سیمه ایزو پارلمانونو غړی ټاکي. اسپانیا شپږوغرونو، وښیانو(مرغزارها) ، مرکزي پراخو دښتو، له لویو او وړو تیږو ډکو ځنډورا چاپیر کړې ده.

انرژۍ او طبیعي منابع:

په کال کې د بریښنا تولید- په یوه ساعت کې ۱۴۵۱۱۵ کیلو واټه، نفت ۸۳۰۰۰۰ ټنه، ګاز: ۱۳۰۰۷ مکعب متره،

ځنګلونه: ۱۵،۵ میلیونه هکتاره، د کبانو ښکار په کال کې ۶۵۰۰۰ ټنه، د کرنې ځمکه: په سلوکې ۴۱، د بزګرۍ په چارو او د ژويو په روزنه کې د کار ځواك: په سلو کې ۱۹ په صنعتی چارو کې د کارځواك په سلو کې ۳۷.

توليدات:

غذايي محصولات، ټرکر، بوټان، پټرول، پولاد، موټر، بيړۍ

طبيعی منابع:

د ډبرو سکاره، لينټ، د او بود بريښنا ځواك، يورانيم، جيوه، فلوراسپار، ګچ او سپينې لرونکې ډبرې (سنګ آهن)، سرب، تنګستن، مس.

صادرات:

تازه ميوې، د پولادو او اوسپنې توليدات، ټوکر، بوټان، موټرونه، سابه.

واردات:

ماشين آلات، کيمياوي توکي، موټرونه، اوسپنه او پولاد.

د ليدلو وړ ځايونه:

په مادريدکې: د پراد موزيم او شاهی ماڼۍ. په تولدوکې: دآل اسويال ماڼۍ او صومعه جامع کليسا. سرو. د تومه درياباړ سلون کليسا، د ساګراد فامليا کليسا. په ويل کې د سب ګوتيك جامع کليسا، د جيرالدار برج. په پرانا داکې د الکزار ماڼۍ

ګاني، د الحمراماڼۍ، په قرطبه(کردبا) کې د مسلمانانو ماڼۍ، د پنا هګاهي د سیمې لوی مسجد او رومي ماڼۍ.

د اسپانیا تاریخچه:

د اسپانیا اوسنی توکم د ایبری د خلکو(د اسپانیا لرغوني وګړي) او سلطانو (سلط ها) له اختلاط او یو ځای کیدو څخه منځ ته راغلی دی. له پنځمې ق.م پیړۍ څخه وړاندې یونانیانو له دې هیواد سره اړیکې درلودې او نفوذ یې تر دې اندازې ورسید چې اسپانیا یې د خپلو متصرفاتو جز وګڼله. خو په پنځمه ق. م پیړۍ کې فنیقیانو اسپانیا تر خپل نفوذ لاندې راوستله، تر هغو چې په ۱۳۳ق.م کې رومیانو هغوی د اسپانیاله خاورې څخه وشړل او پرهغې باندې یې خپل نفوذ ته پراختیا ورکړه، څنګه چې رومیان مخ په کمزورۍ کیدو و پرهسپانیا باندې یرغلونه اوحملې پیل شوې، ترڅو چې په ۴۰۱ میلادي کال کې، یوې جرمني قبیلې په اسپانیا کې حکومت جوړ کړ چې تر ۹۲ کال پورې ټینګ و.

خوله دې نیتې څخه وروسته عربان لاسبري شول او د نوو ښارونو بنسټونه یې کیښودل او اسلامي تمدن یې هلته خپور کړل، په داسې حال کې چې په منځنیو پیړیو کې اسپانیا د اروپا په دارالعلم بدله شوه او د اروپایو شمیر طالب العمانو دې ټولنې ته مخه کړه اوله استادانو نه یې د علم فیض حاصلاوه.

په اسپانیا کې لاد اعرابو نفوذ پر خپل حال و، تر څو چې هغوی هم په اسلامي نړۍ کې د کورنیو اختلافاتو له امله کمزوري شول. په دې وخت کې د ارګون پاچا فردینا نت چې د اسپانیا په شمال کې یې واکمني کوله او همدارنګه د کاستیل د هیواد ملکه ایزابل د اسپانیا په شمال کې وه. په ۱۴۴۵ کال کې یې عربان په بشپړه

بې رحمۍ او قصاوت اخراج اويا قتل عام کړل، له هغه وروسته چې عربان وشړل شول، نورو ولايتونه دايزابل او فرد دينانت چې دواړه سره يو شوي وو ترواك لاندې سيمو سره ضميمه شول او يو واحد دولت يې جوړ کړ. له هغه وروسته چې فردينانت مړشو، زوی يې(شارل کن) په ۱۵۱۶ کال کې واکمن شو. د اتريش خلکو هم د هغه سلطنت ومانه، له هغه وروسته يې زوی د حکومت واګې ترلاسه کړې. په هغه وخت چې پرتګال د اسپانيا تر واك لاندې وه له دريم فليپ څخه وروسته دوهم مارشال او څلورم فليپ را منځ ته شول . په دې وخت کې پرتګال د هغه له واك څخه ووت او له څلورم فليپ څخه وروسته دوهم چارل منځ ته راغی، څرنګه يې چې ځای ناستی نه درلود نو ځکه يې وصيت وکړ چې د فرانسی پاچا څوارلسم لويی دې د اسپانيا پا چا شي او له هغه وروسته په ۱۷۰۰ م کال کې دپنځم فليپ په نامه يو څوك منځ ته راغی. له ارشيدك څخه وروسته د اتريش د پاچا زوی پاڅون وکړ او دا اد عا يې وکړه چې اسپانيا په هغه پورې اړه لري او دده حق دی چې په پايله کې دپنځم فليپ او ارشيدك ترمنځ د جګړې اوربل شو، په دې ترڅ کې فرانسويانو ماتی وخوړه او د څوار لسم لو يبی زوی پنځم فليپ له سلطنت څخه لرې کړی شو.

څنګه چې ناپليون بناپارت دفرانسی امپراتوری ترلاسه کړه، خپل ورور جوزف يې داسپانيا پاچاکړ اوداسپانيا پاچايې خلع کړ، خو کله چې ناپليون دواتر لويه جګړه کې ماتی وخوړه، دهغه او رورېې د اسپانيا له سلطنت څخه لرې کړ او فردينانت يې سلطنت ته راوباله. له فردينانت نه وروسته دهغه لور دوهمې ايزابل سلطنت ترلاسه کړ.

ایرلینډ

د ایرلینډ جمهوریت د اتلس په سمندر(اروپا) کې پروت دی چې مساحت یې ۶۸۳۹۴ مربع کیلو متره او دوګړو شمیریې ۳۶۳۲۹۴۴ تنه دی او پلازمینه یې د دوبلین ښار دی چې دوګړو شمیر یې ۵۵۰۰۰۰ تنه دی او په سلو کې یې ۹۹ تنه لوستي دي. لوی ښارونه یې: دوبلین، کودك اولیمه ریك دي.

د ۱۹۲۱ م کال ددسامبر په ۶مه نیټه یې له انګلستان څخه خپلواکي ترلاسه کړه او د ۱۹۳۷ م کال ددسامبر په ۲۹ مه یې اساسی قانون تدوین شو، د مارچ ۱۷ مه یې ملي ورځ ده. دین یې مسیحی او دوګړو توکم یې ایرلینډی او رسمی ژبې یې انګلیسی اوایر لینډي دی. د خلکو اصلی کسب یې بزګري او کب نیونه ده.

مهم محصولات یې: لبنیات، کچالو، اوربشې، چغندر، واښه او غنم دي. په صنعت کې یې د کارځواك(نیرو)۴، ۳۲ عمده صنعتي تولیدات یې، خوراکي توکي، مشروبات، ټوکر، کیمیاوي او طبی توکي، ماشین آلات او ساختمانی وسایل، طبیعی

منابع، سرب، طبیعی گاز، باریت، مس، گچ، د چونې ډبرې، ډینا مټ، اومه سکاره او سپین زر(نقره) دي.

صادرات: غوښه، لبنیات، ماشین آلات، کیمیاوي توکي او ټوکر.

طبعي جغرافیه:

دایر لینډ هیواد د اتلس د سمندر په څنډو کې پروت دی اوله انګلستان څخه دایرلینډ د سیند په واسطه بیل شوې دی او له شمالي برخو پرته دایر لینډ ټول ټاپوګان جنوبي دي. دننۍ او مرکزي سیمې یې د دوبلین له ناحیې پرته غرنۍ دي. غرونه یې نسبتاً لنډ دي او ډیره لوړه څوکه یې له سمندر څخه ۱۰۴۱ متره لوړه ده.

د شانون سیند د ۳۶۸ کیلومترو په اوږدوالي له شماله د جنوب او جنوب لویدیځ لورته د بهیدو په ترڅ کې د اتلس په سمندر کې تویېږي. د ایرلینډ دهیواد قلمرو د ۵،۶ په شاوخوا کې د ایرلینډ ټاپوده او پاتې یې شمالي ایرلینډ دی، چې له انګلستان سره د خپلې خپلواکۍ د ترلاسه کولو په منظور په جګړه اخته دی.

له نیمایی څخه زیات وګړي یې په کلو او ښارګوټو کې ژوند او بزګري کوي او مهم صادرات یې کرنیز او حیواني محصولات تشکیلوي.

د صنعت له لحاظه هم دې هیواد په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ لسیزه کې پرمختګ کړی او ګرځندویي یې له مهموعایداتو څخه ګڼل کیږي.

ساحلي لوړو ځمکو او مرکزي دښتو د ایرلینډ هیواد ته د بشقاب بڼه ورکړې ده. نرم او ملایم بادونه له اروپا څخه، تاوده او

لاتده(مرطوب) بادونه د(ګلف ستریم) له بهیره چلیږي. او په ژمي کې یې د تودوخې منځنۍ درجه د فارنهایت ۴۰ درجې او په اوړي کې د فارنهایت (۶۰) درجې وي.

د لیدلوري:

کورګرویت روك کاسل ته نږدې د بلارني کلا د کیلارني سینډګوټي، د شانون رودد ګالوي، لیمه ریك کلاګانې، واټرفورډ د کندي د کورنۍ کور او په دانګاستون دوبلین کې یادګاري ځلې، دسنت پاتریك د کلیسا کلا، ددانیل او کونل فونیکس یادګاري ودانۍ، دتاترابې پارك.

تاریخي جغرافیه:

د تیږې (حجر) په عصر کې د ایرلینډ په شمال کې(پیکتان) او په جنوب کې د اراین په نامه وګړي مخکې له دې چې په څلورمه ق.م پیړۍ کې انګلو ساکسو نان دې خاورې ته راشي اوسیدل. د ګالیك تمدن د ګالیسیا او سلتي قبایلو له خوا رامنځ ته شوی دی.

ایرلینډ د مسیحیت ددوران په پیل کې په پنځو سلطنتي قلمروونو: اولستر، مونستر، کوناچت، میث او لینستر ویشل شوی و. دایرلینډ سواحل له ۷۹۵ نه تر ۱۰۱۴ پورې د نرتانو په لاس کې وو چې وروسته له دې ناحیې څخه وشړل شول.

په دوولسمه پیړۍ کې پاپ د ایرلینډ ټوله خاوره د انګلستان سلطنتي حکومت ته پریښودله. په ۱۱۷۱ م کال کې دانګلستان دوهم هنري د ایرلینډ لارډ شو، تر۱۷ پیړۍ پورې پر ایرلینډ باندې د انګلستان واکمنۍ ادامه وموندله او بالاخره په ۱۸۰۰ م کال کې دواړو هیوادونو د لویې بریتانیا - ایرلینډ اتحادیه جوړه کړه

د ایرلینډ اقتصاد ورو ورو له ستونزو سره مخامخ شو او برسیره پر دې د وګړو شمېر یې هم زیات شو چې په پایله کې د ۱۹ مې پېړۍ په نیمایي کې د هغو زیات شمېر امریکا ته مهاجر شول.

آیسلینډ

دایسلینډ جمهوریت داتلس په سمندر کې پروت دی، چې مساحت یې ۱۰۲۸۴۶ مربع کیلومتره او دوګړو شمېرې ۳۰۰۰۰۰ تنه دی. پایتخت یې یکجاویك دی چې ۹۶۰۰۰ تنه نفوس لري. پولي واحد یې ایسلینډي کروناکرون دی.

- لوستي (باسوداه) په سلوکې ۱۰۰.
- دین : مسیحي.
- دخپلواکۍ ورځ: د ۱۹۴۴ کال دجون ۷ مه، له ډنمارك څخه.
- داساسي قانون تدوین: د ۱۹۴۴ کال دجون ۱۶ مه، چې دهمدې کال دجون له ۱۷ مې څخه پلي شو.

ملي ورځ: دایسلینډ دجمهوریت دجوړېدو کالیزه (۱۹۴۴ کال، دجون ۱۷ مه)

عمده کرنیز محصولات: وابښه او کبنیونه.

عمده تولیدات: المونیم، کبان

صادرات: کبان، حیوانی محصولات او المونیم.

واردات:

نفتي تولیدات ، ماشین آلات، ترانسپورټي وسایل، نفت، غذايي مواد، توکر.

د راکړې ورکړې مهمې خواوې: دامریکا متحده ایالات، روسیه او د لویدیځې اروپاهیواد ونه.

دلیدني وړ:

د سارتري ټاپو، طلايي ځړوبی (آبشار) لوی یخچالونه (مې او اتن) ، دهکلاغر، په ریکجاویك کې دتود واوبو چینی او دلوتری کلیسا.

طبیعي جغرافیه:

دایسلینډ هیواد داتلس دسمندر په شمال کې، د ګرینلینډ د ټاپوپه ۲۰۰ میلی کې او دشمالي قطب دمدار په جنوبی برخه کې پروت دی. او د نړۍ له یوې خورا اورغورځوونکی نقطې څخه ده چې ډېرې چینې او فواري (اوبه شیندونکی لري) اوله تودو اوبو نه د نلونو د تمد له لارې دکورونو او مسوسسوپه تو دولوکې ګټه اخیستل کیږی همدارنګه په دي ټاپو کې دخوړ واوبوسیند ګوټي او واړه رودنه پریمانه دي.

ډول ډول ځړوبی (ابشارونه) لری او دایسلنډ ۱۳ په سلوکې خاوره واورو او طبیعی یخچالونو پوښلې ده.

زیاتره وګړي د ټاپوپه سلوکې د۱۷ ساحلي حاصلخیزه کرښه کې ژوند کوی د (جیوترمال) او تودواو بوله حرارت او داور غور

ځووونکو له تودوخې څخه حتی د کروند و او کلغو د نودو لولباره ګټه اخیستل کیږي.

دخلکو دژوند سطحه لوړه ده خود نفتو او د ژوند دنورو وسایل واردیدوته اړ دي.

دایسلینډ دغرونو ډیره لوړه څوکه ۶۹۵۲ متره لوړ والی لري سترو یخچالونو د ټاپو ددننیو برخو پراخه سیمه پوښلې ده دګلف ستریم بهیر ساحلي سیمی نرمې اومعتدلې کړي دي.

تاریخي جغرافیه:

دلومړي ځل لپاره له ۹۰۰ میلادي کال څخه د مننه(نورثان) په آیسلینډ کې میشته شول او په ۹۳۰ ق.م کې د دموکراسی حکومت او مجلس خاوندان شول. نه ۱۲۶۲ -۱۲۶۴ پورې آیسلینډ د ناروې تر واك لاندې و، چې وروسته دډ نمارك لاس ته ورغی، او په ۱۴۸۳ کال کې د(کالیمار) د اتحادیې تر نفوذ لاندې راغی، په ۱۸۸۴ کال کې یې تریوې اندازې خپل حکومت بیا ترلاسه او په ۱۹۱۸ کال کې ډنمارك د ایسلینډ حقه حقوق او له خپل سلطنتی قلمرونه د هغه بیلیدل په رسمیت وپیژندل. د ۱۹۴۴ کال د جون په ۱۷ مه نیټه له عامو ټولټاکنو وروسته د آیسلینډ جمهوری حکومت تشکیل شو.

په ۱۹۴۰ کال کې څه وخت چې نازیانو پر ډنمارك لاسبر وموند، انګلستان پرایسلینډ مسلط شو.

له ۱۹۴۲ نه تر ۱۹۴۵ کاله آیسلینډ د امریکا تحت الحمایه و. په ۱۹۴۹ کال کې د ناتوله تړون سره یوځای شو، چې دناتو تاسیسات هلته شته دي.

په ۱۹۷۳ کال کې د آیسلینډ او انګلستان ترمنځ جګړه و نښتله. په ۱۹۷۴ کال کې نړیوالو سر مانونو سرحدي اوبه تر پنځوس میلو پورې محدودې کړې خو آیسلینډ دغه وړاندیزونه مانه، په ۱۹۷۶ کال کې ایسلینډ دیوه تړون په ترڅ کې دا ومنله چې انګلستان حق نه لري چې له خپلې خاورې څخه له ۲۰۰ میلوڅخه زیات د کبانو د ښکار په منظور د آیسلینډ خواته نږدې شي.

حکومت:

په آیسلینډ کې جمهور رئیس د تولټاکنو له لارې د څلورو کالو لپاره انتخابیږي او د حکومت واک د صدراعظم او د وزیرانو د پلاوي په لاس کې دی. پارلمان یې له دوو مجلسونو څخه جوړدی او ۶۰ تنه استازی لري چې له دې جملې څخه ۲۰ تنه غړي په پورتنی (اعلی) مجلس پورې اړوند دي او ۴۰ غړي په کښتنی(سفلی) مجلس پوری اړه لری.

مهم سیاسی ګوندونه:

د خپلواکی ګوند (له ۶۰ څوکیوڅخه ۲۲ څوکی)، د جیرهال ګریمس په مشرتابه. ترقی غوښتونکی ګوند (۱۷ څوکی)، دم ن.س (هارمونسون) په مشرتابه. دیووالی(اتحاد) ګوند (۱۱ څوکی)، د ګست سون په مشرتابه.

ترقی غوښتونکی ګوند (۱۷ څوکی). دګست سون په مشرتابه.

ناروې

د ناروې پادشاهي هیواد د اروپا په شمال کې د سکندیناوي په ټاپووزمه کې پروت دی. مساحت یې ۳۲۳۸۷۷ مربع کیلو متره دی. پلازمینه یې اسلو ده چې ۴۵۴۰۰۰ تنه اوسیدونکي لري. لوی ښارونه یې: اسلو، برګن او تروند هم دي. پولي واحدیې کرون دی. (لوستو د باسوادو) شمیر یې په سلو کې سل دی.

د ناروې ترقیمومیت لاندې سیمې:

اسوالبارد: د ۶۲۷۰۰ مربع کیلو مترو په مساحت او ۴۰۰۰۰ وګړو په درلودلو په شمالي منجمد بحر کې پروت دی.

د بروت ټاپو: مساحت یې ۶۰ مربع کیلو متره، د امیدنیك ورسك (دماغه) ته خېرمه، په ۱۶۰۰ میلي واټن کې. هغه هیواد چې په ۱۹۲۸ کال کې د ناروې هیواد تر لاس لاندې و.

دژان ماین ټاپو: ۳۸۰ مربع کیلو متره مساحت لري، د ناروې او ګرینلینډ ترمنځ په شمالی کنګل شوي سمندر کې واقع او په ۱۹۲۹ م کال کې ددې هیواد ترفرمان لاندې راغله.

د لومړي پتر جزیره (ټاپو) چې په سویلي خواکې پرته او مساحت یې ۲۴۹ مربع کیلو متره ده.

کوپین مایودلینډ: په ۱۹۲۹ م کال کې د هېواد تر واک لاندې شو.

د خپلواکۍ ورځ:

له سویډن څخه، د ۱۹۰۵ م کال دا کتوبر ۲۶ مه. د اساسی قانون تدوین: د ۱۸۱۴ م کال د می ۱۷ مه چې په ۱۸۸۴ کال کې اصلاح شوی دی. ملی ورځ یې د می ۱۷مه، د اساسي قانون د تدوین ورځ ده.

دین مسیحی.

نژاد (توکم) نارویژي.

ژبه: نارویژي، لاپ

په کرنیزو چارو کې د کار ځواک: په سلو کې، ۳.

د کب نیونې چارې: په سلوکې، ۷.

مهم پیداوار (محصولات): لبنیات، غله، سابه، میوې، خز او وړۍ.

په صنعت کې د کارځواک: په سلو کې، ۳۹.

مهم تولیدات:

نفت و ګاز، کبان، کاغذ، بېړۍ، المونیم، اوسپنه او پولاد، نکل. کیمیاوي سره، تراسپورتي وسایل، د اوبو د بریښنا ځواک (انرژي)، پتروشیمي، الکترونیك ابزار، طبیعی منابع، اوسپنه لرونکې ډبرې.

صادرات:

نفت او طبیعي ګاز، بېړۍ، د کبانو تولیدات، کیمیاوي توکي، کاغذ

واردات:

ماشین آلات، موټور، ترانسپورټي وسایل، خوراکي توکي، او سپنه او پولاد، توکر، لباس.

د **راکړې ورکړې مهمې خواوې:** انګلستان، سویډن، المان، امریکا او ډنمارک.

طبیعي، سیاسي او اقتصادي جغرافیه:

دناروې پاد شاهي هیواد د سکاندیناوي ټاپووزمې په لویدیځه برخه کې، د ۱۷۷۰ کیلو مترو په اوږدوالي، د اروپا په شمال کې له شمالي سیند نه د ناروې د سیند په اوږدوکې او له ۴۸۳ کیلو مترو څخه زیات دشمالي قطب پر کرښه پروت دی او د اروپا له ډیرو لرې سیمو څخه ګڼل کیږي. په ختیځ کې له سویډن، او په شمال ختیځ کې له روسیې او فنلینډسره همسرحده دی.

د هیواد په سلو کې نږدې اویا برخه د استوګنې وړ نه ده، غرونو، یخچالونو او بایرو ځمکو اوسیندونو راچاپیره کړې ده. په سلګونو کوچنیو خلیجونو د ناروې ساحلي کرښه غابنیزه(دندانه یي) کړې ده او له ۱۹۳۱۲ کیلو مترو څخه زیاته ساحلی سمندری کرښه لری او نږدې ۱۵۰۰۰۰ کوچني ټاپوګان لري، چې تریوې اندازې د بیړۍ چلولو وړ دی.

د اروپا په شمال کې نا روې د سوداګرۍ او صنعتي پلوه له مهمو هیوادو څخه ګڼل کیږي.

دقاره یې فلاتونو نفتو او طبیعي ګاز، هیواد بښکلي کړی دی. ناروي دسمندري بېړیو له پلوه په نړۍ کی دربیم ځای لری، له دې امله د لومړنیو او صنعتی موادو دلیږدولو پریمانه عاید تر لاسه کوي. دکانو د راایستلو. بېړۍ جوړولو، د ژوند د وسایلو، او له ځنګلی لرګیو څخه صنعتی استفاده، بزګري او کب نیونې له امله یې ځانګړې ښکلا غوره کړی او د اوسیدونکو عایدیې لوړ دی. همدارنګه ددولت ستر عاید ددې سبب شوی چې خلکو ته مالیه ورو بخښل شي او حکومت د ټولنیزې هوساینې په لار کې ګامونه اوچت کړي.

د ګلف ستریم د اوبو بهیر ددې هیواد د هوا د نرمښت سبب شوی دی. په لرې شمالی برخو کې د مې د میاشتې له نیمایی څخه د جولای ترپایه، لمر رڼا ورځې په دوام تر نیمې شپې روښانه او ځلانده وي. د نوامبر د میاشتې له وروستیو څخه د جنوري ترپایه لمر روښانه نه وي او هغه مهال چې په قطبي ناحیو کې شپه وي. دآسمان لمنې تیاره وې.

دلیدو وړ:

دشمال ورسك (دماغه) او د هیواد د لمر د نیمې شپې ځمکه. ډیر کوچنې خلبجونه، برګن، کهن په تروندهیم کې د نیدا روس جامع کلیسا، د استا وانجر جامع کلیسا. په لیله ها مرکې د هایوجن موزیم. داکه رشوش پوځی کلا. دویجه لند مجسمې. د فرونګر پارك او په اسلوکې نورموزیمونه.

تاريخي جغرافيه:

ناروېژيان د ډنمارکيانو اوسويډنيانو په څېر په اصل کې توتني دي. په ۱۸۱۵ م کال کې ناروې د سويډن تر واک لاندې شو. هغه مهال په دې هيواد کې کب نيوونکي، سيند ګرځيدونکي (دريانوردان) سوداګر او کليوال استوګن وو. سويډن ديوه بډاى او ستر اشرافي رژيم (ارستوکراتيك) خاوندو چې په هغه کې مستاجر بزګران يوهم له خپل کار او ژوند څخه خوښ نه و.

په ۱۹۰۵ م کال کې د سويډن پارلمان له ډنمارك څخه د بيلتون طرحه تصويب کړه. په لومړۍ نړيواله جګړه کې سويډن، ناروې او ډنمارك ديو بل د ګډو ګټو په منظور سره همغاړى (هم پيمانه) شول. ددوهمې نړيوالې جګړې په بهير کې د ۱۹۴۰ م کال د اپريل په نهمه نازيانو پر ناروې بريد وکړ. ناروېژيانو دوه مياشتې مقاومت وکړ، خوناروې په بشپړه توګه د المانيانو لاس ته ورغی. شاه هاکن او حکومت يې لندن ته وتښتيدل. څرنګه چې دوهمه نړيواله جګړه پاى ته ورسيدله، ناروې بيا خپلواك شو او يو ډول سوسياليستي تجربې ته يې لاس واچاوه. ناروی د خپلوګاونډيانو په ډله کې بي له دې چې له لويديځو هيوادو سره يې اړيکې خړپړ شي له روسيې سره نيکې اړيکې درلودې. په ۱۹۴۹ کال کې د ناتو له تړون سره يوځاى شو.

د شمال په سيند کې دوزخې ۹۰۰۰۰۰ ګيلنه نفت را ايستل کيږي. په ۱۹۷۶ م کال کې د هيواد پارلمان پريکړه وکړه چې کورنيو او بهرنيو بازارونو ته د نفتو دوړاندې کولو (عرضه کولو) په منظور دې د نفتو ملي تصفيه خانه اويو شرکت تاسيس شي.

د حکومت طرز:

د هیواد اساسي قانون د پادشاهي مشروطه رژیم پربنسټ ولاړ دی. اجرائیه قوه دشاه او د وزیرانو شورا په لاس کې ده. دوزیرانو شورا له صدراعظم او لږ ترلږه (۷) له وزیرانو څخه جوړه ده. پارلمان یا ستړور تینګ ۱۵۵ تنه غړي لري او استازي یې د خلکو په رایو ټاکل کېږي. په دې مجلس کې بدایان، سیاسي ګوندونه او داسې نور غړیتوب ترلاسه کوي، خو په خپله هغه په دووبرخو (لاګتینګ او اولډستینګا) چې هیواد نې قوانین تصویبوي ویشل کېږي.

د استازو د استازیتوب ددورې له پای ته رسیدو مخکې، شاه دمجلس د انحلال حق نه لري، د استازیتوب دوره څلور کاله ده.

د هیواد اساسی قانون په ۱۸۱۴ کال کې تدوین شو او دا هیواد ۱۹ ایالتونه لري چې د حکمران او منتخبې شورا له خوا اداره کېږي. ائتلافي حکومت او اساسي قانون د ۱۹۸۹ م کال د اکتوبر په ۱۶مه تشکیل شوي دي.

انرژي او طبیعي منابع:

دا هیواد په کال کې نږدې ۱۲۱۶۰۱ میلیونه نه کیلو واټه برېښنا تولیدوي چې له دې جملې څخه یې په سلوکې ۹۹،۴ د اوبو برېښنا ده.

په ۱۹۹۰م کال کې یې ۸۱ میلیونه ټنه نفت و ګاز، په ۱۹۸۹ م کې یې ۱۱۲۸۳۰۰ میلیونه مکعب فوټه ګاز تولید کړی دی.

د کرنیزو ځمکو پراختیاد ۹۷۶۴۰۰ هکتارو په شاوخوا کې وښیانه (مرغزار) او څرځای ۵۴۰۸۰۰ هکتاره، ځنګل ۶۳۵۲۸ هکتار کیلومتره.

د کبانو د ښکار کالنۍ کچه له ۱،۵ میلیونو ټنو څخه زیاته او د کرنې ورځمکه په سلوکې ۳ده. دهیواد د کار ځواک ۲۱۲۸۰۰۰ تنه (چې له دې جملې څخه په سلوکې ۱۷،۲ په معادنو کې) دي.

اوبه او هوا :

داهیواد د جغرافیايي سور (عرض) د زیاتوالي له امله رنګا رنګ اوبه او هوا لري. د بادونو د چلیدو او د ګلف ستریم بهیر د جغرافیايي عواملو اغیزې د ناروې په اوبو او هوا کې ډیر موثر دی. د ژمیو په اوږدوکې په استثنايي توګه ټولې لویدیځې څنډې ملایمې دي، خو زیات اورښت کیږي. د اسلو د تودوخې درجه په جنوري کې ۴،۵ درجې او په جولای کې ۱۵،۳ درجې ده او د کلني اورښت کچه یې ۲۱۰۸ میلي متره ده.

فنلینډ

د هیواد نوم: د فنلینډ جمهوریت
مساحت: ۳۳۷۰۰۹ مربع کیلومتره.
موقعیت: د اروپا په شمال کې.
پلازمینه: د هلسنګي ښار، دوګړو شمېرېې ۵۰۰۰۰۰ تنه.
سترښارونه: هلسنګي، تامبره، اسپو او تورکو.
پولي واحد: مارکا.
د لوستوشمېر: په سلوکې سل.
ملي ژبه: فنلینډي، سویډني.
دین: مسیحي.
توکم: فنلینډي، سویډني.
دخپلواکۍ ورځ: ۱۹۱۷ م کال ددسامبر ۶ مه. له روسیې

خخه

دا ساسي قانون ورځ: د ۱۹۱۹ کال د جولای ۷مه

کرنیزپیداوار: لبنیات، غلې، چغندر او کچالو.

مهم تولیدات: فلزي او لرګین لوازم، د مسوتصفیه او بیړۍ جوړول.

طبیعي منابع: الوار

صادرات: الوار، کاغذ، بیړۍ، ماشین آلات، اوسپنه او پولاد.

واردات: خوراکي توکي، نفت او نفتي تولیدات، کیمیایي توکي، ترانسپورتي وسایل، اوسپنه او پولاد، ماشین آلات او توکر.

دراکړې ورکړې مهمې خواوې: د لویدیځې اروپا هیوادونه، روسیه او سویډن.

طبیعي جغرافیه:

فنلینډ په سویل کې د فنلینډ له خلیج څخه د ۱۱۲۷ کیلو مترو په اوږدوالی د اروپا په شمال ختیځ کې تر تاسویت پت سامو، دشمالي قطب په شمال کې واقع شوی اود روسیې په شمال لویدیځ کې پروت دی. دهغه په سویل لویدیځ څنډوکې دا لاندې ټاپوګان (جزایر) چې دبوتنیا خلیج ته دننوتلو کنټرول لري پراته دي.

فنلینډ یې دسیندګیوپه هیواد هم نوموړی دی ځکه چې له ۶۰۰۰ څخه زیات سیندګي او یولړ شمېر رودونه لري چې له دې جملې څخه یواځې د ویولو رود دبېړۍ چلولو له امله اهمیت لري. دالاند ټاپوه (جزیره) ۵۸۱ مربع کیلومتره مساحت لري چې له ۱۹۵۱ کال څخه دفنلینډ په واک کې ورکړل شوې ده.

دفلېنډ دخلکو درېيمه برخه په ښارونو کې په صنعتي او خدماتي برخو کې ژوند کوي او پاتي يې په ښارګوټو او کرنيز وسيموکې ژوند کوي.

دليدو وړ:

په هلسنګي کې ترځمکې لاندې کليسا او معبد، دمانريهم کور، په حاروان کې دسومن لاين دجزيرې جامع کليسا ، په ووکاتي کې دجان سيلوس کور، او پراي سان لينا، لوبو پارك، دسيندګيو او دلاپانو دځمکې داو بو دلار ودجولاي مېله.

تاريخي جغرافيه:

د اوومې پېړۍ په وروستيو کې فينيان له خپل ټاټوبي څخه دولګا پرڅنډو پر فنلېنډ ورغلل او دغه هيواد يې له لاپانو څخه ونيو او هغوي د شمال له په لور په شاتګ وکړ. فينيانو تر سکانديناوي سواحلو پورې خپل پر مختګ ته دوام ورکړ او په ۱۱۵۷ کال کې د سوېډن پاچا نهم اريك فنلېنډ ونيو. په ۱۳۶۲ کال بې فلېنډ تر خپلې اغيزې لاندې را ووست.

حکومت:

فنلېنډ په ۱۹۱۷ کال کې خپلواکي ترلاسه کړه. د ۱۹۴۴ کال د سپتامبر په ۱۹ مه د هټلرپلوي شو او له جګړې وروسته يې محتاطانه لار غوره کړه. فنلېنډ د شمال د همکارۍ او اقتصادي پراختيا د سازمان غړی دی او په ۱۹۷۳ کال کې د متقابلو اقتصادي مرستو له شورا سره يوځای شو. د هيواد رژيم جمهوري دی او جمهور رئيس د هيواد رئيس دی.

په فنلینډ کې د جمهوري ریاست دوره(۶) کاله ده خو په ۱۹۷۳ کال کې پارلمان د یوې فوق العاده غونډې په ترخ کې د (ککونن) د جمهوري ریاست موده اوږده کړه. د قانون جوړولو قوه یې له یوه مجلس څخه جوړه شوې او ۲۰۰ استازي لري، اجرائیه قوه د جمهور رئیس او دولتي شورا په لاس کې ده.

فنلینډ ۱۲ ایالتونه لري چې په لاندې ډول دي:

اهوه نانما(ماري هامن)، او سیما (هلسنګي)، اولو(اونو)، بویویس، کاریالا(یوئسنسو)، تورکویا پوري(تورکو)، کسلي سوئومي (بیوسکیکا)، کوئوپیو(کوئوپیو)، کیمي(کو والا)، لاپي(روانیمي)، میکلي، واسا، همه همنلتیا.

د فنلینډ د اتحادیو او کنفډراسیونونو شمیر ۲۹ ته رسیږي. له دې جملې څخه د ښځو د موکراتیك اتحاد، د ښځو سوسیال د موکرات اتحاد، د مرکز د کارګر ګوند میر منې، دځوانانو دموکراتیك اتحاد یادولی شو.

حکومت او اساسي قانون:

د هیواد اساسي قانون په ۱۹۹۱ م کال کې تن وین شو. د ۱۹۹۱ کال د مارچ په ۱۹ مه د ۳۸ میلیونو تنو رایې ورکوونکو او د پارلمان د ۲۰۰ تنو استازو په ګډون ټولټاکنې وشوې او ۱۷ ګوندونو په سلو کې ۷۲ رایې ترلاسه کړې. د مرکز کارګر ګوند ۵۵ څوکۍ، سوسیال د موکرات ګوند ۴۸ څوکۍ، ملي ائتلافي ګوند(محافظ کار) ۱۲ څوکۍ، فنلېنډي مسیحي لیګ ۸ څوکۍ، کلیوالي ګوند ۷ څوکۍ او لبرال ګوند یوه څوکۍ.

اوبه او هوا:

په ژمي کې د هیواد اوبه او هوا ډېره سړه ده او شپږ میاشتې دوام کوي. خو په سویل او سویل لویدیځ کې تر صفر لاندې له ۱-۶ درجو څخه کمه ده او په شمال کې حتی تر صغر لاندې ۱۳ درجوته رسیږي. په جنوب کې د دري میاشتو په اوږدو کې څمکه په واورو پوښلې وی او په لري شمال کې د شپږو میاشتو په اوږدو کې دو بې یې ډیر لنډ او تاوده وي او کله کله په دوبی کې زیا تره باران اوري او همدارنګه په منی کې هم. په هلسنګي کې د باران د اوریدو کچه ۶۱۸ ملی متره ده.

هالینډ (Netherland)

هالینډ یو مشروطه شاهي هیواد او حکومت یې پارلماني دی.

د هالینډ ملکه بترکس، د هالینډ صدراعظم ښاغلی ویم کوك او د بهرنیو چارو وزیر یې ښاغلی جیجي جوزن وان ارتسن نو میږي.

د هالینډ مساحت ۴۱۸۶۴ مربع کیلومتره او دوګړو شمیر یې ۱۵۹۸۱۴۷۲ تنه اټکل شوی دی. هالینډ په لویدیځه اروپا کې پروت دی چې د شمال لویدیځ وخواته یې د شمال سیند (د شمال بحیره) ختیځ ته یې المان او سویل ته یې بلجیم او لوګزامبورګ پراته دي.

د هالینډ دخلکو ژبه دچ Duth یا فریزي هالینډي ده.

پلازمینه یې هاګ او ستر ښارونه یې امستردام او روتردام دي.

د هالینډ زیاتره اوسیدونکي دوچان دي.

د خلکو مناهب یې ۳۴ په سلوکې کاتولیك، ۲۷ په سلوکې پروتستانت، ۴ په سلو کې مسلمان، ۳۴ په سلوکې بې مذهبه دي.

په لومړنیو او منځنیو ښوونځیو کې یې ۱،۳ میلیونه زده کوونکي، په جرفه یي او عالي مؤسسو کې ۱،۴ میلیونه زده کوونکي شامل دي، په پوهنتونونو کې ۴۶۹۹۰۰ محصلان په زده کړه بوخت دي.

د هالینډ اقتصاد په اروپايي ټولنه کې د شاملو هیوادونو په اقتصاد کې ځانګړی نقش لري. له ۱۹ مې پیړۍ راهیسې بیړۍ چلول، کب نیول. سودا ګري او بانکداري په کې روانه ده. هالینډ دانرژي او طبیعی ګاز ستر صادروونکی دی. ملی عایدات یې ۳۶۴،۸ میلیارده ډالره کېږي. هالینډ دوالیانو او ښاروالانو په ټاکنه کې په اسامبلوکې له انډول یا متناسب استازیتوب څخه کار اخلي، چې دغه طریقه دې ته لار هواروي څو یو کوچنی سیاسی ګوند هم د هغه هیواد استازیتوب وکړي.

په دې هیواد کې (۱۲) سیاسي ګوندونه شته چې په لاندې ډول دي: کمریتسن ډموکراټیك اپیل، کارګرګوند، سوسیالیست سازمان، د خلکو ګوند، لیبرال، د بزلنن دور تید او ډموکراتا ګوند، کوچنی ګوندونه یا بې اندازې لیبرال یا بې اندازې محافظ کار دي.

دهالینډ اوبه او هوا سمندري ده. ددې هیواد اساسی ستونزې اسیدي باران دی چې د کرنې حاصلات او خاوره تخریبوي، د ډبروسکاره د سونګ د موادو په توګه کارول کېږي.

هالینډ د غوښو، سبو، کوچو، حبوباتو او درنګارنګ ګلانو صادروونکی دی. د هالینډ په سلو کې ۲۸ خاوره کروندونیولې ده.

تولیدات یې: مالګه، پروسس شوې غذاوې، څښاك(نوشابه) تنباکو، ماشین آلات، ترانسپورټي وسایل، اوسپنه او داسې نور دي. د هالینډ پیسې یورو دی، چې د ۱۹۹۹ کال د جنوري په

لومړۍ نېټه دود شوې. هالينډ د اروپا د مرکزي بانک ECB د پالسۍ چې په فرانکفورت کې واقع او د اروپايي ټولنې د مالي سياستونو مسوول دی - په بشپړ ډول تعقيبوي.

امستردام بانکي مرکز، بيمه او د سهامو د بازار سيمه ده.

بهرنۍ سوداګري:

د هالينډ اقتصاد د نړيوالې سوداګرۍ لپاره خورا پرانيستی دی. د سوداګرۍ ډير مالونه، نورو هيوادونه زيا تره د اروپايي ټولنې له نورو غړو څخه دلیږد په منظور ددې هيواد بندرته راځي.

په ۱۹۹۰م کال کې ددې هيواد دوارداتو ارزښت ۱۹۶ ميلياردو او دصادراتو ارزښت يې ۲۰۹ ميلياردو ډالروته رسيږي.

صادرات:

غذا وې، سابه، ميوې، لبنيات، هګۍ، غوښې، ماشين آلات، کيميايي توکي، ترانسپورتي تجهيزات، د پټروليم توليدات او طبيعي ګاز دي.

واردات:

دهالينډ مهم واردات ماشين آلات، کاغذ، اجناس، منسوجات، فلزات، حيوانات، کيمياوي توکي او نفتي توليدات دي.

د حکومت جوړښت:

د هالينډ حکومت له درې ګونو قواوو: اجرائيې، مقننې او قضائيې قوې، سيمه ايز حکومت، سياسي ګوندونو، د سياسي

ټولنیزو، دفاعي او نړیوالو سازمانونو له خدمتونو څخه تشکیل شوی دی.

هالینډ په اداري لحاظ په ۱۲ ولایتونو ویشل شوی دی، دوالی یا ګورنر له خوا چې ملکه یې ټاکي اداره کیږي.

هالینډ په مجموع کې په ۶۵۰ ناحیو ویشل شوی دی چې له ستربنار څخه پیل او په کوچنیو کلو پای ته رسیږي او هر یود منتخبو شورا ګانو له خوا اداره کیږي.

ټولنیز او سیاسی خدمتونه:

د هیواد عاید د ښوونې او روزنې، عامې روغتیا، د کار او ټولنیزې هوساینې د هڅونې، له ناروغانو سره د مرستې، بې شتوکسانو، کونډو، عمرخوړلو کسانو او د کورنیو د لګښت د مرستې په ډګرونو کې لګیږي.

هالینډ لومړنی هیواد دی چې په هغه کې همځیلي(همجنس) دواده اجازه لري.

پوځي او دفاعي خدمتونه:

د هالینډ د فاعی خدمتونه عبارت دي له: پوځ، سمندری او هوایی ځواك څخه هالینډ دناتو تړون غړی دی او د هغه هیواد له مقرراتو سره سم باید هر نارینه په وسله وال پوځ کې نهه میاشتې خدمت وکړي. په وسله وال پوځ کې د افرادو شمیر ۵۰۴۳۰ تنوته رسیږي.

نړیوال سازمانونه:

هالینډ په ۱۹۴۹ کال کې د اروپایي ټولنې په شورا کې شامل او په ۱۹۵۷ کال کې د بنی لکس د هیوادونو په ټولنه کې شامل شو څو د بلجیم هیواد او لوګزامبورګ سره یوځای کړي. همدارنګه هالینډ د ملګرو ملتو د سازمان فعال غړی او د بې شتو هیوادونو په انکشافي او اقتصادي پروګرامونو کې له سترو برخه اخیستونکو څخه دی. همدارنګه دغه هیواد دناټو دتړون او د همکارۍ او پراختیا د نورو سازمانونو غړی هم دی.

بلجیم

دهیواد نوم : د بلجیم پاد شاهي.

موقعیت: د اروپا په وچه کې.

مساحت: ۳۰۵۱۳ مربع کیلومتره .

دوګړو شمیر: نږدې لس میلیون تنه.

پلازمینه: د بروکسل ښار(اوسیدونکي یې ۸۰۰۰۰۰ تنه)

د حکومت بڼه: مشروطه شاهي.

پولي واحد: بلجیمی فرانك.

دلوستو شمیر: په سلو کې ۹۷ .

مهم ښارونه: بروکسل، انتورب، ګانت، شارل روی، لیژ.

د خپلواکۍ ورځ : ۱۸۳۰ م، د اکتوبر ۱۴ مه، له هالینډ څخه.

اساسي قانون: د ۱۸۳۱ کال د فبروري ۷مه، دوروستي ځل لپاره د اساسی قانون اصلاح او بیا کتنه، د ۱۹۸۰ کال د اګست۹، ۱۰ نیټه.

ملي ورځ: دجولای ۲۱ مه.

دین : مسیحی.

قومي جوړښت: بلژیکي، ایټالیایي، مراکشي، فرانسوي، هالینډي او ترکي.

ژبه: هالینډي، فرانسوي، آلماني.

اقتصاد:

د کرنې وړ ځمکه، په سلو کې ۲۴، د کار ځواك ۴۰۰۰۰۰۰ تنه(په سلوکې ۳۱ په صنعت کې)

پیداوار (محصولات): چرګان، غله، چغندر، تنباکو، کچالو، سابه او میوې.

مهم تولیدات: فلزات، ډبرو سکاره، ټوکر، کیمیاوي توکي.

صادرات: او سپنه او پولاد ، قیمتي ډبرې، ټوکر.

واردات: موټر، ټوکران، دسونګ مواد.

د راکړې ورکړې مهمې خواوې: آلمان، فرانسه، هالینډ، انګلستان، امریکا او ایټالیا.

تاریخي جغرافیه:

بلجیم له فرانسې، المان، هالینډ او لوګزامبورګ سره ګاونډی دی او د شمال سیند د دوور په تنګی کې نږدې څلویښت میله ساحلي کرښه لري. د بلژیك د خاورې یو پر درې برخه دښته ده چې د ختیځ لورته پرته ده. په شمال کې چې هلته د ټیټې ارتفاع لرونکي څوکه پرته ده دوه رودونه بهیږي. ددې څوکې لوړوالی نږدې ۷۰۰ متره دی دشلدر رود چې له فرانسې څخه سرچینه اخلي، د بلژیك له خاورې څخه تیریږي او په شلدکې تویږي.

د بلجیم نوم د بلګانه په نامه له یوې قبیلې څخه اخیستل شوی دی. دې قبیلې د ژول سزار پر مهال چې دوه زره کاله وړاندې یې د بلژیك خاوره پرېښوده_ ژوند کاوه. بلژیك دوه رسمي نومونه لرې رویا مه بلژیك او د فلاندر د خلکو په ژبه کې دهغه نوم کنونیکار ریجك بلژی دی.

دژول سزار په وخت کې د بلجیم خاوره د روم د نیول شوو سیمو جزګڼل کیدله او له هغه وروسته د بیلا بیلو قومونولکه : نورسانو، فرانکانو، بورګاندیانو او اسپانویانو په واك کې وه، تر هغو چې د بلجیم خاوره فرانسویانو ونیوله او اتلس کاله د فرانسی الحاقی سیمه ګڼل کیدله، تردې چې په ۱۸۱۵ کال کې د پاریس د ژمنلیك پر بنسټ بلجیم دهالینډ په واك کې ورکړل شو.

بلجیم څه موده د هالینډ پاڼو تر واك لاندې وه تر هغو چې د لومړی ویلیام په وړاندې دخلکو د پاڅون له امله یې د خپلواکۍ اعلام وکړ او په ۱۸۳۱ کال کې لومړی وپولډ دبلجیم دخلکو د پاچا په توګه وټاکل شو. له هغه وروسته په ۱۸۶۵ کال کې لیو پولد دسلطنت واګی ترلاسه کړې چې د هغه پرمهال بلجیم ډیرژر صنعتی شو، په ۱۹۰۹ کال کې ددوهم لیوپوله لډ مړینی وروسته لومړی البرت د سلطنت پرګدۍ کښیناست.

د لومړۍ نړیوالې جګړې په بهیر کې سره له دې چې بلجیم خپله بیطرفی اعلام کړې وه، د المانیانو تر یرغل لاندې راغی چې بالاخره المانیانو بلجیم ونیو، په دې وخت کې لومړي البرت د المان او متحدینو په وړاندې د جنګ اعلام وکړ او بلجیمی سرتیری د تیري کوونکو په وړاندې جنګیدل.

په ۱۹۳۴ کال کې لومړي البرت په غرګرځیدونه (کوهنوردي) کې ووژل شو. له هغه وروسته یې زوی دوهم لیوپولډ پاچاشو.

ځرنګه چې ددوهمې نړیوالې جګړې د اورلمبې هرې خوا تـه خپرې وې دهغه لـه امله بلجیم اغیز مـن شو، ځکه چې تیري کوونکی المانیان په بلجیم ورتوی شول. دریم لیوپولډ دوینو توییدلود او ویجاړیو د مخنیوی په منظور، هیـواد المانیـانو تـه وسپاره، خو کابینی په لندن کې ځان سمبال کړ او د بلجیم سرتیری بیا د المان په وړاندې له متحدینو سره یوځای شول.

د ۱۹۴۴ کـال پـه سپتامبر کـې د بلجیم چریکـي سـرتیرو او د متحدینو ځواکونو هیواد د المانیانو لـه ینجو څخـه خلاص کړ خو دالمان د اشغال په موده کې بلجیم ډېر زیانونـه ولیـدل چې پرنـورو زیـانونو او ځـاپیرو پـه خوړلـو برسیره یـو هـم د بلجیـم د کتـابتون سوځیدل وچې په پایله کې یې ۹۰۰۰۰۰ ټوکـه کتابونـه وسوځیدل او د اورلګیـدنې پـه یوه بلـه پیښـه کـې د المـان پـه یـوه پنډغـالی(اردوګاه) کې ۵۰۰۰۰ تنه له منځه لاړل.

په ۱۹۵۱م کال کې دریم لیوپولد دخپـل زوی بـودوین پـه ګټـه د سوسیالیسـت د کلـك مخالفت پـه دلیـل ځـان لـه سلطنت څخـه ګوښه کړ.

په ۱۹۵۷م کال کې د بنولوکس د ټولنې غړی شو او د ګډبازار په تړونونـو کـې یې ګډون وکړ. پـه ۱۹۶۰ کـال کې یې کـانګو چې مستعمره یې وه خپلواکه کړه.

پـه بلجیـم کـې پـه هالینـډي او فرانسـوي ژبـو خبرې کیـږي. دادواړه ژبې ددې هیواد په ټولنّاکنو او حکومتي چارو کـې ډېرې موثرې دي پـه ۱۹۷۲ کـال کـې لـه فلیمش څخـه والیون تـه د واك دلیږدولو پرمهـال سـخته نښتـه وشـوه (پـه شـپږو کوجنیـو کلـوکې دقضایي اواداري واك لیږدونه) ځرنګه چې تعادل رامنځ تـه نـه شو،

حکومت ړنګ شو اودفليمش له مسيحی سوسيال ګوند څخه داد موند لبورتن په نامه يوتن دلئوتيد ماتس پر ځای وټاکل شو.

د ۱۹۸۱ کال د مارچ په يوولسمه اقتصادي بحرانونو حکومت له سقوط سره مخامخ کړ، کله چې سوسيالستانو دبيود لوړيدو مخه ونيوله، له سقوط سره مخامخ شول اوله هغه وروسته صدراعظم ويل فريد ماتس هڅه وکړه چې داجورې او ابيوتر منځ اندول رامنځ ته کړي.

داسکنس حکومت د سپتامبر په ۲۱ مه ړنګ شو اودهيواد دچارو واك کوکريل سامبره ته په لاس ورغی. خو د ۱۹۸۱ کال ددسامبر په ۱۷ مه صدارت بياويل فريد مارتين ته وسپارل شو، په داسې حال کې چې ډبيکاري کچه په سلوکې (۱۰) وه، پارلمان او صدر اعظم دبحران او ستونزو دلرې کولو لپاره لازم اقدامات وکړل.

حکومت:

د بلجيم حکومت پارلمانی او سلطنتی دموکرات دی.

بلجيم ايالتونه، د قانون جوړولودوه مجلسونه، د ۱۸۱ استازو په لرلو د سنايو مجلس ـچی د څلورو کلونو لپاره ټاکل کيږی لری د مجلس ۲۱۲ غړی ديوې څلور کلنې دوری لپاره ټاکل کيږی.

سلطنتی حکومت له پلار څخه مشرزوی ته په ميراث پاتې کيږی، سره له دې چې شاه دحکومت په راس کې دی، خوپه حقيقت کې واك نه لری اوربښتينی واك د صدر اعظم او وزيرانو دپلاوی په لاس کې دی ځکه چې هغوی دمهموګوندونو له مشرانو څخه دی، زياتره سناتوران دخلکو د عمومی رايوله لارې ټاکل کيږی او هراتيازره تنه کولی شي چې يوتن سناتورو ټاکي. هرايالت

یوتن ژالی (ګورنر) لري چې دایالتي مجلس له خوا دشپږوکالو لپاره ټاکل کیږي او دشاه له خوا تاییدیږي، هر ښارګوټي ښاروال لري چې په تشریفاتي توګه دشاه له خواټاکل کیږي، هر ۲۱ کلن اوسیدونکی دټاکنو اوپه ګوندونو کې دغړیتوب حق لری.

په بلجیم کې مهم سیاسي ګوندونه:

مسیحی سوسیال ګوند ، سوسیالست لیبرال ګوند (آزادي او ترقی).

مسیحی سوسیال ګوند په پارلمان کې ۲۲ سناتوران او ۴۳ استازي لری.

مسیحی سوسیال ګوند چې په فرانسوي ژبه خبرې کوي په پارلمان کی ۸ سناتوران او ۱۸ استازي لری .سوسیالیست ګوند چې په فلامان ژبه خبرې کوی، په پارلمان کې ۲۲ سناتوران او ۲۶ استازي لری.

فرانسوي ژبی سوسیالیست ګوند په پارلمان کې ۱۸ سناتوران او **۳۵** استازي لري.

فلامان ژبی لیبرال ګوند په پارلمان کې۴ سناتوران او ۲۸ استازی لري.

دفلامان دخلکوګوند . په پارلمان کې ۱۰ سناتوران او ۲۰ استازي لری.

فرانسوي ژبی لیبرال ګوند په پارلمان کې ۱۱ سناتوران او ۲۴ استازي لري.

د فرهنګي ټولنې دريځ:

دبلـيـج پـه ښـوونځيـوکې ښوونـه او روزنـه وړيـا او اجبـاري ده. دښوونځيو او پوهنتونونو د لوړې تحصيلي موسسې اداره ددولت پرغـاړه ده . دبلجيم معتبره پوهنتونونـه عبـارت دی لـه: دلـواين، بروکسل ، ګنټ ،دليژ پوهنتون، داسې يوپوهنتـون هـم شتـه چې لـه ۱۹۳۰ کـال څخـه راپـه ديخـوا پـه هغـه کې پـه فلامـانی ژبـه درس ورکړل کيږی. پـه دې هيـواد کـې اختصاصي مدرسې هـم شتـه دی لکه د کرنې انستيتوت، د (موسيقی او طراحي انسيتوت. پـه دې هيواد کې لـه ۲۵۰۰ څخـه زيات کتابونه شته چې خلك پـه منځنی توګـه کـولی شي دمطـالعی لپـاره ۵، ۱۰ميليونـه کتابونـه امانـت واخلي.

هنر:

لـه ۱۴۰۰ نه تر ۱۶۰۰ کال پورې دبلجيم دهنر د تـاريخ ځلانـده دوره، دفلامـان هنـري دوره وه. پـه دې دوره کـې ارزښتمنـد آثـار رامنځ ته شول . ځکه چې په دې وخت کې وتلی هنرمندان راڅرګند شـول لکـه: هـوبرت. جـان وان ايـك، پتربروګـل، پيترپـل، بروکسـل، ګنټ، ليژ، اوتورانی.

پـه زيـات شـمير کليسـا ګـانو اونـورو ودانيـوکې دبلجيمـی هنر مندانو کينـدل شـوي او هنـري آثـار موجـود دي. چـارلزد کوسـنتر او موريس متر لينګ دفلسفی، شعر او داستان ليکلو لـه نـامتو او وتلو څيروڅخه دي.

بلجميانو پـه لاسی صنـايعوکې زيـاتـه وړتيـاښودلې ده؛ او پـه زړه پورې فلزي، ښيښـه يی او لرګين شيـان يې جوړ کړي دي دکريستـال

صنعت اوپر هغوي باندې کيندنې اولاسي صنايع يې زيات شهرت لري.

اقليم:

په دوبې کې يې او به او هوا ښکلې او په زړه پورې ده. په جنوري کې په بروکسل کې دتودوخې درجه ۲،۲ او په جولای کې ۷،۷ درجې وی او دکالني اوربښت اندازه يې ۷۷۵ ملي متره ده.

په اوړی کې دتودوخې درجه ۲۱ ته رسيږي.

د برلوړ غرېي ۶۹۴ متره لوړ والی لري.

انرژي او طبيعي منابع:

دبريښنا کالنی توليد په يوه ساعت کې له ۶۸۱۰۰ کيلو واټو څخه اوړي.

د ګاز توليد له ۷۰۰ ميليونو مکعب مترو څخه زيات دی.

سویس

جغرافیایي موقعیت:

دسویس هیواد ۴۱۲۹۳،۱ مربع کیلو متره مساحت لري چی په شمالي او ختیځه نیمه کره کې له ۲۶ نه تر ۴۸ درجو شمالي سور اوله ۶ نه تر ۵، ۱۰ درجو ختیځ اوږدوالی په درلودلو سره له آزادو سیندونو څخه لرې د اروپا دوچې په زړه کې پروت دی.

ددې هیواد شمالی - سویلی اوږدوالی ۱، ۲۲۰ او ختیځ - لویدیځ اوږدوالی یې ۳۴۸،۴ کیلومتره دی. د سویس دپولو ټول اوږدوالی ۱۸۸۱،۵ مربع کیلومتره دی. په ترتیب سره په سویل کې له ایټالیا سره ۷۴۱،۳ کیلومتره، په لویدیځ او شمال لویدیځ کې له فرانسې سره ۵۷۱،۸ او په شمال کې له المان سره ۳۶۲،۵ ، په ختیځ کې له اتریش سره ۱۶۴۸،۸ او د لشتین شتاین له شهزاده میشتې سیمې سره ۴۱،۴ کیلو متره پوله لري.

دې هیواد په واورو ډکوخوکو، طبیعی یخچالونو ژورو اونیلي

سیندګیو، شنو اوښکو درو په درلودلو" د اروپا د لوبو د ځمکې" نوم ګټلی او همدارنګه د اروپا دوچې په مرکز کې د شتون له امله د اروپا په بام او داروپا په څلور لاې او ښار دی.

د غه غرنی هیواد سمندر ته لار نه لري او د آلپونو دشتون له امله یې " د اروپا د اوبو د سترې زیرمې) نوم هم ګټلی دی، ځکه چې د اروپا د څلورو سترو رودونو: راین، رن، ډانوب، پودر سرچینه همدلته ده او د هغه له غرنیو سیمو څخه راوځي.

د سویس په اړه عمومي اطلاعات:

دسویس مهم ښارونه عبارت دي له: برن(پلازمینه) ژنیو، زوریخ، بال، لوزان، سن ګال ، آپترل او لوګانو څخه.

له ۱۸۴۸ کال څخه را په دیخوا برن د سویس د کنفدراسیون او فدرال دولت مرکز پاتې شوی دی. دغه ښار د" رودآر)) د څنډو پرلوړو پروت دی چې د هغه درې خواوې راچاپیروي اویوه کوچنۍ تاپووزمه رامنځ کوي. اوس عمدتاً د برن ښار د ایالت او د سویس د هیواد اداري مرکز دی او یوځو نړیوالو سازمانو ته یې هم لکه: د پستي نړیوالې ټولنې، د لرې واټن څخه مخابراتو او د ملګروملتود سازمان یوشمیر اجرایي سازمانونو ته یې ځای ورکړی دی.

برن، یو صنعتي ښار دی چې دغه لاندې صنایع په کې ځای پر ځای شوي دی: چاکلیټ جوړونه، شوکولاداو مبلمان جوړونه، رادیو جوړونه او نساجي.

د ژنیو ښار چې د ایالت مرکز هم دی، د فرانسې له خوا د سویس دروازه ده. درن رود دغه ښار پردوو برخو ویشي له ۱۵۸۷ کال څخه راهیسې ساعت جوړونه ددې ښار اصلي صنعت دی، خو په دې ښار کې نورې مهمې صنایع هم شته لکه: د بریښنا د

لوازمو جوړولو صنعت، له سرو او سپينو زرو څخه د زينتي شيانو جوړول، شوکولاد او مبلمان، دقيق ابزار، برسيره پردې يو زيات شمير مالي مرکزونه او دبيمې شرکتونه هم په دې ښارکې فعاليت کوي. د غه ښار داقتصادي اندول پربنسټ په سياسي لحاظ مهم دی، ځکه چې يو شمېر سازمانو لکه: د ملګروملتو دسازمان اروپايي دفترونه، نړيوال سور صليب، نړيوال روغتيايي سازمان، د اروپا د اتومي څېړنو سازمان، او د ملګرو ملتود سازمان د ملتونو ماڼۍ په کې دي. ددې هيواد وړجغرافيايي موقعيت د اروپا په زړه کې دی.

قومونه، توکمونه او د هغوی اړيکې:

دسويس وګړي آريايي توکمه، سپين پوستي او په څلورو مختلفو ځانګو ويشل شوي دي. په شمالي سيمه کې ژرمني توکم چې ژبه يې آلماني ده او شميريې د ټول سويس د اوسيدونکو په سلوکې ۶۸ دی. جنوب لويديځې سيمې دسلت له توکمه او جنوبي ناحيې لاتيني توکمه دي. شمالي سيمې درت له لرغوني توکم څخه دي.

ژبې: د سويس په اساسي قانون ددريو" رسمي" ژبو او څلورو ملي ژبو يادونه شوې ده.

امانش ژبه - چې له لاتيني ژبې سره نږديوالی لري، ويلی شو چې تقريباً په سلوکې يو سويسی په دې ژبه خبرې کوي.

آلماني ژبه: د سويس نږدې په سلو کې ۷۰ وګړې په يوې ځانګړې الماني ژبه خبرې کوي چې سويسي الماني نوميږي. دغه ژبه ددې هيواد په شمال ختيځو او مرکزي برخو کې دود ده. سويسي آلماني يوه بيله او ځانګړې ژبه ده. په دې ډول چې د اروپا

دنورو برخو آلماني ژبي کسان دا ژبه په سختۍ سره درك کولی شي.

د سويس په بيلا بيلو ناحيو کې دغه ژبه او ددې ژبې نوم توپير لري.

په بال کې الماني ته بال او په زوريخ کې الماني ته زوريخ وايي، خو هر چيرې چې الماني او سويسي دود دي، په مطبوعاتو او راډيو تلويز يون کې له معياري الماني ژبې څخه کار اخيستل کيږي

فرانسوي ژبه: په دې ژبه په سلوکې ۲۰ وګړي خبرې کوي او د سويس په لويديځ کې رواج ده.

- ايټاليايي ژبه: ايټالوی په سلوکې (۱۰) ددې هيواد د خلکو ژبه ده چې د سويس په جنوب او د ايټاليا په سرحد کې ژوند کوي. خو هغه فرانسوي او ايټالوي چې سويسيان پرې خبرې کوي، له هغو سره چې په فرانسه او ايټاليا کې پرې خبرې کيږي چندان توپير نه لري.

په سيمه کې د سويس ستراتيژيک اهميت:

سويس سمدم د ايټاليا په سواګريزه لاره پروت دی او په نننۍ اروپا کې لومړنۍ سواګريزه لار ده په دغه ډول موقعيت کې ددې هيواد شتون؛ هغه د اروپا په مهمه ډاډ منه زيرمه او امانتځای بدل کړی دی.

په ۱۸۰۲ کال کې له تاريخي پلوه ناپليون دداسې يو واقعيت په پيژندلو بريالی شو، هغه ټول واکمنان چې له ده وروسته منځ ته راغلل د هغه درناوی يې وکړ او هغه داوچې د اروپا په زړه کې به ديوې کوچنۍ طبيعي سيمې شتون ګټور وي. ناپليون وروسته له

هغه چې د فرانسې انقلا بیونو د څه وخت لپاره د سویس پرکانتونانو یرغل وکړ، ددې هیواد خپلواکي او بیطرفي یې تضمین کړه.

دسویس بیطرفي: د پانګې آزادي او کورنی ثبات، د هیواد و د پانګو دراتو ییدو په تیره بیا د ګاونډیو هیوادو د جنګ د قربانیانو او همدارنګه د هغوی د پیسو لپاره یې یوډاډ من او مناسب پناه ځای(پناه ګاه دی) له ګډوډیو او جګړو څخه نیولي ترځورولو او ظلم پورې د نورو اروپایی هیوادونو پیښې ددې سبب شوی چې ډلې ډلې خلك، کار پوهان او همدارنګه ډیرې پیسې د آلپ د غرونو هغه بل پلوته په خوځیدو شي. سویس باید د نړیوال نظام د لوبغاړو په ډله کې، په خپلو ځانګړو بی ساري خصوصیاتو وپیژنو. تو پوګرافیکي بڼې او ژیو پولیټیك موقعیت، متنوع ټولنیز جوړښت، فرهنګي، توکمیزه او ژبنی رنګا رنګي، انحصاري تاریخچه، دوامداره حکومتي نظام د مستقیمې د موکراسی د اصل پر بنسټ د ټولنې او هیواد په سیاسی بر خلیك کې د خلکو پریمانه نقش، ۷۰۰ کلن سابقه لرونکی کنفډرالی سیاسیی او د پراختیا او پرمختیا او اقتصادي پرمختګ لرونکی، او بالاخره سیاسی ثبات، پولي امنیت او ټولنیزه هو ساینه چی د" بیطرفی " له اصیل اصل نه یې نشات کړی، دسویس له مهمو شاخصونو او ځانګړتیا و څخه ګڼل کیږي.

په نړیوالو اوسیمه ایزو ټرونونو اوا قتصادي سازمانونو کې غړیتوب:

سویس هغه هیواد دی چې یوازې د اروپا د شورا غړی دی. د ملګرو ملتو په سازمان کې د خپلی غوښتنې پرخلاف په دې

خاطرچې ددې سازمان د تشکیلاتو یوه برخه په سویس کې ده په دې وروستیو کې غړیتوب لري. کومې ټول پوښتنې چې ترسره شوي. ددې هیواد خلکو د ملګرو ملتو په سازمان کې د سویس له غړیتوب سره مخالفت ښکند کړی دی. سویس یوائنی هیواد دی چې د پیسو د بین المللی صندوق او نړیوال بانک غړي دي، چې په دې دواړو سازمانونو کې یې خپل غړیتوب دعمومي رایو او دخلکو له مثبت نظر څخه وروسته اعلام کړی دی. په نړیوال بانک کې د سویس دنماینده ګۍ د هیات د رئیس دوینا پربنسټ په نړیوال بانک کې د سویسانو وضعیت د پیسو بین المللی صندوق په نسبت ډیر مهم دی او دنړیوال بانک په ۷۰۰ کار کوونکو کې ۴۰ تنه سویسیان دي. دیادولو وړده چې په دې دووسازمانونو کې ددې هیواد غړیتوب به یو ډول مرسته وي چې په راتلونکې کې به په نړیوال بانک او د پیسو په بین المللی صندوق کې له غوره موقعیت څخه برخمن شي.

سویس له ۱۹۶۰ کال څخه راهیسې د اروپا د نورو بیطرفو هیوادونو لکه: سویډن، ناروې، فنلینډ اواتریش په څواکې د اروپا د آزادې سوداګرۍ د ټولنې په نامه دیوه سازمان په اډانه کې فعالیت کوي.

حکومتي تشکیلات

اجرائیه قوه -

د اجرائیه قوې په سر کې فدرالي شوراده. داشورا(۷) تنه غړی لري چې ددوو مجلسونو په رایو په یوه ګډه جلسه کې ټاکل کیږي، ترهغو چې ځان په خپله ګوښه نه کړ ي په همدې دنده به پاتې شي. ددې شورا هر دوه غړي نشي کولی چې له یوه ایالت څخه وي.

فدرالي ټولنه هر کال د فدرالي شورا یوتن د شورا درئیس په توګه ټاکي. د نورو جمهوریتونو پر خلاف د فدرالي شورا رئیس چې د کنفدراسیون جمهور رئیس ګڼل کیږي، د شورا له نورو غړو سره هیڅ توپیر نه لري او دغه مقام زیاتره تشریفاتي جنبه لري.

د اساسي قانون پرېنسټ له روحانیونو پرته د نورو قشرونو غړي حتی د ددارو مجلسونو غړي کولی شي چې په فدراله شوراکې د غړیتوب نامزد شي. خو عملاً یوازې هغه کسان چې د هیواد په چارو کې له زیاتو تجربو څخه برخمن وي، دشورا په غړیتوب ټاکل کیږي، منتهی په دې ټاکنه کې مختلفې ناحیې، بیلا بیل ګوندونه او ژبې په پام کې نیسي. ټاکل شوی کس باید په خصوصي یادولتي توګه له خپلو هغو مشغولتیاو څخه چې ممکنه وي- له شورا سره په غړیتوب کې مغایرت ولري- استفا وکړي. په فدراله شوراکې د مهموهیواد نیو مسایلو په اړه په ګډه تصمیم نیول کیږي او په دې اړه باید د رایو اکثریت د غړو له خوا تایید او ومنل شي، حتی که د هغوی له مواضعو او ګوندي سیاستونو سره هم مغایرت ولري.

سره له دې چې په مشترکه توګه تصمیم نیول کیږي، خو داړوند وزیر نظر له زیات اهمیت څخه برخمن دی. ددې ډول پریکړو نتیجه د اطلاعاتو د تمرکز د هریوه غړي د قدرت سیاستونو همغږي او دشورا تګلارې د استمرار محدودیدل د هغو د غړو دغوښتنې پرخلاف دی.

له اساسي قانون سره سم د فدرال مجلسین نشي کولی، فدراله شو را منحل کړي خو ددې شورا غړي د ټولنې په وړاندې مسوول او ځواب ویونکي دي. د فدرال وزیر د مقننې او اجرائیه قوې ترمنځ د رابطې نقش لوبوي.

په عام ډول فدرال دولت په لاندنیو مواردوکې پریکړې کوي:

دمدني، سوداګریزو او جزایي حقوقو، په واده، اقامت، صادراتو، وارداتو دفاعي چارو، د تیلفون او تلګراف دخدمتونو، کرنې، ښکار او کب نیونې، د سکې د ضرب او د پیسو چاپولو، اقتصاد، د اوسپنې پټلۍ، مهمو واټونو او پلونو، ټولنیزې بیمې، بین المللي اړیکو او بهرني سیاست پورې اړوندو قوانین.

مقننه قوه:

سویس یوائینۍ لوړه او بی ساري بیلګه ده چې په هغې کې دوه ګوني پارلمان له یوه لوړ دریځ څخه برخمن دی او دواکمنۍ یو ډیر لوړ بنسټ ګڼل کیږي، داپه دې معناده چې د سویس وګړي د خپل بډای او پر مختللی سیاسي فرهنګ په مرسته د فرهنګی، ټولنیزی او اقتصادي ودې او پرمختیا لوړ پوړته رسیدلی او ددغه هیواد د تاریخی تجربو او د اساسي قانون په ملاتړ د قانون جوړونې او اجرائیوی بهیر(پروسې) په نوښتي او کارنده بڼه او طریقه ونډه لري. د فدرالي ټولنې په وسیله دقانون جوړونی دفدرال قدرت په ډګر کې، چې له دوو مجلسونو څخه جوړ دی پرمخ ځي. دغه دوه مجلسونه (شوراګانې) عبارت دي له:

د ملي شورا مجلس

دایالتونو د شورا مجلس

ملي مجلس د ایالیتونو د مجلس او ملت په استازیتوب یعنی د کانتونانو په استازیتوب وی. په اصطلاح کې ملی مجلس" د ټولنې کښتنی پوړ " او د آیالتونو مجلس" د فدرال ټولنې "مجمع" پاسنۍ پوړ ګڼي.

د ملی شورا مجلس ۲۰۰ غړي لري چې د خلکو له خوا د څلورو کالو لپاره ټاکل کېږي. په دې مجلس کې د هر ایالت د استازو شمیر د اوسیدونکو په شمیر پورې اړوند دی. په ایالتی شوراکې هر بشپړ کانتون دوه استازي او هر نا بشپړ کانتون یو استازی لري. په دې توګه د سویس ۲۰ کانتونو او شپږو نا بشپړو (نیمه) کانتونو په حساب د ایالاتو د شورا مجلس له (۴۶) استازو او غړو څخه متشکل دی. دملی او سناد هر یوه مجلس د غړی د استازیتوب موده ۴ کاله ده. دغه مجلس په حقیقت کې په فدرال سطحه د ایالتونو استازی دی. هغه استازی چې ایالتونه یې مجلس ته استوي د خلکو له خوا دهر ایالت د خاصوقوانینو پربنسټ ټاکل کیږي. د ټاکلو او ټاکل کیدو لپاره دسن اندازه لږ ترلږه شل کاله ده. هغه لایحې چې د قانون جوړولو او مالي چارو په برخه کې وړاندې کېږي، د اجرا لپاره باید د دواړو مجلسونو له خوا تصویب شي. د مجلسینو دشورا غونډې په جلاډول جوړېږي او هریو له دې مجلسونو څخه کولو شي د بل مجلس مصوبې ویتو کړي.

قضائیه قوه:

قضائیه قوه جوړه ده له: د فدرال له سترې محکمې څخه چې ۲۶ فدرال قاضیان لري، هر یو د شپږو کالو له پاره ټاکل شوی دی او له ډیرو پوهو حقوقپوهانو او پوهانو څخه ګډل کیږی دا محکمه د هیواد ډیره لوړه قضایی مرجع ده.

د هیواد محکمې او قاضیان د کانتونانو او برخو په کچه د کانتونان له کورنیو چارو څخه ګډل کیږي او د هرولایت د مقرراتو تابع وي. دفدرالي سترې محکمې د مقر په اړه وړاندې لیدموجو دوي.

دغه ټولنه د قضايي چارو مسووله ده او د مدني قانون، جزايي قانون پوري په اړوندو مواردو ياد مجرمينو د تعقيب چارې پرمخ بيايي. د کانتونان د محاکموله خوا رايې په بشپړې خپلواکۍ سره صادريږي. فدرالي محکمې د ډېرې لوړې قضايي مرجع په توګه په قطعي ډول په ټول هيواد پورې د اړوندو حقوقو دتفسير بنه ټاکي او د کانتونانو اويا ديوه کانتون او کنفدراسيون ترمنځ د اختلافاتو د رامنځ ته کيدو پر مهال فدرالي محکمې د " دولت د محکمې" په نامه وردانګي. بالاخره دغه ستره محکمه هغه مهال چې د عامه حقوقو په اړه خبرې کيږي، غوره نقش لوبوي او د مقاماتو او اجرايي دستګاه په وړاندې د اوسيدونکو د حقوقو ملاتړ کوي.

هيواد ويشنه:

په ۱۹۷۹ کال کې کنفدراسيون ته د کانتون دورتګ له وخته د غړو کانتونانو شمير ۴۴ ته رسيږي خو يوازې درې ايالته موجود دي او درې کانتونو نه هم په دوه نيمه کانتونونو ويشل شوي دي.

دایالت نوم	د مرکز نوم	دایالت نوم	د مرکز نوم
آراگو	آراگو	سنت گان	سنت گان
آپنزل او سررودن	آپنزل	شاف هاوزن	شاف هاوزن
آپترل	آپنزل	زولو تورن	زولو تورن
برن فرایبورگ	برن فرایبورگ	شویتس تورگائو	شویتس فرائفلینډ
ژنو	ژنو	تي‌چي	بلین زونا
گلاروس	گلاروس	اوری	آلتدروف
گراوبوندن	خور	والیز	لوزان
ژورا	ژورا	ووډ	لوزان
لوسرن	لوسرن	زوگ	زوگ
نوشاتل	نوشاتل	زوریخ	زوریخ
نیدوالدین	ستانس	بال	

کانتو نونه او هم نیمه کانتونونه په خپلواکه توګه خپلې چارې سمبالوي. اوسېدونکي خپل مشران ټاکي او کانتوني پیشنهادونو په اړه خپل دریځ څرګندوي . د هغوی اجرایي عوامل او کانتوني دولتونه چې په عام ډول د پټې رایې اخیستنې له لارې ټاکل کیږي، له ۵، ۷ او یا له ۹ غړو څخه مرکب دي او د سرتر سرې سیستم پر بنسټ کار کوي.

د کانتون پارلمان چې د سترې شورا یاد کانتون شورا په نامه یادیږي، یو اځې له یوه مجلس څخه جوړه ده چې غړي یې د کانتونو نو پر اساس متفاوت دي. د قضایي مقاماتو د کار دوره له معمول سره سم څلور کاله ده. کانتونونه خپل تحصیلي او ښوونیز سیستمونه او همدارنګه ټولنیز بنسټونه په خپله خوښه سمبالوي او په مستقیمه توګه د مالیې په بڼه عایدات ترلاسه کوي.

سیاسي جوړښت :

د سویس سیاست هم د نورو هیوادونو په څېر تر هر څه د مخه په نړۍ کې د خپل هیواد د خپلواکۍ ساتنې او د هیواد د ګټو د فاع په پام کې نیسي او په دې برخه کې په څو اصلونو ولاړ دی چې په لومړۍ لیکه کې همیشنۍ بیطرفي ده او ددې فکر لرغونتوب شپاړسمې پېړۍ ته رسیږي.

د حاکمو دولتونو د ساده کنفدراسیون په دوران کې د کاتولیک او پروتستانت د کانتونونو ترمنځ د هغو پیښو شوو ګډوډیو له امله هر یوه په نورو هیوادو کې د خپل هم دین او هم مذهب ترخنګ د دریدو په ترځ کې ناپایه جګړې را منځ ته کړې دي.

همیشنۍ بیطرفي دا امکان رامنځ ته کړ چې توپیر یوې خو ته پریږدي او پیوستون ټینګښت ومومي او په عین حال کې د اروپا په

توازن کې دیوه اساسي عامل په توګه مطرح شي. په ۱۸۱۵م له لومړۍ نړیوالې جګړې څخه وروسته یې د هغې ژمنلیك ومانه، چې وروسته له ټولو خوابدیو سره سره چې پیښې شوې وې د بیطرفۍ دغه حالت تر اوسه هم خپل بشپړ ارزښت ساتلی دی، البته د سویس بیطرفي ددې لامل نه ده ګرځیدلې چې دغه هیواد دې یو فعال بهرنی سیاست ونه لري. دیووالی اصل به هیواد اړکړي چې د نړۍ له ملتونو سره خپلې بشر پالي مرستې او همکارۍ لاپسې پراخه او ګړندۍ کړي. او دې موخې ته درسیدو لپاره په دې وروستیو کلونو کې او په هغه مهال چې له هیواد نه بهر هر مصیبت او ستونزه رامنځ ته شوې د مرستو سازمان تشکیل شوی او په اغیز منه توګه یې د هیوادونو مرستې ته وردانګلی دي او وګړي یې چې د طبیعي فجایعواو له ... امله زیانمن شي ور سره مرسته کوي.

دنړیوالتوب اصل غوښتنه کوي چې سویس د زیات ممکن شمیر هیوادو سره اړیکه ولري او په دې ترځ کې د هغه د سیاسي او یاټولنیز رژیم بڼه اصلاً طرحه نه ده. بالاخره د خدمت د اوسني اصل پر اساس سویس دښکیلوخواوو تر منځ منځګړ توب کوي او د بهرنیو هیوادو په وړاندې دیو زیات شمیر هیوادو د ګټو ساتونکی دی. ددې سیاست په اړانه کې ده، چې سویس د ژنیو رول ته د ډیرو نړیوالو سازمانونو او د هغو کنفرانسونو چې د ټولې نړۍ د استازو په ګډون جوړیږي - د مقر په حیث زیات اهمیت ورکوي.

سویس له نورو هیوادونو سره په اړیکو کې بین المللي حقوقو ته په درناوی ځانګړې پاملرنه لري او د هغې د پراختیا هڅې کوي. په حقیقت کې د نظم او توازن لپاره یو مهم عامل دی او په عین

سویس له نورو هیوادونو سره په اړیکو کې بین المللی حقوقو ته په درناوی ځانګړې پاملرنه لری او د هغې د پراختیا هڅی کوي. په حقیقت کې د نظم او توازن لپاره یو مهم عامل دی او په عین حال کې د نړۍ د حقوقو او کوچنی حاکمیت په ساتنه کې ځانګړی اهمیت لري.

ددریمی نړۍ د لسو هیوادونو په حدودوکې په خپلواکۍ بری - چې په تدریج رامنځ ته شوی او د بین المللی اړیکو ژر ټینګښت په خپله دیوه نوي پړاو د پیل تاییدونکی دی. په ډیرو تړونونو کې چې په بیلا بیلو او متفاوتو برخو کې لاسلیك شوی دی، د سویس رول په بشپړه توګه څرګندوی. سویس د سره صلیب د ځانګو په توګه، د هغه کنفرانس چی په ۱۹۷۱ کال کې جوړشو ریاست په غاړه درلو او د ژنیو د کنوانسیون دوه بشپړتړونونه یې تصویب کړي دی. دغه مدارك له وسلوالو نښتو یاهغو شرایطو څخه چی په مدرنو جګړو کې شته، په دې پوری د اړوندو حقوقو په وخت کې ځانګړی أرزښت لري .

سیاسي ګوندونه:

دسویس مهم سیاسي ګوندونه عبارت دي له: راډیکال ګوند ، مسیحي دموکرات ګوند ، دمرکز ډموکراتیکه اتحادیه ، لیبرال ګوند ، سوسیالیست ګوند ، دزرغونو ګوند ، د کار ګوند ، د آزادۍ ګوند ، د سویس دډموکراتانو ګوند .

په پوځي تړونو نو کې غړیتوب:

سویس د بیطرفۍ اصل ته په پاملرنه، د هیڅ پوځي تړون غړی نه دی او پوځی متحد نه لري.

د بهرني سياست دا صولو مباني:

بهرنی سیاست په لومړي ګام کې په بهر کې د هیواد د ګټو دساتنې ، په بین المللی خبرواترو کې ګډون او د خبرو اترو د بهیر د اغیزو ښندلو په معنی او په ۹۰ یمه لسیزه کې د سویس د بهرنی سیاست له لومړنیو ټاکونکو شرایطو څخه دی.

۱- د سولې او امنیت ساتنه او د دوستانه اړیکو پراختیا.

۲- د بشر د حقوقو پراختیا او ساتنه، د موکراسي او د قانون د حکومت توسعه.

۳- د خلکو لپاره د هوساينې او ښه ژوند برابرول.

۴- د ټولنیزو طبقو د اختلافاتو کمول.

۵- د ټولو لپاره د ژوند د طبیعي شرایطو برابرول. د بشر د حقوقو رعایت او هغو ته پاملرنه او قانون ته احترام، تل د امنیت په خوندي ساتلو کې ټاکونکی نقش لري.

سوله او امنیت هغه وخت تضمین کیدای شي، چې دولتونه خپل بهرنی او کورنی سیاست د بشر د حقوقو له منشور سره سم کاندي او د دموکراسۍ اصل ته درناوی وکړي. بشر پال سیاستونه باید د هغوی له پر خپل سرکړنو څخه لوړې وی او د سیاسی قدرت نظام د دموکراسۍ د کړنو تابع وی.

د سویس فدرالي شورا د ۱۹۹۰ میلادي کال د امنیتي سیاست په رپوټ کې د بهر نی او کورني سیاست د پروګرامونو په سر کې د بشر د حقوقو، اصولو او بنسټونو ته درناوی او په ملي او نړیوال امنیت کې د بشر د حقوقو رول ته ځانګړې پاملرنه کړې ده.

د فدرالي شورا له نظره د بشر حقوقو ته له پاملرنې او تضمین پرته سوله او ثبات ناشونی دي او په ټولنه کې د بشر حقوقو ته زیان رسولو کړکیچ او بحران ته لمن وهي.

واخلي نو نوره به خپلواکي ونلري. او د نورو هیوادونو تر نفوذ لاندې به راشي.

ددغې ډلې پرخلاف يو شمير نور په دې فکر کې دي چې د ختيځ د پوځي اډې له ړنګيدو وروسته د سويس بيطرفانه سياستونه د نويو اړتياوو په وړاندې ځواب نشي ويلاي او سويس بايد په نړيوالو پيښو کې، په سياسي او اقتصادي تصميم نيونو کې په ګډون کې بيطرفانه او نامسوولانه چلندونه کړي.

له بشپړې څيړنې وروسته په هغه رپوټ کې چې د ۱۹۹۲ کال د مارچ د مياشتې په ورستيو وختوکې د سويس د بيطرفانه سياستونو او په بهرني سياست باندې د هغو د اغيزو تر عنوان لاندې خپور شو، په راتلونکي کې د امنيتي، پوځي او بهرنيو سياستونو په تدوين کې د سويس د بيطرفانه سياستو نو ټاکونکي اعلام شول، ځکه سويس کولی شي په بيطرفانه امنيتي سياستونو پورې له اړوند و ملاحظاتو او کتنو سره سره په ځانګړو شرايطو سره د ملګرو ملتو د سازمان او د اروپا د ټولنې په پوځي پروګرامونو کې ګډون وکړي. په دې رپوټ کې ويل شوي دي چې په دې برخه کې امنيتي سياسي حالت بدل شوی او سويس بايد د پخوا په شان هلې ځلې وکړي چې په پوځي بحرانونو کې ګډون ونه کړي او ځان له نښتو او تاوتريخوالي څخه لرې وساتي.

په ټوليز ډول د سويس د بهرني سياست د توپير علت ددوو اصولو پر بنسټ تکيه لري، يود بيطرفي اصل او بل د پيوستون اصل، خو په حقيقت کې د سويس مشخصه وجه د هغه بيطرفي ده. په حقيقت کې د نړۍ د عمومي افکارو ترمنځ د سويس له وجودي اړخونو څخه ډير پيژندل شوې اومشهور اړخ ددغه هيواد

د بیطرفي مسئله او له دې امله رامنځته شوې سیاسي ثبات، ټولنیزه ارامي او مالي او پولي امنیت دي.

په بهرني سیاست کې د اغیزمنو بهرنیو عواملو رول:

اروپا دبي ثباتي له ستونزې سره مخامخه ده، هغه هم په داسې ډول چې د تعدیل شویو خطرونو او دنویو بحرانونو بنې زمینه پیداکړې ده. په اروپا کې پوځونه له منځه نه دي وړل شوي او زیاتره اروپايي هیوادونه دپخوا په شان دهیواد دسولې د ساتنې او تینګښت او د ازادۍ او واکمنۍ د تضمین لپاره د پوځونو شتون ته اړتیا لري. په اروپا کې د پخوا په شان د پوځي ګواښ خطر شته تر هغه وخته پورې چې اروپا په یوه ګډ او هر اړخیز امنیتي سیاست باندې برلاسې نشي، سویس پر خپل دایمي بیطرفانه اصل باندې وفادار پاتې کیږي.

تیر تاریخ او تجربې ښودلې ده چې سیاسي حالات او احوال تل په بشپړه توګه د اټکل وړنه دي او د نه اټکل وړ خطرونه تل شته. په دې لاره کې بیطرفانه سیاستونه کولی شي د ملي هدفونو، د نړیوالو حقوقو د ساتنې او پر بحرانونو باندې د بریالیتوب لپاره د هیواد د واکمنۍ په لاره کې ستر رول ولري.

سویس له ۱۹۵۰ کلونو وروسته په دې واقعیت پوه شو چې نور نشي کولي په یوازیتوب سره او د نورو هیوادونو د ګټو له پامه کې نیولو پرته خپلې اقتصادي او پوځي ګټې پرمخ بوځي.

سویس یو صادروونکی هیواد دی او په سلو کې ینځوس خپل عایدات بهر ته د صادراتو له لارې تامینوي، د همدې مقصد

لپاره سویس دې ته اړتیا لري چې د خپلو بهرنیو او اقتصادي سیاستونو ترمنځ یو خیل والي او سمون را منځه کړي.

جوته ده چې کورني، بهرني او اقتصادي سیاستونه د یو بل لازم او ملزوم دي. د هر راز کورني او اقتصادي سیاست غوره کول نشي کیدای چې د بهرني سیاست له هدفونو سره په تضاد کې وي. برخلاف، د اروپا په ټولنه کې د سویس غړیتوب چې د هیواد په دننه او خلکو پوري اړه پیداکوي د پناه غوښتونکو، د پور ډ ورکولو، اعتبار او د بشر د حقوقو د رعایتولو د موضو عګانو په ګډون ځیني مسئلي او ستونزې په سویس پورې اړه نه پیدا کوي

سویس باید د بهرني سیاست له پلوه له نورو هیوادونو سره خبرې اترې وکړي او د اړوندو ستونزو د حل کولو لپاره اروپایي او ډله ایزو پاملرنه وکړي. زیاتره هغه ستونزي چې سویس ورسره مخامخ دی کورنی جرړې نلري او په بهر پوري اړه پیدا کوي. سویس باید له بهرنیو ستونزو او ګوابنونو او په تیره بیا له تروریزم سره په مقابله کې او د نیشه یي توکو د قاچاقو د مخنیوی په اړه له نورو هیوادونو سره همکاري وکړي. او د اروپا د امنیتي سیاستونو په ټینګښت کې دې ونډه واخلي او د ستونزو او بحرانونو په حل کولو کې دې په مستقیمه توګه فعالیت وکړي.

له بلې خوا د اروپا په ټولنه کې غړیتوب هم کولی شي د نویو سیاستونو او د بیطرفي د سیاست د دکتورینو د غوره کولو ترمنځ ژور درز پیداکړي. او ددغه هیواد خپلواك کړه وړه تر اغیزې لاندې ونیسي.

د عراق، لنبان ان د پخوانی یو ګوسلاویا پرخلاف بندیز کې ګډون او د سویس له فضا څخه په پخوانی یوګوسلاویا پورې په اړوندو عملیا تو کې د ناتو د آواکس الوتکو د تیریدو داجازې

ورکول ددغو کړنو له جملې څخه دي. سویس نیت لري، د خپلو بیطرفانه سیاستونو اصول د لویدیځې اروپا د ټولنې له معیارونو سره هم غږي کړي. په همدې اړوند ۱۹۹۰ لسیزه کې د سویس د بهرني سیاست په رپوټ کې لاندنۍ درې موضوعګانې څیړل شوي دي.

۱ – د وسله وال بیطرفانه سیاست ساتنه

۲د سولې په ټینګښت کې د بیطرفانه سیاستونو رول.

فعال بهرني سیاست اود ستونزو په حل کولو او له نورو هیوادونو سره د پیوستون په ښودلو کې د سویس ګډون په ۱۹۹۰ لسیزه کې دسویس د بهرني سیاست په رپوټ کې په ښه توګه روښانه شوې دی چې نړیوال حالات او احوال دکورنیو او بهرنیو سیاستونو او د اروپا د یووالي له پلوه او په پای کې د پخواني شوروي اتحاد دټوټې ټوټې کیدو اود کمونیزم د له منځه تللو له امله د سترو بدلونونو قرباني شوي دي. په دې پړاو کې سویس هم د خپلو ګټو د ساتنې لپاره په خپلو تیرو سیاستونو او په تیره بیا د وسله والو بیطرفانه سیاستونو په د کتورینو باندې بیا کتنه کوي او د غه سیاستونه له اوسني حالت سره عیاروي. که چیرې فدرالي شورا په دې بریالۍ شي چې د بیطرفۍ سیاستونه د اروپا له ا منیتي سیاستونو سره تطبیق کړي سویس کولی شي له نورو هیوادونو سره اوږه په اوږه د اروپا د امنیتي سیاستونو په غوره کولو کې ونډه واخلي.

د سویس سیمه ایز موقعیت:

سویس د اروپا یوه برخه ده او له سیاسي، ټولنیز او اقتصادي پلوه له اروپا سره همکاري لري. له صنعتي پلوه یې د باختري

اروپا او ناټو ترمنځ نږدې اړیکې شته چې دا کارله سویس سره د امنیتي ګډون سبب کیږي. که څه هم سویس د ناټو د تړون غړی نه دی خو د سولې لپاره د ګډون د طرحې له لارې کولی شي د پوځي اطلاعاتو راکړه ورکړه ولري. په بشر دوستانه او له خنډونو سره د مقابلې په پروګرامونو کې ګډون وکړي او په پوځي زده کړو کې ونډه واخلي. امنیتي او د سولې دساتنې سیاستونه د بهرنې سیاست په سرکې ځای لري او سویس په اروپا کې له ثبات سره مینه لري

د سویس د حکومت او هیواد په اړه د تیري کوونکو مقصدونو لپاره د واکمنۍ د پیژندګلوي څرګندول نا محسوس دي. او د غه هیواد له خپلو څلورو ګاونډیانو سره هیڅ راز سرحدي اختلاف نلري، او برعکس د ښه ګاوندیتوب او په سوله ایز ګډ ژوند او د بشر د حقوقو په رعایتولو باندې عقیده لري.

د سویس بهرنۍ تجارتي اړیکې له دریو ګاونډیانو المان، فرانسې او ایټالیا سره په سر کې او وروسته له اطریش سره په ټیټه درجه کې دي یوازې د فرانسې په باب د سوسیالستانو د را منځته کیدو په وخت کې د سویس مالي مرکزونه په پیل کې په ګمر کې او تجارتي برخو کې د دوه اړخیزو ځانګړو اړیکو له پلوه د اندیښنې قرباني شول. خود زمانې په تیریدو سره دغه اندیښنې کمې شوې.

له امریکا او هالینډ څخه وروسته، سویس په فرانسه کې د پانګې اچونې له پلوه دریم هیواد دی او د هیواد له اوسنیو تجارتي اړیکو سره مینه لري.

له افغانستان سره د سويس سياسي اړيکې:

د افغانستان او سويس اړيکې د ۱۹۲۸ کال د فبروري د مياشتې په اوولسمه نېټه د برن په ښار کې د يوه ډيپلوماتيك تړون په ترڅ کې پيل شوې افغانستان او سويس په تېرو وختونو او دغه راز تر اوسه پورې استوګن سفارتونه نه لري په تېرو وختونو کې په پاريس کې د افغانستان سفارت او په تهران کې د سويس سفارت ددواړو هيوادونو د اړيکو تمثيلوونکی و. تر يوه وخته پورې په بن کې د افغانستان جنرال قونسلګري دغه مسووليت په غاړه درلود.

په افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد له تيري وروسته په کابل کې د سويس قونسلګري فعاله وه له هغه وروسته په کابل کې د اطريش سفارت تر يوه وخته پورې د سويس د قونسلګري چارې په غاړه لرلې.

اوس په پاريس کې د افغانستان سفارت ددواړو هيوادونو د اړيکو تمثيلوونکی دی. او په فرانسه کې د افغانستان لوي سفير پروفيسر زلمی حقاني په عين حال کی په سويس کې د هيواد سفير دي.

دغه راز په ژنيو کې د ملګرو ملتود سازمان په اروپايي مقر کې د افغانستان دايمي نماينده ګي فعاله ده او دهيواد استازيتوب کوي، سويس په کابل کې نماينده ګي لري او په اسلام اباد کې ددغه هيواد سفارت هم ددواړو هيوادونو ترمنځ د اړيکو په تامينولو کې فعال دی.

فرانسه

جغرافيايي موقعيت :

فرانسه ۵۴۷۰۲۶ مربع کیلومتره مساحت لري. دغه هیواد په لویدیځه اروپاکې پروت دی. چې شمال ته یې د مانش سیند، ختیځ ته یې بلجیم، لوکزامبورګ، المان، سویس او ایتالیا، سویل ته یې د مدیترانې بحیره او اسپانیا او لویدیځ لورته یې د اتلس سمندر پروت دی.

عمومي اطلاعات:

فرانسه د اروپا او نړۍ له مهمو هیوادونو څخه ده چې په نړیوالو سیاستونو کې ښکاره نقش لوبوي. همدارنګه په فرهنګ او ادب، علم و هنر او تکنولوژي کې ددې هیواد نقش څرګند دی.

پایتخت یې د پاریس ښکلی ښار دی. پولي واحد یې یورو دی.

مهم ښاونه:

مارسي ليون، تولوز، نيس، ستراسبورګ. مانتپ. بوردو. سنت استين، مون پوليه، لوهاور، اننس. ريمس. ولون. نيل برست او کرونوبل.

د جولای ۱۴ مه نيته د فرانسې ملي ورځ ده. د فرانسې اساسي قانون په ۱۹۵۸ م کال کې تدوين شو او په ۱۹۶۲ م کال کې په هغه کې ځينې تعديلات راغلل.

د فرانسو يانو دين مسيحي او د اوسيدونکو نژاديې فرانسوي، عربي، الماني او ژبه يې فرانسوي او په نارسمي توګه الماني ده.

د هيواد د کرنې ور ځمکه په سلو کې ۳۵ او پيداوارېي غله. غذايي مواد، لبنيات او ميوې دي.

د صنعت په برخه کې يې د کار قوه په سلوکې ۳۵ ده او مهم توليدات يې دادي: کيميايي توکي، موټر، اوسپنه، پولاد او الوتکې.

د هيواد طبيعي منابع عبارت دي له: ځنګلونو او د ډبرو سکرو څخه.

لنډتاريخ:

فرانسه يوله ډيرو لرغونو هيوادو څخه ده چې له لوړو او ژرو ډك، پيچلی او مغلق تاريخ لري.

د فرانسې تاريخي لرغونتيا په څو دورو ويشلی شو: له زوکړې تر انقلابه، له انقلاب څخه تر دوهمې نړيوالې جګړې، له دوهمې نړيوالي جګړې څخه تر نن ورځې.

۱- فرانسه له زوکړې تر انقلابه:

د فرانسې دهیواد د جوړیدو او تاسیس په اړه ټول تاریخپوهان او څېړونکی سره یوه خوله نه دي، خو زیاتره په دې باور دي چې فرانسه په رسمی ډول په ۴۹۴ میلادی کال کې د فرانسویانو د پادشاه په توګه د کلویس (Clovis) دواك ته رسیدو پرمهال رامنځ ته شوې ده.

له ۱۹۵۷ م کال څخه چې وروسته دا هېواد د یوه شاهي نظام په توګه څرګند شو، په دې دلیل چې په دې کال کې Humuscope هوموز کاپی د پاد شاه په نامه واك ته ورسید او د هغه کورنۍ نهه پیړۍ پر فرانسې باندې حکومت وکړ. ددې مودې په اوږدو کې د فرانسې سیاسي نظام مطلقه شاهي وه.

۲- فرانسه له انقلاب څخه تر دوهمې نړیوالې جګړې پورې:

په ۱۷۸۹ م کال کې د فرانسې انقلاب مطلقه شاهي رژیم و ځابه، خو انقلابیونو له ځنډ پرته د جمهوریت اعلام ونه کړ او شپاړسم لویی Louisxvi یې په پشبړه توګه له واك څخه ګوښه نکړ. په ۱۷۹۱ م کال کې ملی مجلس (National Assembly) ځان ته د لیکلې اساسی قانون د تدوین صلاحیت ورکړ او هغه یې تصویب کړ. دا په نړۍ کې د امریکا (۱۷۸۷م) له اساسی قانون څخه وروسته دوهم لیکلی اساسی قانون دی.

د فرانسې د ۱۷۹۱ م کال اساسی قانون مشروطه شاهی رژیم رامنځ ته کړ، خو په ۱۷۹۲ م کال کې د فرانسی انقلابیونو پادشاه پرخیانت تورن او هغه یې اعدام کړ او په همدغه کال جمهوري رژیم اعلام شو.

۳- فرانسه له دوهمې نړیوالې جګړې څخه تر نن ورځې:

د فرانسې هیواد د پیړیو په اوږدوکې په نړۍ کې د یوه ځواکمن دولت په توګه دنړۍ په پوځي، دیپلوماتیك او سیاسي ډګر کې ښکاره نقش درلودلی دی. دوهمې نړیوالې جګړې او په ځانګړې توګه د هغې پایلو دغه وضعه پای ته ورسوله.

دغه جګړه په ۱۹۳۹ م کال کې پیل شوه او د المان هیواد په ۱۹۴۴ م کال کې فرانسه ونیوله. د المان له خوا د فرانسې د نیولو مخالفانو په مقاومت لاس پورې کړ او په دوو جبهو وویشل شول؛ یو پلو کمونیستان او بل پلوته ملي پال.

جنرال دوګل(DeGull) د ملي مقاومت د لاربښود په توګه و پیژندل شو. د ملي مقاومت مشر توب په لندن کې و فرانسه پوځي ځواکونو له خوا او په ځانګړې توګه د امریکا او د فرانسې د مقاومت په مرسته ازاده شوه. د امریکا له خوا د المان او متحدینو له ماتې وروسته، د انګلیس او شوروی په مرسته د نړۍ جیوپولټیك وضعیت له یوې مخې بدل شو او په نړیوال ډګر کې دوه لوی قدرتونه رامنځ ته شول: امریکا او شوروي. خو د فرانسویانو لپاره ددې واقعیت منل سخت و. د المان په وړاندې د فرانسې ماتې اود المانیانو له خوا ددې هیواد نیول، د فرانسې د ملي مقاومت کمزوري او د دوګل غوښتنو ته د انګلستان او امریکا بې پروایي(په نړیوال ډګر کې د هغې ځنډیني دښمن) فرانسویانو او په ځانګړې توګه دوګل ته ډیر ژور روحي ټپ و. دوګل غوښتل چې له پوځي ماتې او د ملي مقاومت له نظامي کمزورتیا سره سره بیا هم امریکا او انګلستان هغه د ملي مقاومت دمشر په توګه و پیژني او په ټولو مهمو پریکړو کې یې

شریك کړي، داسې غوښتنه چې امریکائیانو او انګلیسانو ته د منلو وړنه وه.

دا بنایي یو له هغو دلایلو څخه وي چې د فرانسې ټول مشران اوپه ځانګړي ډول دوګل له ۱۹۴۵نه تر ۱۹۴۶ اوله ۱۹۵۸ نه تر ۱۹۶۹ کال پورې په نړیوال ډګر کې په پرله پسې توګه د امریکا له سیاست سره مخالف و او هغه ته یې ګوته نیوله.

له افغانستان سره د فرانسې اړیکې:

له افغانستان سره د فرانسی سیاسي اړیکې:

افغانستان ته د لومړی ځل لپاره په ۱۸ مه میلادي پیړۍ کې د فرانسی پام راواوښت د فرانسې امپراتور ناپلیون بناپارت(Napoleon Bonaparte) چې زیاتره اروپایی هیوادونه یې فتحه او اشغال کړی وو او انګلستان ته د ماتې ورکولو په فکر کې و، دهغه دماتې له پاره یې یوله نظامي پروګرامونو څخه د بریتانوي هند نیول و، په بریالی توګه دپروګرام د پلي کولو لپاره یې د روسیې، ایران(همدارنګه افغانستان د هغه د جغرافیایی موقعیت له مخې او له بریتانوي هند سره یې د ګډو پولو له امله) اتحاد ته اړتیا درلوده. له دې امله چې هر ډول ځمکنی نظامی یرغل باید د افغانستان او ایران له لارې شوی وای خو د فرانسویانو دا طرحه عملي نشوه

په حقیقت کې د افغانستان او فرانسې ترمنځ اړیکې د خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته پیل شوې، چې کولی شو پر دوو دورو یې وویشو:

۱- له ۱۹۲۲ نه تر ۲۰۰۲ کال پورې، په افغانستان کې د فرانسې سیاست:

په دې دوره کې په افغانستان کې د فرانسې د سیاست څېړنه ددې واقعیت ښکارندویه ده چې افغانستان فرانسې ته د ستراتیژیکې اهمیت وړ نه و، نو ځکه په همدې دلیل ددواړو هیوادو ترمنځ همکاري په لرغونپوهنې، ښوونې و روزنې(او څه نا څه ځمکپوهه) پورې محدودې وې.

له افغانستان سره د فرانسې اړیکې د ۱۹۲۲ کال د اپریل په ۲۸ مه نیټه ددوستۍ او مؤدت له لومړني تړون سره سم پیل شوې. فرانسې په ۱۳۵۷ کال کې د د افغانستان دموکراتیک جمهوریت په رسمیت و پیژانده او دشوروی له تیری وروسته یې له افغانستان سره اړیکې سړې شوې او له کابل څخه یې خپل سفیر ورو غوښت او د مجاهدینو د حکومت تر تینګښت پورې یې اړیکې په همدې ډول وې او د مجاهدینو له بری وروسته یې د هغوی حکومت په رسمیت وپیژانده.

له۲۰۰۲ کال څخه تر ننه د فرانسې سیاست:

د فرانسې دولت د نړۍ د نورو هیوادونو په څېر په نیو یارک او واشنګټن باندې د ۲۰۰۱ م کال د سپتامبر د یوولسمې حمله محکومه کړه او محاکمې ته د اسامه بن لادن د سپارلو په اړه یې د امریکا د دیپلو ماسی او له هغه وروسته یې د طالبانو په وړاندې د امریکائیانو د پوځی حملې ملا تړ وکړ. د بن له بهیرا و دبن تړون ملا تړ یې هم وکړ او د حامد کرزي په مشرۍ یې د لنډ مهالې اداري له رامنځ ته کیدو وروسته خپلې مرستې له افغانستان سره له سره پیل کړې.

ددوه‌اړخیزو هیوادونو د ودیز ې مرستې:

الف: د لرغونپوهنې په برخه کې مرستې:

د افغانستان او فرانسې ترمنځ ددوستۍ لومړنۍ تیرې د لرغونپوهنې په برخه کې کیښودل شوې. په ۱۹۲۲ م کال کې یو فرانسوي پلاوی افغانستان ته راغی او په دې برخه کې یې د افغانستان له دولت سره یو تړون لاسلیك کړ. دغه تړون ددیرشو کلونو لپاره لاسلیك شو او فرانسویانو ته اجازه ورکول شوه چې د افغانستان په هره برخه کې چې وغواړي کیندنې پیل کولی شي.

فرانسوي لرغونپوهانو پر ۱۹۲۴ کال په بامیانو کې خپلې کیندنې پیل کړې او له ۱۹۲۵ – ۱۹۲۸ کال پورې یې په جلال آباد کې کیندنو ته ادامه ورکړه.

دې فعالیتونو د محمد داود خان د جمهوریت تر وروستیو کلونو پورې دوام درلود، خو د شورویانوله خوا د هیواد نیولو په دې برخه کې د فرانسویانو فعالیت ته د پای ټکی کیښود.

ب: دښوونې او روزنې په برخه کې د فرانسویانو مرسته:

فرانسې په ۱۹۲۲م کال کې د ښوونې او روزنې په برخه کې له افغانستان سره خپله همکاري پیل کړه، دغه مرستې د استقلال د هلکانو او د ملالۍ د نجونو د لیسو ودانول دي.

د یادونې وړ ده چې د کابل د حقوقو پوهنځي د پاریس د سوربن له پوهنځي او د کابل د طب پوهنځی دلیون د ښار د طب پوهنځي سره نږدې همکاري دلوده. فرانسوي استادانو په دې پو هنځي کې تدریس کاوه او افغانی محصلانو د حقوقو او طب په څانګو کې په فرانسه کې زده کړې کولې. په افغانسان باندې د شوروی یرغل د افغانستان او فرانسې مرستوته د پای ټکی

کيښود. فرانسې د افغانستان نيول محکوم کړل او له مجاهدينو، په ځانګړې توګه له احمد شاه مسعود سره يې همکاري کوله.

فرانسه د بن له تړون او په افغانستان کې د لنډمهالې ادارې له رامنځ ته کيدو وروسته ډيره فعاله ده. فرانسه په بيلا بيلو ډګرونو کې لکه: د ملي اردو، کرنې، مخابراتو، عامې روغتيا، ښوونې او روزنې، فرهنګي چارو، قضايي چارو، حقوقي او نورو مثبتو فعاليتونو کې د افغانستان له ډيرو مهمو مرستندويانو څخه ده.

همدرانګه ۲۰ غير دولتي(NGO) فرانسوي مؤسسې د نړۍ له نورو هيوادو څخه وړاندې په بيلا بيلا ساحو کې د افغانستان په بيارغاونه کې په کار او فعاليت بوختې دي، چې ددوی هڅو په ولايتونو، په لرې او نږدې سيمو کې د افغانستان په مصيبت ځپلو خلکو باندې مستقيمه او مثبته اغيزه ښندلې ده. که څه هم ددې مرستو کچه لږ ده خو ويش او رسول يې له غوره کيفيت څخه برخمن دی.

ددواړو هيوادونو اقتصادي مرستې:

څرنګه چې له افغانستان سره دلويديځو هيوادو دمرستو له جدول څخه څرګنديږي، د مهمو لويديځو هيوادو په پرتله د فرانسې د مرستو اندازه کمه ده.

د توکيو په کنفرانس کې له افغانستان سره د لويديځې اروپا ژمنه شوې مرستې:

۱	المان	۱۵۴ ميليونه ډالره
۲	انګلستان	۱۳۰ ميليونه ډالره
۳	هالينډ	۸۷ ميليونه ډالره
۴	ايټاليا	۶۶ ميليونه ډالره
۵	فرانسه	۴۳ ميليونه ډالره

فرانسه اوس په څو برخو کې له موږ سره مرسته کوي:
الف په کرنیزو چارو کې:

۱	د ۲۰۰۲ – ۲۰۰۳ کال لپاره ۱۳ میلیونه یورو.
۲	د ۲۰۰۲ کال په جون کې دوه میلونه یورو
۳	په ۲۰۰۲ کال کې ۲۰۰۰۰ ټنه حبوبات
۴	د ۲۰۰۲ کال په ژمي کې ۹۵۰۰ ټنه اوړه
۵	په ۲۰۰۴ کال کې ۱۵۰۰ ټنه د غنمو اصلاح شوي تخم
۶	د ۲۰۰۴ کال په ژمي کې ۱۰۱۰۰ ټنه اوړه
۷	د ځاګانو د کیندلو لپاره ۲۲۰۰۰۰ یورو

لکه څنګه چې لیدل کیږي، فرانسه په دې برخه کې ښه فعاله ده، د ۲۰۰۲–۲۰۰۳ کلونو لپاره له ۴۰ میلیون یورو ژمنې شوې مرستې څخه یې ۱۳ میلیون کرنې ته ځانګړې شوې ده: په فرانسه کې د افغانی کارپوهانو د روزنې لپاره عاجله مرسته، د افغانستان ولایتونو ته د فرانسوی کار پوهانو استول. په مقابل کې د افغانستان حکومت و منله چې د فرانسې له اصلاح شو و تخمونو څخه دې استفاده و شي، دغه تخمونه چې په اسپانیا کې آزمایل شوي وو، په افغانستان کې یې نتیجه ورنه کړه او تاوانونه یې رامنځ ته کړل. فرانسې ژمنه وکړه چې دغه زیانونه به جبران او نوي تخمونه به ورکړي.

د ۲۰۰۲ کال په اوایلو کې د نړیوالو پراختیایي مرستو دلوی رئیس د کتنې په ترڅ کې پریکړه وشوه چې د فرانسې د مرستو بلاعوضه صندوق دې جوړ شي. دغه صندوق د ۲۰۰۲ کال لپاره (۴۰۰۰۰ ټنه حبوبات په واک کې درلودل، دغه ماموریت د (۲۰۰۲ کال په پای کې یوځل بیا تصدیق شو. په ۲۰۰۲ م کال کې

ددې صندوق له لارې ۹۵۰۰ ټنه اوړه په ارزانه بیه وارد یدل او په ژمي کې به پلورل کیدل، کومې پیسې یې چې له پلورلو څخه تر لاسه کیدې امکان یې رامنځ ته کاوه چې دکرنې په برخه کې آزمایښتی عملیات لکه: د غویانو د نسل د ښه والي لپاره دیوه مرکز جوړول، په باغ با لاکې دنیا لګیوتکثیر، د تخمونو د تکثیر د څلورو فارمونو بیارغول اوله هغو څخه د حاصل ترلاسه کول، د کاپیسا او رود ګو په ولاینوتو کې د سیمه ایزو ادارو بیا رغاونه- تر سره شي.

باید زیاته کړو چې:

- د ۲۰۰۳ م کال لپاره، د کرنې ۱۵۰۰ ټنه غنم.

د ۲۰۰۴ م کال د ژمی لپاره ۱۰۱۰۰ ټنه اوړه.

د څاه ګانو د کیندلو لپاره ۲۲۰۰۰۰ یورو.

مرسته شوې ده

د ۲۰۰۴ کال په جون کې د کرنې په برخه کې د پیوستون د برخې د صندوق له خوا ددوه میلیونو یورو یوه پروژه تصویب شوه. په دې پیسو به د کرنې د وزارت د کرنې د تخمونو، او د وردګو په ولایت کې د مالدارۍ د پراختیا په برخه کې ځینې پروژې ترسره شي.

ب: د عامې روغتیا په برخه کې:

۱	له پیښور څخه کابل ته د روغتون د الیږدولو لپاره، ۲۵۱۰۰۰ یورو
۲	د پلاستیکي جراحی لپاره ۲۲۶۰۰ یورو .
۳	د انالیزد لابراتوار لپاره ۱۵۷۰۰ یورو

د کابل د طب د پوهنځي او د لیون دښار د طب د پوهنځی تر منځ مرسته او همکاري بیا پیل شوې ده. افغانی محصلان به د

فرانسي دليون د طب په پوهنځی کي زده کړه وکړی. او همدارنګه په فرانسوی استاذان د کابل په طب پوهنځی کې تدریس وکړي.

د ۲۰۰۴ م کال له جون څخه فرانسویان په کابل او ولایتونو کې د طبیعی ازمایښتځی(لابراتوار) په برخه کې افغانان روزي.

د فرانسې دولت د پاکستان له پېښور څخه د ماشومانو د روغتون د رالېږدولو لپاره ۲۵۱۰۰۰ یورو ځانګړی کړل، ددوو کلونو په اوږدو کې یې ۲۲۶۰۰ یورو د پلاستیکی جراحي او مصنوعی پښو د جوړولو او د ۱۸ میاشتو په اوږدوکې یې د انالیزد لابراتوار لپاره ۱۵۷۰۰۰ یورو مرسته وکړه.

ج: د ښوونې او روزنې په برخه کې:

د استقلال لیسه ددې مرستې د بیلګې په توګه یادولی شو، خو د ملالۍ لیسې په باب زیاتې خبرې نشي کیدای. د فرانسې یوې راډیو له خپلو اوریدونکو څخه د استقلال لیسې د بیارغاونی او ترمیم لپاره د مرستې غوښتنه وکړه، نږدې ۲۲۰۰۰۰ یورو راټول شول او د استقلال لیسه یې د ۲۰۰۳ ښوونیز کال لپاره ورغوله.

د یادونې وړ ده چې فرانسه له ۱۹۲۲ م کال څخه تر ننه د ښوونې او روزنې په برخه کې فعاله او مرستی یې روانې دي. په ۲۰۰۳ کال کې د ښوونځیو د ترمیم او بیارغاونې په برخه کې(۳۰۰۰۰۰) یورو مرسته شوې ده.

۱	دښوونځیو د جوړولو لپاره ۳۰۰۰۰۰ یورو.
۲	د استقلال د لیسې د بیارغاونی لپاره ۲۲۰۰۰۰ یورو.
۳	۵۵۰۰۰۰ کتابچې
۴	۱۰۰۰۰۰ قلمونه

د: په پوځي برخه کې د فرانسې مرستې:

له تروریزم سره د مبارزې په وړاندې او په افغانستان کې د سولې او ثبات دټینګښت په برخه کې فرانسه فعاله ده.

د فرانسې دولت د ملګرو ملتون په سازمان او په ځانګړې توګه په امنیت کې د افغانستان په اړه د ټولو پریکړه لیکونو(Resolution) ملاتړ کړی دی.

فرانسه په افغانستان کې ۵۰۰ سرتیری او د ځینو منابعو په قول ۲۵۰ سر تیری لری. چې د نورو هیوادونو په څېر د امنیت د ټینګښت او په ځانګړې توګه په کابل کې د ایساف ISAF د ځواکونو په چوکاټ کې مرسته کوي.

فرانسی د ۲۰۰۳ کال په اګست کې ۱۰۰ سرتیری(د ځینو منابعو پا استناد ۲۵۰ سرتیری) له خپلو ځانګړو ځواکونو څخه قندهار ته واستول چې له امریکائیانو سره د تروریزم په وړاندې مبارزه کې مرسته کوي، او(۶۰) تنه فرانسوی پوځی ښوونکي په ملی اردو کې لوړ رتبه افغانی افسرانو روزي.

ددواړوهیوادونو ترمنځ رسمي کتنې:

اعلیحضرت امان الله خان د افغانستان لومړنی مشرو چې فرانسه یې لیدلی ده، هغه د اروپا یی هیوادونو د کتنې په ترڅ کې پاریس ته هم سفر کړی دی.

د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه په ۱۹۶۴ م کال کې فرانسې ته سفر وکړ، چې د فرانسی د جمهور رئیس دوهم شارل له خوا یې هرکلی وشو.

په ۱۹۶۸ م کال کې د فرانسې صدراعظم ژورژ پامپیدو کابل و کوت خو پر همدې وخت کې په فرانسه کې ددوګل د پیشنهادی

طرحی په وړاندې د محصلینو لاریونونه پیل شول چی د ۱۹۶۸ م کال د کوچنی انقلاب په نامه ونومول شول. له دې امله پامپیدو ناچاره شو څو له وخت څخه د مخه بیرته فرانسې ته ستون شي. دیادونې وړده چې داستقلال د لیسې د نوې ودانۍ د بنسټ ډبره دپامپیدوله خوا کیښودل شوه.

دلنډ مهالې اداري ترمنځ ته راتلو پوری ډیر لوړ پوړی پلاوی پاریس ته تللي دی چې له دې جملې څخه یوه مهمه کتنه پاریس ته د قوماندان احمد شاه مسعود سفر دی چې په دې سفر کې د بهرنیو چارو وزیر داکتر عبدالله، د ملګرو ملتو په سازمان کې د افغانستان دایمی استازی ډاکتررروان فرهادی، په ډهلی کې افغانی لوی سفیر مسعود خلیلی له هغه سره ملګري وو. په دې سفر کې د اروپایی پارلمان رئیس د احمد شاه مسعود هر کلی وکړ.

په ۲۰۰۲ م کال کې د افغانستان د اسلامی انتقالي دولت رئیس ښاغلی حامد کرزي هم پاریس ته رسمی سفر وکړ. د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت رئیس د سویس له سفره وروسته دوهم ځل پاریس ته سفر وکړ چې ددې سفر په ترځ کې یې د فرانسی له جمهور رئیس ژاك شیراك او د فرانسې له نورو مشرانو سره وکتل.

د ۲۰۰۴ کال د فبرورۍ په ۱۲ مه د فرانسی د بهرنیو چارو پخوانی وزیر دولیپن افغانستان ته راغی چې د افغانستان د اسلامي انتقالی دولت له رئیس حامد کرزی، د بهرنیو چارو له وزیر ډاکتر عبدالله او نورو افغانی مقاماتو سره یې خبرې وکړې. همدارنګه یې له استاذانو، روڼ اندو او یو شمیر افغانی میرمنو

سره هم وکتل، داساسي قانون او د جمهوري رياست د راتلونکو ټولټاکنو په اړه يې اوږدې خبرې وکړې.

په دې سفر کې د فرانسې د بهرنيو چارو پخواني وزير اروپايي ټولنې ته له افغانستان سره د مرستود لومړيتوب په اړه د خپل هيواد دوراندېز په اړه معلومات ورکړل، اوژمنه يې وکړه چې فرانسه به په افغانستان کې څرګنداو روښانه سياست ولري او زياته يې کړه چې افغانستان يې د هغو هيوادونو په فهرست کې شامل کړی دی چې د فرانسې د اقتصادي مرستو له نظره د لومړيتوب حق لري.

دایټالیا جمهوریت

جغرافیایي موقعیت:

ایټالیا په باختري اروپا کې په شمالي نیمه کره کې له ۶ څخه تر ۸ درجو پورې په ختیځ جغرافیایي اوږدوالي کې او له ۳۴ څخه تر ۴۶ درجې پورې په شمالي جغرافیایي سور کې په هغې ټاپووزمه کې موقعیت لري چې د اروپا له جنوب څخه تر مدیترانې پورې یې دوام پیدا کړی دی.

یو شمیر ګاونډي جزیرې یې ۳۰۱۲۷۷ مربع کیلومتره او منځنی سوریې د ۲۰۹ کیلو مترو په شاوخوا کې دی.

د ایټالیا دوه اصلي ټاپوګان د سیسیل ټاپو په جنوب لویدیځ کې او د ساردني ټاپو د ... د غرونو په لویدیځ کې موقعیت لري د غو دوو ټاپوګانو د ... هیواد په شمال کې طبیعي پولې را منځته کړي دي چې فرانسه په شمال لویدیځ کې، سومین او اتریش په شمال کې او یوګوسلاویا په شمال ختیځ کې له ایټالیا څخه جلا کوي.

دغه هیواد په لویدیځ کې د تیرنه او لیګوریا له سیند، په جنوب کې د ایوني له سیند او په ختیځ کې د سیسیل له تنګي سره د ادریاتیك له سیند سره محدود دی.

ایټالیا د ځانګړي جغرافیايي حالت په علت ډیره ښه مدیترانه یې هوا او اوبه لري.

د آلپ دغرونو لړۍ دغه هیواد ته د شمال دسړو بادونو د ننوتو مخه نیسي او د خلیج په بهیر کې د هغې د اوبو او هوا د اعتدال سبب کیږي. ملایم ژمی او تود دوبی، په پسرلي کې په کافي اندازه اورښت ددغه هیواد د سمسورتیا او د اوبو او هوا د ښه والي سبب شوي دي. دغه هیواد د اوبو او هوا، د لوړوالي او ژوروالي له پلوه په دریو سیمو ویشل شوی دی:

الف: دایټالیا شمال په ډول ډول منظرو سره دآلپ غرونو پوښلی دی.

ب: د پوکه پراخه جلګه د ایټالیا په سلو کې له پنځلسو خاورې سره برابره ده.

ج: جزیره یې سیمه: د ایټالیا درېیمه برخه جزیره یې سیمه ده چې دپوکه دجلګي له جنوب څخه پیل شوې ده او د سیسیل تر ټاپو پورې دوام مومي.

غرونه او اور غورځوونکي: له هغو فعالو اور غور ځوونکو څخه چې ټول یې د ایټالیا په جنوب کې دي کولی شو دولګانو، استرومبولي، انتاو او د زوو د اور غور ځوونکو یادونه وکړو.

خلیجونه :-

ایټالیا ډیر اوږده او د بیړۍ چلونې وړ سواحل لري. د ایټالیا مهم خلیجونه عبارت دي له ترسیت ونیز، ماتکرو دونیا، تارانتو،

اسکو ئيلاس، کاتانياتوتو، جنوا، سالرتو، پلي کاسترو او سنت او فيما.

مهم بندرونه:

مناسب سواحل او زيات خليجونه د ايټاليا په غاړو کې دمهمو بندرونو د رامنځته کيدو سبب شوي دي چې ډېر مهم يې د ادرياتيك په سيند کې دونيزو تريست او د جنوا په خليج کې د لاسپزيا، ناپل او تارانتو دي.

عمومي اطلاعات:

مهم ښارونه:

د ايټاليا پايتخت د روم لرغونی ښار دی چې د ايټاليا د ملي کيسو پربنسټ د رمولوس او رموس په نومونو د دوو ورونو له خوا جوړ شوی دی.

ديټاليا مهم ښارونه د ميلان، ناپل، تورنو جنوا، پالرمو، بلوفا، فلورانس، کاتانيا، ياري، ونيز، مسنيا، ورونا، تريست، تورنتو، پادو ابرسيا، مدانا، پارما، ليورتا، پراتو، فوجيا او سالرتو دي.

د ۲۰۰۲ ميلادي کال د د شميرنو له مخي د ايټاليا دوگړو شمير ۶۲۵ ر ۷۱۵ ر ۵۷ تنه دي.

د ايټاليا ژبه د لاتيني ژبې پربنسټ ولاړه ده د ا يټاليا په سلو کې څه د پاسه نوي تنه خلك د کاتوليك کليسا پيروان دي.

ايټالويان له اصولو سره سم يو فرهنګ لرونکی ملت دی او ډېر بډای ادبيات، هنر، شعر او موسيقي لري او په کاتوليك مذهب باندې ددوی باور او ددغه هيواد په ټولو هنري او فرهنګي اړخونو

باندې نفوذ کړی دی. په ایټالیا کې د ښوونې نظام له ۶ کلنۍ څخه تر ۱۳ کلنۍ پورې وړیا او اجباري دی

اقتصادي حالت:

دایټالیا هیواد د نړۍ د اووسترو صنعتي هیوادونو د ډلې یو غړی بلل کیږي. ددوهمې نړیوالي جګړې په پای کې یو کرنیز هیواد بلل کیده او له اقتصادي پلوه د یوې کوچنۍ صنعتي اډې په چوکاټ کې طرحه وه، له هغې څخه شل کاله مخکې یې د نورو ارو پایي هیوادونو په شان وکولای شول په داسې اقتصاد باندې چې زیاتره کیدای شوای هغه اقتصادي معجزه وبلل شي، برلاسي شي، د ایټالیا صنایع په معمولي ډول د بدلون صنایع دي او د صادراتو عمده محصولات یې د ماشین جوړولو صنایع. نساجي. موټرونه او کیمیاوي صنایع دي.

حکومتي تشکیلات:

جمهور رئیس د پارلمان له خوا ټاکل کیږي او ډیر لوړ حکومتي مقام لري. او دملي یووالي د ټینګښت ا د هغه ددوام استازی بلل کیږي ددغه هیواد هر اوسیدونکی چې پنځوس کاله عمر ولري اوله خپلو ټولو ټولنیزو او سیاسي حقوقو څخه برخمن وي کولی شي د جمهور رئیس په توګه وټاکل شي. جمهور رئیس د مجلس له خوا تصویب شوي قوانین توشیح کوي. جمهور رئیس صدراعظم ټاکي او وزیران دهغه په وړاندیز ټاکل کیږي. جمهور رئیس دغه راز د ټولو وسله والو پوځونو قوماندان دی. او د قضایي عالي شورا او ددفاع دعالي شورا مشر توب هم په غاړه

لري د ایټالیا د جمهوري ریاست قانوني دوره اووه کاله ده او کیدای شي ددغې مودې په باب نوی نظر وشي.

سازمانونه او سیاسي ګوندونه:

زرغون ګوند_ دژوندانه د چاپیر یال او د اټومي ضد سیاستونو ساتندوی دی او د اروپا د زرغون غورځنګ یوه برخه ده چې په ۱۹۸۷ کال کې جوړشو.

د ایټالیا ملي ښي لاسی سوسیالستي ګوندنه.

لیبرال ګوند.

راډیکال ګوند.

جمهوریت غوښتونکی ګوند.

سوسیال د موکراټ ګوند.

سوسیالیست ګوند.

د غه راز په ایټالیا کې یو زیات شمیر سیاسي ګوندونه شته چې عبارت دي له: د فرانسوي لړه کي لپاره سیمه ایز ګون، خپلواك ګوند، د موکراتیکه پرولتیا ریا.

بهرني سیاست:

ایټالیا له ۱۹۴۹ کال څخه را په دیخوا د ناټو غړې ده، دغه هیواد د جغرافیایي موقعیت له مخې له سیمه ایزو خطرونو سره مخامخ دی. خو په عین حال کې په خپله د جنوب په سیمه کې د اروپا د ګټو په دفاع کې ستر رول لري.

بهرنی اړیکې:

د ایټالیا بهرنی سیاست په دودیز ډول د اروپا په اقتصادی ټولنې(EEC) کې په ګډون له اروپا سره د هغې د غوښې ژمنی او

په ناتو کې د ایټالیا د رول له لارې اداره کیږي هیڅ هېواد د ایټالیا په پر تله په دې نه دی بریالی شوی چې له نورو هیوادونو سره خپلې نښتي تر ممکنې اندازې پورې کمې کړي. او خپلې دوستانه اړیکې تر هغه ځایه پورې چې امکان لري پیاوړې کړي. ایټالیا په وروستیو کلونو کې له مالي او اقتصادي ستونزو سره سره هلې ځلې وکړې خو په نړیوال ډګر کې فعاله واوسي او په همدې لاره کې یې له بحران ځپلو سیمو او نظر وړ هیوادونو سره مالي مرستې کړې دي او له پولو څخه بهرېې پوځي ماموریتونه ترسره کړي دي چې له دغو مرستو څخه په سومالي او موزمبیك کې یادونه کولی شو.

د ایټالیا د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي کلمبو د ۱۹۹۲ میلادي کال په اکتوبر کې سوریې او مصر او د ۱۹۹۳ کال په جنوري کې. اردن او لبنان ته سفرونه وکړل، ددغو ټولو سفرونو د خبرو محور د منځني ختیځ د سولې د طرحې مسئله وه.

د افغانستان او ایټالیا اړیکې:

ددواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو د بنسټ ډېره د افغانستان د سفیر جنرال محمد ولي خان او د ایټالیا د بهرنیو چارو د وزیر له خوا د ۱۹۲۱ میلادي کال د جون د میاشتې د دریمې نیټې ددوستي د تړون له مخې کیښودل شوه.

ایټالیا د باختري اروپا لومړنی هیواد او په نړۍ کې دوهم هیواد و چې په ۱۹۱۹ کال کې یې د خپلواکۍ له ترلاسه کونو وروسته زمونږ هیواد په رسمیت وپیژاند او ددواړو هیوادنو ترمنځ د مختار وزارت په سویه اړیکې ټینګې شوې.

د ۱۹۶۰ کال د جولای د میاشتې په شپږویشتمه نیټه د افغانستان- ایټالیا د اړیکو کچه لوی سفارت ته لوړه شوه.

ایټالیې د جهاد په دوران کې هماغه تګلاره تعقیبوله چې د اروپې د ګډې ټولنې نورو غړو هیوادونو ورباندې لاس پورې کاوه.

ایټالیې په ۱۳۵۲ کال کې له افغانستان سره د ایټال کیبل له کمپنۍ څخه د مخابراتي چارو د پیاوړي کولو لپاره د یوې اندازې مخابراتي لوازمو او د غه راز د ملاریې د له منځه وړلو د پروګرام د پلي کېدو په برخه کې مرسته وکړه. په ننګرهار کې د روغتون بیا جوړولو او د بیوون پروسس. په کابل کې دمر مر او رخام د ډبرو د فابریکې جوړول د ایټالیې په مرسته له (Co.Repanili) کمپنۍ سره د ۱۹۸۲ کال د تړون له مخې پیل شوي دي.

د یادونې وړه ده چې د لرغون پوهنې په څانګه کې یو شمیر افغاني محصلانو د ایټالیا له پوهنتونو څخه ګټه اخیستې ده. د ایټالیې له مهمو همکاریو څخه کولی شو په غزني کې د لرغون پوهنې او کیندنو په برخه کې د پروفیسر توچي په مشرۍ د آزمیو موسسې د فعالیت یادونه وکړو.

کیوبا

عمومي اطلاعات:

پایتخت هاوانا

دوګړو شمیر: ۱۱۱۸۴۰۲۳

د ګړو د ژوندانه ځرنګوالی: په یو مربع میل کې ۲۶۲ تنه(په سلو کې پنځه او یا تنه په ښارونو کې ژوند کوي)

ستري توکمیزې ډلي: په سلو کې یوپنځوس موالتو، په سلوکي اووه دیرش سپین پوستکي،په سلو کې یوولس تور پوستان.

رسمي ژبه : اسپانوي.

رسمي مذهب: رومن کاتولیك په سلو کې ۸۵ (د فیډل کاستړو له رامنځته کیدو څخه وروسته).

جغرافیایي موقعیت: دبهاماس د شمال د ایله په اوږدوکې د کارابین سیند(سمندرګي)

مساحت: ۴۲۸۰۰ مربع میله.

ګاونډیان: د امریکا متحده ایالات، مکسیکو، جامایکا او هایتي.

د رژیم څرنګوالی: سوسیالستي.

اداري ویش: څوارلس ایالتونه.

مهمې صنایع: تیل، خوراکي توکي، تنباکو، بوره، وریجې، قهوه، ستروس.

کاني زیرمي او منابع: کوبالت، نیکل، اوسپنه، کوپر، مالګه، د اوموتیلوزیرمې.

د افغانستان او کیوبا سیاسي اړیکي:

د ۱۹۷۸ م کال د سپتمبر د میاشتې په ۲۳ مه نیټه د افغانستان د موکراتیک جمهوریت او کیوبا ترمنځ د نا استوګنو سفارتونو په کچه دیپلوما تیکي اړیکې ټینګې شوې. په همدې میاشت کې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت او د کیوبا جمهوریت ترمنځ د اړیکو د ټینګښت لومړنی موافقه لیک په مسکو کې لاسلیک شو.

دتره کي ددولت د بهرنیو چارو وزیر حفیظ الله امین د افغانستان لومړنی رسمي مقام و. چې د غه هیواد ته یې رسمي سفر وکړ. د ۱۳۶۰ کال د کب د میاشتې په پنځمه نیټه د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت او په مسکوکې د کیوبا د سفیر ترمنځ د افغانستان ددولت او د کیوبا د سیاسي اود خدمت د پاسپورټونو د لیږدوونکو لپاره د جواز لیک د صادرولو په مقصد چې له ویزي پرته وکولي شي دیوبل هیوادونو ته سفر وکړي یو موافقه لیک لاس لیک شو.

برازیل

عمومي اطلاعات:

پایتخت: برازیلیا

دوګړو شمیر: ۱۷۴۴۶۸۵۷۵

د وګړو د ژوندانه څرنګوالی: په یومربع میل کې ۵۳ تنه

توکمیزې ډلې: سپین پوستي(د پرتګالیانو، المانیانو، ایټالویانو، اسپانویانو او لهستانیانو په ګډون- په سلوکې پنځه پنځوس) (تور او سپین ګډ نژاد په سلوکې اته دیرش او تور پوستکي په سلوکي شپږ).

مساحت: ۳۲۶۱۲۰۰ مربع میله.

ګاونډیان: په شمال کې ګیانا، فرانسه، سورینام، وینزویلا، په لویدیځ کې پیرو، کولمبیا، لولویا او پاراګوای او په جنوب کې یوروګوای.

د حکومت څرنګوالی: فدرالي جمهوریت

جمهور رئیس: لولا دوسیلوا

اداري ویش: له یوې فدرالي نا حیې سره ـ برازیلا، ۲۴ ایالتونه.

مهمې صنایع: فولاد، موټرونه، سپنیسني صنایع، دبوټانو ګنډل، کیمیاوي صنایع، ماشین آلات، کاکاو، وریجې، غلې دانې، غنم، منرالونه، اوسپنه یورانیم،-سره زر نیکل او تیل.

د افغانستان او برازیل ترمنځ دیپلوماتیکي اړیکي:

۱۹۶۲ کال د فبروري د میاشتي په ۲۵ نیټه د دواړو هیوادونو ترمنځ د نا استوګنو سفارتونو په کچه دیپلو ماتیکې اړیکې ټېنګې شوې د برازیل لومړی ناستوګن سفیر ښاغلی تالو برانزپینتودی سیلو او وروسته وروسته ددواړو هیوادونو ترمنځ اړیکې د افغانستان د د موکراتیك رژیم له رامنځته کیدو وروسته وشلېدي.

د نوي دولت را منځته کیدو وروسته د ۲۰۰۴ میلادي کال د سپتمبر د میاشتي په ۱۳ نېټه په واشنګټن کې افغاني لوي سفیر ښاغلي سید طیب جواد، برازیل ته دسفر په ترځ کې ددغه هیواد د جمهوري ریاست په مانۍ کي د برازیل له جمهور رئیس ښاغلي لویز لولاد سیلوا سره په کتنه کې د نا استوګنو دیپلوماتیکي اړیکو د بیا پیل کولو په مقصد خپل باور لیك وړاندې کړ.

ده په دې ترځ کې د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت درئیس ښاغلي حامد کرزي او د بهرنیو چارو د وزیر ښاغلي ډاکتر عبدالله تاوده پیغامونه د برازیل جمهور رئیس او ددغه هیواد د بهرنیو چارو وزیر ته ورسول.

پای

۱۳۸۴/۴/۴

PROPERTY OF ACKU 13358

مرکز تحقیقات علمی افغانستان در پوهنتون کابل ACKU KABUL Afghanistan Centre at Kabul University